# د قرآن پلوشې

## د القصص سوره

## د ملتونو
## د عروج او زوال عوامل

حکمتیار

# د عروج او زوال عوامل

## د بني اسرائیلو
## په عبرتناکي قصې کي

حکمتیار

بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

الحمد لله و کفی و سلام علی عباده الذین اصطفی و بعد:

دا کتاب په اصل کې د هغو درسونو مجموعه ده چې د مدرسو او ښوونځیو د استادانو یوې تربیتي غونډې ته وړاندې شوي، او په ۱۳۶۶ کال کې د یوې رسالې په بڼه کې چاپ شوی، د درسونو د بحث محوري موضوع (د ملتونو د عروج او زوال عوامل د بني اسرائیلو په عبرتناکې قصې کې) وه، د القصص د سورې ټول هغه آیتونه په کې څېړل شوي وو چې د دغې قصې اساسي برخې د مخاطب مخې ته ږدي، په دې کتاب کې د القصص د سورې د بشپړ تفسیر تر څنګ د قرآن نور هغه آیتونه هم رااخیستل شوي چې د دې قصې پاتې برخې په کې څېړل شوي.

یوازنۍ قصه چې په قرآن کې په ډېر تفصیل سره راغلې د بني اسرائیلو عبرتناکه او له لوړو ژورو ډکه قصه ده، عظیم الشأن قرآن د دغې قصې ټول اړخونه او د دغه قوم د عروج او زوال ټولې پېښې څېړلې دي، او دا ئې موږ ته روښانه کړې چې څرنګه او له کومه ځایه د دې قوم د شرف او عزت دوران پیل شوی، څنګه او د

کومو لاملونو په سبب د عزت لوړو پوړو ته رسیدلی، د ځمکي خلافت، د پراخو شتمنیو وراثت او د نورو ولسونو امامت او مشري ئې په برخه شوې او د نړۍ پر ټولو قومونو هغوی ته فضیلت ورکړی شوی؟ او بیا څنګه د دغه قوم د زوال دور پیل شوی، د ذلت او سپکاوي په ژوري کندې کي پرېوتي، هر چا په سپکه سترګه ورته کتلي او د دوست او دښمن له لوري رټل شوی؟ د راپرېوتو او زوال عوامل ئې کوم وو؟ د کومو عواملو په سبب له ذلت، سپکاوي، فقر، مسکنت او د الله تعالی له غضب او لعنت سره مخامخ شوي او د نورو لپاره د پند وسیله ګرځېدلي؟! قرآن موږ ته لارښوونه کوي چي د دې او بل هر قوم او ولس د عروج، عزت او فضیلت عوامل کوم دي او د زوال او سقوط لاملونه ئې څه دي؟

عظیم الشأن قرآن د بني اسرائیلو د عروج او زوال قصه د یوې داسي لارښوونکې او تاریخي قصې په توګه څېړلي چي په ترڅ کي ئې ډېر ستر حقایق، عبرتناک درسونه او جامع لارښوونې زموږ مخي ته ږدي. په دې قصې کي د ملتونو د عروج او زوال په اړه د الله تعالی سنن انځور شوي او اساسي عوامل ئې څېړل شوي، عظیم الشأن قرآن د دې قوم د عزت او ذلت حالتونه او لاملونه ئې د تاریخي بېلګو په توګه وړاندې کوي، دې ته باید متوجه وو چي د قرآن قصې یوازې نکلونه او قصې نه دي، د قرآن په اړه دا ډول انګېرنه په حقیقت کي د هغو مشرکینو وه چي د قرآن له عظمته بې خبره ول او د هغه مخالفت ته ئې ملا تړلې وه، هغوی به ویل چي قرآن (اساطیرالاولین) یعني د لومړنیو خلکو د قصو او نکلونو مجموعه ده. قرآن دا انګېرنه له بنسټه ردوي، د قرآن قصص په حقیقت کي تاریخي مثالونه او بېلګي دي، د قرآن هدف دا نه دئ چي د یوه قوم تېر تاریخ د قصې په بڼې کي وړاندې کړي، بلکي د قصې په ترڅ کي د الله تعالی د یوه سنت، یوې قطعي او نه بدلېدونکې پرېکړې او د یوه الهي وعد او وعید تاریخي بېلګه وړاندې کوي، یوازې په دې موخه د یوه قوم د تېر تاریخ یوه برخه رااخلي او د

مخاطب په وړاندې ئې ږدي چې د يوه ستر حقيقت عملي بېلګه وړاندې کړي.

پيغمبر اکرم عليه السلام فرمايي چې دا تاريخي بېلګې به تل تکرارېږي، تاسو به هم د هغو امتونو سنن تعقيب او د هغوی تګلارې خپلې کړي چې تر تاسو د مخه تير شوي دي. هر دور ځانته فرعون او موسى لري او فرمايي چې زما د امت فرعون؛ ابوجهل دئ. له دې نه معلومېږي چې قرآن د شخصيتونو يادونه د دوی د معرفي لپاره نه بلکې د تاريخي څېرو او بېلګو په توګه کوي، فرعون د استبداد، ظلم، کفر او طغيان بېلګه دئ او موسى عليه السلام د حق پالونکو، عدالت غوښتونکو او مجاهدينو بېلګه، همدا وجه ده چې په قرآن کې ٧٤ ځلې د فرعون نوم ياد شوی او ١٣٦ ځلې د موسى عليه السلام نوم، دا په داسې حال کې چې د محمد عليه السلام نوم يوازې پنځه ځلې راغلی. نو د قرآن (قصې) او (څېرې) په حقيقت کې تاريخي بېلګې دي چې په ترڅ کې ئې بايد د فلاح او بريا لار ولټوو، عزت ته د رسېدو او له ذلت او سپکاوي نه د نجات لار وپېژنو، د هغو په څېر شو چې قرآن ستايلي، عظمتونه ئې په برخه شوي، الله تعالى ترې راضي شوی، په تأييد، نصرت او غيبي لښکرو سره ئې د دوی مرسته کړې؛ او له هغه څه ځان وساتو چې نور ئې د الله تعالى له تأييد نه محروم کړي، په زوال محکوم شوي، د عزت ټغر ئې ټول شوی، او له ذلت او سپکاوي سره مخامخ شوي.

اللهم اجعلنا من الذين انعمت عليهم، غيرالمغضوب عليهم ولا الضالين

حکمتيار

بسم الله الرحمن الرحيم

# القصص

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم القصص دئ، د سورې له ۲۵ آيت څخه اخيستل شوی، د مکي دور په منځنيو کلونو کې او د الشعراء او النمل له سورتونو وروسته نازله شوې، ۸۸ آيتونه لري، آيتونه ئې د مکي دور په منځنيو کلونو کې نازل شوو سورتونو ته ورته او اوږدوالی ئې منځنی دئ، خو هر يو ئې له څو لنډو لنډو مسجع فقرو جوړ شوی او سورې ته ئې خوندور وزن ورپه برخه کړی. آيتونه ئې ښکلی او خوندور وزن لري او په داسې صيغو پای ته رسېدلي چې د سورې د دوو لومړنيو آيتونو د (مبين) او (يؤمنون) صيغو ته ورته وزن لري، څو آيتونه ئې د وکيل او عظيم په صيغو پای ته رسېدلي چې دا هم په ډېر لږ توپير سره (مبين) ته ورته وزن لري، د مضمون جالب والي او د آيتونو ښکلي او خوندور وزن د سورې حفظول ډېر آسانه کړی، انسان کولی شي په لږ زحمت سره او په کم وخت کې دا سوره حفظ کړي.

لکه څنګه چې دا سوره په دريو مقطعاتو حروفو (ط س م) پيل شوې؛ د سورې محوري او اساسي مضامين هم درې دي، چې خلاصه ئې د سورې په آخري دريو

آيتونو کې په دې توګه راغلې:

وَمَا كُنتَ تَرْجُوٓاْ أَن يُلْقَىٰٓ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبُ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرًا لِّلْكَٰفِرِينَ ﴿٨٦﴾ وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بَعْدَ إِذْ أُنزِلَتْ إِلَيْكَ ۖ وَٱدْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ ۖ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٨٧﴾ وَلَا تَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ ۘ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ كُلُّ شَىْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُۥ ۚ لَهُ ٱلْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٨﴾

- او ته داسې نه وې چې د کتاب درتلو ته دې هيله کوله، مګر ستا د رب له لوري يوه پېرزوينه، نو د کافرانو ملاتړی مه شه.
- او دوی دې تا د الله له آيتونو نه له هغه وروسته منعه نه کړي چې درته نازل کړی شول، او د خپل رب لوري ته بلنه ورکړه او له مشرکانو څخه مه شه.
- او له الله سره بل معبود مه بله (د ده تر څنګ د بل معبود عبادت مه کوه)، له ده پرته بل معبود نشته، د ده له ذاته پرته هر څه هلاکېدونکي دي، حکم ده لره دئ او د ده په لور ګرځول کېږئ.

دا اساسي مطالب په ټولې سورې کې او د موسی عليه السلام په مفصلې او جامع قصې کې بيان شوي، د هرې موضوع لپاره د قصې يوه برخه د تاريخي او عملي بېلګې په توګه راغلې.

- د قصې له پيله مخکې د قصې موخه او هدف په ګوته شوی، بيا فرعون او د فرعوني نظام ځانګړتياوې په دې توګه ښودل شوې چې وايي هغه مغرور او متکبر وو، د خپلې لويې د ثابتولو او ساتلو په فکر کې وو، د خپل قدرت د بقا په لټه کې وو او د دې هڅه ئې کوله چې خپله لويي پر نورو تحميل کړي. خلک ئې په بېلا بېلو ډلو وېشلي وو، پر ټولنې ئې طبقاتي نظام مسلط کړی وو. عاصي او مفسد وو او په ټولنې کې د فساد اصلي عامل وو، ورپسې د دغه نظام په اړه الهي ثابت او نه

بدلېدونکی سنت بیان شوی، چي حتماً ئې نسکوروي او هغه هم د مستضعفانو او مظلومانو په لاس، بیا د دې الهي سنت تفصیلات په ګوته کوي او ښیي چي د فرعوني نظامونو د ړنګېدو لړۍ د صالح قیادت له رامنځته کېدو او د ده په خواکي د مظلومانو له راغونډېدو پیل کېږي، د موسی علیه السلام پیدایښت، د سیند څپو ته لوېدا، د فرعون په کور کي د ده روزنه، له یوه مظلوم بني اسرائیلي نه د ظالم قبطي په وړاندي دفاع او د هغه وژنه، مدین ته تېښته، په پیغمبرۍ بعثت، د فرعون د مقابلې لپاره مصر ته تګ، له بني اسرائیلو سره یو ځای له مصره د سینا لویي صحرا ته وتل، او د قصې نوري برخي د همدغو اساسي مطالبو د ښه توضیح لپاره رااخلي او د خپل مخاطب مخي ته ئې ږدي. او په پای کي د ټولي سورې خلاصه په وروستیو دریو آیتونو کي راوړي.

بسم الله الرحمن الرحيم

طسٓمٓ ۝١ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ۝٢

ط س م. دا د څرګند کتاب آيتونه دي.

(٢)- په دې مبارک آيت کې قرآن د (مبين) کتاب په نامه معرفي شوی، يعنې دا کتاب هم په خپله واضح او څرګند دئ او آيتونه ئې هر لوستونکي ته د فهم او درک وړ دي او هم هر څه په څرګنده توګه بيانوي، په خپله څرګند دئ او هر څه څرګندوي، نه ئې د آيتونو په الفاظو کې ابهام او اغماض شته او نه داسې څه ترې پاته دي چې په دې مبين کتاب کې ئې وضاحت نه وي شوی. هر مخاطب په آسانۍ کولی شي د هغه په مقصد پوه شي او واضح مطلب ترې واخلي، او چې د هر ضروري او مهم مطلب په لټه کې قرآن ته رجوع وکړي واضح او څرګنده لارښوونه به ئې په برخه شي.

نَتۡلُواْ عَلَيۡكَ مِن نَّبَإِ مُوسَىٰ وَفِرۡعَوۡنَ بِٱلۡحَقِّ لِقَوۡمٍ يُؤۡمِنُونَ ۝٣

د موسی او فرعون ځيني خبرونه په رښتيني توګه پرتا لولو د هغوخلکو لپاره چې ايمان راوړي.

(٣)- يعنې دا د موسی عليه السلام او د فرعون د مقابلې رښتينې قصه ده، نه ناول دئ او نه داستان، ځيني برخې ئې ستا مخې ته ږدو خو د هغه چا لپاره چې د ايمان په روښانه لار د تلو هوډ او د حقيقت د پېژندو او په هغه د ايمان راوړو عزم لري.

دا مبارک آيت موږ ته په واضحو الفاظو لارښوونه کوي چې قرآن ولې د تاريخي پېښو ځيني برخې د خپل مخاطب مخې ته ږدي؟ د څه لپاره او د چا لپاره؟

مخاطب ئې هغه څوک دئ چي د ایمان په لار د تلو هوډ لري، د دوی لپاره په دغو قصو کي روښانه لارښووني دي.

قرآن د قصې په پیل کي فرعون موږ ته راښیي او د هغه نظام ځانګړتیاوي په ګوته کوي چي فرعون ئې مشر او ټولواک وو. فرمایي:

إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي ٱلْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَآئِفَةً مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَآءَهُمْ وَيَسْتَحْيِۦ نِسَآءَهُمْ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٤﴾

یقیناً چي فرعون په زمکي کي کبر او لویي وکړه اوسېدونکي ئې په ډلو ډلو ووېشل، غوښتل ئې یوه ډله ئې بې وزلې او کمزورې وي، زامن ئې ورحلالول او لوڼي ئې ژوندۍ پرېښودې، یقیناً چي دی له مفسدینو څخه وو.

(۴)- دا مبارک آیت موږ ته د یوه ظالم او فرعوني نظام اساسي ځانګړتیاوي داسي راښیي:

- واکمن ئې فرعون دئ چي د دغو صفاتو څښتن دئ: مغرور او متکبر دئ، د خپلي لویي د ثابتولو او ساتلو په فکر کي دئ، د خپل قدرت د بقا په لټه کي دئ او د دې هڅه کوي چي خپله لویي پر نورو تحمیل کړي.
- خلک ئې په بېلا بېلو ډلو وېشلي دي، پر ټولني ئې طبقاتي نظام مسلط کړی.
- عاصي او مفسد دئ، په ټولني کي د فساد اصلي عامل دئ، که فقر او لوږه ده، که خلک د جهل او شرک په ډنډ کي غرق دي، که ظالمان پرې مسلط دي، که امنیت او عدالت نشته، د دې ټولو ناخوالو او مفاسدو اصلي عامل فرعون دئ. پر دې ټولني مفسدین حکومت کوي او فرعون د دغو واکمنو مفسدینو له ډلې نه او د ټولو

سالار دئ.

قرآن په نورو آيتونو کي موږ ته د دې مزيد تفصيلات بيان کړي او فرمايلي ئې دي چي په فرعوني نظام کي خلک په عام طور په دوو ډلو، حاکم او محکوم، ظالم او مظلوم، مستکبر او مستضعف، مرفه او فقير وېشل کېږي او حاکمه طبقه ئې له درېو ډلو جوړه شوې وي: ۱- واکمن او حواريون ئې، ۲- د نظام په خدمت کي ټګمار مذهبي مشران، ۳- بډايه او شتمنه طبقه چي دغه نظام د شتمنيو خاوندان کړي.

د فرعون په اړه وايي چي دی ځان د مصر د ټولو شتمنيو څښتن او د خلکو مالک الرقاب بولي: قرآن فرمايي:

وَنَادَىٰ فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِۦ قَالَ يَٰقَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَٰذِهِ ٱلْأَنْهَٰرُ تَجْرِي مِن تَحْتِيٓ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٥١﴾ الزخرف: ۵۱

او فرعون په خپل قوم کي په لوړ غږ وويل: اې زما قومه! آيا د مصر پاچايي زما نه ده؟ او دا نهرونه چي زما تر واک لاندي بهېږي؟ آيا نه ئې ګورئ؟

ګورئ چي قرآن فرعوني نظام داسي معرفي کوي چي ټولواک ئې ځان د هېواد د ګردو شتمنيو، نهرونو او زمکو څښتن ګڼي!! په هر نظام کي چي واکمنان ئې ځان د خلکو مالک الرقاب او د ملي شتمنيو بې رقيبه څښتن بولي او په دغو شتمنيو کي د هر راز تصرف حق ځان ته ورکوي د قرآن له نظره دا يو مفسد، ظالمانه او فرعوني نظام دئ.

همدا راز قرآن فرمايي:

وَإِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ فِي ٱلْأَرْضِ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿٨٣﴾ يونس: ۸۳

يقيناً چي فرعون د زمکي پر سر يو متکبر او باغي وو او هغه له مسرفينو څخه وو.

قرآن دا د يوه ظالم او فرعوني نظام ځانګړتيا ګڼي چي واکمن ئې ځان ته ټولواک وايي او د ملک او ولس ټولي شتمنۍ د ځان بولي.

قرآن؛ پیغمبران علیهم السلام او د دوی تګلاره د موسی علیه السلام په څېره کي داسي انځوروي چي هم د ظالم فرعون، هم د ټګمار هامان او هم د شتمن قارون مقابله کوي، یو ئې د ظالمانه اقتدار بېلګه، بل ئې د ټګمارو مذهبي مشرانو بېلګه او درېیم ئې د حریصو شتمنو او بډایانو بېلګه. قرآن وایي چي د تاریخ په اوږدو کي تل دغو دریو طبقو د پیغمبرانو علیهم السلام مقابله کړې. دې ته مو باید پام وي چي په اسلام کي نه خاصه مذهبي طبقه شته او نه د دوی لپاره ځانګړي امتیازات، اسلام فرعوني نظام په دې خاطر محکوموي چي خلک ئې په ډلو ډلو وېشلي وو، طبقاتي نظام ئې رامنځته کړی وو، چارواکو ځان ټولواک ګاڼو او د ولس په شتمنیو کي ئې د هر راز تصرف حق ځان ته ورکاوو.

که فرعون له یوې خوا د مصر د ټولو شتمنیو واکمن دئ او له سیاسي او اجتماعي پلوه ټولواک دئ؛ خو له بلي خوا ئې له مذهبي پلوه د (الوهیت) دعوی کوله او خلکو ته ئې ویل: زه ستاسو اعلی رب یم!! خو باید وګورو چي د دې وینا معنی څه ده؟ آیا هغه په دې وینا سره واقعاً ځان ته د اله او معبود په سترګه کتلي او له ولس نه ئې د همدې خبري غوښتنه کړې؟ او که هغه ځان ته داسي مقام او منزلت ورکړی چي یوازي له اله او معبود سره ښایي؟ په دې کي هیڅ شک نشته چي له دې خبري نه د فرعون موخه هیڅکله دا نشي کېدی چي ګواکي ځان ته ئې د اعلی رب په سترګه کتلي او د همدې ادعاء ئې کړې، معنی ئې له دې پرته بل څه نه ده چي هغه ځان ته داسي حقوق او امتیازات ورکړي او له ټولو ئې غوښتي چي هغه ومني چي له الله تعالی پرته له هیچا سره نه ښایي، هیڅ بنده دا حق نه لري چي په ټولني کي ځان ته دا مقام او منزلت ورکړي. د ده د وینا معنی دا ده چي ولس ته ئې ویلي: زه د مصر ټولواک یم، دلته به یوازي زما حکم چلېږي، د جائز او ناجائز پرېکړه به زه کوم، د پرېکړو وروستی مرجع زه یم، له خلکو ئې غوښتي چي تر هر څه او هر چا زیات باید د ده ستاینه او لمانځنه وشي، موسی علیه السلام هم په دې

ګواښي چې که له ما پرته دې بل څوک د معبود او اله په توګه غوره کړ؛ ځای دې زندان دئ:

قَالَ لَئِنِ ٱتَّخَذۡتَ إِلَٰهًا غَيۡرِي لَأَجۡعَلَنَّكَ مِنَ ٱلۡمَسۡجُونِينَ ﴿٢٩﴾ الشعراء: ۲۹

وئې ويل: که له ما پرته دې بل اله ونيو نو حتماً به دې له (نورو) زندانيانو سره يوځای کړم.

يعني په دې ملک کې به د ژوند په هرې برخې کې محوري او مرکزي حيثيت د فرعون وي، د ټولنې هر وګړی به هم د لارښوونې په برخه کې او هم د پرېکړو لپاره ده ته مراجعه کوي، په دې هېواد کې به له ده پرته بل داسې مقام او مرجع نه غوره کېږي چې ولس د لارښوونو او د منازعاتو د حل و فصل لپاره هغه ته مخ اړوي، دلته به يوازې زما احکام چلېږي او که تا بل مقام او مرجع ته د مخ اړولو جسارت وکړ نو ځای دې زندان دئ، له نورو زندانيانو سره به يو ځای په زندان کې پروت وې. هر هغه څوک چې په خپلې ټولنې کې همغه مقام او منزلت غواړي چې فرعون غوره کړی وو که څه هم ځان ته د اله او معبود خطاب ونه کړي په حقيقت کې ئې ځان معبود او اله ګڼلی او د الوهيت دعوا ئې کړې.

دا د فرعون او فرعوني نظام ځانګړتياوې دې، قرآنکريم د دې لپاره دا يادونه کوي چې موږ د دې په هينداري کې فرعون ته ورته واکمنان وپېژنو او په دې پوه شو چې الله تعالی کوم نظام يو فرعوني نظام ګڼي او د رانسکورولو لپاره ئې موسی لېږي؟!! له دې قصې نه د قرآن موخه دا نه ده چې موږ په تاريخ کې هغه تېر شوی فرعون وپېژنو، بلکې هدف ئې دا دئ چې موږ په دې خبرې پوه کړي چې په چا کې دغه صفات وي هغه فرعون دئ او د فرعون له برخليک سره به مخامخ کېږي. او ته به د دې فرعون داسې مقابله کوې لکه چې موسی عليه السلام د خپل دور فرعون مقابله کوله.

## د فرعوني نظام واکمني څېرې

قرآن د فرعوني نظام واکمنان په دريو ډلو وېشي، د هرې ډلې د مشر يادونه کوي، د (فرعون)، (هامان) او (قارون) نومونه اخلي، دا هر يو د يوې حاکمې طبقې ممثل دئ، دغه درې طبقې او په سر کې ئې دا درې مشران يوه بل ته لاس ورکوي او پر يوه ملت او هېواد حکومت کوي. په هرجاهلي نظام کې به وګورئ چې دغه درې طبقې په ګډه طبقاتي نظام چلوي، هر نظام درې اړخه لري، اعتقادي (فکري)، سياسي او اقتصادي اړخونه. فرعون د مصر د هغه وخت د حاکم سياسي نظام اړخ تمثيلوي، هامان ئې د ايډيالوژيکي او فکري اړخ استازی او د دغه نظام مفکر او تيوريسن دئ، د ده طبقه ده چې فرعون ته مشورې ورکوي، مسلط فرعوني نظام توجيه کوي، د فرعون له تصرفاتو او اقداماتو دفاع کوي او د ولس د اقناع لپاره فتوا ګانې ورکوي او قارون د پانګې او شتمنۍ څښتن او د شتمنې طبقې ممثل دئ. هدف له فرعون، هامان او قارون نه يوازې درې کسان نه بلکې د فرعوني نظام درې واکمنې طبقې معرفي کول دي. په دې نظام کې فرعون محور دئ او هامان او قارون ئې ښۍ او کيڼ لاسونه.

قرآن عظيم الشان فرمايي چې الله تعالی موسی عليه السلام د دې لپاره مصر ته ولېږو چې لومړی د فرعون، بيا د هامان او په پای کې د قارون مقابله وکړي:

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَـٰتِنَا وَسُلْطَـٰنٍ مُّبِينٍ ﴿٢٣﴾ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَهَـٰمَـٰنَ وَقَـٰرُونَ فَقَالُوا۟ سَـٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴿٢٤﴾ غافر: ٢٣-٢٤

يقيناً چې موږ موسی له خپلو آيتونو او څرګندو دلايلو سره فرعون، هامان او قارون ته ولېږو، او هغوی وويل: دروغجن کوډګر دئ.

يعني ده ته ئې اصلي دښمنان ورښودلي، دا وضاحت ئې ورته کړی چې په مصر کې به ستا مقابله له چا چا سره وي، خو دا ئې هم ورته ويلي چې څنګه به ئې مقابله

کوي، لومړی د چا او ورپسې د چا؟ د ټولو خو په تدریج سره، داسې چې یوه ته به پر بل اولویت ورکوي، اصلي او لومړی دښمن فرعون دئ، لومړی مقابله باید له ده سره وي، داسې نه چې په نورو جبهاتو کې تر دې د مخه مصروف شې او تر ټولو خطرناک او اصلي دښمن درنه پاته شي!! په لومړي سر کې به د فرعون مقابله کوې، بیا د هامان او ورپسې د قارون، موسی علیه السلام د همدغو دریو طبقو په ضد د مبارزې لپاره لېږل شوی وو، ځوک چې د موسی علیه السلام په لار د تلو اراده لري نو د دغو دریو خطرناکو دښمنانو مقابلې ته به ملا تړي.

## له مظلومانو سره د فرعوني نظام چلند

قرآن فرمایي چې فرعون او نظام ئې له یوې ډلې سره داسې معامله کوله:

يَسْتَضْعِفُ طَآئِفَةً مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَآءَهُمْ وَيَسْتَحْيِۦ نِسَآءَهُمْ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٤﴾ القصص: ٤

غوښتل ئې یوه ډله ئې بې وزلې او کمزورې وي، زامن ئې ورحلالول او لوڼې ئې ژوندۍ پرېښودې، یقیناً چې دی له مفسدینو څخه وو.

که څه هم زموږ درانه مفسرین په دې اړه بیلا بیل تعبیرونه او تفسیرونه لري چې فرعون ولې د بني اسرائیلو زامن وژل او لوڼې ئې ژوندۍ پرېښودې، ځینې ئې وایي: فرعون په خوب کې لیدلي وو چې په بني اسرائیلو کې به داسې ځوک راپیدا شي چې د ده واکمني به ګواښي او د ده تخت او تاج ته به تاوان رسوي، د دې احتمالي خطر د مخنیوي لپاره ئې د بني اسرائیلو د ماشومانو په وژلو لاس پورې کړ، ځینې نور وایي چې کاهنانو د دې احتمالي خطر اطلاع ورکړې وه؛ نو ځکه ئې د بني اسرائیلو زامن وژل!! خو که د دغو آراوو جرړو ته متوجه شو راته جوته کېږي چې دغو درنو مفسرینو په دې اړه د بایبل وینا ته اعتبار ورکړی او د بایبل تر اغېز

لاندې تللي او همغه څه ئې ويلي چې محرف بايبل ويلي!! خو پورتنی آيت په ډېره واضحه توگه موږ ته لارښوونه کوي چې د ماشومانو له وژلو نه د فرعون هدف دا وو چې د بني اسرائيلو قوم ضعيف او کمزوری کړی، غوښتل ئې د دې قوم شمېر دومره زيات نشي چې دی او اقتدار ئې وگواښي، د دې خطر د مخنيوي لپاره ئې د هغوی زامن وژل.

عظيم الشأن قرآن فرمايي چې فرعون نه يوازې دا چې خپل مخالفين د زندان تورو خونو کې اچول بلکې پرلاس او پښو ئې ورته مېخونه ټک وهل، حتی پر خپلې مېرمنې ئې رحم ونه کړ، د هغې په لاسونو او پښو کې ئې هم مېخونه ټک وهل او دومره ئې وځوروله چې له الله تعالی ئې د مرگ هيله وکړه!!

## د الله تعالی نه بدلېدونکی سنت

قرآن عظيم الشأن د فرعون او فرعوني نظام له معرفي وروسته او د قصې متن ته له ننوتلو مخکې، د الله تعالی هغه دائمي او نه بدلېدونکي سنت بيانوي چې د داسې ظالمانو او ظالمانه نظامونو د نسکورولو او د مظلومانو د ژغورنې لپاره ئې وضعه کړی؛ فرمايي:

وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَنَجۡعَلَهُمۡ أَئِمَّةً وَنَجۡعَلَهُمُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ۝٥ وَنُمَكِّنَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَنُرِيَ فِرۡعَوۡنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا مِنۡهُم مَّا كَانُواْ يَحۡذَرُونَ ۝٦

او غواړو پر هغو پېرزوينه وکړو چې په ځمکې کې ئې د بې وزلی لته کېښې او پېشوايان ئې کړو او (د ټولو شتمنيو) وارثان ئې کړو او پر ځمکې کې تمکين ورپه برخه کړو او له دوی نه فرعون، هامان او لښکرو ته ئې هغه څه وښيو

چې ترې وېرېدل.

---

(۵-٦)- يعني دا د الله تعالی نه بدلېدونکی سنت دئ چې بې وزلي ولسونه به له اسارت او محکوميت نه ژغوري، له دوی نه به د لويو لويو مستکبرو طاقتونو د پرځولو او نسکورولو لپاره کار اخلي، تر ټولو د ستر مغرور ځواک د نسکورولو لپاره به د نړۍ تر ټولو ضعيف او مستضعف قوم انتخابوي، فرعون به د خپلو غلامانو (بني اسرائيلو) په لاس له منځه وړي. الله تعالی به پرهغو کسانو احسان کوي چې په زمکي کې ضعيف شمېرل کېږي، د ضعف او ناتوانۍ لپاره ئې هڅه کېږي، استکباري نظامونو ځپلي، الله تعالی غواړي د داسي مظلومانو په لاس دا مغرور او مستبد ځواکونه نسکور کړي، دوی ته د نورو قومونو د قيادت او مشرۍ افتخار ورپه برخه کړي، نور ولسونه هم په دوی پسې اقتدا وکړي، د زمکو او شتمنيو وارثان ئې کړي، هغه درې طبقې چې په سياسي، مذهبي او اقتصادي لحاظ پرخلکو حکومت کوي، د دوی هر څه دغو مظلومانو ته په ميراث ورکړي، په زمکه کې اقتدار او تمکين دوی ته وسپاري، واک او صلاحيت دوی ته انتقال کړي، هغه ضعيف او بې وزلی ولس د دوی ځای ناستی کړي چې په وېري او خوف کې ئې ژوند کاوو، حکومتونو د دوی د وېرولو او ضعيفولو هڅې کولې، د الله تعالی سنت داسي دئ چې لومړی له دغو بې وزلو او مستضعفينو نه په فکري او اخلاقي لحاظ امامان جوړ کړي، هاماني ډله د خلکو د فکري او مذهبي قيادت له مقامه خلع کړي او دا قيادت مستضعفينو ته وسپاري، فرعونيان د ولس له سياسي او اجتماعي قيادت نه عزل کړي او دا قيادت بې وزلو ته وسپاري او په پای کې د قارون د ډلي شتمنۍ دوی ته په ميراث ورکړي. فرعون، هامان او لښکري ئې چې له څه وېرېدل او تل ئې حذر ترې کاوو، رنګ رنګ تدابير ئې نيول چې دا بې وزلي راويښ نه شي، يو بل ته لاس ورنه کړي، د نظام په ضد پاڅون ونه کړي، الله تعالی غواړي چې دوی ته

همدا وروښيي، دوی له دې وېرېدل چې بې وزلي او مظلومان قوت ونه مومي، قيام ونه کړي او د خپل حق د لاس ته راوړلو لپاره د واکمنانو په خلاف راولاړ نه شي او د همدې لپاره ئې په استضعاف او ناتوانۍ کې ساتل، خو د الله تعالی سنت دا دئ چې پر مظلومانو او مستضعفانو به پېرزوينه او احسان کوي او فرعونيانو ته به هرو مرو هغه څه ښيي چې ترې وېرېدل.

## قيادت د هر نهضت پېلامه

قرآن عظيم الشأن فرمايي چې د دې الهي سنت د تحقق لړۍ د پيغمبر له بعثت او د قايد، مشر او زعيم له راپيدا کېدو وروسته پيل کېږي، قيادت او زعامت د دې کار مقدمه ده، د الله تعالی سنت او اراده د ولسونو د مقدراتو او برخليک په ټاکلو کې همداسي ده، خو د دې سنت د تطبيق کار چې له کومه ځايه پيل کېږئ؛ هغه د پيغمبر بعثت او د قيادت رامنځ ته کېدل دي، له همدې ځايه د آزادۍ نهضتونه او د استبداد ضد خوځښتونه پيل کېږي.

قرآن د مصر د هغه مهال حالت داسي انځوروي چې په ټول مصر باندي د شديد اختناق توري وربځې خورې وې، د اختناق حالت دومره شديد او خوف وېره دومره خوره وه چې حتی د موسی عليه السلام په شمول د بني اسرائيلو هر ماشوم هم د خپلو مېندو په غېږ کې خوندي نه وو، د فرعون جلادان د بني اسرائيلو د هر نوي زېږېدونکي ماشوم لپاره توره په لاس ولاړ ول، موسی عليه السلام په داسي سختو حالاتو کې نړۍ ته راغی چې مور ئې له دې عاجزه وه چې دی په خپلې غېږ کې وروزي، د قوم، ملت او ولس تأييد او ملاتړ خو پرېږده، حتی د خپلې مور له هغې لومړنۍ غېږې هم محروم شو، مور ئې مجبوره وه چې دی د ماشومتوب په حالت کې د اوبو څپو ته وسپاري!! خو قرآن فرمايي چې د الله تعالی سنت نه بدلېدونکی دئ، هيڅوک ئې د تحقق مخه نه شي نيولی، د چا په اړه چې الله تعالی

غوښتې وي د يوه بې وزلي او مظلوم ولس د پاڅون لارښوونه وکړي، په طوفانونو او د ځپاندو او مستو سيندونو په ځپو کې به ئې وساتي، د فرعون په کور کې به ئې ستر کړي، د دښمن په خوا کې او حتی د هغه په لاس به ئې روزنه وکړي!! الله تعالی غوښتل چې موسی عليه السلام داسې وروزي چې د ولس د مشرۍ ورتياوې په ده کې وده وکړي او د ضعف او حقارت هغه احساس په ده کې را پيدا نه شي چې عادتاً په يوې مظلومې او بې وزلې کورنۍ کې د روزل شوي انسان په زړه او دماغ توره پرده غوړوي. د يوه مظلوم ولس قيادت او مشري هغه څوک نه شي کولی چې په خپله د حقارت احساس کوي، په کوم چاپېريال کې چې فقر او مسکنت وي، وېره او خوف وي او د قوم بچيان په مظلوميت، بې وزلۍ او خوف کې پيدا کېږي او ستر کېږي، گرانه ده چې په دغسې چاپېريال کې د روزل شوي او ستر شوي انسان پر زړه او دماغ د حقارت احساس وزر ونه غوړوي، د همدې لپاره حکيم خدای موسی عليه السلام د خپلې مور له غېږې جلا کړ او د فرعون کور ته ئې ولېږو چې هلته وروزل شي او د مشرتابه اړوند ځانگړتياوې ورپه برخه کړي. قرآن فرمايي:

وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ أُمِّ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَرۡضِعِيهِۖ فَإِذَا خِفۡتِ عَلَيۡهِ فَأَلۡقِيهِ فِي ٱلۡيَمِّ وَلَا تَخَافِي وَلَا تَحۡزَنِيٓۖ إِنَّا رَآدُّوهُ إِلَيۡكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٧﴾

او د موسی مور ته مو وحي وکړه چې تی ورکړه او کله چې پرې ووېرېدې نو سيند ته ئې وغورځوه، مه وېرېږه او مه غمجنه کېږه، مونږ ئې حتماً بېرته ستا خوا ته راگرځوونکي او د پيغمبرانو له ډلې ئې گرځوونکي يو.

(۷)- الله تعالی د موسی عليه السلام د مور په زړه کې دا خبره واچوله چې د فرعون جلادانو ته ئې ونه سپاري، پټ ئې وساتي، تر هغه ئې پټ وساتي او تی ورکړي چې

کولی شي، کله چې پوه شي نور ئې پټولی نشي نو د لرګي په صندوق کې ئې کېږدي او په سیند کې ئې پرېږدي، زړه ته ئې دا خبره لوېدلې وه چې الله تعالی به ئې بېرته روغ رمټ ورته راوګرځوي او له ده نه به پیغمبر او د بني اسرائیلو ناجي جوړ کړي. دې همدا کار وکړ، څه موده ئې په پټه تی ورکړ، خو کله چې خطر زیات شو هغه ئې د الله تعالی په نامه او د ژوندي پاته کېدو په هیله په صندوق کې د نیل څپو ته وسپارو.

د قرآن له دې او په همدې اړه له نورو مبارکو آیتونو څو خبري معلومېږي:

- د بني اسرائیلو لپاره د مصر وضعیت داسي وو چې مېندو خپل ماشومان په خپلي غېږ کي نه شو ساتلی، دا پرېکړه شوې وه چې د دوی نارینه ماشومان به وژل کېږي.
- الله تعالی د موسی علیه السلام د مور په زړه کي دا خبره واچوله چې دی تر هغه وپاله چې خطر احساس کړې، د خطر په صورت کي ئې سیند ته وغورځوه او ډاډه اوسه چې نه یوازي بېرته به ئې روغ رمټ درته راوګرځوو بلکي هغه به د پیغمبر په توګه غوره کړو.
- مور ئې دی په صندوق کي ایښی او په سیند کي ئې پرېښی، بایبل وایي چې هغه ئې په یوه شکور کي ایښي، خو قرآن دا ادعاء ردوي او ښایي د همدې ادعاء د تردید لپاره د صندوق یادونه شوې وي، حقیقت همدا دئ چې شکور نه یو ماشوم د اوبو پر سر ساتلی شي او نه د هغه لپاره خوندي او مصئون ګڼل کېدی شي!!

---

فَٱلۡتَقَطَهُۥٓ ءَالُ فِرۡعَوۡنَ لِيَكُونَ لَهُمۡ عَدُوّٗا وَحَزَنًاۗ إِنَّ فِرۡعَوۡنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا كَانُواْ خَٰطِـِٔينَ ﴿٨﴾ وَقَالَتِ ٱمۡرَأَتُ فِرۡعَوۡنَ قُرَّتُ عَيۡنٖ لِّي وَلَكَۖ لَا تَقۡتُلُوهُ عَسَىٰٓ أَن يَنفَعَنَآ أَوۡ نَتَّخِذَهُۥ وَلَدٗا وَهُمۡ لَا

يَشۡعُرُونَ ﴿٩﴾

نو فرعونيانو ترلاسه کړ، تر څو ئې دښمن شي او د اندېښنو سبب، يقيناً چې فرعون، هامان او لښکري ئې اشتباه کوونکي ول او د فرعون مېرمني وويل: زما او ستا لپاره يو د سترګو يخوالی دئ، مه ئې وژنئ، ښايي ګټه راورسوي يا ئې په زوی ولی ونيسو او دا په داسي حال کي چي دوی نه پوهېدل.

---

(۸-۹)- له دې آيتونو نه معلومېږي چي:

- صندوق په داسي وخت کي له سينده د فرعونيانو (آل فرعون) لخوا رااېستل شوی چي فرعون او مېرمن ئې هم د سيند خوا کي وو.
- فرعون د ده د وژلو امر کړی او مېرمني ئې ممانعت کړی او فرعون ته ئې ويلي چي هغه مه وژنه، پرېږده چي وئې ساتو؛ يا به ئې په زوی ولی ونيسو او يا به کومه بله ګټه راورسوي، ښايي له دې خبري نه ئې مقصد دا وو چي يو بني اسرائيلي به زموږ په غېږ کي ستر شي او دا به باعث شي چي دا قوم زموږ د پېرزويني مرهون او زموږ په وړاندي مطيع او تسليم وي، زموږ په کورنۍ کي يوه ستر شوي مشر باندي به راغونډ شي او زموږ د نورو قبطي پلويانو په څېر به زموږ دفاع کوي!!
- فرعون، ستر مشاور ئې هامان او د دوی لښکري په دې نه پوهېدل چي په دې کار سره يو داسي دښمن په خپلي غېږ کي ساتي چي دوی ته به د ډېرو اندېښنو او غمونو باعث شي.

قرآن دا هم وايي چي الله تعالی موسی عليه السلام ته په ماشومتوب کي داسي څېره ورکړې وه چي د هر چا مينه پرې راتله: وَ أَلۡقَيۡتُ عَلَيۡكَ مَحَبَّةٗ مِّنِّي.

---

وَأَصۡبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَىٰ فَٰرِغًاۖ إِن كَادَتۡ لَتُبۡدِي بِهِۦ لَوۡلَآ أَن

رَّبَطۡنَا عَلَىٰ قَلۡبِهَا لِتَكُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٠﴾ وَقَالَتۡ لِأُخۡتِهِۦ قُصِّيهِۖ
فَبَصُرَتۡ بِهِۦ عَن جُنُبٍ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ﴿١١﴾ وَحَرَّمۡنَا عَلَيۡهِ
ٱلۡمَرَاضِعَ مِن قَبۡلُ فَقَالَتۡ هَلۡ أَدُلُّكُمۡ عَلَىٰٓ أَهۡلِ بَيۡتٖ يَكۡفُلُونَهُۥ لَكُمۡ
وَهُمۡ لَهُۥ نَٰصِحُونَ ﴿١٢﴾ فَرَدَدۡنَٰهُ إِلَىٰٓ أُمِّهِۦ كَيۡ تَقَرَّ عَيۡنُهَا وَلَا
تَحۡزَنَ وَلِتَعۡلَمَ أَنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا
يَعۡلَمُونَ ﴿١٣﴾

او د موسی د مور زړه بې قراره شو، که د دې لپاره چې له مؤمنانو څخه وي د دې زړه مو نه وی مضبوط کړی، نو نږدې وه چې څرګنده ئې کړي او د ده خور ته ئې وویل: ورپسې شه! نو له ګوښې ګوښې ئې داسې تر سترګو لاندې نیولی وو چې هغوی پرې نه پوهېدل او تر دې مخکې مو تی ورکوونکې پرې منع کړې وې، نو وئې ویل: آیا داسې کورنۍ دروښیم چې درته وئې پالي او خواخوږي ئې وي؟ نو په دې توګه مو خپلې مور ته راوګرځاوو چې سترګې ئې پرې سړې شي، غمجنه نه وي او پوه شي چې د الله وعده رښتینې ده خو ډېری خلک نه پوهېږي.

---

(۱۰ - ۱۳)- په دې مبارکو آیتونو کې څو لارښووني ګورو:

- د موسی د مور زړه بې قراره او له صبره تش شو، بې قراري ئې دې پړاو ته رسېدلې وه چې نږدې وه داسې کار وکړي چې ټوله خبره بربنډه شي، خو الله تعالی صبر ورکړ، که خبره افشاء شوې وی نو ښایي د موسی تر څنګ به دا هم په مرګ

محکومېده، خو الله تعالی غوښتل چې نه يوازې موسی عليه السلام او د ده مور ژوندي پاته شي، بلکې د شاهي کورنۍ د يوه نازولي غړي په توګه د خپلې مور په غېږ کې ستر شي او پر مور ئې هغه ورځ هم وګوري چې موسی عليه السلام په پيغمبرۍ مبعوث شوی او دې ايمان پرې راوړی.

- خپلې لور؛ د موسی عليه السلام خور ته ئې ويلي چې ورپسې شه او وګوره چې د سيند څپې ئې چېرې وړي او څه ورسره کېږي.
- هغه عقلمنه او هوښياره نجلۍ وه، په احتياط احتياط ورپسې روانه وه، وئې ليدل چې د فرعونيانو لاس ته ورغی، د فرعون مېرمنې له خپل سيالو مېرمنو او وينځو غوښتي چې تی ورکړي؛ خو ده د هيچا پر تي خوله نه ده ايښې.
- د موسی عليه السلام خور چې له لرې ئې د صحنې تماشا کوله، چا ته ئې ويلي چې زه داسې مېرمن پېژنم چې د ماشومانو په ښه ساتلو کې خاص مهارت لري، ځواب ئې ترلاسه کړی چې راتې وله، خپله مور ئې راوستې، کله چې هغې موسی خپل تي ته نيولی، تی ئې رودلی، د فرعون مېرمنې د ماشوم د ساتلو او پاللو دنده دې ته سپارلې.
- د الله تعالی وعدې رښتينې دي، چې دا ئې يوه بېلګه وه.

**(علم) او (حکمت)**

قرآن فرمايي چې موسی عليه السلام په داسې ماحول کې ستر شو چې پخې ځوانۍ ته د رسېدو پر مهال ئې هم (حکم) په برخه شو او هم (علم):

---

وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَٱسْتَوَىٰٓ ءَاتَيْنَٰهُ حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٤﴾

او کله چې پوخوالي ته ورسېد او تکړه شو حکمت او علم مو ورپه برخه کړ

او همدا راز نېکانو ته بدله ورکوو.

(۱۴)- يعني کله چې موسی علیه السلام خپل قوت او کمال ته ورسېد، د ځوانۍ هغه پړاو ته چې د انسان ټول قوتونه او استعدادونه په کې کمال ته رسېږي، نو موږ ورته علم او حکمت ورکړ، دا الهي پېرزوينه يوازې د ده په اړه نه وه، دا عام الهي سنت دئ، له نورو نېکانو سره به هم دې ته ورته معامله کېږي، (و كذلک نجزی المحسنين: همدغسې ټولو نېکانو ته بدله ورکوو)، هرڅوک چې د نېکۍ لاره غوره کړي؛ دغسې به الله تعالی هغه ته نېکه بدله ورکوي، علم او حکمت به ئې په برخه کوي.

دا آيتونه موږ ته ښيي چې د قيادت او زعامت لپاره يوازې (علم) کافي نه دئ، بلکې د علم تر څنګ (حکمت) ته هم اړتيا شته، د قرآن په ځای ځای کې به دا مطلب ستاسو مخې ته راشي چې پيغمبران عليهم السلام له (علم) او (حکمت) سره د خپل امت په لورې تللي او دوی ته ئې هم د علم ښوونه کړې او هم د حکمت. يعني يوازې په حقايقو پوهېدل کافي نه دي، د حقايقو پلي کول، تطبيقول او د تطبيق په لارو چارو ئې پوهېدل ترهر څه د مخه ضروري دي. الله تعالی موسی علیه السلام ته هم علم ورکړ او هم حکمت، ګورئ چې د يوه اجتماعي انقلاب لړۍ د داسې قيادت له راپيدا کېدو پيل کېږي چې الله تعالی هم (علم) ورکړی او هم (حکمت).

بايد وګورو چې دا کوم (علم) او کوم (حکمت) دئ چې له پيغمبرۍ نه مخکې او د همدغې ځوانۍ په دوران کې د موسی علیه السلام په برخه شوی؟! آيا معنی ئې دا ده چې هغه ديني علم له مذهبي کورنۍ ترلاسه کړی او (حکمت) او د زعامت او قيادت هنر د فرعون په کور کې، ځکه مخکنې آيتونه د موسی علیه السلام د روزنې چاپېريال داسې انځوروي چې له يوې خوا ئې له خپلې مذهبي کورنۍ سره اړيکې

ټينګي دي او ديني پوهه له دې ځايه ترلاسه کوي او له بلي خوا د فرعون په دربار کي د شاهي کورنۍ د يوه غړي په توګه د ده لپاره د ډېر څه زده کولو شرايط برابر دي، په دې توګه الله تعالی ده ته له يوې خوا ديني علم ورکړ او له بلي خوا ئې هغه بصيرت او حکمت ور په برخه کړ چي د ولس د قيادت او مشرتابه لپاره ضروري وي، او که له دې پرته د علم او حکمت ترلاسه کولو کومه بله مرجع ئې هم په برخه شوې؟

د قرآن په ځينو نورو آيتونو کي له غور او دقت نه وروسته معلومېږي چي موسی عليه السلام د خپلي پوهي او علم ترلاسه کولو يوه بله مرجع هم موندلې وه، د يوه عالم شخصيت په لټه کي په اوږده سفر وتلی وو، څه موده ئې د هغه ملګرتيا کړې وه او له هغه ئې علم ترلاسه کړی، خو دا څوک وو؟ څېړي ئې موندلي؟ څه ئې ترې زده کړي؟ قرآن د دې پوښتنو ځواب په دې توګه موږ ته راکوي:

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَىٰهُ لَآ أَبْرَحُ حَتَّىٰٓ أَبْلُغَ مَجْمَعَ ٱلْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِىَ حُقُبًا ﴿٦٠﴾
فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِى ٱلْبَحْرِ سَرَبًا ﴿٦١﴾ فَلَمَّا
جَاوَزَا قَالَ لِفَتَىٰهُ ءَاتِنَا غَدَآءَنَا لَقَدْ لَقِينَا مِن سَفَرِنَا هَٰذَا نَصَبًا ﴿٦٢﴾ قَالَ أَرَءَيْتَ
إِذْ أَوَيْنَآ إِلَى ٱلصَّخْرَةِ فَإِنِّى نَسِيتُ ٱلْحُوتَ وَمَآ أَنسَىٰنِيهُ إِلَّا ٱلشَّيْطَٰنُ أَنْ أَذْكُرَهُۥ ۚ وَٱتَّخَذَ
سَبِيلَهُۥ فِى ٱلْبَحْرِ عَجَبًا ﴿٦٣﴾ قَالَ ذَٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ ۚ فَٱرْتَدَّا عَلَىٰٓ ءَاثَارِهِمَا قَصَصًا
﴿٦٤﴾ فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَآ ءَاتَيْنَٰهُ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَعَلَّمْنَٰهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا ﴿٦٥﴾
قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰ هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَىٰٓ أَن تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا ﴿٦٦﴾ قَالَ إِنَّكَ لَن
تَسْتَطِيعَ مَعِىَ صَبْرًا ﴿٦٧﴾ وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلَىٰ مَا لَمْ تُحِطْ بِهِۦ خُبْرًا ﴿٦٨﴾ قَالَ سَتَجِدُنِىٓ

إِن شَآءَ ٱللَّهُ صَابِرًا وَلَآ أَعۡصِي لَكَ أَمۡرًا ﴿٦٩﴾ قَالَ فَإِنِ ٱتَّبَعۡتَنِي فَلَا تَسۡـَٔلۡنِي عَن شَيۡءٍ
حَتَّىٰٓ أُحۡدِثَ لَكَ مِنۡهُ ذِكۡرًا ﴿٧٠﴾ الكهف: ٦٠-٧٠

او کله چې موسی خپل زلمکي ته وويل: تر هغه به له تلو تم نشم چې مجمع البحرين (د دوو سيندونو يو ځای کېدو سيمي) ته ورسېږم يا به تر اوږدې مودې (کالونه کالونه) درومم. نو کله چې د دواړو يوځای کېدو سيمي ته ورسېدو نو دواړو خپل کب هېر کړ، چې په عجيبه توګه ئې په سيند کې خپله لار ونيوله او ولاړ. نو کله چې تېر شول خپل زلمکي ته ئې وويل: غرمنی (خوراک) مو راته راوړه؛ په رښتيا چې له دې سفره مو ستړيا په برخه شوه (دې سفر ډېر ستومانه کړو)، وئې ويل: په ياد دي دي کله چې هغې لويي ډبري ته مو پنا يووړه؛ نو ما کب هېر کړ، هسې شيطان رانه هېر کړ چې يادونه ئې (درته) وکړم، او په عجيبه توګه ئې په سيند کې خپله لار ونيوله. وئې ويل: همدا هغه څه دئ چې موږ ئې غواړو، پر خپلو پلونو ګام په ګام په شا وګرځېدل، نو زما له بندګانو ئې داسې يو بنده وموند چې له خپل لوري مو پېرزوينه ورپه برخه کړې وه او له خپل لوري مو ځانګړی علم ورزده کړی وو. موسی ورته وويل: آيا کېدی شي د دې لپاره ستا متابعت او ملګرتيا وکړم چې د هغه رشد او پوهې څه رازده کړې چې تا ته ئې علم درکړی شوی؟ هغه ورته وويل: ته زما په ملګرتيا کې صبر نشې کولی، څنګه به په هغه څه صبر وکړې چې پرې خبر نه يې؟ وئې ويل: إن شاء الله ما به صابر ومومې او په هيڅ کار کې به له تا سرغړاوی ونه کړم. وئې ويل: نو که زما متابعت کوې نو د هيڅ څه په اړه تر هغه ما مه پوښته چې په خپله ئې يادونه درته وکړم.

په دې مبارکو آيتونو کې څو لارښووني زموږ مخې ته ايښودل شوې:

- موسی عليه السلام ته د يوه پوه او عالم شخصيت يادونه شوې، د اوسېدو ځای ئې مجمع البحرين ښودل شوی، ده اراده کړې چې دا کس حتماً وګوري، څه

وخت ورسره پاته شي او څه ترې زده کړي. په همدې موخه خوځېدلی، یو کس ئې د خادم او ساتونکي په توګه له ځان سره کړی. د موسی علیه السلام د سفر ملګری د (فتا: غلام او خادم) په نامه یاد شوی او له دې معلومېږي چې دا د هغه وخت قصه ده؛ او دا سفر هغه مهال ترسره شوی چې موسی علیه السلام د فرعون په کور کې او د شاهي کورنۍ د یوه غړي په توګه اوسېدو او ساتونکي او غلامان ئې په خدمت کې ول، دا څکه چې قرآن د یوسف علیه السلام ساتونکي او خدمتګاران هم په دغه نامه یادکړي.

- دا سفر اوږد او ستونزمن وو، د ده دا وینا چې یا به مجمع البحرین ته رسم او یا خو به همداسي تر اوږدې مودې دروم، همدا مطلب افاده کوي. د هغو خلکو انتباه صحیح نه ده چې وايي: موسی علیه السلام سحر خوځېدلی، د غرمې شاوخوا مهال داسي ځای ته رسېدلی چې ستړی او وږی شوی، هملته ئې پوخ ماهي ترې ورک شوی او خضر علیه السلام ئې هملته موندلی!!
- دا سفر د دوبي په ګرمیو کې ترسره شوی، د تودوخي له امله ئې د غرمې مهال د یوې لویې ډبرې سیورې ته پنا وړې وه.
- لکه څنګه چې د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما په روایت کې راغلي؛ موسی علیه السلام ته ویل شوي وو چې د سفر په دوران کې به په سیند کې روان کب ستا لپاره لارښود او نښه وي، د هغه په خوا کې درومه، په هر ځای کې چې درنه ورک شو نو مجمع البحرین هملته دئ او دغه عالم به هملته ومومې.
- موسی علیه السلام خپل ملګری په دې ګمارلی وو چې په سیند کې روان کب به ترنظر لاندې نیسي، که ترې ورک شو نو ده ته به اطلاع ورکوي، خو کله چې دې کب خپل مسیر بدل کړی او په بل لوري تللی نو له ملګري ئې دا خبره هېره شوې او هغه مهال ئې موسی علیه السلام ته کړې چې هغه د خوراک غوښتنه ترې کړې.
- په خپله مخه د کب تلل ښيي چې مجمع البحرین همدلته وو، کب خپله لاره

بدله کړې او په هغه لوري تللی چې له بل اړخ نه بل سیند له نیل سره یو ځای شوی، نو ځکه موسی علیه السلام خپل ملګري ته وویل: موږ د همدغه ځای (مجمع البحرین) په لټه کې وو. دې ته مو هم باید پام وي چې هغه پلي نابلد مسافر ته چې د لوی سیند په ژۍ بري خوا ته روان وي، دا ډېره ګرانه وي چې د دوو سیندونو د یو ځای کېدو ځای په دقیقه توګه تشخیص کړي، دا ځکه چې ډېر ځلي لوی سیندونه په یوه ځای کې وویشل شي او په بل ځای کې ئې وېشل شوې څانګې بېرته سره یو ځای شي، دې ته مو هم باید پام وي چې الله تعالی کبان داسي پیدا کړي چې په ژمي کې تودو سیمو ته کوزېږي او په دوبي کې بېرته خپلو اصلي سړو سیمو ته درومي، کله کله د دوی دا ژمنی او دوبنی سفر سلګونه کیلومتره اوږد وي، د نیل کبان د دوبي (اوړي) په موسم کې له مصر نه د سودان او په یوګندا او ایتوپیا کې د نیل د سرچینو په لوري درومي.

- لکه څنګه چې د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما په یوه روایت کې راغلي دا عالم شخص خضر علیه السلام وو، روایت داسي دئ:

عن ابن عباس أنه تمارى هو والحرّ بن قيس بن حِصْن الفزاريّ في صاحب موسى، فقال ابن عباس: هو خَضِر، فمرّ بهما أبيّ بن كعب، فدعاه ابن عباس فقال: إني تماريت أنا وصاحبي هذا في صاحب موسى الذي سأل السبيل إلى لقيه، فقال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يذكر شأنه؟ قال: إني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: "بَيْنا مُوسَى في مَلأ مِنْ بَني إسْرَائيل إذْ جاءَهُ رجُلٌ فَقَالَ: تَعلَمُ مَكانَ أحَدٍ أعْلَمُ مِنْكَ؟ قال مُوسَى: لا فأوْحَى اللهُ إلى مُوسَى: بَلى عَبْدُنا خَضِرٌ، فَسأل مُوسَى السَّبيلَ إلى لُقِيِّه، فجَعَلَ اللهُ لهُ الحُوتَ آيَةً، وقِيلَ لَهُ: إذَا فَقَدْتَ الحُوتَ فارْجِعْ فإنَّكَ سَتَلْقاهُ، فكانَ مُوسَى يَتبَعُ أثَرَ الحُوتِ في البحْرِ، فَقَال فتَى مُوسَى لِمُوسَى: أرأيْتَ إذْ أوَيْنا إلى الصَّخْرَةِ، فإنّي نَسِيتُ الحُوتَ، قالَ مُوسَى: ذلكَ ما كُنَّا نَبْغِ، فارْتَدَّا على آثارِهِما قَصَصًا، فَوَجَدَا عَبْدَنا خَضِرًا.

رواه البخاري، احمد، الطبري و غيرهم

دا روايت څو خبري زموږ مخي ته ږدي: دا عالم او پوه شخص خضر عليه السلام وو. موسی عليه السلام ته ويل شوي وو چي په ژوندي ماهي پسي روان شي، په هر ځای کي چي ترې ورک شو هملته به خضر وومي. موسی عليه السلام د سفر ملګری په دې ګمارلی وو چي په سيند کي روان کب به تر نظر لاندي نيسي، کله چي ترې ورک شي نو ته ده به خبر ورکوي، دوی د سفر په دوران کي د تودوخي په وجه د کوم کمر سيوري ته پنا وړې، په همدې وخت کي کب څپله لار بدله کړې او د هغه ځوانکي له ستر ګو غايب شوی، کله چي بيا خوځېدلي، له څه مزل وروسته موسی عليه السلام له هغه نه غرمنی خوراک غوښتی، په همدې وخت کي هغه ته د کب د غايبېدو خبره ورپه ياد شوې او موسی عليه السلام ته ئې يادونه کړې، موسی عليه السلام ورته ويلي چي موږ د همدې ځای په لټه کي وو، بېرته راستانه شوي او خضر عليه السلام ئې هملته موندلی.

خو دا روايت په بخاري کي دولس ځلي نور هم راغلی، په دې کي درې ځلي نور د پورتني روايت په څير دئ او څلور ځلي داسي راغلی چي له پورتني سره ژور تعارض لري او په کي راغلي چي موسی عليه السلام ته ويل شوي وو چي وريت شوی کب په ټوکری کي ورسره واخلي، په دغو څلورو کي هم ژور توپيرونه تر ستر ګو کېږي، دا په داسي حال کي چي د ټولو ديارلسو روايتونو راوي يو دئ! امام بخاري رحمه الله نه دي ويلي چي کوم روايت ئې تر نورو غوره، دقيق او صحيح دئ، هغه له بېلو بېلو راويانو چي څه اورېدلي په امانت سره ئې رانقل کړي، له دغو متعارضو رواياتو به يو غوره کوو، يا هغه چي وايي موسی عليه السلام ته په سيند کي روان کب د نښي په توګه ټاکل شوی وو يا هغه چي وريت شوی کب نښه ګڼي، د اسنادو له مخي دا پرېکړه نشي کېدی، ځکه که دا کار ممکن وی نو امام بخاري به هرومرو ويلي وو چي کوم ئې ضعيف دئ او کوم ئې صحيح. مجبور يو د قرآن په رڼا

کې او د درایت له مخې ارجح روایت تشخیص کړو، د دې روایت په اړه ډېرې داسې پوښتنې راولاړېږي چې ځواب ئې نشي ویل کېدی، پوښتنې دا دي:

- د روایت په سر کې دا الفاظ راغلي: كَذَبَ عَدُوُّ اللّٰهِ: د خدای دې دښمن دروغ ویلي! د عبدالله بن عباس غوندې له شخصیت نه لرې خبره ده چې د یوه کس د ادعاء له مخې د بل چا په اړه داسې وینا وکړي. شریعت داسې قضاوت جائز نه ګڼي چې د یوې لانجې د دواړو خواوو د ویناوو له اورېدو مخکې وي.
- دا روایت وایې چې موسی علیه السلام د بعثت نه وروسته دا سفر کړی، حال دا چې له بعثت نه وروسته هغه د ټول عالم لپاره لارښود وو، تر ده بل پوه او عالم کس په نړۍ کې نه وو، ولې به الله تعالی د دې خبرې په کولو تر عتاب لاندې نیولو چې د یو چا په ځواب کې ئې ویلي وو: تر ما بل پوه کس نشته؟! پیغمبر علیه السلام په وار وار صحابه وو ته ویلي چې تر تاسو ټولو ښه پوه یم، او صحابه وو هم ویلي چې الله او د هغه رسول تر ټولو زیات پوه دي.
- قرآن وایې چې موسی علیه السلام د بعثت نه وروسته یوازې څلوېښت ورځې له خپل قوم نه لرې شوی چې د ده په غیاب کې سامري وغولول، که دا سفر له بعثت نه وروسته وی نو حتماً به ئې قرآن وضاحت کړی وو. له بعثت نه وروسته هغه د سینا په صحرا کې وو، هلته نه سیندونه وو او نه مجمع البحرین.
- که وریت شوی او پوخ ماهي د دوی لپاره نښه وو نو موسی علیه السلام به څنګه خپل خادم ته ویل چې هغه د خوراک لپاره راوړه؟!! په دې صورت کې خو به ئې تل له ځان سره ساتو او له خوړلو به ئې ډډه کوله.
- دا روایت وایې چې وریت شوی کب ژوندی شو او سیند ته ئې ټوپ کړل او موسی علیه السلام او ملګری ئې حیران شول، خو قرآن وایې چې د کب غائبېدا او تګ صحنه یوازې د موسی علیه السلام ملګرې لیدلې وه نه موسی علیه السلام، د روایت دا وینا د قرآن له وینا سره په بشپړه توګه تعارض لري.

- خضر علیه السلام څنگه موسی علیه السلام ته ویلي: ما ته داسي علم راکړی شوی چي تا ته نه دئ درکړی شوی او تا ته داسي علم درکړی شوی چي ما ته نه دئ راکړی شوی؟! کوم علم ده ته ورکړی شوی وو؟ علم غیب خو نشي کېدی!! ځکه چي هغه د ملاقات پر مهال موسی علیه السلام ونه پېژندو.
- د خضر علیه السلام په لاس د کافر او مفسد ځوانکي د وژل کېدو په اړه دا الفاظ راغلي چي منل ئې گران دي: فَأَخَذَ الْخَضِرُ بِرَأْسِهِ مِنْ أَعْلاهُ فَاقْتَلَعَ رَأْسَهُ بِيَدِهِ : نو خضر د سر له لوړي نه ونیو او په خپل لاس سره ئې سر تړې وایست!!
- د موسی علیه السلام د سفر مربوط ابتدائي آیتونه دا دي:

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَىٰهُ لَآ أَبْرَحُ حَتَّىٰٓ أَبْلُغَ مَجْمَعَ ٱلْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِيَ حُقُبًا ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِي ٱلْبَحْرِ سَرَبًا ﴿٦١﴾ فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتَىٰهُ ءَاتِنَا غَدَآءَنَا لَقَدْ لَقِينَا مِن سَفَرِنَا هَٰذَا نَصَبًا ﴿٦٢﴾ قَالَ أَرَءَيْتَ إِذْ أَوَيْنَآ إِلَى ٱلصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ ٱلْحُوتَ وَمَآ أَنسَىٰنِيهُ إِلَّا ٱلشَّيْطَٰنُ أَنْ أَذْكُرَهُۥ وَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِي ٱلْبَحْرِ عَجَبًا ﴿٦٣﴾ الکهف: ٦٠ـ ٦٣

د دې آیتونو له هیڅ لفظ څخه نه صراحتاً او نه اشارتاً داسي معلومېږي چي وریت شوی کب ژوندی شوی او له ټوکری ئې سیند ته ټوپ کړي؟ که دا کار شوی وی نو قرآن به په صریحو الفاظو هغه ته اشاره کړې وه، او که د موسی علیه السلام ملگري داسي صحنه په سترگو لیدلې وی نو له ډېري حیرانتیا به ئې یا داسي چیغه له خولې وتلې وه چي موسی علیه السلام به ئې له خوبه راویښ کړی وی او که ئې ډېر صبر کړی وی نو د ده له ویښېدو وروسته به ئې فوراً دا خبره ورته کوله، لږ تر لږه هغه مهال خو به ئې دا خبره کړې وه چي تشه ټوکری ئې له ځان سره وړله، دا داسي خبره نه ده چي څوک ئې هېره کړي، او څو ساعته وروسته ورپه یاد شي،

قرآن وايي چې دواړو خپل کب هېر کړ (نسيا حوتهما)؛ يعني دواړو دې خبري ته نه وو پام چې کب به تر نظر لاندې نيسي، قرآن وريسې د موسى عليه السلام د ملګري دا وينا راوړې: شيطان رانه هېره کړه چې يادونه ئې وکړم، کب په عجيبه توګه پر خپله مخه ولاړ، د دې خبري معنى دا ده چې يوازې د موسى عليه السلام ملګري دا صحنه ليدلې وه، نه موسى عليه السلام. دغو خبرو ته په پام سره په يقيني توګه ويلى شو چې دا روايت ډېر اشکالات لري او هغه بل له هره پلوه ارجح او غوره دئ او د قرآن له وينا سره اړخ لګوي.

- کله چې موسى عليه السلام له خضر عليه السلام سره مخامخ شوى له هغه ئې غوښتي چې څه موده ئې له ځان سره د ملګري په توګه ومني او هغه څه وروښيي چې الله تعالى ده ته ورښودلي. هغه په ځواب کې دوه خبري ورته کړې: ١- ته زما په ملګرتيا کې صبر نشې کولى، ښايي د ده حالت ته په پام سره ئې دا خبره ورته کړې، هغه ئې په سوکالى او رفاه کې ستر شوى زلمى موندلى او د ځان د ستونزمنو او خطرناکو سفرونو د ملګرتيا جوګه ئې نه دى ګڼلى؛ نو ځکه ئې دا خبره ورته کړې. او بيا ئې ورته ويلي: څنګه به په هغه څه صبر وکړې چې پرې خبر نه يې؟ ٢- او که سره له دې زما متابعت کوې نو د هيڅ څه په اړه تر هغه ما مه پوښته چې په خپله ئې يادونه درته وکړم. له دې نه معلومېږي چې خضر عليه السلام ډېر محتاط شخصيت وو، خپل نږدې د سفر ملګرى ئې هم له خپلو اسرارو نه خبراوو، پر موسى عليه السلام ئې دا شرط ومنلو چې د اسرارو پوښتنه به نه ترې کوي، مګر هغه مهال چې دى ئې په خپله يادونه وکړي. له دې نه دا هم معلومېږي چې خضر عليه السلام په سري مبارزې بوخت وو، د دې خبري حقيقت هغه مهال موږ ته لاښه جوت کېږي چې د دوى دواړو د ملګرتيا درې پېښې په دقت سره له نظره تېرې کړو. د موسى عليه السلام مخکنى د سفر ملګري له ځان سره نه بېول هم دغه مطلب په ګوته کوي. موسى عليه السلام شرط مني او د صبر او اطاعت ژمنه کوي.

- له دې آیتونو نه دا خبره په ډېره واضحه توګه معلومېږي چې د دغو دواړو شخصیتونو ترمنځ دا ملاقات هغه مهال ترسره شوی چې موسی علیه السلام لا په پیغمبرۍ نه وو مبعوث شوی، دا ځکه چې له بعثت نه وروسته هغه د ټولي نړۍ لپاره لارښود شو، دا ضرورت ئې نه وو چې له خضر علیه السلام نه څه زده کړي.
- ډېره عجیبه ده، د قرآن له داسي قصې او مضمون نه چې هر مخاطب ته د سري مبارزي درس ورکوي، غرضي او مرضي خلکو داسي افسانه جوړه کړې چې د مخاطب ذهن تخدیروي او له سره تر پایه غلط افکار القاء کوي، چېري د خضر علیه السلام هغه دري جهادي کارونه او چېري دې ته د لدني علم نوم ورکول او دا ادعاء کول چي هغه په غیب پوهېدو او کارونه ئې غیرعادي وو.

دلته باید د دې مبارک آیت په وړاندي لږ توقف وکړو، او په معنی ئې ځان پوه کړو:

فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَآ ءَاتَيْنَٰهُ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَعَلَّمْنَٰهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا ﴿٦٥﴾

الکهف: ٦٥

نو زما له بندګانو ئې داسي یو بنده وموند چې له خپل لوري مو پېرزوینه ورپه برخه کړې وه او له خپل لوري مو ځانګړی علم ورزده کړی وو.

د دې آیت د (من لدنا علماً) له فقرې نه ځینو متصوفینو د (لدني علم) اصطلاح رااېستلې او وايي چې دا علم د تعلیم، تعلم، لیک او لوست له لاري نه ترلاسه کېږي، آناً او له مقدمې پرته انسان ته القاء کېږي، دا اصلي او حقیقي علم بولي او هغه علم ته د پوستکي او ظاهري علم په سترګه ګوري چې د تعلیم او تدریس له لاري او په لیک لوست ترلاسه کېږي!! د دغو جنابانو په ځواب کي وایو:

- دا له ځانه جوړه شوې بې بنسټه اصطلاح ده.
- له (لدني علم) نه ستاسو مراد څه دئ؟ مراد مو (ذاتي علم) دئ، که د (الله تعالی له لوري ورکړی شوی علم)؟ که آناً او له تعلیم او لیک لوست نه پرته ترلاسه

شوی علم؟ ذاتي علم خو له الله تعالی پرته هیڅوک نه لري، د انسان علم خو اکتسابي دئ، انسان د وحي، تعلیم، تدریس، لیک او لوست له لاري علم ترلاسه کوي، قرآن د پیغمبر علیه السلام په اړه فرمایي چې له بعثت نه مخکې لار ترې ورکه وه، سمه لار ئې نه پېژندله:

أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَىٰ ﴿٦﴾ وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَىٰ ﴿٧﴾ وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَىٰ ﴿٨﴾

الضحی: ٦-٨

مگر نه ئې وموندلې يو يتيم او د تېکي ځای ئې درکړ؟ مگر نه ئې وموندلې يو لاروركی او لار ئې وښودله؟ او نیازمند ئې وموندلې، خو غنا ئې کړه په برخه؟

همدا راز فرمایي چې له بعثت نه مخکې نه په کتاب پوهېدو او نه د ایمان په حقیقت او معنی:

وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا ۚ مَا كُنتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ وَلَٰكِن جَعَلْنَاهُ نُورًا نَّهْدِي بِهِ مَن نَّشَاءُ مِنْ عِبَادِنَا ۚ وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٢﴾

الشوری: ٥٢

همداسې مو تا ته له خپل لوري د خاص امر وحي وکړه، ته نه پوهېدې چې کتاب څه دئ او نه د ایمان (په معنی او حقیقت) پوهېدې، خو موږ داسې نور وگرځاوو چې له خپلو بندگانو نه هغه څوک پرې هدایتوو چې غواړو ئې، او بې شکه چې ته د مستقیمې لارې خوا ته لارښوونه کوې.

قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې د هر انسان علم په حقیقت کې د الله تعالی له لوري ورکړی شوی علم دئ، د پوهې او معرفت وسایل او استعدادونه هم الله تعالی ورکړي او په یوه څه د پوهېدو مجال او شرایط هم الله تعالی ورته برابروي. قرآن په دې اړه فرمایي:

﴿يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ﴾

البقرة:٢٥٥

په داسي حال کي چي دی په هر هغه څه پوهېږي چي د دوی مخي ته دي یا ئې شاته دي او دوی د ده له علم څخه یوازي په دومره څه احاطه کولی شي چي دی ئې وغواړي،

یعني دا الله تعالی دئ چي هر چا ته علم او پوهه ورکوي، سترګي، زړه، غوږونه، دماغ او اعصاب ئې د ده په اراده ورته کار کوي، لار ورته ښيي او د ښه او بد، مفید او مضر په پېژندلو کي ئې مرسته کوي، په هر څه چي انسان علماً احاطه کوي او په کوم څه د پوهېدو توفیق ترلاسه کوي نو دا ټول د الله په خوښه او اذن او په همغه حد کي وي چي الله ئې وغواړي. د انسان پر مخ چي د معرفت هره دروازه پرانیستل کېږي او په هري نوې خبري چي د پوهېدو توفیق ترلاسه کوي، د ده هر(کشف) او په هر سِر او راز پوهېدل ئې په حقیقت کي د الله تعالی یوه پېرزوینه ده، دا دروازه د ده له لوري ورته پرانستل کېږي، په دغو حقایقو د پوهېدو توفیق دی ورکوي او د دغو اسرارو د کشف توان دی ورکوي، چي حقیقت همداسي دئ نو تاسو ما ته ووایئ چي ولي د خضر علیه السلام علم استثنایي علم ګڼئ او د (لدني علم) نوم ورکوئ؟!!

او د درېیم تعبیر په صورت کي باید پوه شئ چي له عیسی او یحیی علیهما السلام نه پرته نه الله تعالی چا ته په وړوکتوب کي فوق العاده علم ورکړی او نه ئې په پیغمبری مبعوث کړی، عیسی علیه السلام ته په ماشومتوب کي یوازي څو خبري ښودل شوې، جامع علم ئې هغه مهال په برخه شو چي انجیل پرې نازل شو.

پیغمبرانو علیهم السلام ته چي د وحي له لاري کوم علم ورکړی شوی دا هم په تدریجي توګه او د کتاب او صحیفې په بڼه کي ورکړی شوی، نه دا چي په یو ځل او په بشپړه توګه ټول علوم د هغوی زړه او دماغ ته القاء شوي، قرآن پر پیغمبر

علیه السلام په تدریجي توګه نازل شوی، دا د ټولو فقهاوو او علماءو متفقه قول او د قرآن د صریحوآیتونو مطابق نظر دئ، یوازې افراطي او غلات شیعه او ناپوه متصوفین ورسره مخالفت لري، دا په داسې حال کې چې پیغمبر علیه السلام د هرې قضیې او پېښې په اړه د وحي نزول ته انتظار کړی، د وحي له راتلو نه مخکې نه پوهېدو چې څه حکم وکړي.

اوس مونږ ته ووایئ چې تاسو د کوم منطق له مخې د (لدن) له لفظ نه (لدني علم) اخلئ او ادعاء کوئ چې دا علم له تعلیم او تدریس، لیک او لوست نه پرته ترلاسه کېږي؟ آیا له دې حقیقته خبر نه یئ چې دا د محرف بایبل غلطه او بې بنسټه ادعاء ده چې قرآن ئې په کلکه ردوي او د قرآن لومړي نازل شوي آیتونه د بایبل د دغې ادعاء خلاف وایي چې د انسان علم اکتسابي دئ، د قرائت او لیک لوست له لارې ترلاسه کېدی شي او الله تعالی د قلم له لارې انسان ته هغه څه ښیي چې نه پرې پوهېږي: قرآن فرمایي:

ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ۝١ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ۝٢ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ۝٣
ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ۝٤ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ۝٥ العلق: ١-٥

١- ولوله په نوم د خپل رب، هغه چې پیدا ئې کړ. ٢- انسان ئې له څوړندو پیدا کړ. ٣- ولوله چې رب دې ډېر کریم دئ. ٤- آ چې په قلم ئې پوهه ورکړه. ٥- انسان ته ئې ورزده کړل څه چې نه پرې پوهېدو.

په دې مبارکو آیتونو کې څو مطالب خاصه توجه غواړي:

- د الله تعالی له لوري وحي د اقرأ (ولوله) په امر پیل شوې او دا ښیي چې د اسلام له نظره د (لوست) مقام او منزلت څومره لوړ دئ او څومره اهمیت لري، دا د الله تعالی لومړی امر دئ، په دغه امر سره ئې د وحي لړل پیل کړي. او دا د ټولو هغو کمعقلو په خوله سخت ګوزار دئ چې د (لدني علم) بې بنسټه خبره ئې جوړه

کړې.

- دا د الله تعالی د کرم او پېرزوینې څرګنده نښه ښودل شوې چې انسان د يوه (ځوړند توکي) له حالته هغه ځای ته رسوي چې (کامل انسان) ترې جوړ شي، لیک او لوست ورښیي، انسان یوازینی مخلوق دئ چې کولی شي د (لوستلو) له لارې د بل په خبره پوه شي او د (لیکلو) له لارې خپل معلومات خوندي کړي او خپل پيغام نورو ته ورسوي او په دې سره د خپل سلف له قیمتي تجاربو ګټه واخلي، د معلوماتو د ضایع کېدو مخه ونیسي او راتلونکي نسل ته ئې انتقال کړي، له انسانه پرته دا وړتیا او امتیاز په هیڅ ذیروح کي نه ګورو، الله تعالی په انسان کي دا استعداد او وړتیا ایښې ده چې له (قلم) نه د تعلیم او تعلم وسیله جوړه کړي، له دې اړخه ئې انسان ته پر ټولو نورو مخلوقاتو فضیلت ورکړی.
- په (قرائت)، (علم) او (قلم) سره هم انسان ته پر نورو مخلوقاتو فضیلت ورکړی شوی او هم په خپله د انسانانو تر منځ یوه ته پر بل فضیلت.
- (قلم) د زده کړې او پوهې ډېره اغېزمنه وسیله ده، په دې سره انسان د دې مجال تر لاسه کوي چې په ډېرو هغو حقایقو پوه شي چې له بلې لارې پرې پوهېدل ورته ممکن نه وو.
- لکه څنګه چې دلته د (علم بالقلم) الفاظ په دې معنی دي چې انسان ته له قلم نه د استفادې استعداد ورکړی شوی، الله تعالی د هغه په فطرت کي دا ملَکه ایښې چې قلم جوړ کړي، خپل ما في الضمیر ولیکي او نورو ته ئې انتقال کړي او له دې نه د زده کړې او تعلیم او تعلم وسیله جوړه کړي، همدا راز په نورو آیتونو کي دې ته ورته راغلي الفاظ لکه (علمه البیان) او (علم آدم الاسماء کلها) هم هغو استعدادونو ته اشاره کوي چې انسان ته ورکړی شوي، انسان ته د (بیان) ملَکه ورکړی شوې، کولی شي خپل (مافیالضمیر) اظهار کړي او له کلماتو او الفاظو نه په استفادې سره خپل قصد، هدف، نظر او پیغام تشریح او توضیح کړي، هغه ته د هر څه د پېژندو

او په هر څه د یوه مناسب نوم ایښودو استعداد ورکړی شوی، هغه کولی شي خپله پوهه د نومونو په قالب کې ترتیب، تنظیم او حفظ کړي او نورو ته ئې انتقال کړي. دا د انسان یوه ځانګړتیا ده، دا صفت په نورو مخلوقاتو کې نشته، په دې سره الله تعالی انسان ته پر ټولو مخلوقاتو فضیلت او شرف ورکړی.

- په اصل کې انسان (بې علمه) دئ، په تدریج سره زده کړه کوي او علم ترلاسه کوي. د انسان د پوهې او علم تفاوت د نورو ژوو له شعور او پوهې سره په دې کې دئ چې نور ژوي ثابت او محدود علم لري، له مخکې د دوی په خټه او دماغ کې ایښودل شوی، په فطري او الهامي توګه ورته تفهیم شوې چې څنګه ژوند وکړي، کوم کوم کارونه وکړي، څه وخوري او د څه له خوراکه ډډه وکړي، څنګه مفید او مضر سره بېل کړي، خو انسان کولی شي چې تر هغه څه زیات هم زده کړي چې په فطري او الهامي توګه ورښودل شوي او په ضمیر کې ئې ایښودل شوي. دی کولی شي زده کړه وکړي، د خپلې پوهې سطحه لوړه کړي، اسرار کشف کړي او پټ حقایق ځان ته معلوم کړي، په (لوستلو)، (لیکلو) او له (قلم) نه په استفادې سره د خپلې حافظې ظرفیت لوړ او پراخ کړي او په هغه څه هم پوه شي چې نور پرې پوهېدلي او دی ترې غافل وو او له پېژندو ئې عاجز. که انسان ته له (قلم) نه د استفادې استعداد نه وی ورکړی شوی او په لیک او لوست نه پوهېدی نو د هر چا علم او پوهه به له ده سره پاتې کېده، نه به په دې توانېدو چې د نورو له پوهې او تجربو ګټه واخلي او نه به ئې خپل تجارب او علم نورو ته انتقالولی شو.

سره له دې چې عظیم الشأن قرآن (قلم)، (لیک) او (لوست) ته دومره اهمیت ورکړی او سره له دې چې پیغمبر علیه السلام ته د وحي په پیل کې لومړی لارښوونه د قرائت او قلم په هکله ده او ورته ویل شوي چې قلم د تعلیم او تعلم ستره وسیله ده، خو متأسفانه ځینې متصوفین دا ستر او څرګند حقیقت له پامه غورځوي او ادعاء کوي چې له قرائت، تعلیم، تدریس، لیک او لوست نه پرته هم

(علم) ترلاسه کېدی شي، نو د علم د زده کړې لپاره مدرسې ته مه ځه، د عالم مخې ته مه کښېنه، کتاب او قلم پرېږده، خانقاه ته ولاړ شه، د مرشد لمن ونیسه، د کوم قبر خوا ته دېره شه، (لدني علم) به دې په برخه شي، سترګې به دې پرانیستلې شي او په غیبي حقایقو به پوه شې!! دا همغه خبره ده چې محرف بایبل ئې کوي؛

تاسو د قرآن دا علمي، دقیقه او په حقیقت او واقعیت ولاړه وینا د بایبل او د بایبل تر اغېز لاندې د تللو متصوفینو له دغې بې بنسټې ادعاء سره مقایسه کړئ چې وايي: انسان د معرفت د ونې مېوه وخوړه، سترګې ئې پرانیستلې شوې او د ځان او خپل ماحول په حال پوه شو!!

بایبل وايي: آدم او حوی علیهما السلام په جنت کې د دوو ونو د مېوو له خوړلو منعه شوي وو: د (معرفت ونه) او د (حیات ونه)، او ورته ویل شوي وو چې که دا مېوه وخورئ نو حتماً مرئ!!

د بایبل له منونکو پوښتنه کوو: آدم علیه السلام ته د کومې مېوې د نه خوړلو توصیه شوې وه او ګواښل شوی وو چې که دا مېوه وخورې حتماً مرې؟ د حیات د ونې که د معرفت د ونې؟ طبیعي ده چې دا د حیات د ونې مېوه نه شي کېدی دا ځکه چې هغه خو په مرګ نه بلکې په دائمي ژوند منتج کېږي!! او د دوهمې خبرې معنی خو دا ده چې که ته د معرفت ترلاسه کولو هڅه وکړې او (د ښه او بد پېژندو د ونې) مېوه وخورې نو هرو مرو مرې، یعني په پټو سترګو ژوند کوه، د معرفت د ونې مېوه مه خوره؛ ځکه چې دا مېوه ستا د مرګ باعث کېږي! په دې هکله څو پوښتنې لرو:

- آدم علیه السلام خو دا مېوه وخوړه، ولې مړ نه شو؟ ولې د بایبل د خدای خبره غلطه وخته؟ هغه خو ورته ویلي وو چې که دا مېوه وخورې مطمئن اوسه چې حتماً مرې!!
- د انسان د مرګ یو ستر عامل خو د بایبل د خبرې برعکس د ده عدم معرفت

دئ، هغه که له بیمارۍ مري وجه ئې دا ده چې د دې بیمارۍ د علاج دوا نه پېژني، هغه که د کوم دښمن په لاس مغلوبېږي او په قتل رسېږي سبب ئې دا دئ چې معرفت ئې ناقص دئ، د دښمن د پرځولو او د ده له شره د ځان ژغورلو په چل او چم نه پوهېږي، معرفت خو د ده د ژوند د اوږدوالي باعث دئ نه د مرگ باعث، الله تعالی به څنگه ده ته وايي چې د معرفت د وني مېوه ستا د مرگ باعث کېږي؟!!

- که چا ته د معرفت ورکول په دې توگه وی نو پیغمبرانو علیهم السلام ته به همداسي لدني علم ورکول کېدو او پر دوی به په تدریج سره د کتاب د نازلېدو ضرورت نه وو!!

راشئ د بایبل د دغي وینا په وړاندي لږ توقف وکړو، د بایبل په درېیم فصل کي، د انسان سقوط تر عنوان لاندي په لومړيو [۱۹] جملو کي دا مطالب لولو:

"مار تر ټولو هغو حیواناتو ډېر زیرک وو چې خدای پیدا کړي وو، یوه ورځ مار د ښځي خوا ته راغی او هغې ته ئې وویل: آیا رښتیا ده چې خدای تاسو د باغ د ټولو ونو د مېوو له خوړلو منع کړي یئ؟ ښځي په ځواب کي ورته وویل: موږ ته اجازه راکړی شوې چې د ټولو ونو مېوه وخورو پرته د یوې ونې چې د باغ په منځ کي ده، خدای امر کړی چې د دې وني مېوه ونه خورو او حتی لاس ورنه وړو که نه نو مرو. مار ورته وویل: "مطمئن اوسه چې نه مرئ، بلکي خدای ښه پوهېږي چې کله تاسو دا مېوه وخورئ سترگي مو پرانستل کېږي، د خدای په څېر کېږئ او ښه له بده بېلولی شئ"، هغه ونه ښځي ته ښایسته وبرېښېده او له ځان سره ئې فکر وکړ چې "کېدی شي د دې ښایسته وني مېوه خوندوره وي او پوهه مي په برخه کړي، نو د دې وني مېوې ئې راوشکولې، وئې خوړلې او خپل خاوند ته ئې هم ورکړې او هغه هم وخوړلې" په همدې سره د دوی دواړو سترگي پرانستلې شوې، په خپلي بربنډتیا پوه شول، نو د انځر له پاڼو ئې د ځان پټولو جامه جوړه کړه، د همدې ورځي په مازدیگر کي، آدم علیه السلام او ښځي ئې د خدای غږ واورېدو چې په باغ

کي گرځېدو، نو په ونو کي پټ شول، خدای آدم ته غږ کړ: اې آدمه! چیري یې، ولي پټیږې؟ آدم ځواب ورکړ: ستا غږ مي په باغ کي واورېدو، وویرېدم، دا ځکه چي لوڅ وم، نو ځکه پټ شوم، خدای وفرمایل: چا درته وویل چي لوڅ یې؟ آیا د هغې ونې مېوه دې خوړلې ده چي ترې منع کړی مي وې؟ آدم ځواب ورکړ: دغې ښځې چي زما ملگرې دې گرځولې، ما ته ئې دا مېوه راکړه او ما هم وخوړه، دلته نو خدای له ښځې وپوښتل: دا څه کار وو چي تا وکړ؟ ښځې وویل: مار وغولولم!! نو خدای مار ته وویل: د دغه کار د کولو په سبب به د زمکي تر ټولو وحشي او اهلي حیواناتو زیات ملعون وې، تر څو چي ژوندی وې په خپلي سینې به خوځې، خاوري به خورې، ستا او د ښځې او ستا د نسل او د ښځې د نسل تر منځ به تلپاتې دښمني اچوم، د ښځې نسل به ستا سر ځپي او ته به د ده پنډۍ چیچې، دغه وخت خدای ښځې ته وفرمایل: ستا د زېږولو د وخت درد به درته زیات کړم، ته به په درد او کړاوو سره خپل اولاد زېږوې، د خپل مېړه مشتاقه به وې او هغه به پرتا برلاسی وي، بیا خدای آدم ته وفرمایل: له دې کبله چي د خپلي ښځې خبره دې ومنله او د هغې ونې مېوه دې وخوړله چي درته ویلي مي وو مېوه ئې مه خوره، زمکه به تر لعنت لاندي راشي او ته به په خپل ټول عمر کي په زحمت او کړاو سره خپل معاش ترې ترلاسه کوې، له زمکي به اغزي او خاشاک درته راټوکېږي او د بېدیا بوټي به خورې، د عمر تر پایه به د تندي په خولو سره ډوډۍ خورې او په پای کي به همغې خاوري ته بېرته ورگرځې چي ترې واخیستی شوې، دا ځکه چي ته له خاورو جوړ شوی یې او خاورو ته به بېرته ورگرځې، آدم خپله ښځه حوی (یعني ژوندون) ونوموله، ځکه چي دا باید د ټولو ژوندیو مور شي!!!

په دې برخې کي دومره بېهوده او د خندا وړ خبري دي چي انسان ورته حیران شي، نه پوهېږو مسیحیان او یهودان څنگه دا خبري د الله تعالی له لوري او د یوه مقدس آسماني کتاب خبري گڼي!! لاندي څو خبرو ته ئې متوجه شئ:

- وایي مار تر ټولو حیواناتو زیات زیرک دئ، حال دا چې د مار زیرکتیا تر ډېرو ډېرو حیواناتو لږ ده.
- وایي مار د ښځې د غولولو لپاره باغ ته ورغی!! نه پوهېږو د مار ئې د ښځې له غولولو سره څه؟ کوم عاقل انسان به دا خبره ومني چې مار کولی شي ښځه وغولوي!!
- وایي: مار ښځې ته وویل: خدای تاسو ته حقیقت نه دئ ویلی، دا سمه نه ده چې د دې مېوې په خوړلو سره تاسو مرئ، حقیقت دا دئ چې د دې مېوې په خوړلو سره تاسو په ښه او بد پوهېږئ، خدای په دې خاطر نه غواړي چې تاسو دا مېوه وخورئ چې په دې سره تاسو د خدای په څېر معرفت ترلاسه کوئ او په ښه او بد پوهېږئ او د ده رقیبان درنه جوړیږي، هغه نه غواړي چې رقیب ولري!! د همدې لپاره ئې تاسو د دغې مېوې له خوړلو منع کړي یئ!! بایبل وایي چې د مار خبره سمه وخته او د خدای خبره ناسمه او د حقیقت خلاف، دوی دواړو دا مېوه وخوړه، مړه نه شول، برعکس په ښه او بد پوه شول!!

قرآن دا موضوع د یوې ډېري ژوري علمي موضوع په توگه څېړلې او یوه ستر علمي حقیقت ته ئې اشاره کړې او هغه دا چې د عالم په ټولو ژوو کي یوازي انسان داسي پیدا شوی چې مجبور دئ د مفید او مضر خوراک په هکله له بله معلومات ترلاسه کړي، نور ژوي داسي پیدا شوي چې د پیدایښت له لومړیو شېبو په دې پوهېږي چې کوم څه وخوري او کوم څه نه، په دماغ کي ئې د مضر او گټور بوټي او دانې د تشخیص استعداد ایښودل شوی، د دغه استعداد په مرسته د پیدایښت له لومړۍ ورځې سم او ناسم خوراک معلومولی شي، د آهو بچی، وری، سېرلی، وزگوری، سخوندر، جونگی او ټول نور ژوي او بچیان ئې هغه بوټي نه په خوله کوي چې ورته مضر وي، خو د انسان بچی ډېره، خاوره، سکروټه او هر څه په خوله کوي، تر اوږدې مودې ئې باید مور سمبال کړي او د تاواني شیانو له خوړلو ئې

وساتي، قرآن په جنت کي د آدم عليه السلام د ځای په کېدو او د ممنوعه شجرې په يادولو سره دغي اساسي او مهمي خبري ته اشاره کړې، خو د بايبل ليکوال له دې نه يوه خندونکې بې بنسټه قصه جوړه کړې!!

دا ډېره ډېره مسخره خبره ده چي د دغي مېوې له خوړلو مخکي دوی خپل بربنډتوب نه احساساوو او له خوړلو وروسته پوه شول چي بربنډ دي!! او دا ځکه چي مخکي بې معرفته ول او د معرفت د مېوې له خوړلو وروسته ئې سترگې پرانستلې شوې او خپل لوڅوالی ئې احساس کړ!! حقيقت د دې خبري کاملاً عکس او دا دئ چي: الله تعالی د ځمکي په سر هر ژوي ته داسي لباس ورکړی چي هم ښايسته دئ، هم ئې په ځان برابر دئ، نه گنډل غواړي او نه اوبدل، نه زړېږي او نه شړېږي، هم ئې په ژمي کي له يخنۍ ساتي او هم په دوبي کي له تودوخي. د ځينو لباس خو دومره ښايسته دئ چي که د نړۍ ټول انسانان راغونډ شي نو نه په دې ظرافت، لطافت، ښايست او رنگ کي داسي لباس اوبدلی شي او نه ئې گنډلی. په ټولو ژوو کي يوازي انسان هغه مخلوق دئ چي بربنډ دئ، د نورو په څېر جامه نه لري، دې ته اړ دئ چي ځان ته به جامه جوړوي، د ژمي لپاره بېله او د دوبي لپاره بېله، د قرآن له وينا معلومېږي چي انسان په سر کي داسي نه وو، وروسته بربنډ شوی، له لوڅېدو مخکي ئې داسي جامه وه چي هيڅکله به نه بربنډ کېدو، تل ئې دی پټ ساتو، نه د جامو اوبدلو ته اړ وو او نه گنډلو ته، له دې جامو نه د يوې اشتباه په نتيجه کي محروم شو، د ممنوعه شجرې مېوه ئې وخوړه او په دې سره هغه جامه ترې وايستی شوه او بربنډ شو، لومړی ئې د ونو له پاڼو ځان ته جامه جوړه کړه او وروسته ئې نوري جامې، ځيني ئې يوازي د ځان پټولو لپاره، ځيني ئې د ښايست او سينگار لپاره او ځيني ئې د تقوی لباس، سنگين، باوقاره له گناه نه مانع لباس. د بايبل ليکونکي د آدم عليه السلام بربنډېدا هغسي توجيه کړې، له سره لوڅ ول، خو نه پرې پوهېدل، د معرفت د مېوې په خوړلو سره پرې پوه شول!! په

مسلمانانو کې د بایبل تر اغېز لاندې راغلي خلک د آدم علیه السلام له لومړني لباس نه داسې تعبیر لري چې ګواکې دا به له وړیو، وربښمو، سنډو او یا مالوچو نه اوبدل شوې کومه جامه وه، چې د ده په قد قامت برابره ګنډل شوې وه، حال دا چې اوبدلې او ګنډل شوې جامه بني آدم جوړه کړې، الله چې کومه جامه ورکوې هغه اوبدل او ګنډل نه غواړي. دوی نه د قرآن الفاظو ته پام کړی او نه هغه څه ته چې هره شېبه ئې په خپلو سترګو ګوري، یوې خوا ته په ملیونهاوو هغه ژوي ګوري چې په ښایسته الهي جامو پټ دي او بلې خوا ته یوازې بني آدم چې له دې جامې محروم او دې ته اړ شوی چې له وړیو، وربښمو، سنډو، نیلون او یا مالوچو نه ځان ته جامه جوړه کړي، قرآن په دې سره یو ستر علمي حقیقت بیان کړی خو د اسرائیلي روایاتو په دام کې پرېوتو کسانو له دې نه افسانه جوړه کړې.

له کومې ورځې چې انسان له لومړنۍ الهي جامې محروم شوی او په خپل لاس د جامو جوړولو ته اړ شوی، نو همدا جامه د انسانانو ترمنځ د تفریق، تبعیض او یو پر بل د لویي او تېري وسیله ګرځېدلې، نه ګورئ چې په دغه جامه کې څومره ظلمونه کېږي، په عسکري او پولیسي جامو کې هره ورځ څومره بې ګناه انسانان ځورول کېږي، څومره شریف انسانان د خړو جامو په سبب تحقیر کېږي، څومره ذلیل انسانان په فاخره جامو کې تر نورو ځان لوړ ګڼي، نه ګورئ چې یوه له خپلې جامې د ګیدړې پوستکی جوړ کړی خلک پرې غولوي، بل له جامو نه د پسه په څېر بې آزاره برېښي خو په سینه کې ئې د لېوه زړه او هغه بل به په خپلو جامو سره ځان داسې ښيي چې زمری دئ خو تر ګیدړ به زیات بې زړه او جبون وي. الله تعالی انسان ته د جامو جوړول ورښودلي، د دې لپاره چې ځان له تودوخې او یخنۍ پرې وژغوري او د هغه لباس ئې په دریو ډولونو وېشلی: د ځان پټولو لباس، د ښایست لباس او د تقوی لباس، خو انسان له خپلې جامې نه یا د غولولو وسیله جوړه کړې، یا د ظلم او تېري وسیله، یا یو پر بل د لویي او تکبر ذریعه!!

د بایبل دا خبره تر ټولو حیرانوونکې ده چې وایي: د همدې ورځې په مازدیګر کې، آدم علیه السلام او ښځې ئې د خدای غږ واورېدو چې په باغ کې ګرځېدو، نو په ونو کې پټ شول، خدای آدم ته غږ کړ: اې آدمه! چیرې یې، ولې پټیږې؟ آدم ځواب ورکړ: ستا غږ مې په باغ کې واورېدو، ووېرېدم، دا ځکه چې لوڅ وم، نو ځکه پټ شوم، خدای وفرمایل: چا درته وویل چې لوڅ یې؟ آیا د هغې ونې مېوه دې خوړلې ده چې ترې منع کړی مې وې؟ آدم ځواب ورکړ: دغې ښځې چې زما ملګرې دې ګرځولې، ما ته ئې دا مېوه راکړه او ما هم وخوړه، دلته نو خدای له ښځې وپوښتل: دا څه کار وو چې تا وکړ؟ ښځې وویل: مار وغولولم!!

دلته څو خبرې د پام وړ دي:

- بایبل الله تعالی داسې معرفي کوي: په یوه وړوکي باغ کې ګرځې، د ګامونو غږ ئې آدم علیه السلام واورېدو، ترې پټ شو، خدای نه پوهېدو چې آدم چېرې دئ، غږ ئې ورته وکړ: اې آدمه چېرې یې؟ له دې هم خبر نه وو چې دوی دواړو هغه ممنوعه مېوه خوړلې ده!!! له آدم علیه السلام نه پوښتنه کوي: څنګه پوه شوې چې لوڅ یې؟ آیا هغه مېوه مو خوړلې چې ترې منع کړې مې وئ؟!! له دې هم نه وو خبر چې ښځې دا کار کړی!! او له دې هم چې مار غولولې وه!!
- په دې سزا هم لږ غور وکړئ چې مار ته د دغه غولولو په وجه ورکړی شوه: تل دې په سینه خوځېږې، خاورې دې خوراک شه!! پوښتنه کوو: آیا مار له دې د مخه په سینه نه په پښو خوځېدو؟ دا نور ډېر حیوانات او خزندې چې په سینه خوځېږي هغوی ته د کومې ګناه سزا ورکړی شوې؟! دا څومره نامعقوله او غلطه خبره ده چې د مار خوراک خاوره ده!! هیڅ مار خاوره نه خوري، د مار خوراک خاوره نه بلکې د مرغانو، موږکانو او چنګښو په څېر حیوانات دي!!
- ښځې ته چې کومه سزا ورکړی شوې په دې هم لږ غور وکړئ: د زېږولو د وخت درد دې زیات شه!! د خاوند د اشتیاق په اور وسوزې، هغه دې پر تا برلاسی

وي!! پوښتنه کوو: دغو بې شمېره حيواناتو ته چې د اولاد زېږولو په وخت کې همداسې د درد احساس کوي، د کومې گناه سزا ورکول کېږي؟! د مېږه اشتياق خپلې مېرمنې ته زيات دئ که د مېرمنې خپل مېړه ته؟ مگر دا اشتياق سزا ده؟ په ټولو ژوو کې دا اشتياق شته، دوی ته د کومې گناه په وجه دا د اشتياق سزا ورکړی شوې؟ دا اشتياق خو سزا نه بلکې د الله تعالی يوه لويه پيرزوينه ده، د انسان او حيوان د نسل د دوام يوه ستره وسيله ده، تاسو ولې دې اشتياق ته د سزا په سترگه گورئ؟ قرآن خو د ښځې او مېړه ترمنځ دا الفت، مينه او اشتياق د الهي رحمت او پيرزوينې يوه ستره ښېلگه گڼي!! آيا دا سمه ده چې د نارينه سلطه او برلاسی پر خپلې مېرمنې ښځې ته سزا وگڼو؟! دا برلاسی يوه طبيعي مسئله ده، په اکثرو حيواناتو کې هم د دې شاهد يو، داسې چې نارينه د ښځې ساتنه او څارنه کوي، ترې دفاع کوي، بل ئې خوا ته نه پرېږدي، اداره کوي ئې، ... دا برلاسې نه يوازې ښځې ته سزا نه شو گڼلی بلکې د ښځې لپاره يوه ستره الهي پېرزوينه ده، چرگ له خپلو چرگو دومره دفاع کوي چې پرې زخمي زخمي شي، همداسې بې شمېره نور مرغان او حيوانات، هيڅ عاقل انسان به د بايبل دا وينا د منلو وړ ونه گڼي.

بايبل ورپسې ليکي:

(خدای د حيوان له پوسته لباس جوړ کړ او آدم او مېرمنې ته ئې ورواغوست، بيا خدای وفرمايل: اوس چې آدم زموږ په څېر شوی او ښه او بد پېژني، بايد پرې ئې نږدو چې د "حيات د ونې" مېوه هم وخوري او تر ابده ژوندی وي، نو خدای دی د عدن له باغه وايست، تر څو ولاړ شي او په هغې زمکې کې کار وکړي چې له خاوري ئې جوړ شوی، په دې توگه ده آدم د عدن له باغه وايست او د عدن د باغ په شرقي برخې کې ئې د اور په داسې سرو تورو سمبال فرشتې وگمارلې چې هرې خوا ته څرخي، ترڅو د حيات د ونې لاره خوندي وساتي!!)

د دې کرښو د مطالبو په اړه څو پوښتنې راولاړېږي:

- مخلوقاتو ته د لباس په ورکولو کې د الله تعالى سنت داسې نه دئ چې د کوم درزي په څېر چا ته لباس جوړ کړي او ورواچې غوندي، د بايبل ليکوال په دې نه پوهېږي چې د الله تعالى له لوري د لباس ورکولو معنى څه ده!! الله تعالى ټولو حيواناتو، ونو او بوټو ته مناسب مناسب لباس ورکړي، چې هم ئې له يخنۍ ساتي، هم له ګرمۍ او هم له حشراتو او مکروبونو، آدم عليه السلام ته هم د نورو په څېر مناسب لباس ورکړی شوی وو، خو د ممنوعه مېوې په خوړلو سره له هغه لباسه محروم شو، لومړی ئې په پاڼو ځان پټ کړ، بيا د حيواناتو په پوستکي او وروسته وروسته د ده اولاد له وړيو او تاره اوبدل شوې جامې ځان ته جوړې کړې.

د بايبل ليکوال خدای داسې معرفي کوي چې نه غواړي د ده په مخلوقاتو کې داسې څوک وي چې په ښه او بد پوهېږي، غوښتل ئې چې آدم عليه السلام د معرفت د ونې مېوه ونه خوري، خو د ده د ارادې خلاف آدم عليه السلام د هغې مېوې په خوړلو موفق شو!! اوس نو دا تدابير سنجوي چې څنګه د دې مخه ونيسي چې آدم عليه السلام د حيات د ونې مېوه هم ونه خوري او د ده لپاره يو تلپاته حريف او رقيب نه شي!! نو ځکه ئې له يوې خوا آدم عليه السلام د عدن له باغه وايست او له بلې خوا ئې دغې ونې ته د رسېدو په لار کې داسې فرشتې وګمارلې چې په تورو سمبال وي او دا توري هم د اور توري چې هرې خوا ته څرخي او نه پرېږدي څوک ترې تېر شي!! پوښتنه کوو: که دا باغ په آسمان کې وي طبيعي ده چې له آسمانه د آدم له راکوزېدو وروسته هغه باغ ته د ده ننوتل ممکن نه وو، نو په سرو تورو سمبال فرشتې د څه لپاره ګمارل کېدې؟ او که دا په زمکې کې وو نو موږ ته ووايئ چې چېرې دئ اوس خو له داسې پهره دارانو تېرېدل آسانه شوي، که آدم عليه السلام نه شو تېرېدی اولاد ئې اوس کولی شي د حيات ونې ته د رسېدو لپاره په هليکوپترو سره هلته ځان ورسوي. که عادي خلک دا کار نه شي کولی پاپ ته خو ډېره آسانه ده!!

له دغو بېهوده او چټي خبرو نه هر څوک په دې پوهېدی شي چې د بایبل لیکوال څوک او د څنګه شخصیت خاوند دئ او د الله تعالی په اړه د ده انګېرني څومره بې بنسټه دي!!

قرآن د بایبل د دغو غلطو خبرو د تردید او تصحیح لپاره فرمایي چې الله تعالی آدم علیه السلام د داسي مخلوق په څېر پیدا کړ چې معرفت ئې تر فرشتو ډېر لوړ وو، په هر څه د پوهېدو توان او استعداد ئې ورکړ، په هغه څه ئې د پوهېدو توفیق ورکړ چې فرشتې پرې نه پوهېدې او د همدې معرفت او پوهې په سبب ئې د زمکي خلافت ده ته وسپارو، د معرفت په وجه ئې دی رټلی نه دئ، د ځان رقیب او حریف ئې نه دئ ګڼلی بلکي د زمکي خلافت ئې ورسپارلی او فرشتو ته ئې امر کړی چې ده ته سجده وکړي، بایبل وایي چې فرشتې په سرو تورو د آدم مقابله کوي او قرآن وایي چې فرشتو آدم علیه السلام ته سجده وکړه او الله تعالی د زمکي او آسمان هر څه آدم علیه السلام ته مسخر کړل.

بایبل لیکي: "له دې وروسته خدای په عدن کي چې په ختیځې سیمي کي پروت دئ یو باغ پیدا کړ او هغه آدم ئې په کي ځای په ځای کړ چې مخکي ئې پیدا کړی وو!! خدای ډول ډول ښایسته ونې په دې باغ کي راپیدا کړې تر څو خوندوري مېوې ورکړي، ده د باغ په منځ کي (د حیات ونه) او (د ښه او بد د پېژندو ونه) پیدا کړه"

دا په داسي حال کي چې د حیات ونه، د معرفت ونه، د حیات اوبه او دې ته ورته نوري خبري بې بنسټه او د خیال په عالم کي جوړي شوې خبري دي، انسان داسي پیدا شوی چې خامخا به مري، الله تعالی داسي اوبه او مېوه نه ده پیدا کړې چې د هغې په خوړو سره انسان دایمي او ابدي ژوند ترلاسه کړي، د انسان معرفت اکتسابي دئ، ورو ورو زیاتېږي، د تعلیم، تعلم، زده کړې او تجربې په نتیجه کي ئې د معرفت او د ښه او بد د پېژندا سطحه لوړېږي، الله تعالی داسي مېوه نه ده پیدا

کړې چې د هغې په خوراک سره انسان ته د ښه او بد د پېژندو معرفت ورپه برخه شي!! قرآن د بايبل دغه وينا رد کړې او په هغو آيتونو کي چې تر ټولو د مخه پر پيغمبر عليه السلام نازل شوي او په همدې آيتونو سره د قرآن د نزول لړۍ پيل شوې فرمايي چې د انسان علم اکتسابي دئ او په ليک لوست سره ترلاسه کېږي.

تاسو به د (لدني علم) په اړه د بايبل د وينا په څرنگوالي حتماً پوه شوي وئ؛ اوس راشئ چې د متصوفينو وينا ته هم لږ ځير شو، هغوی په اصل کي دا رأيه له بايبل نه اخيستې او هغې ته ئې اسلامي رنگ ورکړی، دوی د الکهف د سورې د ٦٥ آيت له دغې فقرې ((اٰتينه من لدنا علماً) نه د (لدني علم) اصطلاح رااېستلې، حال دا چې د (لدن) صيغه د گڼ شمېر آيتونو په ضمن کي د نورو شيانو په اړه هم راغلې، هغوی دې ته متوجه نه دي چې د انسان هر څه د الله تعالی ېرزوينه ده، ژوند ئې، استعدادونه ئې، رزق ئې، علم او معرفت ئې، قرآن دا ټول الله تعالی ته منسوبوي او د الله تعالی پېرزوينه ئې گڼي، په ټولو هغو آيتونو کي چې دا حقيقت په کي بيان شوی همدا د (لدن) لفظ راغلی؛ لکه دا آيتونه:

وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى ٱلۡقُرۡءَانَ مِن لَّدُنۡ حَكِيمٍ عَلِيمٍ ۝٦ النمل: ٦

او يقيناً چې تا ته دا قرآن د پوه باحکمته ذات له لوري درکول کېږي.

وَقَالُوٓاْ إِن نَّتَّبِعِ ٱلۡهُدَىٰ مَعَكَ نُتَخَطَّفۡ مِنۡ أَرۡضِنَآۚ أَوَلَمۡ نُمَكِّن لَّهُمۡ حَرَمًا ءَامِنٗا يُجۡبَىٰٓ إِلَيۡهِ ثَمَرَٰتُ كُلِّ شَيۡءٖ رِّزۡقٗا مِّن لَّدُنَّا وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ۝٥٧

القصص: ٥٧

او وئې ويل: که له تا سره د لارښووني متابعت وکړو له خپل ټاټوبي تښتول کېږو! آيا دوی ته مو خوندي حرم داسي ټاټوبی نه کړ چې هغه ته د هر څه مېوې راوړل کېږي زموږ له لوري د رزق او روزي په توگه؟!! خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُۥ قَالَ رَبِّ هَبۡ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةًۖ إِنَّكَ سَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ﴿٣٨﴾ آل عمران:۳۸

دلته نو زکریا خپل رب ته دعا وکړه، وئې ویل: اې زما ربه! له خپل لوري ما ته پاکیزه اولاد را، بې شکه چي ته د دعاګانو ښه اورېدونکی یې.

وَمَا لَكُمۡ لَا تُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلۡمُسۡتَضۡعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلۡوِلۡدَٰنِ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخۡرِجۡنَا مِنۡ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةِ ٱلظَّالِمِ أَهۡلُهَا وَٱجۡعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيّٗا وَٱجۡعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا ﴿٧٥﴾ النساء: ۷۵

او په تاسو څه شوي چي د الله په لار کې او د هغو بې وزلوسړیو، ښځو او ماشومانو د ژغورني لپاره نه جنګېږئ چي وایي: اې زمونږ ربه! له دې کلي چي اهل ئې ظالمان دي مونږ وباسه او له خپلي خوا راته کوم پالونکی وټاکه او له خپل لوري راته کوم ملاتړ وټاکه.

وَإِنِّي خِفۡتُ ٱلۡمَوَٰلِيَ مِن وَرَآءِي وَكَانَتِ ٱمۡرَأَتِي عَاقِرٗا فَهَبۡ لِي مِن لَّدُنكَ وَلِيّٗا ﴿٥﴾ مریم: ۵

او یقیناً چي زه له ځان وروسته د خپلو ورثه وو (پر حال) وېرېږدم، او مېرمن مي شنډه ده، نو ما ته له خپل لوري یو وارث را په برخه کړه.

که په دغو آیتونو کي لږ دقت وکړو او د الکهف د سورې له ٦٥ آیت سره ئې مقایسه کړو نو په دې حقیقت به پوهېدل راته ګران نه وي چي قرآن د انسان هر څه د الله تعالی عطیه بولي، چا چي د الکهف د سورې له ٦٥ آیت نه د (لدني علم) اصطلاح راایستلې هغوی باید د خپل اسلوب له مخي له دغو آیتونو نه هم (لدني رزق)، (لدني ولي و نصیر)، (لدني اولاد) (لدني قرآن) راوباسئ، خو هر عاقل انسان پوهېږي چي دا بې بنسټه او غلط اسلوب او کږکجن استباط دئ.

## د خضر علیه السلام ځانګړی علم

راشئ دا هم وڅېړو چې خضر علیه السلام ته کوم ځانګړی علم ورکړی شوی وو؟ قرآن په دې اړه څه وایي؟ که په قرآن کې د خضر علیه السلام قصې ته لږ ځیر شو نو ډېر ژر په دې حقیقت پوهېدی شو چې الله تعالی ده ته کوم علم ورکړی وو او ده موسی علیه السلام ته د ملګرتیا په دوران کې څه ورزده کړل، قرآن فرمایي چې هغه موسی علیه السلام ته د ملګرتیا په دوران کې درې لارښوونې وکړې: ۱- د یوه ظالم پاچا له منګولو د مسکینو او بې وزلو بېړۍ والو ژغورل؛ هغه هم په داسې بڼې کې چې بېړۍ وال پرې خبر نشول، ۲- د یوه مفسد، کافر او بې رحمه زلمي وژل او مؤمن مور پلار ئې له شره ژغورل، ۳- تر نړېدونکې دېوال لاندې د دوو یتیمانو لپاره ښخه شوې خزانه له غارت کېدو خوندي کول.

موسی علیه السلام له خپل عالم او مجاهد استاد نه همدا لارښوونې ترلاسه کړې، د همدې لارښوونو په رڼا کې هغه دغو درېو کارونو ته ورته کارونه وکړل: له یوه مظلوم بني اسرائیلي نه د دفاع په موخه ئې یوه ظالم قبطي ته داسې څپېړه ورکړه چې پرې مړ شو، د مدین د کوهي خوا ته ئې په داسې حال کې د دوو بې وزلو نجونو رمه خړوبه کړه چې د اوږده سفر له امله ډېر ستړی او ستومانه وو، د بني اسرائیلو د نجات لپاره له مدین نه مصر ته ولاړ او د فرعون مقابلې ته ئې ملا وتړله،

د قرآن له آیتونو نه خو دا حقیقت جوتېږي چې خضر علیه السلام یو مجاهد وو، د بې وزلو او مظلومانو ملګرتیا ئې کوله، موسی علیه السلام ته ئې د جهاد درس ورکړ، نه پوهېږو دوی د دغوڅرګندو او واضحو آیتونو له کومې برخې او له کوم لفظ نه د (لدني علم) اصطلاح راایستلې؟!! او غواړي له قرآن نه بې خبرو مریدانو ته ووایي چې که ستاسو پیر او مرشد نه قرآن لوستلی شي، نه د پیغمبر علیه السلام له احادیثو خبر دئ، نه په لیک پوهېږي او نه لوست کولی شي، د هغه په اړه شک مه کوه، لمن ئې کلکه ونیسه، دا خبرې باید ستا اخلاص کم نکړي، هغه ته د مخکنې

مرشد له لوري (لدني علم) ورکړی شوی او د دین په ټولو رموزو او پټو اسرارو د مرشد د یوې دعاء له امله پوه شوی!! هغه په یوې مراقبې سره کولی شي د اسرارو دروازې پرانېزي او په پټو حقایقو پوه شي!!

## موسی علیه السلام له خپل عالم ملګري څه زده کړل؟

دوی د خپلو ادعاءو د اثبات لپاره د خضر علیه السلام په قصې استناد کوي، له ځینو آیتونو نه دا معنی راباسي چې خضر علیه السلام په غیب پوهېدو، او همدې ته د لدني علم نوم ورکوي، دا په داسې حال کې چې دا قصه اصلاً د دې لپاره راغلې چې وښيي موسی علیه السلام په غیب نه پوهېدو؟! له خپل عالم ملګري سره روان دئ خو د هغه د څو کارونو په وجه او موخه نه پوهېدو!! کله چې له خضر علیه السلام سره مخامخ شو هغه ونه پېژندو او پوښتنه ئې ترې وکړه چې څوک یې؟ کله چې هغه ورته وویل: موسی، نو پوښتنه ئې ترې وکړه چې د بني اسرائیلو موسی؟ له دې نه خو په وضاحت سره معلومېږي چې هغه په غیب نه پوهېدو، هیڅوک دا ادعاء نشي کولی چې د دې کس مقام تر موسی علیه السلام لوړ وو؟ قرآن خو موسی علیه السلام د هغو پنځو پیغمبرانو له ډلې ګڼي چې هیڅ انسان او هیڅ پیغمبر د هغوی مقام ته نشي رسېدی. مونږ نه پوهېږو دوی د قرآن له کوم لفظ نه دا معنی اخیستې ده چې دا کس په غیب پوهېدو؟ قرآن خو وايي چې له الله تعالی پرته هیڅوک په زمکه او آسمان کې په غیب نه پوهېږي. قرآن خو د ابراهیم، موسی، ذکریا، لوط، نوح، یعقوب، محمد،... علیهم السلام قصې زمونږ مخې ته ږدي چې ښيي دوی په غیب نه پوهېدل، فرشتې ئې په خوا کې ولاړې وې خو دوی د زلمو او مېلمنو ګمان پرې کاوو، د اولاد زېرې ورکړی شوې، پوښتنه ئې کوله چې دا زوی به څنګه او څه وخت ورکول کېږي، څو متره آخوا ئې زوی په څا کې لوېدلی خو له حاله ئې خبر نه دئ او له غمه ئې سترګې ړندې شوې، د خپل ملګري د کارونو په کنه او حقیقت

خبر نه وو ... د خضر عليه السلام نه نوم په قرآن کي راغلی او نه دا چي هغه يو پيغمبر وو، په يوه روايت کي د موسی عليه السلام دا ملگری د خضر په نامه ياد شوی، هيڅ په دين پوه انسان دا ادعاء نشي کولی چي د هغه مقام تر موسی عليه السلام لوړ وو.

په دې قصې کي دوه شخصيتونه انځور شوي: يو ئې اولوالعزمه پيغمبر موسی عليه السلام او بل ئې د خدای يو نېک بنده، موسی عليه السلام د هغه ليدو ته ورغلی، د ده د سيمي له حالته معلومات نه لري، هغه په خپلي سيمي کي بلد دئ، ښه او بد پېژني، موسی عليه السلام د ملگرتيا او سفر په دوران کي له خپل ملگري درې داسي کارونه گوري چي د علم غيب نه درلودو په وجه نه پوهېږي چي ولي ئې دا کارونه وکړل، له هغه وروسته پرې پوه شو چي ملگري ئې تفصيلات ورته بيان کړل، دا قصه په ډېر وضاحت سره دا حقيقت زموږ مخي ته ږدي چي پيغمبران عليهم السلام په غيب نه پوهېږي، عجيبه دا ده چي د کږو زړونو خاوندان له دغي قصې معکوسه نتيجه اخلي او د موسی عليه السلام ملگري ته علم غيب ثابتوي!!

پدې قصې کي هيڅ داسي دليل نشته چي د موسی عليه السلام ملگري ته علم غيب ترې ثابت شي، قرآن ندي ويلي چي دی په غيب پوهېدو، نه پوهېږو دوی دا اشتباه له کومه ځايه اخيستې ده؟!

د ظالم او غاصب پاچا په اړه د هغه علم، د هغه ځوان له نېک عمله مور او پلار او د ده له کفر او طغيان نه د ده خبرتيا او تر نړيدونکي دېوال لاندي د هغو يتيمانو خزانه چي صالح مور پلار ئې له لاسه ورکړي وو، دا معلومات ولي په علم غيب حمل شي؟ دا ولي د هغه د پراخو معلوماتو او د سيمي له حالت نه د ده د خبرتيا نښه ونه گڼو؟

له هغه پوه او عالم سړي سره د موسی عليه السلام د ملگرتيا په قصه کي څو په زړه پوري او د زياتي توجه وړ ټکي زمونږ مخي ته اېښودل شوي:

- موسى عليه السلام چې د پنځو اولوالعزمه پيغمبرانو څخه دئ له خپل عالم ملګري نه داسي څه ويني چې د ده لپاره د توجيه او منلو وړ ندي، په ظاهر کي داسي بد او قبيح ورته ښکاري چې په وړاندي ئې چوپ نشي پاته کېدی، فوراً اعتراض کوي. که څه هم ژمنه ئې کړې وه چې ترڅو پوري ده نه وي پرې خبر کړی او قضيه ئې نه وي ورته بيان کړې، تر هغې پوري به د هيڅ کار په اړه پوښتنه نه کوي، خو ګورو چې موسى عليه السلام هرځل خپل تعهد هېروي، سکوت ماتوي او له خپل ملګری نه پوښتنه کوي، اعتراض ورباندي کوي او ورته وايي: دا څه عجيب کار!! دا څومره ناوړه عمل!! او ملګری ئې هرځل ورته وايي: تا ته مي ويلي وو چې زما ملګرتيا نه شې کولی، زما پرکارونو صبرنه شې کولی، ځکه چې په راز ئې نه پوهېږې، د کارونو له اسرارو نه بې خبري د دې سبب کېږي چې بې صبره شې. دا کار درې ځلي تکرارېږي، بالآخره موسى عليه السلام اعتراف کوي چې لدې شخص سره د ملګرتيا توان نه لري او د هغه د عجيبو کارونو په وړاندي صبرنه شي کولی. که موسى عليه السلام علم غيب لرلی نو داسي به نه کېدل، نه به ئې په خپل ملګري اعتراض کاوو او نه به ئې له ملګرتيا نه پاته شوی وی، که موسى عليه السلام چې له اولوالعزم رسولانو څخه دئ، علم غيب نه لري نو بل به څوک وي چې د علم غيب خاوند وي؟!

موسى عليه السلام پدې اعتراض وکړ چې د مسکينانو کښتۍ ولي تخريب شي او ولي له سفر نه پاتې شي، خو له دې نه خبر نه وو چې څو قدمه وړاندي دې کښتۍ او مالکانو ته ئې خطر متوجه دئ، هلته د يوه ظالم پاچا پلويانو کمين نيولی، هره کښتۍ چې مومي غصبوي ئې! د موسى عليه السلام ملګری پدې خبر وو، د دې لپاره چې دا کښتۍ او غريب مالکان ئې له خطر سره مخ نه شي يو تدبير ئې وسنجاوو، کښتۍ ئې سورۍ کړه، ترڅو له سفره پاتې شي، دا کار چې د موسى عليه السلام لپاره د توجيه وړ نه وو په حقيقت کي د کښتۍ د مالکانو لپاره لوی خدمت وو او په

همدې کې د موسی علیه السلام لپاره يو لوی درس پروت وو او هغه دا چې يوه چا ته د ډېرې ګټې لپاره لږ ضرر رسول د ستاينې وړ دئ نه د اعتراض وړ.

- په دوهم ځل ئې هم د خپل پوه او عالم ملګري په کړو صبر ونشو کړی، بيا ئې اعتراض وکړ چې دا ځوان دې ولې بې موجبه ووژلو؟! له دې نه خبر نه وو چې دا ځوان يو شرير، سخت زړی، فاسد او کافر انسان دئ، مور او پلار ئې مسلمانان دي او د ده خطر دومره لوی شوی چې کورنۍ ئې تهديدوي، دا په اصطلاح يو فاسد غړی دئ، جراحي ته ضرورت لري، د دې فاسد او خطرناک غړي قطع کول په واقع کې لدې مؤمنې کورنۍ سره مرسته ده. د موسی پوه او عالم ملګري دې مؤمنې کورنۍ ته لوی خدمت وکړ، د يوه شرير انسان له شره ئې وژغورله او موسی علیه السلام ته ئې دا درس وروښود چې: په سالم بدن کې د فاسد غړی جراحي ممانعت نه لري، له سالم بدن نه د هغه غړي قطع کول ضروري دي چې د اصلاح او جوړېدو امکان ئې نه وي. که اسلامي ټولنې ته د يوه شرير او فاسد انسان له خوا ګواښ او تهديد متوجه شي او تر خطر لاندې راشي چې له تصفيې او منځه وړلو پرته بله چاره ونلري، نو د دا ډول غړي له منځه وړل د اعتراض نه بلکه د توجيه او ستاينې وړ عمل دئ. دې ته مو هم بايد پام وي چې کېدی شي د دې شرير هلک مور او پلار خضر علیه السلام ته د خپل بد چلن زوی په اړه شکايت کړی وي او د همدې شکايت له امله هغه د ده د وژلو پرېکړه کړې وي.

درېيم ځل ئې پدې اعتراض وکړ چې ولې له هغه بخيل قوم سره د کاږه دېوال په جوړولو او له غورځېدلو نه مخنيوی کې مرسته کوي، له داسي قوم سره ولې مرسته کوي چې دومره بخيل او بې احساسه دئ چې اړ او مجبور انسان ته يوه مړۍ ډوډۍ هم نه ورکوي او ولې ئې دې خلکو ته مفت او مجاني کار وکړ؟ موسی علیه السلام د خپل ملګري پدې عمل انتقاد وکړ، ځکه هغه پدې نه وو خبر چې تردې دېوال لاندې د هغو دوو يتيمانو خزانه ده چې له مؤمنو والدينو نه په ميراث ورته

پاتې ده، د موسی علیه السلام ملګري په خپل دې مفت او بې اجورې کار سره هغو یتیمانو ته غټې خدمت وکړ او په عین وخت کي ئې موسی علیه السلام ته دا لارښوونه وکړه چي انسان ته نه ښایي تل بالمثله معامله وکړي، مناسبه نده چي د ټولني د اکثریت بدکړه او ناسمه معامله تا له کمزوري اقلیت سره له نېکي نه منع کړي. ولي ونه وایو چي د هغو یتیمانو پلار خضر علیه السلام یو امین او صالح کس ګڼلی، ورته ویلي ئې وو چي د زامنو لپاره مي تر دېوال لاندي سکې ښخوم، کله چي ستر شي نو ترې خبر ئې کړه، ده ورسره ژمنه کړې، د همدې ژمني له امله دې کلي ته راغلی چي د دېوال حالت وګوري، هغه ئې د ړنګېدو په حال کي موندلی نو ځکه ئې رغولی. دا ځکه چي هیڅوک د اولاد لپاره په داسي حال کي خزانه نه ښخوي چي هیڅوک پرې خبر نه کړي، له داسي کار نه به د ده اولاد ته څه ګټه ورسېږي؟!! کېدی شي دېوال ړنګ شي او خزانه د بل چا په لاس کي پرېوزي.

صحیح نه ده چي د ظالم واکمن په اړه علم، د صالح پلار د طاغي او عاصي زوی په اړه علم او تر دېوال لاندي د یتیمانو د خزانې په اړه علم داسي توجیه او تعبیر کړو چي له قرآن سره تعارض ولري او په غیب د انسان د پوهېدا غلطه خبره ترې راووځي، دا آیتونه باید د قرآن د نورو آیتونو په رڼا کي تفسیر کړو، خضر علیه السلام په دې خبرو پوهېدو؛ دا ځکه چي دی په همدې سیمي کي اوسېدو، موسی علیه السلام ترې خبر نه وو ځکه چي هغه له بلي سیمي هلته تللی وو.

ځیني خلک د خضر علیه السلام دا وینا چي وئې ویل: (و ما فعلته عن امري: ما (د خپل زړه) په حکم دا کار نه دئ کړی) داسي تعبیروي چي ګواکي ده ته د الله تعالی له لوري په مشخصه توګه د دغه ځوانکي د وژلو امر شوی وو، خو په آیتونو کي په لږ دقت سره پوهېدی شو چي د دې وینا معنی دا ده: ما دا کار د خپل نفسي غوښتنو په حکم نه دئ کړی، کوم ذاتي غرض مي په کي نه وو، د الله دین د داسي څه کولو اجازه راکړې، په الهي دین کي د هغه چا وژل مانع نه لري چي صالح ټولنه

په کفر او طغیان گواښي، یوازې دغسې تعبیر موسی علیه السلام ته یو مهم درس گڼل کېدی شي، نه دا چې گواکې د الله تعالی له لورې خضر علیه السلام ته په مشخصه توگه د دغه ځوانکي د وژلو حکم شوی وو!!

- که خضر علیه السلام هغه کارونه د الله تعالی په ځانگړې امر او حکم سره کړی وی نو حتماً به ئې ویلې وو: ذلک مما امرني به ربي، ولې به ئې د دې الفاظو په ځای ویل چې و ما فعلته عن امري؟ نه پوهېږم کوم په ژبې پوه انسان به له دې الفاظو نه دا معنی راباسي چې فعلته عن امر ربي!! زه گمان کوم څوک چې د خضر علیه السلام له دې وینا نه دا راباسي چې (فعلته بامر ربي) جسارت کوي، او هغه خبره کوي چې قرآن نه ده کړې، او بیا که خضر علیه السلام دا کار د الله تعالی په ځانگړې حکم سره کړی وي نو په دې که د موسی علیه السلام لپاره څه لارښوونه وه؟ په دې صورت کې خو به موسی علیه السلام هم یوازې هغه مهال له چا سره مرسته کوله او یا به ئې د چا د وژلو اراده کوله چې الله تعالی ئې نوم ورته ښودلی وی!! لارښوونه خو یوازې په هغه صورت کې کېدی شي چې له هر بې وزلې سره د مرستې درس په کې وي او د هر هغه چا وژل جائز وگڼل شي چې د هغه ځوانکي په څېر کافر، بې رحمه او مفسد وي، خپله کورنۍ ئې له گواښ سره مخامخ کړې وي او مور پلار ئې خضر علیه السلام ته له خپل زوی نه شکایت کړی وي.

همداراز د خضر علیه السلام دا وینا چې وئې ویل: "فأردنا أن یبدلهما ربهما خیراً منه زکوةً و اقرب رحماً" په واضح توگه ښیې چې هغه په دې طمعه او هیله دا کار کړی چې الله تعالی د دې طاغي او کافر زوی په بدل کې د ده صالح مور پلار ته داسې زوی ورکړي چې د ده په څېر کافر، سرکښ، مفسد او بې رحمه نه وي، که خضر علیه السلام دا کار د الله تعالی په حکم کړی وی نو بیا خو د داسې څه ویلو ته قطعاً مجال نه پاته کېدو، په دې صورت کې به ده حتماً همغه مخکنۍ خبره کوله (فأراد ربک: ستا رب وغوښتل)، د (أردنا) صیغه داسې تعبیرول چې گواکې الله

تعالى او خضر علیه السلام په ګډه د دې ځوانکي د وژلو پرېکړه کړې؛ صحيح تعبير نه دئ، دا ځکه چې الله تعالى يوازې او د بل له شراکته پرته پرېکړې کوي. همداراز په اړوند آيتونو کې د (فخشينا) او ورپسې د (اردنا) صيغې راغلې، په دواړو کې د (نا) ضمير د هلک مور، پلار او خضر ته راجع دئ، دوی د هلک په اړه وېرېدلي او د هغه د وژلو پرېکړه ئې کړې، په دې کې اصلاً د الله نوم نشو شاملولی.

دا خبره صحيح نه ده چې ووايو خضر عليه السلام يو معصوم ماشوم وژلی، د هغه ځوانکي په اړه د موسی عليه السلام وينا په دې معنی نه ده چې هغه وژل شوی ځوان يو معصوم ماشوم وو، موسی عليه السلام هغه نه پېژاندو، د اعتراض مقصد ئې دا وو چې هغه داسې جرم نه دئ کړی چې د وژلو مستحق وي، د دې ځوانکي په اړه د خضر عليه السلام وينا معيار ده، د ده له وينا معلومېږي چې هغه په داسې کفر، طغيان، فساد او بې رحمۍ کې غرق وو چې نږدې وه خپله کورنۍ تباه کړي.

## موسی او خضر عليهما السلام چېرې سره ليدلي؟

- د مفسرينو تر منځ په دې اړه اختلاف دئ چې موسی عليه السلام کله له خضر عليه السلام سره ليدلي، له بعثت نه مخکې که وروسته؟ د بعثت په لومړيو کې که په پای کې؟ په دې کې هم د اختلاف شاهد يو چې دا ملاقات چېرې ترسره شوی؟ مجمع البحرين چېرې دئ؟ په ټول مصر کې داسې ځای نشته چې دوه سيندونه سره يو ځای شوي وي، هغه دوه ستر سيندونه (نيل الابيض او نيل الازرق) چې نيل ترې جوړ شوی؛ د سودان په مرکز خرطوم کې سره يو ځای شوي، له مصر نه تر خرطوم پورې بل مجمع البحرين نه ترسترګو کېږي، او دا تر دوو مياشتو زيات پلي مزل غواړي، د موسی عليه السلام له وينا هم معلومېږي چې دی په اوږده سفر وتلی وو، د ده له دې وينا نه چې يا به د دوو سيندونو د يوځای کېدو ځای ته رسېږم او يا خو به تر اوږدې مودې همداسې درومم، په څرګنده توګه معلومېږي چې موسی

علیه السلام په اوږده سفر وتلی وو، په لنډ سفر کې هیڅوک دا خبره نه کوي چې یا به آخري مزل ته رسېږم او یا خو به همداسې تر اوږدې مودې روان یم. د هغو مفسرینو رأیه دقیقه ده چې له مجمع البحرین څخه د نیل د دوو څانګو د یوځای کېدا محل اخلي، دلته له بحرین نه مراد دوه روان سیندونه اخلي نه دوه ولاړې اوبه، د ولاړو اوبو لپاره د (مجمع بینهما) الفاظ کارول مناسب نه برېښي. همداراز که مراد ترې د خلیج عقبه او خلیج سویس یا د بحرالروم او بحر القلزم یوځای کېدا وی نو دا ځایونه هیڅ نښې ته ضرورت نه لري او له موسی علیه السلام نه ئې دومره اوږد سفر هم نه غوښتو چې ووایي: یا به مجمع البحرین ته رسېږم یا به کلونه کلونه (حقبا) مزل کوم.

- او دا ښيي چې دا لیدنه له بعثت نه مخکې او په مصر کې د قیام په زمانه کې شوې نه له مصر نه له وتلو وروسته، له همدې امله د موسی علیه السلام دوه کارونه د هغو لارښوونو نتیجه ګڼلی شو چې له خضر علیه السلام نه ئې په هغه سفر کې زده کړې وې، یو ئې له یوه مظلوم بني اسرائیلي نه د یوه قبطي د تېري په وړاندې دفاع، داسې دفاع چې په ترڅ کې ئې تیری کوونکی ووژل شو، او بل ئې د مدین د کوهي په غاړه له هغو دوو نجونو سره د رمې د خړوبولو مرسته چې صالح پلار ئې سپین ږیری وو او د رمې پیایلو ته اړې شوې وې. دا دواړه کارونه د خضر علیه السلام له دوو کارونو سره ډېر شباهت لري، د دغو پېښو تر منځ شباهتونه باید عادي ونه ګڼو او سطحي ترې تېر نشو، همدا راز د فرعون له ظلم نه د بني اسرائیلو ژغورنه داسې وه لکه خضر علیه السلام چې هغه مسکین جاله والان د ظالم ملک له شره وژغورل. خو د دې اعتراض ځواب به څه وي چې له بعثت نه مخکې به موسی علیه السلام ته څنګه د وحي له لارې ویل شوي وي چې مجمع البحرین ته ولاړ شي او هلته د الله له یوه صالح بنده سره وګوري؟ د دې ځواب دا دئ چې د وحي دا وینا باید همغسې وګڼو لکه چې د موسی علیه السلام مور ته وحي شوې وه

چې زوی دې وپاله، کله چې خطر احساس کړې په صندوق کې ئې کېږده او په سیند کې ئې پرېږده، بېرته به ئې درته راوګرځوو، هغه به یو پیغمبر وي، همدغسې په تفصیل سره موسی علیه السلام ته له بعثت نه مخکې د خضر علیه السلام په اړه ویل شوي وو. دې ته مو هم باید پام وي چې قرآن د موسی علیه السلام په اړه دا خبره نه کوي چې هغه ته له خضر علیه السلام سره د لیدو په اړه وحې شوې وه.

که د قرآن الفاظو ته ځیر شو نو څو خبرې زموږ مخې ته راځي: ۱- دا پېښه له مصر نه بهر په بل ملک کې رامنځته شوې ده، دا ځکه چې خضر علیه السلام موسی علیه السلام ته وايي: وَ كانَ وَرَاءَهُم مَلِكٌ يَأْخُذُ كلَّ سفِينَةٍ غَصباً: آخوا ته ئې داسې پاچا (په کمین کې) وو چې هره کښتۍ غصبوي، د دې معنی دا ده چې دا پېښه د فرعون تر واکمنۍ لاندې مصر کې نه بلکې په بل ملک کې رامنځته شوې. ۲- د موسی علیه السلام له وینا هم معلومېږي چې دی په اوږده سفر وتلی وو، ۳- کله چې موسی علیه السلام له خضر علیه السلام سره مخامخ شوی نو خپل مخکنی د سفر ملګری (غلام او خادم) ئې پرېښی او یوازې له خضر علیه السلام سره په نوي سفر کې ملګری شوی. دا ځکه چې له دې وروسته تل د تثنیې صیغې کارول شوې او دا ښیې چې له دوی سره دریم کس نه وو، ٤- د موسی علیه السلام د سفر ملګری د (فتا: غلام او خادم) په نامه یاد شوی او له دې معلومېږي چې دا د هغه وخت قصه ده چې موسی علیه السلام د فرعون په کور کې او د شاهي کورنۍ د یوه غړي په توګه اوسېدو او ساتونکي او غلامان ئې په خدمت کې ول، ٥- د هغو خلکو انتباه صحیح نه ده چې وايي: موسی علیه السلام سحر خوځېدلی، د غرمې شاوخوا مهال داسې ځای ته رسېدلی چې ستړی او وږی شوی، هملته ئې پوخ ماهي ترې ورک شوی او خضر علیه السلام ئې هملته موندلی!!

له دغو خبرو معلومېږي چې د موسی علیه السلام دا تربیتي سفر له بعثت او مدین ته له تلو مخکې هغه مهال ترسره شوی چې موسی علیه السلام د فرعون په

کور کې اوسېدو، د دې سورې همدا ۱٤ آیت ښیي چې الله تعالی په همدې مودې کې چې موسی علیه السلام د فرعون په کور کې اوسېدو د ده د روزنې او په علم او حکمت د سمبالېدو خاص انتظام کړی وو، یو ئې همدا تربیتي سفر او له خضر علیه السلام سره د ده څو ورځنۍ ملګرتیا وه. که وغواړو د قرآن دغه آیت د نورو آیتونو په رڼا کې تفسیر کړو نو له دې پرته بل څه نشو ویلی چې دلته هغه علم ته هم اشاره شوې چې موسی علیه السلام له خضر علیه السلام نه د هغه سفر په دوران کې ترلاسه کړی وو، ځکه قرآن په ډېر صراحت سره وایي چې هغه خضر علیه السلام ته وویل: ما په ملګرتیا قبول کړه او پرېږده هغه څه درنه زده کړم چې تا ته درښول شوي. ښایي له ځینو سره دا پوښتنه راولاړه شي چې موسی علیه السلام څنګه په یوه لنډ سفر کې دومره څه له خضر علیه السلام نه زده کړل چې قرآن ئې یادونه کوي، حقیقت دا دئ چې کله کله څو میاشتنی سفر خو پرېږده یوه ورځ پېښه او یوه وینا هم د یوه حساس انسان د ژوند مسیر بدل کړي او د معرفت دروازه ئې پر مخ پرانېزي.

---

وَدَخَلَ ٱلۡمَدِينَةَ عَلَىٰ حِينِ غَفۡلَةٖ مِّنۡ أَهۡلِهَا فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيۡنِ يَقۡتَتِلَانِ هَٰذَا مِن شِيعَتِهِۦ وَهَٰذَا مِنۡ عَدُوِّهِۦۖ فَٱسۡتَغَٰثَهُ ٱلَّذِي مِن شِيعَتِهِۦ عَلَى ٱلَّذِي مِنۡ عَدُوِّهِۦ فَوَكَزَهُۥ مُوسَىٰ فَقَضَىٰ عَلَيۡهِۖ قَالَ هَٰذَا مِنۡ عَمَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِۖ إِنَّهُۥ عَدُوّٞ مُّضِلّٞ مُّبِينٞ ﴿١٥﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّي ظَلَمۡتُ نَفۡسِي فَٱغۡفِرۡ لِي فَغَفَرَ لَهُۥٓۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٦﴾ قَالَ رَبِّ بِمَآ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ فَلَنۡ أَكُونَ ظَهِيرٗا لِّلۡمُجۡرِمِينَ ﴿١٧﴾

او ښار ته هغه مهال ننوت چې اوسېدونکي ئې غافل وو (د شپې او يا د غرمې په مهال په خوب ويده ول)، نو دوه سړي ئې داسي په کي ومونډل چې په جګړې سره بوخت دي، دا يو ئې د ده له خپلې قبيلې او هغه بل ئې د ده د دښمن (له خېله)، نو هغه چا چې د ده له قبيلې څخه وو د ده د دښمن په خلاف مرستې ته ورنارې کړې، نو موسی په څپېړې وواهو او کار ئې ورتمام کړ (ومړ)، وئې ويل: دا د شيطن کار وو، يقيناً چې هغه ښکاره بې لارې کوونکی دښمن دئ. وئې ويل: اې زما ربه! يقيناً چې ما پر خپل ځان ظلم وکړ، بخښنه راته وکړه، نو بخښنه ئې ورته وکړه، بې شکه چې هغه مهربان بخښونکی دئ. وئې ويل: اې زما ربه! د دې لپاره چې پر ما دې پېرزوينه وکړه، نو (له دې وروسته به) هيڅکله د مجرمينو ملاتړی نه شم.

---

(۱۵-۱۷)- ګورئ چې قرآن د دې قصې اتل څنګه انځوروي، په ښار کي دوه سړي د نښتې په حالت کي ګوري، يو ئې ظالم او بل ئې مظلوم، يو ئې د واکمني طبقې او بل ئې د بې وزلې قبيلې، مظلوم او بې وزلی مرسته ترې غواړي، دی فوراً او له ځنډه پرته د بې وسه او مظلوم مرستې ته وروړاندې کېږي، په بې تفاوتئ له صحنې نه تېرېږي، مخ نه ترې اړوي، ځان تر دې لوړ نه ګڼي چې د دوو کسانو په لانجې کي مداخله وکړي، که څه هم دی اوس د شاهي کورنئ غړی دئ او کېدی شي چې دا مداخله او له يوه بني اسرائيلي نه د ده دفاع ډېر تاوان وروړسوي، خپل موقف له لاسه ورکړي، د فرعون له پېرزوينو محروم شي، په داسي حالت کي د ډېرو عقلمنو خلکو عقل دا ورته وايي چې غوړ مه پرې ګروه، مخ بلې خوا ته واړوه او تېر شه، ولي ځان په يوې لانجې کي اچوې؟! موسی عليه السلام په دې خاطر نه شي کولی له صحنې بې پروا او بې تفاوته تېر شي چې الله تعالی حساس ضمير ورکړی، پر يوه مظلوم انسان تېری نه شي زغملی، د خپل حساس ضمير په حکم مداخله

کوي، هسې د خلاصون مداخله هم نه، چې که ئې يو يا دواړه خواوې ونه منې نو خپله لار وهي او صحنه پرېږدي، بلکې له مظلومه دفاع کوي، ظالم او تېری کوونکی په سوک يا څپېړه وهي، خو دا ګوزار داسې وو چې په همدې سره د ظالم چاره وشوه، کار ئې تمام شو او ومړ، (فقضى عليه)، د موسى عليه السلام په يوه وار سره د هغه ظالم د ژوند فيصله وشوه او په قتل ورسېد. قرآنکريم دا د يوه صالح او زړه سواند قايد او زعيم د دربيم صفت په توګه وړاندې کوي او د دې قصې په ترڅ کې موږ ته وايي چې له صالح مشر سره د علم او حکمت تر څنګ داسې حساس ضمير ضروري دئ، د ظلم او تېري په مقابل کې چوپ او بې تفاوته نه پاته کېدل او له مظلومانو دفاع کول.

د قتل له پېښې وروسته د موسى عليه السلام په وينا کې څو ډېرې حساسې او مهمې خبرې زموږ مخې ته اينسودل شوې:

- موسى عليه السلام له همدې پېښې وروسته تصميم نيسي چې له دې نېټې وروسته به هيڅکله د ظالمانو او مجرمانو ملاتړ او ملګرتيا نه کوم، دا له فرعون او فرعوني نظام سره د ده د تلپاتې مقاطعې او پرېکون هوډ او عزم وو!! د دې په ځای چې دا ناڅاپي پېښه ئې د مظلوم له ملګرتيا او د نورو په شخړو کې له مداخلې منصرف کړي او ووايي چې له دې وروسته به په داسې قضاياوو کې مداخله نه کوم او ځان ته به بې ځايه ستونزې نه راپيدا کوم، برعکس له ظالمانو نه خپل برائت اعلانوي!!
- دا په حقيقت کې له فرعوني نظام سره د موسى عليه السلام د بشپړې مقاطعې اعلان وو. د علم او حکمت له ورکړې وروسته د دغو پېښو يادونه ښيي چې همدا د ده د علم او حکمت آثار او نتايج وو، يو داسې کس چې د فرعون په کور کې په ناز او نعمت کې ستر شوی وي، د فرعون مېرمنې د خپل نازولي او ګران زوی په توګه روزلی وي؛ ډېره بعيده ده چې هغه دې يوازې او له ساتونکو پرته ښار ته ننوځي او

بیا دي د دوو عادي سړو تر منځ نښتي کي مداخله وکړي او هغه هم داسي مداخله چي په ترڅ کي ئې تېرى کوونکى ووژل شي، خو الله تعالى د ده د روزني بېل انتظام کړى وو، له خضر علیه السلام سره ملګرتیا هغه ته ښودلي وو چي د مظلوم ملګرتیا به کوې. خضر علیه السلام د ملګرتیا په دوران کي د دریو پېښو په ترڅ کي هغه ته دا درس ورکړى وو چي تل به د مظلوم ملګرتیا کوې او د ظالم له منګولو نه د هغه د ژغورني لپاره به ملا تړې.

- الله تعالى ته د خپلي دعاء په ترڅ کي وايي: د دې لپاره چي تا راباندي پېرزوینه وکړه، نو له دې وروسته به هیڅکله د مجرمینو ملا تړ نه کوم!! خو باید وګورو چي موسى علیه السلام دلته کوم الهي نعمت او پېرزویني ته ګوته نیسي؟! که څه هم د نعمت صیغه عامه ده او په ټولو الهي پېرزوینو ئې اطلاق کېدى شي خو دلته ئې مراد د نورو نعمتونو تر څنګ دا هم دئ چي الله تعالى د ده پرده وکړه او د قتل پېښه بربنډه نه شوه.
- دا ظریف ټکى هم زموږ مخي ته راځي چي د ګناه له دنیوي سزا نه د چا ژغورنه د الله تعالى له لوري یوه پېرزوینه او بخښنه ده، لکه څنګه چي دلته ګورئ چي موسى علیه السلام د قتل د پېښي بخښنه وغوښته، الله تعالى ورته بخښنه وکړه او ده د دغي بخښني په مقابل کي ژمنه وکړه چي له دې وروسته به د مجرمینو ملا تړ نه کوم.
- قرآن د بایبل د ادعاء خلاف وايي چي دا قتل عمدي قتل نه وو، موسى علیه السلام د ده د وژلو په نیت نه دئ وهلى، په څپېړي ئې وهلى او طبیعي ده چي په څپېړي یا سوک څوک نه وژل کېږي!! د موسى علیه السلام فوري ندامت او بخښنه غوښتل په خپله دا ثابتوي چي دا یوه تصادفي پېښه وه.

---

فَأَصۡبَحَ فِي ٱلۡمَدِينَةِ خَآئِفٗا يَتَرَقَّبُ فَإِذَا ٱلَّذِي ٱسۡتَنصَرَهُۥ بِٱلۡأَمۡسِ

يَسْتَصْرِخُهُۥ ۚ قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰٓ إِنَّكَ لَغَوِيٌّ مُّبِينٌ ﴿١٨﴾ فَلَمَّآ أَنْ أَرَادَ أَن
يَبْطِشَ بِٱلَّذِى هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ أَتُرِيدُ أَن تَقْتُلَنِى كَمَا قَتَلْتَ
نَفْسًۢا بِٱلْأَمْسِ ۖ إِن تُرِيدُ إِلَّآ أَن تَكُونَ جَبَّارًا فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا تُرِيدُ أَن
تَكُونَ مِنَ ٱلْمُصْلِحِينَ ﴿١٩﴾

نو په ښار کې ئې په داسې حال کې شپه تېره کړه چې وېره ئې درلوده او څار ئې کاوو، ناڅاپه هغه چا بيا ورنارې کړې چې پرون ئې مرسته ترې غوښتې وه، موسی ورته وويل: يقيناً چې ته ښکاره بې لارې او دوکه شوی يې، نو کله چې ئې وغوښتل د دواړو (ګډ) دښمن ته لاس واچوي، (هغه) وويل: آيا غواړې ما هم هغسې ووژنې لکه چې پرون دې يو کس ووژلو؟ له دې پرته بل څه نه غواړې چې ته هم په دې زمکې کې يو (بل) جابر شې، نه غواړې چې د مصلحينو له ډلې څخه وې!!

(١٨-١٩)- موسی عليه السلام سبا بيا همغه پرونی مظلوم د يوه بل قبطي تر تېرې لاندې وموند، هغه بيا مرسته ترې وغوښته، دی ورروان شو خو چې ورنږدې شو هغه ته ئې وويل: ته غلط شوی يې، دا يوه غلطي ده چې له دغو ظالمانو سره په جګړو کې ښکېل کېږې، اسرائيلي داسې وانګېرله چې موسی عليه السلام دی ملامت ګڼي او غواړي وئې وهي، حال دا چې موسی عليه السلام د ده د مرستې په نيت ورروان وو، خو هغه په جګ غږ نارې کړې: موسی! ته غواړې ما هم ووژنې، همغسې لکه چې پرون دې هغه بل ووژلو؟! ته هسې ځان مصلح او د مظلومانو ملګری ګڼې... په دې سره قرآن موږ ته دا راښودل غواړي چې موسی عليه السلام د

داسې یوه نااهله قوم د ژغورنې لپاره مأمور شوی، د خپل ناجي او ژغورونکي اسرار افشاء کوي، څو شپې مخکې د یوه ناجي په سترګه ورته ګوري او د ظالمانو له منګولو د ژغورنې لپاره ده ته غږ کوي او مرسته ترې غواړي خو چې د ده پر غلطۍ ئې ګوته کېښوده او هغه ئې ملامت کړ، نه یوازې له ټولو ښېګڼو ئې انکار کوي، جابر او ظالم ئې ګڼي، بلکې دښمن ته ئې په لاس ورکوي او اسرار ئې افشاء کوي!! او په دې سره قرآن موږ ته دا هم راښیي چې بني اسرائیل لا د دې وړ نه وو چې د ظالمانو له سلطې نه د نجات لپاره د یوه مشر تر قیادت لاندې راغونډ شي او پاڅون ته ملا وتړي، له یوې خوا موسی علیه السلام مزید روزنې ته ضرورت لرې او له بلې خوا بني اسرائیل باید څه نوره موده سختې ورځې وګوري او دې نتیجې ته ورسېږي چې د یوه مشر تر قیادت لاندې له راغونډېدو او د ظلم په خلاف له پاڅون نه پرته بله چاره نه لري!!

---

وَجَآءَ رَجُلٌ مِّنْ أَقْصَا ٱلْمَدِينَةِ يَسْعَىٰ قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ ٱلْمَلَأَ يَأْتَمِرُونَ بِكَ لِيَقْتُلُوكَ فَٱخْرُجْ إِنِّى لَكَ مِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴿٢٠﴾ فَخَرَجَ مِنْهَا خَآئِفًا يَتَرَقَّبُ قَالَ رَبِّ نَجِّنِى مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢١﴾

د ښار له لرې برخې یو سړی په منډه راغی، وئې ویل: اې موسی! درباریان راغونډ شوي ستا په اړه مشوره کوي چې ودې وژني، ووځه! زه دې له خواخوږو څخه یم. نو په داسې حال کې له وېرې سره له ښاره ووت چې څار ئې کاوو، وئې ویل: اې زما ربه! له دغه ظالم قومه مې وژغوره!

---

(۲۰-۲۱)- فرعون او درباریانو ئې فیصله وکړه چې موسی علیه السلام د قتل په تور اعدام کړي، له دربار څخه یو کس په عجله او تلوار سره د موسی علیه السلام خوا

ته ځان ورساوو، د درباریانو له پرېکړې ئې خبر کړ او له مصر نه د وتلو مشوره ئې ورکړه، موسی علیه السلام د خپل دوست او خواخوږي مشوره مني او د مصر د پرېښودو پرېکړه کوي. الله تعالی غوښتل چې دا د بني اسرائیلو ناجي او د فرعون په ضد د یوه ستر انقلاب قاید د هجرت په لوړو ژورو کې او د ستونزو او کړاوونو په ترخ کې وروزي او هغه زغم او صبر ورپه برخه کړي چې د انقلابونو د مشرتابه لپاره ضروري دئ. او په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې د ولسونو د مشرتابه لپاره د (علم)، (حکمت) او (حساس ضمیر) تر څنګ هغه (صبر او زغم) ته ضرورت دئ چې د (هجرت) او له کړاوونو او ستونزو سره ئې د مخامخ کېدو په نتیجه کې د انسان په برخه کېږي. د ګلانو پر بستر ستر شوی مشر نه د مظلومو او بې وزلو ولسونو دردونه حس کوی شي او نه د یوه انقلاب قیادت او لاښوونه کولی شي!!

له دې بهیر نه څه مهمې لارښوونې ترلاسه کوو:

- موسی علیه السلام دلته فرعونیان دظالمانو په نامه یادوي او الله تعالی ته دعاء کوي چې له دې (ظالمانو) ئې وژغوري، تر دې د مخه ئې ویلي وو چې په هیڅ څه کې به د دغو (مجرمینو) ملاتړ نه کوم، له دې معلومېږي چې موسی علیه السلام فرعونیانو ته د ظالمانو او مجرمینو په سترګه کتل، د چارواکو په ظلمونو او جرمونو ښه پوه شوی وو، د زړه له تل نه ئې له دوی کرکه درلوده او د دوی په ضد ئې د مبارزې کلکه پرېکړه کړې وه.
- د ده د دعوت او مبارزې اغېز تر دربار پورې غزېدلی وو، په دربار کې ئې هم خواخوږي پیدا کړي ول. د همدوی له ډلې نه یوه کس اطلاع ورکړه چې درباریانو ستا د اعدام پرېکړه کړې، زه دې خواخوږی یم له مصره ووځه.
- قبطیان د ښار په بري خوا کې اوسېدل، د فرعون قصرونه هم هلته وو، بني اسرائیل د ښار په لاندیني برخې کې او له دوی نه ډېر لرې اوسېدل، د همدې لپاره

قرآن وايي چې (د ښار له لرې برخې يو سړی په منډه راغی، وئې ويل: اې موسی! درباريان راغونډ شوي ستا په اړه مشوره کوي چې ودې وژني...) په ټولو طبقاتي نظامونو کې مرفه طبقه، واکداران او شتمن د ښارونو په يوې برخې کې او بې وزلي او نيستمن په بلې برخې کې او له دوی ډېر لرې اوسېږي.

- موسی عليه السلام پرېکړه کړې چې د مدين په لوري وخوزېږي، ښايي د دې لپاره چې دا سيمه ورته نږدې وه او د فرعون له سلطې او واکمنۍ وتلې سيمه وه، د ده مخکنی سفر د جنوب په لوري وو، له خضر عليه السلام سره د ملاقات په موخه، دا لوری ئې ښايي د دې لپاره نه وي غوره کړی چې د نيل دواړو خواوو ته مېشت خلک د سودان تر سرحداتو پورې د فرعون تابع ول، په دې ټولې پراخې او اوږدې سيمې د ده واکمنې مسلطه وه، دا لوری غوره کول د احتياط خلاف کار وو.
- له اوو اتو ورځو مزل وروسته د مدين کوهي ته ورسېد، چې قرآن په دې اړه فرمايي:

وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ قَالَ عَسَىٰ رَبِّيٓ أَن يَهْدِيَنِي سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ
﴿٢٢﴾ وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِّنَ ٱلنَّاسِ يَسْقُونَ
وَوَجَدَ مِن دُونِهِمُ ٱمْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا قَالَتَا لَا نَسْقِي
حَتَّىٰ يُصْدِرَ ٱلرِّعَآءُ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ ﴿٢٣﴾ فَسَقَىٰ لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّىٰٓ إِلَى
ٱلظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَآ أَنزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ ﴿٢٤﴾

او کله چې ئې د مدين په لوري مخه کړه وئې ويل: هيله ده رب مې په سمې لارې بوځي او کله چې د مدين اوبو ته ورسېد؛ يوه ډله خلک ئې پرې ومونډل

چي (خپل څاروي ئې) خړوبول او له دوی آخوا ئې دوې ښځې ترسترګو شوې چي (خپل څاروي ئې) ایسارول، (ورته) وئې ویل: ستاسو څه حال (او مشکل) دئ؟ (دواړو) ورته وویل: تر څو چي شپانه نه وي وتلي موږ (خپل څاروي) نه شو خړوبولی، پلار مو ډېر سپین ږیری دئ (په کورنۍ کي بل نارینه نه لرو، موږ دې ته اړي شوې یو چي خپله رمه وپیایو)، (موسی علیه السلام) د دوی رمه خړوبه کړه او پخواني سیوري ته راستون شو، وئې ویل: اې زما ربه! پر ما چي دي کومي پېرزویني کړې وې، نن ورته محتاج یم.

---

(۲۲-۲٤)-دلته څو جالب ټکي زموږ توجه جلبوي:

- په دي لار ئې تر دې د مخه سفر نه وو کړی نو ځکه ئې وویل: هیله ده رب مي په سمې لاري بوځي.
- نجونو به یا له شپنو پاتې اوبه خپلي رمې ته ورکولې او یا خو ئې د حیا له وجهي دا نه غوښتل چي تر هغه کوهي ته رانږدې شي چي شپنو دا ځای نه وي پرېښی.
- کله چي موسی علیه السلام د رمې له خړوبولو وروسته مخکني سیوري ته راګرځي یوه ډېره زړه ژړوونکې دعاء کوي او وایي: له هغو ټولو نعمتونو محروم یم چي تر دې د مخه دي پر ما پېرزو کړي وو، نن هر څه ته محتاج یم، د فرعون په کور کي هغه سوکاله او آرام ژوند او د نن ورځي لوږه، فقر او احتیاج ئې مخي ته ودرېدلي.
- موسی علیه السلام ستومانه، وږی او د یوه خوندي پناځي په لټه کي وو، داسي سختي ورځي ئې په خپل ژوند کي نه وې لیدلې، په نعمتونو کي ستر شوی وو خو اوس تر تعقیب لاندي، یوې ګولې وچي مړۍ ته محتاج او د یوې شپې تېرولو خوندي ځای ته اړ دئ، د ده د دعاء په ماهیت هغه څوک ښه پوهېدی شي چي په ژوند کي ئې همداسي حالت پرې راغلی وي.

بې مناسبته ئې مه ګڼې چې که ووایم: د مدین د کوهي په خوا کې د هغه سیوري لاندې چې د موسی علیه السلام کوم حالت وو، له ننه ۲۳ کاله د مخه په ما باندې همداسې حالت راغلی وو، د وخت فرعون سردار داؤد زما د اعدام پرېکړه کړې وه، تر تعقیب لاندې وم، تخار، کندز، پروان، پکتیا، غزنې او پکتیکا ته ولاړم، تر څو د پنا کوم مطمئن ځای پیدا کړم، خو موفق نه شوم، په پای کې دې ته اړ شوم چې پاکستان ته ولاړ شم، له هغه وخته تر نن پورې چې کله د موسی علیه السلام دغه پورتنۍ دعاء په قرآن کې لولم، بې اختیاره مې اوښکې پر مخ راشې.

- د مجاهدینو، بې وزلو او محتاجانو مل رب د ده دعاء قبوله کړه، مطمئن او ډاډمن پناځی ورته برابر کړ چې قرآن ئې په وروستیو آیتونو کې تفصیلات بیانوي.

بایبل د کوهي د غاړې دغه پېښه یعقوب علیه السلام ته منسوبوي او تر دې عنوان لاندې (یعقوب فدان ارام ته رسي) داسې لیکي: ... یعقوب په صحرا کې د یوه کوهي څنګ ته ورسېدو... هلته شپانه راغونډ وو ... پوښتنه ئې وکړه: آیا لابان د ناحور زوی پېژنئ؟ هغوی ورته وویل: هو؛ هغه ده لور ئې راحیل له خپلې رمې سره راروانه ده، ... یعقوب په یوازې تن د کوهي له سره لویه تیږه لرې کړه او د راحیل رمه ئې خړوبه کړه... بیا وروړاندې شو او هغه ئې ښکل کړه او په ژړا شو، ځان ئې ورمعرفي کړ،... هغې د کور په لورې وځغاستل او خپل پلار ئې خبر کړ... لابان راغی، خپل خوریې ئې په غېږ کې ونیو، ښکل ئې کړ او له ځان سره ئې کور ته بوت.. یوه میاشت وروسته لابان ورته وویل: زه نه غواړم چې ما ته وړیا کار وکړې، ووایه څومره اجوره درکړم... یعقوب چې د ده په کشرې لور راحیل باندې زړه بایللی وو، ورته وویل: که کشره لور دې راکړې اوه کاله به ستا نوکري وکړم... لابان موافقه وکړه... اوه کاله پوره شول... لابان د واده بندوبست وکړ، ډېر خلک ئې راوبلل... چې کله شپه تیاره شوه نو د راحیل په ځای ئې مشره لور لیه د ده حجلې (د ناوې لپاره خصوصي خونه) ته ورولېږله، یعقوب ورسره نږدېکت وکړ، سهار متوجه شو

چې د راحیل په ځای ئې له لیه سره شپه تېره کړې!! نو لابان ته ورغی او ورته وئې ویل: دا دي له ما سره څه وکړل، ما د دې لپاره اوه کاله ستا خدمت وکړ چې راحیل راته راکړې، ولې دې دوکه راسره وکړه؟ هغه ځواب ورکړ: زموږ دود دستور داسې دئ چې لومړی مشره لور ودوو، یوه اونۍ صبر وکړه، راحیل هم درکوم خو په دې شرط چې د اوه کاله نور خدمت ژمنه وکړې!!! یعقوب ومنله، یوه اونۍ وروسته ئې راحیل هم ده ته ورکړه!!)

د دې جعلي قصې دغو برخو ته ستاسو پام رااړوم:

- یعقوب یوه پېغله نجلۍ چې د واده کېدو عمر ته رسېدلې وه د نورو شپنو په مخکې ښکل کړه!! داسې کار نه یوازې د هغه وخت په قبایلي ژوند کې لوی جرم ګڼل کېدو بلکې د اروپا او امریکا په لادینه مدني ټولنو کې ئې دوه سوه کاله مخکې بېلګه نه شو وړاندې کولی، نږدې یوه پېړۍ مخکې د انګلستان د پارلمان یوه غړې خپله مېرمن د نورو په وړاندې ښکل کړه او له دې یوه لویه لانجه جوړه شوه!!
- لابان د خپلې ژمنې خلاف د کشرۍ لور پر ځای خپله مشره لور د شپې په تیاره کې د یعقوب حجلې ته ورولېږله، هغه شپه ورسره تېره کړه، نه ئې له غږ نه وپېژنده او نه له رنګه!! د رنګ لپاره خو د بایبل لیکوال ښه حیله جوړه کړې او لیکلې ئې دي چې کله شپه تیاره شوه نو لابان د راحیل په ځای لیه ورولېږله!! خو دا ئې نه دي لیکلي چې ولې ئې له غږ نه ونه پېژنده؟!!

دوه خویندې په یوه وخت یوه کس ته په نکاح کېدل ئې جائز ګڼلي او دا هغه څه دي چې قرآن ئې حرام ګڼي، الهي شریعت نه غواړي چې د دوو خویندو مینه په رقابت او کینې بدله شي، داسې نکاح دوه نږدې انسانان چې یو له بل سره پاکه او ژوره مینه لري سره لرې کوي او د دوی ترمنځ رقابت او کینه راولاړوي.

قرآن د بایبل دا خبره ردوي، دا د موسی علیه السلام د قصې برخه ګڼي، د رمې پیایونکې نجلۍ یوه نه بلکې دوه ښيي او هغه چې موسی علیه السلام کورته د

تلو لپاره بللی یوه حیاناکه نجلۍ معرفي کوي او فرمایي:

فَجَآءَتۡهُ إِحۡدَىٰهُمَا تَمۡشِي عَلَى ٱسۡتِحۡيَآءٖ قَالَتۡ إِنَّ أَبِي يَدۡعُوكَ
لِيَجۡزِيَكَ أَجۡرَ مَا سَقَيۡتَ لَنَاۚ فَلَمَّا جَآءَهُۥ وَقَصَّ عَلَيۡهِ ٱلۡقَصَصَ قَالَ لَا
تَخَفۡۖ نَجَوۡتَ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٥﴾ قَالَتۡ إِحۡدَىٰهُمَا يَٰٓأَبَتِ
ٱسۡتَـٔۡجِرۡهُۖ إِنَّ خَيۡرَ مَنِ ٱسۡتَـٔۡجَرۡتَ ٱلۡقَوِيُّ ٱلۡأَمِينُ ﴿٢٦﴾ قَالَ إِنِّيٓ أُرِيدُ
أَنۡ أُنكِحَكَ إِحۡدَى ٱبۡنَتَيَّ هَٰتَيۡنِ عَلَىٰٓ أَن تَأۡجُرَنِي ثَمَٰنِيَ حِجَجٖۖ فَإِنۡ
أَتۡمَمۡتَ عَشۡرٗا فَمِنۡ عِندِكَۖ وَمَآ أُرِيدُ أَنۡ أَشُقَّ عَلَيۡكَۚ سَتَجِدُنِيٓ إِن
شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٢٧﴾ قَالَ ذَٰلِكَ بَيۡنِي وَبَيۡنَكَۖ أَيَّمَا ٱلۡأَجَلَيۡنِ
قَضَيۡتُ فَلَا عُدۡوَٰنَ عَلَيَّۖ وَٱللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٞ ﴿٢٨﴾

(له همدې دعاء سره سم) له هغو دوو نجونو نه یوه په حیاء حیاء کې راغله، (او موسی ته) ئې وویل: زما پلار دې غواړي چې زموږ د رمې خړوبولو په بدل کې څه درکړي، نو کله چې هغه ته راغی او ټوله قصه ئې ورته وکړه، هغه (ورته) وویل: نور نو له ظالمانو ژغورل شوی یې، یوې (لور ئې پلار ته) وویل: پلاره! دا په نوکرۍ ونیسه، تر ټولو غوره کس چې په نوکرۍ ئې نیسې هغه دئ چې پیاوړی او امین وي، وئې ویل: غواړم یوه لور مې تا ته په نکاح درکړم خو په دې شرط چې اته کاله به له ما سره د اجورې په مقابل کې تېروې او که لس کلونه دې بشپړ کړل نو دا به ستا پېرزوینه وي، نه غواړم چې زیاتی

درباندي وکړم، که خدای کول ما به له صالحينو څخه ومومې، وئې ويل: همدا دي زما او ستا ترمنځ (ژمنه) وي، په دې دواړو کي هره موده چي مي (دلته) تېروله (اختيار به ئې زما وي او) تېری به راباندي نه کېږي، وئې ويل:) په هغه څه چي وايو ئې الله شاهد او وکيل دئ.

---

(۲۵-۲۸)- دا مبارک آيتونه څو خبري زموږ مخي ته ږدي:

- کله چي نجوني کور ته ستنې شوي پلار ترې پوښتنه کړې چي نن ولي دومره ژر راغلئ؟ قصه ئې ورته تېره کړې او ورته ويلي ئې وو چي د کوهي غاړي کي يوه ناست مسافر زلمي زموږ رمې ته اوبه راوايستې، نو ځکه ئې يوه پسې ولېږله چي دی کور ته ورولي، ورسره روان شو، دی مخکي او هغه تر شا، کله چي ورورسېدو، (د نجونو پلار ته ئې ټوله قصه تېره کړه، هغه ورته وويل: نور نو د ظالمانو له منګولو ژغورل شوی يې، دا سيمه د هغوی له سلطې بهر ده.
- يوې لور ئې ورته ويلي: د نوکر او شپون په لټه کي وې، دا دئ يو امين او پياوړی کس په لاس درغلی، ښه به وي چي همدا دی په شپني ونيسې. ښايي د دې لپاره ئې هغه د قوي او امين په نامه ياد کړی چي له کوهي نه ئې په يوازي سر دومره اوبه راوايستلې چي د دوی ټوله رمه ئې خړوبه کړه، او د لارې په اوږدو کي د ده تقوی، حياء، او پاک لمنی ته متوجه شوې.
- پلار ئې له ځان سره فکر وکړ چي په کور کي د يوه نامحرم زلمي ساتل صحيح نه دئ، ښه به وي يوه لور په نکاح ورکړم، موسی ته ئې وويل: غواړم يوه لور مي په نکاح درکړم خو مشروط په دې چي اته کاله به راسره تېروې او که دي لس کاله راسره تېر کړل دا به ستا احسان وي.
- موسی عليه السلام چي د يوه ډاډمن پناځي په لټه کي وو، دا وړانديز ئې فوراً ومانو، خو ورته وئې ويل: په دې دواړو کي هره موده چي مي دلته تېروله اختيار به

ئې زما وي او تېرى به راباندې نه کېږي.

- په همدې ئې سره ژمنه وکړه.

گورئ چې الله تعالی د ده دعاء له څنده پرته قبوله کړه، د يوې نېکې کورنۍ په غېږ کې ئې پنا ورکړه، پنا ورکوونکې ورته وويل: غواړم خپل لور په نکاح درکړم، دا به ستا پېرزوينه وي چې تر اتو، لسو کلونو له ما سره پاته شې!!

الله تعالی غوښتل چې موسی علیه السلام په مدين کې د يوه نېک او صالح انسان په خوا کې واوسوي او د هغه تر روزنې لاندې اته يا لس کاله پاته شي، په دې دوران کې شپني وکړي او دا ئې د تربيت او روزنې بله مرحله وي، د دې مرحلې په پای کې د مصر په لوري، د خپل قوم د لارښوونې او د فرعون مقابلې ته ولاړ شي!!

د قرآن په دغو ويناوو کې څو اساسي لارښوونې مور ته شوې:

- هجرت د شخصيتونو د روزنې مدرسه ده، د مظلومو ولسونو لپاره چې الله تعالی کوم قيادت غوره کوي هغه به د هجرت په لوړو ژورو کې روزي.
- موسی علیه السلام بايد د څه وخت لپاره د مصر له مختنقې فضاء او له هغه ظلماني او ضيق محيط نه چې فرعون پرې حکومت کاوو ووځي، د مدين په آزادې فضاء کې ژوند وکړي، د ظالمانو له هرراز سلطې نه د آزاد ژوند خوند وڅکي، شپني وکړي، دا شپني په خپله قيادت دئ او د قيادت رموز انسان ته ښيي.
- د پنا ځای په لټه کې وو، الله تعالی ورته مناسب ځای غوره کړی وو، همغه ځای ته ئې ورساوو.

په آثارو کې راځي چې په همدې دوران کې چې موسی علیه السلام شپني کوله يوه ورځ يوه ملائکه د سړي په بڼه کې ورته راڅرگندېږي او ترې ځغلي، موسی علیه السلام ورپسې شي، چې هر ځل موسی علیه السلام ورنږدې شي دا بيا ترې وځغلي، په دې توگه ټوله ورځ ورپسې منډې ووهي، بالآخره هغه له ډېرې ستړيا پر زمکه پرېوځي، موسی علیه السلام ورورسېږي، خو د دې پرځای چې له ډېرې

غوصې ئې ووهې؛ پښې ئې ورموښي او وايي: الله تعالى دي ما ته عفوه وکړي چې د دې سپرلي د ترېدو باعث شوم، دا مې څومره وځورولو، زه د ده د ځورولو او کړولو باعث شوم، دا د موسى عليه السلام د تربيتي دورې د بشپړتيا او تکميل نښه وه، اوس هغه کولی شي چې خپل قوم ته ولاړ شي او د يوه زړه سواند لارښود په توگه د هغوی لارښوونه وکړي، اوس هغه وخت رارسېدلی چې دی بايد د مصر په لوري وخوځېږي.

---

فَلَمَّا قَضَىٰ مُوسَى ٱلۡأَجَلَ وَسَارَ بِأَهۡلِهِۦٓ ءَانَسَ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ نَارٗاۖ قَالَ لِأَهۡلِهِ ٱمۡكُثُوٓاْ إِنِّيٓ ءَانَسۡتُ نَارٗا لَّعَلِّيٓ ءَاتِيكُم مِّنۡهَا بِخَبَرٍ أَوۡ جَذۡوَةٖ مِّنَ ٱلنَّارِ لَعَلَّكُمۡ تَصۡطَلُونَ ٢٩

او کله چې موسى دا موده بشپړه کړه او له خپلې کورنۍ سره وخوځېدو، د طور په يوه اړخ کې ئې اور ترسترگو شو، خپلې کورنۍ ته ئې وويل: تم شئ! زما يو اور ترسترگو شو، يا به کوم خبر (او احوال) ترې درته راوړم او يا د اور کومه سکروټه چې تاوده شئ.

---

(٢٩)-د دې مبارک آيت په اړه لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- موسى عليه السلام خپله ژمنه ترسره او هغه موده ئې بشپړه کړه او پرېکړه ئې وکړه چې مصر ته ستون شي، له خپلې کورنۍ سره يوځای د مصر په لوري وخوځېدو.
- يوه شپه په يوې تنگې او کږلېچنې درې کې روان وو چې لار ترې ورکه شوه، لرې ئې د غره په يوې ډډې کې د اور رڼا تر سترگو شوه، گمان ئې وکړ چې هلته به شپنو اور بل کړی وي، د کورنۍ غړو ته ئې وويل: دلته تم شئ! زما يو اور ترسترگو

شو، یا به د لارې په اړه معلومات ترې ترلاسه کړم او یا د اور کومه سکروټه چې اور پرې بل کړو او تاوده شئ.

بایبل په دې اړه داسې وایي:

"موسی د مدیان سیمې ته وتښتېدو...یوه ورځ د هغه ځای د کوهي په غاړه ناست وو اوه نجونې ئې ولیدې چې له کوهي ئې اوبه راایستلې تر څو خپلو څارویو ته ئې ورکړي... شپنو د یترون لونې د کوهي له غاړې لرې کړې او خپلې رمې ئې خړوبه کړې... موسی وړاندې ورغی، شپانه ئې یوې خوا بلې خوا ته کړل او له نجونو سره ئې د خپلو څارویو په خړوبولو کې مرسته وکړه...کله چې نجونې کورته ستنې شوې پلار ترې وپوښتل: نن ولې دومره ژر راغلئ؟ وئې وویل: یوه مصري راسره مرسته وکړه...پلار ورته وویل: هغه دلته راولئ... موسی ورغی، د هغه په کور کې پاته شو... هغه خپله لور صفوره په نکاح ورکړه... یوه ورځ په داسې حال کې چې موسی د رمې په پېولو بوخت وو... ناڅاپه د خدای فرشته د اور په بڼه کې د یوه بوټي له منځه ورښکاره شوه... کله چې خدای ولیدل چې موسی بوټي ته ورنږدې کېږي، د بوټي له منځه ئې پرې غږ کړ: موسی! موسی! نور مه رانږدې کېږه، څپلې دې له پښو وباسه، ځکه چې ته په یوه سپېڅلي ځای ولاړ یې...زه ستا د نیکونو ابراهیم، اسحاق او یعقوب خدای یم...ما په مصر کې د خپلو بندګانو کړاوونه لیدلي... راغلی یم چې دوی د مصریانو له منګولو وژغورم او هغې ښېرازه زمکې ته ئې بوځم چې شات او شیدې په کې بهېږي...هغې سیمې ته چې اوس کنعاني، هیتي، اموري، فرزي، حوي او یبوسي په کې مېشت دي اوس تا فرعون ته لېږم تر څو زما قوم له مصره وباسې...موسی وویل: زه څوک یم چې دا کار وکولی شم... خدای ورته وویل: زه درسره یم...موسی وویل: که بني اسرائیل را نه پوښتنه وکړي چې د هغه خدای نوم څه دئ چې ته ئې رالېږلی یې، څه ورته ووایم؟ خدای وفرمایل: (یم چې یم!!) دوی ته ووایه: (یم) ستاسو خوا ته رالېږلی یم، دا زما تلپاته نوم دئ، ټول

خلک به مې په دې نامه پېژني...موسی وویل: که بني اسرائیل زما خبره ونه مني په څه به ئې قانع کوم؟ ... خدای ورته وویل: عصا دې وغورځوه... وئې غورځوله چې ناڅاپه مار ترې جوړ شو... موسی له وېرې په تېښته شو، خدای ورته وویل: لاس وراوږد کړه او مار تر لکۍ ونیسه... همداسې ئې وکړل او مار بېرته په عصا بدل شو... بیا ئې ورته وویل: لاس دې په خپلې جامې کې د ننه کړه... کله چې ئې لاس بېرته راوایست ګوري چې د جذام په وجه د واورې په څېر تک سپین شوی...خدای ورته وویل: بیا ئې د ننه کړه... دا ځل ئې چې لاس راوایست روغ رمټ شوی وو ... موسی زړه نازړه وو، غوښتل ئې د ده په ځای بل څوک ولېږل شي... خدای پرې غصه شو... هارون ئې هم ورسره کړ او ورته وئې ویل: هارون ښه ویاند دئ، دی به د خلکو په وړاندې ستا ویاند وي ... موسی خپل خسر ته وویل چې مصر ته ځم ترڅو د خپلې کورنۍ احوال واخلم... هغه ورته وویل: په مخه دې ښه... د مصر په لورې وخوځېدو... خدای ورته وویل: فرعون ته ورشه، دا معجزې وروښیه... ورته ووایه چې خدای فرمايي: اسرائیل زما مشر زوی دئ... نو ځکه تا ته امر کوم چې دوی پرېږده چې له مصره ووځي او زما عبادت وکړي، که دا کار ونه کړې نو ستا مشر زوی به درته ووژنم... نو موسی له خپلې کورنۍ سره د مصر په لورې وخوځېدو...د لارې په اوږدو کې او هغه وخت چې دوی د آرام کولو لپاره تم شول، خدای ورته راڅرګند شو او موسی ئې په مرګ وګواښو... نو صفوره یوه تېره تيږه راواخيسته او خپل زوی ئې سنت کړ او د غوښې ټوټه ئې د موسی پښو ته وغورځوله او وئې ویل: د خپل زوی د نه سنت کولو په سبب دې نږدې ځان مرګ ته ورکړی وو... د همدې لپاره خدای د موسی له وژلو تېر شو!!)

د بایبل په دې قصې کې هم د محتوی له لحاظه ډېرې ستونزې شته او هم له ادبي پلوه بې شمېره نواقص، دا ستونزې او نواقص هغه وخت ښه درک کولی شئ چې د بایبل وینا د قرآن له څرګندونو سره مقایسه کړئ، خو که تاسو د بایبل دا

قصه د یوه ناول لیکونکي مخې ته کېږدئ او ترې وپوښتئ چې د قصې د محتوی او ادبي جوړښت په اړه څه نظر لرې؟ نو له شکه پرته به درته ووايي: دا د یوه ضعیف او کمزوري لیکوال لیکنه ده!! ښايي د هر هوښیار انسان لپاره د بایبل دا وروستۍ وینا کافي وي چې د بایبل په ماهیت پوه شي او په دې کې شک ونه کړي چې دا کتاب د یوه داسي کم عقله انسان په لاس لیکل شوی چې نه خدای سم پېژني او نه د الهي کتابونو له لارښوونو خبر دئ.!!

کوم باشعوره انسان به دا خبره ومني چې خدای ویلي: اسرائیل زما مشر زوی دئ!! آیا دا ممکنه ده چې د الله تعالی په کتاب کې داسي غلطه او د حقیقت خلاف خبره ترسترگو شي؟! د بایبل لیکونکی دي ووايي چې له اسرائیل نه د ده مراد یعقوب علیه السلام دئ که بني اسرائیل؟ که مراد ئې بني اسرائیل وي نو بیا خو باید ویل شوي وی چې بني اسرائیل زما مشران زامن دي او که مراد ئې یعقوب علیه السلام وي نو ده خو بل ځای کې عیسی علیه السلام د خدای یوازنی زوی گڼلی!! دا متناقضي خبري څنگه سره تلفیق کوې؟ د یوازني زوی تر څنگ خو نه د بل مشر زوی شته والی ممکن دی او نه د ډېرو زامنو!! که خدای زوی درلودی نو هغه به هم خدای وو، د بایبل لیکونکی دي موږ ته ووايي چې خدای د اسرائیل په څېر دئ که اسرائیل د خدای په څېر؟ آیا ستا په خدای کې ټول هغه عیبونه شته چې په بني اسرائیلو کې شته؟ بني اسرائیل بیمارېږي، وږي او تږي کېږي، خوراک کوي، په خوراک پوري اړوند ډېري نیمگړتیاوي لري، ویدېږي، ووړ وي ستړ شي او په پای کې ومري، طبیعي ده چې د دوی پلار هم باید دغسي وي!! آیا خپل خدای ته دا ټول عیبونه او نواقص راجع کوې؟!! ستا په خدای کې د بني اسرائیلو کوم صفت شته او په بنې اسرائیلو کې د خدای کوم صفت؟!! ولي هغوی ته د خدای د مشر زوی لقب ورکړی شوی؟ تر دوی خو ډېر نسلونه مخکې پیدا شوي، مشر زوی خو هغه چا ته ویل کېږي چې تر نورو زامنو مخکې پیدا شوی وي!! که دا ئې مشر زوی

وی نو کشر به ئې هم وو!! دا کشر زوی هم رامعرفي کړه!! چې څوک د پیدایښت نېټه لري هغه په دې دلیل خدای نه شي کېدی چې له دې نېټې مخکي نه وو!! د چا چې زوی په یوې معیني نېټې کي پیدا شوی او له هغې مخکي نه وو نو دی به هم همداسي په یوې معیني نېټې کي پیدا شوی وي او له هغه مخکي به نه وو!! څوک چې زوی لري نو هغه حتماً پلار هم لري!! آیا د خدای په هکله دا باور د منلو وړ دئ؟!! په انسان باندي د خدای د زوی اطلاق به ډېر ناپوه او احمق انسان کوي!!

قرآن د بایبل د دې غلطي او واهي خبري په رد کي فرمایي:

وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ وَٱلنَّصَـٰرَىٰ نَحْنُ أَبْنَـٰٓؤُا۟ ٱللَّهِ وَأَحِبَّـٰٓؤُهُۥ ۚ قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُم بِذُنُوبِكُم ۖ بَلْ أَنتُم بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ ۚ يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ ۚ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ وَإِلَيْهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٨﴾ المائدة: ١٨

یهودانو او نصاراوو ویل: موږ د الله زامن او د ده محبوبان یو، ورته ووایه: نو ولي مو په خپلو ګناهونو تعذیبوي؟ داسي نه ده بلکي تاسو همغه عادي انسانان یئ چې الله پیدا کړي. چا ته چې وغواړي بخښنه کوي او څوک چې وغواړي تعذیبوی ئې او د آسمانونو، زمکي او څه چې په دوی کي دي، د ټولو واک له الله سره دئ او بېرته ورتګ د ده په لوري دئ.

یعني که تاسو د خدای زامن او محبوبان وئ نو دا ستر ستر الهي عذابونه به پر تاسو نه نازلېدل، له هغه سپکاوي، ذلت او اسارت سره به ئې نه مخامخ کولی چې په مصر کي ورسره مخامخ وئ، هیڅ پلار نه غواړي چې زامن ئې په عذابونو اخته شي، تاسو خو همغه انسانان یئ چې الله تعالی ستاسو په څېر ډېر نور پیدا کړي، ستاسو او د هغوی تر منځ څه توپیر شته چې ځان تر نورو غوره او د خدای زامن ګڼئ؟!! زوی ته خو هغه څوک ضرورت لري چې مري، خدای به ولي زوی لري چې هیڅکله نه مري؟!! زوی او ځای ناستي ته خو هغه څوک اړ وي چې خپل ملک په

خپله، د بل له مرستې پرته او د تل لپاره نه شي سمبالولی، الله تعالی خو د ځمکې او آسمانونو مالک او ټولواک دئ هغه به ولې زوی او ځای ناستی غوره کوي؟!! څنګه به هغه څوک د زوی په توګه غوره کوي چې ډېر ژر مري او د ده په لوري وردرومي؟!!

• څوک به دا خبره ومني چې الله تعالی، موسی علیه السلام په دې خاطر په مرګ وګواښو چې خپل زوی ئې نه وو سنت کړی او بیا په دې خاطر د ده له وژلو تېر شو چې مېرمنې ئې د خپل سنت شوي زوی د غوښې ټوټه د موسی پښو ته وغورځوله؟!! بایبل خو وایي چې څو ورځې مخکې خدای؛ موسی علیه السلام ته ورڅرګند شو، هغه ته ئې معجزې ورکړې او د یوه پیغمبر په توګه ئې د فرعون لوري ته ولېږو، سره له دې چې ده خپل زوی نه وو سنت کړی!! که د زوی نه سنتول دومره ستره ګناه وي او د بایبل خدای دومره پرې غصه کېږي نو موسی علیه السلام ئې ولې له دې سره سره په پیغمبرۍ وټاکو؟ آیا هغه مهال دې ته متوجه نه وو او اوس د سفر په دوران کې ورته متوجه شوی؟ موسی علیه السلام ته خو لا تورات نه وو ورکړی شوی، لا د زوی د سنتولو په اړه کومه لارښوونه هم نه وه ورته شوې، ولې به ئې اوس او د سفر په دوران کې او هغه وخت چې په خوب ویده دئ په مرګ ګواښو؟!! د الله تعالی دین خو د سفر پر مهال فرایض هم معافوي، مسافر ته د روژې ځنډول جائز ګڼي، د څلورو رکعتونو لمونځ ئې ورته دوه رکعته کړی، هر الهي دین او هر واقعي مذهب به د کړاوونو او زحمت پر وخت د انسان د مکلفیتونو پېټی سپکوي، دا د مهربان الله تعالی له شأنه ډېره لرې ده چې د سفر پر مهال د زوی د نه سنتولو په سبب خپل غوره پیغمبر پر مرګ تهدید کړي!! د بایبل له لیکونکې پوښتنه کوو چې د موسی علیه السلام مېرمن څنګه په دې پوه شوه چې خدای په دی خاطر پر ده غصه دئ چې خپل زوی ئې نه دئ سنت کړی؟!! او په هغه صورت کې به د ده له وژلو لاس اخلي چې د خپل سنت شوي

زوی د غوښې ټوټه د موسی پښو ته وغورځوي؟!! د بايبل منونکو ته وايو: باور وکړئ چې که له دغو غلطو او بېهوده خبرو چې بايبل ترې ډک دی او شمېر ئې زرهاوو ته رسېږي، که مسلمانانو دې ته ورته يوه غلطه خبره هم په قرآن کې موندلې وی نو (نعوذ بالله) قرآن به ئې د الله تعالی کتاب نه ګڼلو او ايمان به ئې پرې نه راوړو.

که د بايبل په سلهاوو خوشې، غلطي او بېهوده خبري پرېږدو؛ يوازي دغه څو مسخره خبري ئې کافي دي چې هر هوښيار انسان ئې په لوستلو سره دا کتاب په دېوال ووهي او لري ئې وغورځوي. بايبل چې کوم خدای معرفي کوي هغه همداسي د ماشومانو په څېر عادتونه لري، په وړو وړو خبرو خپل دوستان په مرګ ګواښي او په وړو وړو خبرو ئې غصه کښېښني او له خپلو پرېکړو اوړي!!! خو قرآن ګناهونه وېشي، ځيني ئې ستر ګڼي او ځيني ئې واړه او فرمايي: که له سترو سترو ګناهونو ځان وساتئ له وړو وړو به الله تعالی درته تېر شي:

إِن تَجۡتَنِبُواْ كَبَآئِرَ مَا تُنۡهَوۡنَ عَنۡهُ نُكَفِّرۡ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَنُدۡخِلۡكُم مُّدۡخَلٗا كَرِيمٗا ﴿٣١﴾ النساء: ٣١

که مو له هغو سترو سترو نه ډډه وکړه چې ترې منع شوي يئ، بد، بد به درنه ورژوو او د ننوتو په عزتمن ځای کې به مو داخل کړو.

دلته سيئات د کبائرو په مقابل کې ذکر شوي او دا مطلب افاده کوي چې که له سترو سترو ګناهونو نه ډډه وکړئ نو الله تعالی به سيئات يا واړه واړه ګناهونه درته معاف کړي، خو دا ستر ګناهونه کوم دي او واړه ئې کوم؟ آيا مراد ترې يوازي دغه ګناهونه دي چې تر دې آيت نه مخکې ورته اشاره شوې؟ په ناحقه د بل مال خوړل او د نفس قتل او که معنی ئې عامه ده او ټولو هغو ګناهونو ته شاملېږي چې اسلام ورته کبائر وايي؟ او دا کبائر کوم دي؟

عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: اجتنبوا السبع الموبقات قيل يا رسول الله وما هن؟ قال: الشرک بالله والشح وقتل النفس التي حرم الله إلا بالحق وأكل مال اليتيم وأكل الربا والتولي يوم الزحف وقذف المحصنات الغافلات المؤمنات« رواه النسائي

له ابو هریره نه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: له اوو تباه کوونکو نه ډډه وکړئ، وویل شول: یا رسول الله! دا کوم کوم دي: وئې فرمایل: له الله سره شرک، بخل او حرص، د هغه نفس وژل چې الله ئې وژل حرام کړي مګر په حقه، د یتیم مال خوړل، سود خوړل، د جګړې په ورځ شا اړول او تېښته او د مؤمنو، عفیفو او له ګناه نه د غافلو ښځو تورنول.

ګورئ چې د اسلام له نظره هغه ستر ستر ګناهونه کوم دي چې د الله تعالی د غضب باعث او د هلاکت سبب ګڼل شوي؟!! خو بایبل د دغو ګناهونو په ځای د سر وېښتان خریل او زوی نه سنتول ستر ستر ګناهونه او د الله تعالی د غضب او غصې باعث ګڼي!!

که تاسو د موسی علیه السلام او له مصر نه د بني اسرائیلو د وتلو قصه په بایبل او قرآن کې سره مقایسه کړئ نو وبه ګورئ چې قرآن نه یوازې د بایبل د قصې ډېرې برخې تکذیب یا تصحیح کړې بلکې دا قصه ئې د هغې مقدمې لپاره د یوې تاریخي بېلګې په توګه وړاندې کړې چې د قصې په پیل کې ئې د خپل مخاطب مخې ته ږدي، د فرعون تر مشرۍ لاندې د یوه طبقاتي او ظالم نظام ځانګړتیاوې او د دې نظام د راپرځولو په اړه د الله تعالی سنت بیانوي او د دې سنت د توضیح لپاره دا قصه د یوې تاریخي بېلګې په توګه وړاندې کوي، د قرآن قصص د بایبل په څېر هسې قصې او شجرې نه دي، بلکې تاریخي مثالونه او بېلګې دي، د قرآن هدف دا نه دئ چې د یوه قام د ژوند قصه او شجره د یوه نکل او ناول په توګه وړاندې کړي، بلکې د یوې تاریخي قصې په ترڅ کې ئې د یوه قوم د عروج او زوال عوامل څېړلي،

د یوه مهم مطلب او د الله تعالی د یوې وعدې او د یوه الهي سنت او فطري قانون د بیان او اثبات لپاره تاریخي بېلګې وړاندي کوي، هره قصه ئې ځانګړې موخه او هدف لري، په یوې مهمې خبري د مخاطب د قانع کولو لپاره د یوه قوم د عبرتناکي قصې یوه برخه رااخلي.

---

فَلَمَّآ أَتَىٰهَا نُودِىَ مِن شَٰطِئِ ٱلْوَادِ ٱلْأَيْمَنِ فِى ٱلْبُقْعَةِ ٱلْمُبَٰرَكَةِ مِنَ
ٱلشَّجَرَةِ أَن يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّىٓ أَنَا ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٣٠﴾ وَأَنْ أَلْقِ
عَصَاكَ ۖ فَلَمَّا رَءَاهَا تَهْتَزُّ كَأَنَّهَا جَآنٌّ وَلَّىٰ مُدْبِرًا وَلَمْ يُعَقِّبْ ۚ يَٰمُوسَىٰٓ أَقْبِلْ
وَلَا تَخَفْ ۖ إِنَّكَ مِنَ ٱلْءَامِنِينَ ﴿٣١﴾ ٱسْلُكْ يَدَكَ فِى جَيْبِكَ تَخْرُجْ
بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوٓءٍ وَٱضْمُمْ إِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ ٱلرَّهْبِ ۖ فَذَٰنِكَ
بُرْهَٰنَانِ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِي۟هِۦٓ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا
فَٰسِقِينَ ﴿٣٢﴾

نو کله چي ورغی؛ د ناو له ښي اړخه د یوې بختوري سیمي له یوې وني نه پرې غږ شو؛ چي اې موسی! زه د عالمونو پالونکی رب یم او دا چي عصا دي وغورځوه، چي کله ئې هغه داسي ولیدله چي د تېز مار په څېر خوځي، شا ئې واړوله، په تېښته شو او تر شا ئې نه کتل، (الله تعالی وفرمایل) اې موسی! مخ راواړوه او مه وېرېږه، یقیناً چي ته خوندي یې، لاس دې په ګرېوان کي دننه کړه، سپین له داغه پرته به راووځي او د وېري په حالت کي دي وزرونه (لاسونه) له ځان سره جوخت کړه، د فرعون او د ده د درباریانو په وړاندي دا

ستا د رب له لوري دوه نښې او دلایل دي، دوی له شکه پرته یو فاسق قوم دئ.

---

(۳۰-۳۲)- په دې مبارکو آیتونو کې څو لارښوونې شوې:

- موسی علیه السلام د ربنا په لوري ولاړ، هلته د ناو له ښي اړخه، چې په ګڼو ونو پوښل شوی وو، له یوې ونې پرې غږ شوی چې زه د عالمونو رب یم، په نورو آیتونو کې دا مطلب هم راغلی چې ورته ویل شوي څپلی دي وباسه، ته په یوه سپېڅلي ناو کې یې.
- ورته ویل شوي چې عصا دې وغورځوه، که ګوري چې عصا ئې د تېز ستر مار په څېر شوې او خوځې، وېره پرې راغلې، شا ئې اړولې او داسې تښتېدلی چې تر شا ئې نه کتل.
- ورته ویل شوي: مه وېرېږه، ته خوندي یې، لاس وروغزوه، وئې نیسه، بېرته به خپلي لومړنی بڼي ته واوړي، همدا کار ئې کړی او خپله عصا ئې په لاس کې موندلې.
- بیا ئې ورته ویلي: لاس دې په ګرېوان کې دننه کړه، سپین له داغه پرته به راووځي او د وېرې پر مهال خپل (لاسونه) له ځان سره جوخت کړه، په همدې سره به دې وېره پای ته رسي. دا دوه به د فرعون او د ده د درباریانو په وړاندې ستا د رب له لوري نښې او دلایل وي چې ستا پر حقانیت دلالت کوي.

قرآن د بایبل دا ادعاء هم ردوي چې وایي د موسی علیه السلام یوه معجزه دا وه چې لاس به ئې په جامه کې د ننه کړ نو د پېس په شان به داغجن او سپین راووت!! قرآن وایي چې لاس به تک سپین، ځلانده او بې داغه وو، نه د پېس په څېر داغجن، طبیعي ده چې څوک داغجن لاس ته د معجزې په سترګه نه ګوري، سپین ځلانده او بې داغه لاس په محاوراتو کې معمولاً د دې لپاره کارول کېږي چې

د يو چا پاکوالی، پاک لمنتوب، صفايي او له گناه او غدر نه لرې والی بيانول په پام کې وي، په ټولو ژبو کې هغه چا ته چې په غدر، دوکې او خيانت نه وي ککړ ويل کېږي: لاس ئې سپين دئ، همدا راز خپله عصا د خپل توان او ځواک او خپلو ذاتي امکاناتو لپاره د استعارې په توگه کارول کېږي، که څه هم دا دواړه د موسی عليه السلام معجزې وې، خو په دې سره موږ ته قرآن د يوه واقعي مشر دوې نوري ځانگړتياوي راښيي:

١- د هغه لمن بې داغه وي، د هغه په شخصيت کې څوک تور داغ نه شي موندلی، پاک لمنتوب او سپېڅلي اخلاق ئې په حقانيت او رښتونولۍ شهادت ورکوي.

٢- له خپلي (عصا) سره د دښمن مقابلې ته درومي، له الله تعالی پرته په هيچا بروسه او توکل نه کوي او د نورو د تأييد او ملاتړ په اعتماد مبارزې ته ملا نه تړي.

قرآن په دې سره موږ ته دا درس هم راکوي چې که ستا (لاس سپين) وي نو د فرعون مقابله په يوې (عصا) سره هم کولی شې، الله تعالی به ستا په دغې (عصا) کې هغه قوت او ځواک ږدي چې د فرعون د مجهزو لښکرو په وړاندې درته کافي وي، قرآن په دې ټينگار کوي چې د ښکېلو ځواکونو تر منځ نښتو کې د بري او ماتې پرېکړه د تجهيزاتو، عدد او عدة له مخې نه کېږي، داسي نه ده چې مجهز لوري به خامخا بری ترلاسه کوي او د وسايلو له پلوه کمزوری اړخ به خامخا ماتې خوري، بلکې د دواړو لوريو اخلاقي او معنوي حالت د نښتو پای ټاکي، وروستۍ بريا به د هغه چا په برخه کېږي چې له فکري او اخلاقي لحاظه پر خپل حريف برلاسی وي!! دلته هم الله تعالی موسی عليه السلام ته فرمايي چې تاسو او ستاسو پلويان به زما د آيتونو په وجه برلاسي وئ، يعني ستاسو د برلاسي او پر دښمن د غلبې لپاره همدا بينات او آيتونه کافي دي.

په نورو آيتونو کې د موسی عليه السلام اوه نوري معجزي هم ښودل شوې چې تفصيل ئې د الاعراف په سورې کې وگورئ.

- ځیني ناپوه او غرضي کسان دا ربنا د الله تعالی نور او تجلي ګڼي خو قرآن په کلکه د دې انګېرني تردید کوي او فرمايي چي موسی علیه السلام دلته او دغه مهال نه الله تعالی په خپله په سترګو لیدلی او نه د الله تعالی نور او تجلي، د غره له یوې داسي ډډې نه چي په شنو ونو پوښل شوې وه له یوې ونې ئې د الله تعالی غږ اورېدلی، د همدې لپاره په بل ځای کي وايي چي موسی علیه السلام د خپل رب د لیدو تمناء وکړه خو الله تعالی ورته وویل: ته مي هیڅکله لیدی نشې... که دلته هغه الله تعالی یا الهي تجلي او نور لیدلی وی نو څو کاله وروسته او له مصر نه د لوی هجرت په کلونو کي به ئې له الله تعالی دا غوښتنه نه کوله چي ما ته ځان راوښیه چي ودې ګورم، او دا ځواب به هم نه ورکېدو چي ته مي هیڅکله لیدلی نشې.
- همدلته په دې مأمور شوی چي د فرعون او د ده د درباریانو په لوري د پیغمبر په توګه ولاړ شي، د حق لوري ته بلنه ورکړي او له غلامۍ نه د بني اسرائیلو د آزادۍ غوښتنه وکړي.

---

قَالَ رَبِّ إِنِّي قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْسًا فَأَخَافُ أَن يَقْتُلُونِ ﴿٣٣﴾ وَأَخِي هَٰرُونُ
هُوَ أَفْصَحُ مِنِّي لِسَانًا فَأَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْءًا يُصَدِّقُنِيٓ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن
يُكَذِّبُونِ ﴿٣٤﴾ قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِأَخِيكَ وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطَٰنًا فَلَا
يَصِلُونَ إِلَيْكُمَا ۚ بِـَٔايَٰتِنَآ أَنتُمَا وَمَنِ ٱتَّبَعَكُمَا ٱلْغَٰلِبُونَ ﴿٣٥﴾

وئې ویل: اې زما ربه! ما د دوی یو کس وژلی، نو وېرېږم چي وبه مي وژني، او زما ورور هارون تر ما ژبه ور او فصیح دئ، نو له ما سره ئې د مرستیال په توګه ولېږه چي زما تصدیق کوي، یقیناً چي زه له دې وېرېږم چي دروغجن به مي وګڼي، وئې ویل: مونږ به دې په خپل ورور سره مضبوط کړم او تاسو دواړو

ته به داسي ځواک درپه برخه کړم چي دوی درړسېدلی نه شي، زما د آيتونو په سبب به تاسو او ستاسو پلويان او متابعين برلاسي وي.

---

(۳۳-۳۵)- موسی علیه السلام دا دنده تر خپل وس لوړه او درنه بولي، ځان تر دې عاجز ګڼي چي دا ستر مسئوليت په غاړه واخلي او له عهدې ئې بريالی ووځي، دوه دلايل وړاندي کوي: ۱- ما د دوی يو کس وژلی، ما ته د دښمن په سترګه ګوري، وېرېږم چي وبه مي وژني، مخکي له دې چي خپل دعوت پيل کړم. ۲- د زعامت او مشرتابه لپاره چي کوم فصاحت ته ضرورت دئ زه ترې محروم يم، تر ما هارون فصيح او ژبه ور دئ، دا دنده هغه ته وسپاره. الله تعالی هارون علیه السلام د ده د مرستيال په توګه ګماري او اطمئنان ورکوي چي دښمن هيڅ تاوان نه شي دررسولی. په نورو آيتونو کي د دې مزيد تفصيل راغلی او فرمايي چي موسی علیه السلام ته وويل شو: د فرعون مقابلې ته ولاړ شه، د بنې اسرائيلو د آزادۍ لپاره، هغه بغاوت کړی، د خپلي بريا په اړه ډاډه اوسه، زما آيتونه ستا د بريا لپاره کافي دي.

- د موسی علیه السلام د دې دواړو خبرو چي ويل ئې: (وېرېږم چي وبه مي وژني)، (وېرېږم چي دروغجن به مي وګڼي) معنی دا ده چي: ښايي ما ته د دې فرصت هم رانه کړی شي چي خپل پيغام خلکو ته ورسوم، په قتل تورن يم، له تلو سره سم به زما د وژلو پرېکړه کوي او بني اسرائيل به ما ته د شک په سترګه ګوري، ځکه چي زه څه موده د فرعون په کور کي پاته شوی يم، زما په اړه به دا فکر کوي چي د قيادت او مشرۍ شوق او تلوسه ئې د فرعون له کوره ترلاسه کړې، د دې په ځای چي ما يو پيغمبر وګڼي ما به د اقتدار وږی او د پيغمبرۍ دروغجن مدعي وشمېري!! ګورئ چي موسی علیه السلام هم د قبطيانو له غبرګونه انديښنه لري او هم د اسرائيليانو، هم له دوست نه او هم له دښمنه، قرآن حالات

داسي انځور کړي چې موسی علیه السلام له هیڅ پلوه د مصر شرایط د ځان او خپل دعوت په ګټه نه ګڼي، یوازي دئ، د دې دروند پېټي د وړلو توان او حوصله په ځان کي نه ګوري، فقط یوه عصا ورسره ده، نه د دوست مثبت غبرګون ته طمع لري او نه د دښمن له پلوه څه ډاډ او اطمئنان لري، خو له دې ټولو سره سره وروستۍ فتح د ده په برخه شوه او مجهز دښمن ئې له ماتې سره مخامخ شو!!

موسی علیه السلام ته دا هر څه ناڅاپي او له تصور نه لوړ وو، دا کار ئې له خپل توان او طاقت نه لوړ ګاڼو، دا عذرونه ئې وړاندي کړي: د ژبي طلاقت نه لرم، حوصله مي کمزورې ده، یا دا پېټی د هارون په غاړه کړه، ځکه چې هغه تر ما فصیح دی او یا ئې زما مرستیال کړه!

موسی علیه السلام د لاري په اوږدو کي په ناڅاپي توګه او په داسي حال کي چې نه ئې دا ګمان کاوو او نه انتظار، د الله تعالی له لوري د پیغمبر په توګه وټاکل شو، بایبل ادعاء کوي چې موسی علیه السلام په مدین کي پر پیغمبرۍ مبعوث شوی، خو قرآن دا ادعاء ردوي او وایي چې هغه د مدین او مصر ترمنځ د طور په غره کي او هغه مهال چې مصر ته روان وو په پیغمبرۍ مبعوث شوی. قرآن د دې خبري په کولو سره ځانګړې موخه لري، غواړي موږ پوه کړي چې موسی علیه السلام د زعامت او قیادت طمع او تلوسه نه درلوده، نه ئې کله دا خیال په ذهن کي تېر شوی او نه ئې د دې ستر کار توان او استعداد په ځان کي لیدو، په ناڅاپي توګه له دې بهیر سره مخامخ شوی او دا دنده ورپه غاړه شوې او دا هم د یوه صالح مشر یوه ځانګړې نښه ده، په خپله نه د مشرۍ ترلاسه کولو تلوسه لري او نه ئې هڅه کوي، دا دئ ګورئ چې د موسی علیه السلام په څېر ستر شخصیت او د اولوا العزمه پیغمبرانو نه یو پیغمبر د مشرۍ له دندې ځان عاجز ګڼي، غواړي دا مسئولیت بل چا ته وسپارل شي، خپل عذر او ناتواني وړاندي کوي او وایي: د زعامت لپاره دوو ورتیاوو ته ضرورت دئ: (پراخه حوصله) او (ښه فصاحت) چې زه

له دواړو محروم یم، نه د دې دروند پېټي د وړو حوصله لرم او نه ولس ته د خپل پیغام رسولو لپاره فصیح ژبه!!

قرآن د بایبل دا وینا هم غلطه ګڼي چې ګواکې الله تعالی موسی علیه السلام ته راڅرګند شوی، وایي چې موسی علیه السلام یوازې یوه رڼا لیدلې او یو غږ ئې اورېدلی، قرآن په دې خبرې تأکید کوي چې په دې دنیا کې هیڅوک د الله تعالی د لیدو توان نه لري، په داسې حال کې چې موسی علیه السلام یوازنی هغه پیغمبر ګڼي چې الله تعالی ورسره خبرې کړې دي، خو د همده په اړه فرمایي چې الله تعالی ته ئې د لیدو سوال وکړ، الله تعالی ورته وفرمایل چې ما نه شې لیدئ، دې غره ته وګوره، که زما د تجلي په وړاندې ئې مقاومت وکړی شو نو ته به هم ما ولیدی شې، خو کله چې الله تعالی غره ته تجلي وکړه، غر ټوټې ټوټې شو او موسی علیه السلام بې سده شو، کله چې راپه سد شو وئې ویل: ربه ! پاکي تا لره ده، زما دې توبه وي، زه لومړی هغه کس یم چې په دې خبرې ایمان راوړم چې انسان د الله تعالی له لیدو ډېر عاجز دئ او دا د بایبل د لیکونکي په خوله یو سخت ګوزار دئ چې په لسهاوو ځایونو کې ئې دا ادعاء کړې چې خدای دې او هغه ته، دلته او هلته راڅرګند شو!! موږ چې لمر ته په رډو سترګو نه شو کتلی، د زمکې او آسمانونو هغه پیدا کوونکی رب به څنګه په خپلو دغو سترګو او دلته په دنیا کې ولیدی شو چې دا لمر د هغه د عظمت په وړاندې د مشنګو د دانې په څېر دئ!!؟ د لمر رڼا به د الله تعالی د تجلي په وړاندې څه حیثیت ولري؟

د لاربښود قرآن دا آیتونه د هغو متصوفینو ادعاء هم په کلکه ردوي چې ګمان کوي اولیاء الله کولی شي الله تعالی په مشاهدې سره وګوري، دې ته د (شهود) نوم ورکوي، ادعاء ئې دا ده چې د روحاني ارتقاء او د سلوک یوه مرحله دا ده چې سالک خپل رب مشاهدتاً ګوري!! قرآن دا انګېرنه له بنسټه ردوي، او وایي چې انسان خو پر برېږده لوی غر د الله تعالی د تجلي په وړاندې مقاومت نشي کولی. دغو

متصوفينو دا عقيده له محرف بايبل نه ترلاسه کړې، په قرآن او حديث کي د داسي عقيدې لپاره هيڅ دليل نشو موندلی، قرآن د موسی عليه السلام دا قصه د همدې لپاره رااخيستې چي د بايبل غلطه ادعاء ترديد کړي. د قرآن دا وينا او هغه هم د موسی عليه السلام د قصې په ترڅ کي د يهودانو او د بايبل د هغو پلويانو په خوله سخت سوک دئ چي د بايبل دا غلطه خبره مني چي د دوی ګڼ شمېر انبياءو الله تعالی په خپلو سترګو ليدلی او ډوډۍ ئې ورسره خوړلې!! دا آيت د ټولو هغو ټګمارانو ادعاء هم ردوي چي د (شهود) او (حضور) په نامه د الله تعالی د ليدو خبره کوي. که د موسی عليه السلام په څېر اولوالعزمه پيغمبر نشي کولی الله تعالی وګوري بل څوک به ئې څنګه وليدی شي، موسی عليه السلام لومړی او وروستی شخص دئ چي الله تعالی ورسره تکلم کړی او دا ئې په خپلو سترګو ليدلي چي نه غر او نه انسان د الله تعالی د تجلي په وړاندي مقاومت کولی شي. بخاري روايت کوي چي عائشي رضي الله عنها د محمد عليه السلام په اړه وويل:

مَنْ حَدَّثَکَ أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَبَّهُ فَقَدْ كَذَبَ وَهُوَ يَقُولُ ( لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ ) (وَ مَا كانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلا وحياً أَوْ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ أَوْ يُرسِلَ رَسولاً فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِ مَا يَشاءُ ) وَمَنْ حَدَّثَکَ أَنَّهُ يَعلَمُ الْغَيبَ فَقَدْ كَذَبَ وَهُوَ يَقُولُ لَا يَعلَمُ الْغَيبَ إِلَّا اللَّهُ *

که چا درته وويل چي محمد صلی الله عليه وسلم خپل رب ليدلی دئ نو پوه شه چي دا شخص دروغ وايي، ځکه الله تعالی فرمايي: "سترګې ئې نشي ليدلی"، "او هيڅ انسان لره نه ښايي چي الله ورسره تکلم وکړي مګر په وحي سره، يا د حجاب له شا نه او يا کومه فرشته وليږي نو هغه د الله په حکم هغه څه ورته وحي کړي چي غوښتي ئې وي" او که چا درته وويل چي هغه علم غيب لري، نو دا هم دروغ وايي ځکه الله تعالی فرمايي: له الله پرته هيڅوک

علم غيب نه لري.

## د بني اسرائيلو د آزادۍ شعار

قرآن فرمايي چې د موسی علیه السلام له اساسي غوښتنو څخه یوه د بني اسرائیلو آزادي وه، هغه د دې ترڅنګ چې ټول مصریان؛ د فرعون په شمول؛ پر الله تعالی او آخرت ایمان، الهي دین ته تسلیمېدا او له ظلم او فساد نه لاس اخیستو ته رابلي، فرعون ته په خپل خطاب کې وايي: په غلامۍ کې د بني اسرائیلو له ساتلو لاس واخله، هغوی آزاد کړه، که ئې په مصر کې نشې زغملی پرې ئې ږده چې له ما سره یو ځای له مصره ووځي، لکه څنګه چې موسی علیه السلام د بني اسرائیلو د آزادۍ له شعار سره مصر ته تللی د هر پیغمبر یو اساسي شعار د غلامي جوغ ماتول، د غلامانو په لاس پښو کې پراته زنځیرونه شلول او غلامان آزادول وو. قرآن په دې اړه فرمايي:

فَأْتِيَاهُ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ فَأَرْسِلْ مَعَنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَلَا تُعَذِّبْهُمْ ۖ قَدْ جِئْنَٰكَ بِـَٔايَةٍ مِّن رَّبِّكَ ۖ وَٱلسَّلَٰمُ عَلَىٰ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلْهُدَىٰٓ ﴿٤٧﴾ طه: ٤٧

نو دواړه ورشئ او ورته ووایئ چې موږ ستا د رب استازي یو نو بني اسرائیل راسره ولېږه او له تعذیبولو ئې لاس واخله، یقیناً چې ستا د رب له لوري له څرګندي نښې سره تا ته راغلي یو، او سلامتیا دي په هغه چا وي چې د لارښووني متابعت کوي.

فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦﴾ أَنْ أَرْسِلْ مَعَنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٧﴾ الشعراء: ١٦-
١٧

نو فرعون ته ورشئ او ورته ووایئ: یقیناً چې موږ د رب العالمین استازي یو (له دې پیغام سره ) چې بني اسرائیل راسره ولېږه.

موسی علیه السلام فرعون ته وايي: ته چې پر ما د خپلو پېرزوينو او احساناتو يادونه کوې او وايې چې په خپل کور کې مې ستر کړې! د دې وجه خو دا ده چې تا بني اسرائيل په غلامۍ کې ساتلي، د هغوی زامن دې وژل، زما مور دې ته اړه شوه چې سيند ته مې وغورځوي، په دې توګه ستا لاس ته درغلم، ولې ستا په کور کې د سترېدو پيغور راکوې؟!

وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنْ عَبَّدتَّ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٢٢﴾ الشعراء: ٢٢

خو راشئ د قرآن دا وينا د بايبل له کمزورې وينا سره مقايسه کړئ چې وايي: موسی فرعون ته وويل: د خدای قوم پرېږده چې صحرا ته ولاړ شي او د خدای عبادت وکړي!! بايبل تر دې عنوان لاندې (موسی او هارون د فرعون په دربار کې) ليکي: (د قوم له مشرانو سره له ليدو وروسته موسی او هارون فرعون ته ورغلل او ورته وئې ويل: موږ د خدای له لوري، د بني اسرائيلو د خدای له لوري؛ تا ته يو پيغام راوړی، هغه فرمايي: زما قوم پرېږده چې صحرا ته ولاړ شي او زما عبادت وکړي!! فرعون ورته وويل: خدای څوک دئ چې زه ئې خبرې واورم او بني اسرائيل آزاد کړم؟... دوی ورته وويل: ... د عبرانيانو خدای موږ ته ويلي چې د درېو ورځو په مزل واټن صحرا ته ولاړ شو او هلته د خپل خدای لپاره قرباني وکړو، که دا کار ونه کړو نو هغه به مو په بيمارۍ يا جنګ سره ووژني!! فرعون د دوی خبره ونه منله، ... په بني اسرائيلو ئې شاقه کارونه لازيات کړل... فرعون ته د شکايت لپاره ورغلل، هغه ئې شکايت ته اعتناء ونه کړه... له قصره د راوتلو په وخت کې ئې موسی او هارون ته چې د قصر په خوله کې ورته منتظر ول وويل: خدای دې زموږ غچ له تاسو واخلي چې موږ مو د فرعون او د ده د درباريانو له نظره وغورځولو او زموږ د وژلو بهانه مو په لاس ورکړه!! موسی خدای ته شکايت وکړ چې ولې خپل قوم له کړاوونو سره مخامخ کوې؟ آيا زه دې د همدې لپاره رالېږلی

وم؟ خدای ورته وویل: اوس به وګورې چې زه له فرعون سره څه کوم؟ داسې به ئې تر فشارونو لاندې ونیسم چې نه یوازې زما قوم به پرېږدي بلکې په زور به ئې له مصره وشړي، زه همغه خدای یم چې ابراهیم، اسحاق او یعقوب ته د قادر او مطلق خدای په توګه ورڅرګند شوم خو د خدای په نامه مې ځان ورمعرفي نه کړ!! ما له دوی سره وعده کړې ده چې د کنعان سیمه به دوی ته بخښم، ... خدای موسی ته امر وکړ چې بیا فرعون ته ورشه... هغه ورته وویل: چې بنې اسرائیل زما خبره نه اوري نو فرعون به ئې څنګه واوري؟ ... )

د بایبل د دغو خبرو په وړاندې باید لږ توقف وکړو او ناسموالی ئې په ګوته کړو: د بایبل د ادعاء له مخې موسی علیه السلام د فرعون لیدو ته ورغلی او هغه ته ئې له ځانه دا خبره کړې چې د عبرانیانو د خدای پیغام ستا لپاره دا دئ چې د خدای قوم؛ بنې اسرائیل پرېږده چې له مصره د دریو ورځو په واټن صحرا ته ووځي او هلته خدای ته خپلې قربانۍ وړاندې کړي، ګواکې دا یو چم او چل وو، غوښتل ئې بنې اسرائیل په دې پلمه له مصره ووځي او کنعان ته ولاړ شي!! قرآن دا ادعاء ردوي او فرمایي چې موسی علیه السلام فرعون ته همغه څه ویلي چې هر پیغمبر ئې ولس او د ولس واکمنانو ته وایي، هغه ئې په الله تعالی او آخرت ایمان ته رابللی، د نورو اساسي خبرو په ضمن کې ئې هغه ته ویلي چې د بنې اسرائیلو له تعذیب، ځورولو او په اسارت او غلامۍ کې د دوی له ساتلو نه لاس واخله، پرېږده چې آزاد ژوند وکړي، که ترې وېرېږې او د همدې لپاره ئې په اسارت او استضعاف کې ساتې او زامن ئې ورته وژنې نو پرې ئې ږده چې له مصره ووځي او د خپلې خوښې سیمې ته له موږ سره ولاړ شي... فرعون ورته وویل: آیا ته همغه نه یې چې ماشوم وې او موږ وروزلې او د خپل عمر څو کلونه دې زموږ خوا کې تېر کړل؟ او خپل هغه کار دې هم وکړ، حال دا چې هغه وخت ته هم (زموږ په څېر) د کافرانو له ډلې وې، وئې ویل: هغه کار مې په داسې حال کې کړی چې له لارورکو او

ناپوهانو څخه وم (په ناپوهۍ کې هغه کار رانه شوی، اعتراف کوم چې هغه وخت زه هم ستاسو په څېر لار ورکی وم) نو کله چې له تاسو ووېرېدم درنه وتښتېدم، نو زما رب راته حکم راکړ او له پیغمبرانو څخه ئې وګرځولم او دا پېرزوینه چې ته ئې پر ما منت ږدې، د دې وجه خو دا ده چې تا بني اسرائیل غلامان کړي (که دوی آزاد وی ولي به زه د خپلې مور له غېږې محرومېدم، ستا لاس ته به درتلم او ستا تر روزنې لاندې به نیول کېدم او ولي به تا نن د دغې خبرې منت پر ما ایښودو او خپله دا پېرزوینه به دې ما ته رایادوله؟!!) د قرآن الفاظ دا دي:

فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦﴾ أَنْ أَرْسِلْ مَعَنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ

﴿١٧﴾ قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ ﴿١٨﴾ وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ ٱلَّتِى

فَعَلْتَ وَأَنتَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿١٩﴾ قَالَ فَعَلْتُهَآ إِذًا وَأَنَا۠ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٢٠﴾ فَفَرَرْتُ

مِنكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِى رَبِّى حُكْمًا وَجَعَلَنِى مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٢١﴾ وَتِلْكَ نِعْمَةٌ

تَمُنُّهَا عَلَىَّ أَنْ عَبَّدتَّ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٢٢﴾ الشعراء: ١٦_٢٢

د بایبل د لیکوال دا بد عادت دئ چې تل د خپلو قصو اتلان داسې انځوروي چې په چل او چم سره غواړي خپلو موخو ته ځان ورسوي!! او له دې نه د لیکوال مقصد دا دئ چې د بایبل منونکي او پلویان ذهناً دې ته چمتو کړي چې ومني په مکر او چل سره ځان خپل هدف ته رسول د اتلانو او پیغمبرانو کار دئ!! کاش ده داسې یوه پلمه جوړه کړې وی چې فرعون ته د منلو وړ او معقوله برېښېدی، موسی علیه السلام به څنګه د فرعون په څېر یوه ستر ظالم ته وایي چې خدای تا ته دا پیغام لېږلی چې بني اسرائیل پرېږده له مصره صحرا ته ووځي او هلته خپل خدای ته خپلې قربانۍ وړاندې کړي!! آیا موسی علیه السلام په فرعون باندې د داسې ساده او کم عقله انسان ګمان کاوو چې دا پلمه به ومني او د وتلو اجازه به ورکړي؟!!

قرآن د بايبل دا خبره هم ردوي چې د بني اسرائيلو مشرانو موسى عليه السلام د خپلو ستونزو لامل ګڼلی او شکايت ئې ترې کړی او ده له هغه څه شکايت کړی چې الله تعالی له بني اسرائيلو سره کول!! د دې ادعاء په خلاف فرمايي چې موسى عليه السلام بني اسرائيلو ته د صبر او له الله تعالی نه د مرستې غوښتو توصيه وکړه:

قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ ٱسْتَعِينُواْ بِٱللَّهِ وَٱصْبِرُوٓاْ ۖ إِنَّ ٱلْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ وَٱلْعَـٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٢٨﴾ الاعراف: ١٢٨

موسى خپل قوم ته وويل: له الله مرسته وغواړئ او صبر وکړئ، يقيناً چې زمکه د الله ده، له خپلو بندګانو نه ئې چې چا ته خوښه وي په ميراث ئې ورکوي او نېکه پايله د متقيانو ده (وروستی برى د هغه چا په برخه کېږي چې له بې صبرى ځان وساتي او له الله تعالی پرته بل چا ته د مرستې لاس اوږد نه کړي).

او د بني اسرائيلو همتناک او له شهامته ډک ځواب داسې بيانوي:

قَالُوٓاْ أُوذِينَا مِن قَبْلِ أَن تَأْتِيَنَا وَمِنۢ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ۚ قَالَ عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ﴿١٢٩﴾

الاعراف: ١٢٩

وئې ويل: ستا له راتلو د مخه هم کړول شوي يو او له راتلو وروسته دې هم، (موسى عليه السلام) ورته وويل: اميد دئ چې رب مو ستاسو دښمن هلاک کړي او د زمکې خلافت درپه برخه کړي او بيا وګوري چې تاسو څنګه عمل کوئ.

د قرآن د وينا له مخې بني اسرائيلو په مېړانې او صبر سره د موسى عليه السلام ملګرتيا کړې او د همدغه صبر په سبب الله تعالی پر دښمن برى ورکړ او د نړۍ پر ټولو قومونو او ولسونو ئې دوی ته فضيلت ورکړ. که څه هم ځينو درنو مفسرينو د

بني اسرائیلو دا ځواب د ضعف او بې زړه توب نښه او د شکایت په توګه تعبیر کړی خو دا توجیه کمزورې ده، ځکه چې د یونس د سورې په ۸۴-۸۶ او د الاعراف سورې په ۱۳۷ آیتونو کې په دې اړه داسې راغلي:

وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰقَوْمِ إِن كُنتُمْ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم مُّسْلِمِينَ ﴿٨٤﴾ فَقَالُواْ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلْنَا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٨٥﴾ وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٨٦﴾ : او موسیوویل: اې زما قومه! که مو پر الله ایمان راوړی وي نو پرې توکل وکړې که مسلمانان یئ، نو وئې ویل: پر الله مو توکل دئ، اې زموږ ربه! د دغه ظالم قوم لپاره مو د آزمېښت وسیله ونه ګرځوې او په خپل رحمت سره مو له دې کافر قوم نه وژغورې.

...وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ ٱلْحُسْنَىٰ عَلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ بِمَا صَبَرُواْ ۖ . الاعراف: ۱۳۷

... او ستا د رب غوره وینا د بني اسرائیلو په اړه په دې سبب بشپړه شوه چې صبر ئې وکړ....

دلته د بایبل په وینا کې جدي تناقض ګورو، له یوې خوا بني اسرائیل داسې معرفي کوي چې د فرعون په غلامۍ کې راضي وو او پر موسی علیه السلام ئې دا اعتراض درلود چې ولې ئې د مرګ له ګواښ سره مخامخ کړل، خو له بلې خوا وايي چې دوی له مصر نه د وتلو په اړه له موسی علیه السلام سره موافق ول او د همدې لپاره د دوی مشران د فرعون لیدو ته ورغلي وو، پوښتنه دا ده چې هغه ولس به څنګه د یوه انقلابي مشر قیادت ومني، پاڅون ته به ملا وتړي او له ده سره به یوځای هجرت ته تیار شي چې هغه ته ئې ځواب دا وي: ستا په سبب فرعون او درباریان ئې له موږ ناراضه شوي، له موږ ئې مخ اړولی او په مرګ مو ګواښي!! آیا دا د یوه ستر پیغمبر په نسبت لوی اتهام نه دئ چې خدای ته ئې شکایت وکړ چې ولې

خپل قوم له کړاوونو سره مخامخ کوې؟ آیا زه دې د همدې لپاره رالېږلی وم؟ آیا د بایبل دا ادعاء به کوم عقلمن او په دین پوه انسان ومني چې وایې: خدای موسی ته امر وکړ چې بیا فرعون ته ورشه... هغه ورته وویل: چې بني اسرائیل زما خبره نه اوري نو فرعون به ئې څنګه واوري؟

## د عصا په اړه د بایبل غلطه وینا

بایبل (د هارون عصا) تر عنوان لاندې لیکي: (خدای موسی او هارون ته وویل: دا ځل به د مصر پاچا له تاسو معجزه وغواړي، نو هارون دې خپله عصا د فرعون په مخکې پر زمکه وغورځوي، عصا به مار شي... موسی او هارون بیا فرعون ته ورغلل... هارون د فرعون او درباریانو په وړاندې خپله عصا پر زمکه وغورځوله او مار ترې جوړ شو، فرعون د مصر حکیمان او جادوګران راوغوښتل، هغوی هم د خپل جادو په مرسته همدا کار وکړ، خپلې عصاګانې ئې پر زمکه وغورځولې او ماران ترې جوړ شول، خو د هارون مار د جادوګرانو ټول ماران وخوړل...خو د دې معجزې له لیدو سره سره د فرعون زړه سخت پاته شو... بیا خدای موسی ته وویل: سبا هغه عصا درسره واخله چې مار ترې جوړ شوی وو، د نیل ژی ته ورشه، د فرعون تر راتلو انتظار وکړه، ورته ووایه: ... اوس به خدای داسې کار وکړي چې پوه شې هغه خدای دئ... زه به د ده په امر د نیل اوبه په یوه ګوزار سره په وینو بدلې کړم... هارون د پاچا او درباریانو په وړاندې د نیل اوبه په خپلې عصا ووهلې او په وینو بدلې شوې، ټول ماهیان مړه شول او اوبه ګنده شوې، ...خو د فرعون زړه همغسې سخت پاته شو... له دې نه یوه اونۍ وروسته خدای موسی ته وویل: فرعون ته ورشه او ورته ووایه: زما قوم پرېږده چې ولاړ شي او زما عبادت وکړي، که نه نو ټول مصر به له چنګاښو درته ډک کړم، د نیل سیند به داسې له چنګاښو ډک شي چې بهر به راووځي او ستا د قصر په لورې به هجوم راوړي... ستا د خوب خونې، د

اوړو نغریو او تنورونو ته به ځان ورسوي... هارون خپله عصا د نیل سیند، چینو او حوضونو ته اوږده کړه، ټول له چنګاښو ډک شول... خو مصري جادوګرانو هم په خپل جادو سره همدا کار وکړ او ډېرې زیاتې چنګاښې ئې راپیدا کړې!! فرعون له موسی نه وغوښتل چې خپل خدای ته دعاء وکړي چې دا بلا زموږ له سره لرې کړي، ژمنه کوم چې په هغه صورت کې به بني اسرائیل پرېږدم چې ولاړ شي او د خپل خدای لپاره قرباني وکړي... موسی دعاء وکړه... ټولې چنګاښې مړې شوې ... خو بیا هم د فرعون زړه نرم نه شو... بیا خدای موسی ته وویل: هارون ته ووایه چې سبا خپله عصا پر زمکه ووهي تر څو ټول مصر له ماشو ډک شي... همداسې ئې وکړل او ټول مصر له ماشو ډک شو او پر خلکو ئې برید پیل کړ... د مصر جادوګرانو وغوښتل چې همدا کار وکړي خو دا ځل موفق نه شول... نو فرعون ته ئې وویل: په دې کار کې حتماً خدای لاس لري... خو بیا هم د فرعون زړه نرم نه شو... وروسته په همدې توګه د مچانو، طاعون، دانو، ژلۍ، ملخ او سختې تیارې داسې یادونه کوي لکه چې ئې د مخکنیو مصیبتونو یادونه کړې، الفاظ ئې تکراري او جملې ئې سره ورته، هرځل د هارون په عصا یو له دغو مصیبتونو پر مصریانو مسلط شوی او بیا فرعون له موسی غوښتې چې دعاء وکړي... د موسی علیه السلام د دعاء په وجه مصیبت ترې دفع شوی خو فرعون په خپل قول عمل نه دئ کړی!! په پای کې لیکي چې فرعون موسی علیه السلام ته وویل: زما له مخې لرې شه او بیا مه راځه که نه نو وژل کېږې، موسی ورته وویل: لکه څنګه چې تا وویل بیا به ما ونه ګورې، نو خدای موسی ته وویل: داسې بلا به پر فرعون او د ده پر قوم راولم چې دی به په خپله له تاسو وغواړي چې له مصره ووځئ!! د اسرائیلیانو ښځو ته ووایه چې له وتلو مخکې له خپلو مصري ګاونډیو نه سره او سپین زر (په امانت) ترلاسه کړي!!! نو موسی فرعون ته وویل: خدای فرمايي: نن نیمه شپه به د مصر له منځه تېر شم، (په همدې سره به) د مصري کورنیو ټول مشران زامن ومري، د فرعون له

مشره زویه چې د ده ځای ناستی دئ نیولې د هغې وینځې تر زوی پورې چې کار ئې په مېچنې سره د غنمو وړه کول وې، حتی د مصر د څارویو لومړي بچیان به هم ومري!!! ... نو دغه وخت موسی له غصې سره د فرعون له قصره ووت،...)

دلته د بایبل ګڼ شمېر خبرې د سالم عقل او صحیح الهي دین خلاف دي او قرآن ئې ردوي:

- بایبل داسې ښیي لکه چې موسی علیه السلام څو اونۍ پر له پسې د فرعون په دربار کې تېرې کړې وې او په همدې مودې کې خدای په وار وار ورته راغلی او ده ته ئې د نوې معجزې ښودلو لارښوونه کړې وې، ده هم خپلې ټولې معجزې د فرعون په حضور کې او له جادوګرانو سره په مقابله کې ښودلې دي، هر څه چې ده کړي جادوګرانو هم همغه کار کړی، دوی یوازې د ماشو په پیدا کولو نه دي توانېدلي!! دا هسې یوه بې بنسټه او په خرافاتو ولاړه خبره ده، هیڅ جادوګر، که هر څومره ماهر او چالاک وي، هیڅ شی نه شي پیدا کولی، نه مړ شی او نه ژوندی، د جادوګر کمال او هنر په دې کې وي چې د خلکو ذهن تر اغېز لاندې راولي او یو شی د خپلې اصلي بڼې په ځای په بدلې بڼې کې وګوري، جادوګر له دې پرته نور هیڅ نه شي کولی، له الله تعالی پرته نه څوک په جادو سره څه پیدا کولی شي او نه په بل څه سره، د قرآن د وینا له مخې جادوګرانو خپل پړي اچولي او په جادو سره ئې د خلکو په ذهن او سترګو داسې اغېز کړی چې دوی ته دا پړي د مارانو په څېر خوځنده وبرېښي، د پړو په ماهیت کې څه تبدیلي نه ده راغلې د خلکو په سترګو اغېز پرېوتی. قرآن د سحر د ماهیت په اړه فرمايي:

قَالَ بَلْ أَلْقُوا ۖ فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَىٰ ﴿٦٦﴾

طه: ٦٦

(موسی علیه السلام جادوګرانو ته) وویل: نه؛ بلکې تاسو ئې وغورځوئ، نو هغه

وخت د دوی د سحر په وجه د دوی پړي او عصاګاني داسي ورته وبرېښېدې چي ګواکي ځغلي.

یعني جادوګرانو په خپل جادو سره یوازي دومره څه کړي چي پر زمکي پراته پړي او عصاګاني موسی علیه السلام او نورو ته داسي برېښېدلي چي ګواکي خوځي او ځغلي، د دوی په جادو سره د دغو شیانو په ماهیت کي څه تبدیلي نه ده راغلې، بلکي د خلکو ذهن ته داسي ورغلې چي دا پړي او عصاګاني د مارانو په څېر ځغلي او په دې سره د بایبل د ټولو هغو ادعاګانو تردید شوی چي وایي: جادوګرانو دا او هغه شیان راپیدا کړل!!

د ټولو معجزو موخه دا ښودل شوې چي فرعون د بني اسرائیلو پرېښودو ته اړ کړي، نه دا چي مصریان پر خدای ایمان راوړي، له کفر او شرک نه لاس واخلي او د الله تعالی دین ته غاړه کېږدي!! خو که تاسو په دې اړه د قرآن وینا ته ځیر شئ وبه ګورئ چي موسی علیه السلام فرعون او مصریانو ته جامع او بشپړ پیغام لري، د بني اسرائیلو آزادي د اساسي مسایلو په ضمن کي او د یوې ثانوي موضوع په څېر مطرح کوي.

که معجزې یوازي فرعون ته ښودل کېدې او مقصد ئې دا وو چي فرعون بني اسرائیلو ته له مصره د وتلو اجازه ورکړي، ولي ئې په ټولو مصریانو دا مصیبتونه راوستل؟ ولي ئې د ټولو مصریانو حتی د هغو وینځو مشران زامن هم ورته وژل چي مېچنې ئې چلولې؟!! آیا دا خبره د کوم انسان عقل منلی شي چي الله تعالی د مصریانو د زامنو د وژلو لپاره په خپله د مصر له منځه تېر شوی؟!! او آیا الله تعالی د چا د وژلو لپاره دې ته اړ کېږي چي زمکي ته راکوز شي او د هغه کلي له منځه تېر شي چي د کلیوالو د وژلو پرېکړه ئې کړې؟!! دا هره ورځ چي انسانان د الله تعالی په اراده پیدا کېږي او مري، داسي مري لکه چي بایبل وایي؟! او تر ټولو مسخره خبره خو لا هغه ده چي بایبل تر دې وروسته کړې او لیکلي ئې دي چي خدای به په

مصر کې د بني اسرائیلو او مصریانو کورونه له دې نښې سره بېلوي چې د بني اسرائیلو د کورونو دروازې به د قربانۍ په وینو سرې شوې وي او د دغو وینو په لیدو سره به د بایبل خدای له دغو کورونو تېرېږي، یوازې د مصریانو کورونو ته به ننوځي او د دوی مشران زامن به وژني!!!

ګورئ چې بایبل دلته هم خدای داسې معرفي کوي چې بني اسرائیلو ته د غدر او خیانت لارښوونه کوي، وایي چې خدای موسی علیه السلام ته ویلي وو: د اسرائیلیانو ښځو ته ووایه چې له خپلو مصري ګاونډیو نه د سرو او سپینو زرو ښه ډېرې ګاڼې (په کومه پلمه) ترلاسه کړي، چې بیا ئې د وتلو په وخت کې له ځانه سره یوسي!! آیا ممکنه ده چې د زمکې او آسمانونو رب به خپلو بندګانو ته داسې د غدر او خیانت درس ورکوي!!

راشئ وګورو چې قرآن د موسی علیه السلام د قصې د دغې برخې په اړه څه وایي او د قرآن او بایبل د ویناوو ترمنځ څومره ژور توپیر شته، دا څومره لوړ، جامع او اغېزناک او هغه بل څومره تېټ، بې محتوی او بې ارزښته!!! قرآن فرمایي:

قَالَ لَئِنِ ٱتَّخَذْتَ إِلَٰهًا غَيْرِى لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ ٱلْمَسْجُونِينَ ﴿٢٩﴾ قَالَ أَوَلَوْ جِئْتُكَ
بِشَىْءٍ مُّبِينٍ ﴿٣٠﴾ قَالَ فَأْتِ بِهِۦٓ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٣١﴾ فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا
هِىَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴿٣٢﴾ وَنَزَعَ يَدَهُۥ فَإِذَا هِىَ بَيْضَآءُ لِلنَّٰظِرِينَ ﴿٣٣﴾ قَالَ لِلْمَلَإِ حَوْلَهُۥٓ
إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ عَلِيمٌ ﴿٣٤﴾ يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِۦ فَمَاذَا
تَأْمُرُونَ ﴿٣٥﴾ قَالُوٓاْ أَرْجِهْ وَأَخَاهُ وَٱبْعَثْ فِى ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿٣٦﴾ يَأْتُوكَ بِكُلِّ
سَحَّارٍ عَلِيمٍ ﴿٣٧﴾ فَجُمِعَ ٱلسَّحَرَةُ لِمِيقَٰتِ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿٣٨﴾ وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلْ أَنتُم
مُّجْتَمِعُونَ ﴿٣٩﴾ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ ٱلسَّحَرَةَ إِن كَانُواْ هُمُ ٱلْغَٰلِبِينَ ﴿٤٠﴾ فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ

قَالُوا۟ لِفِرْعَوْنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ ٱلْغَٰلِبِينَ ﴿٤١﴾ قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ إِذًا لَّمِنَ
ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٢﴾ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلْقُوا۟ مَآ أَنتُم مُّلْقُونَ ﴿٤٣﴾ فَأَلْقَوْا۟ حِبَالَهُمْ وَعِصِيَّهُمْ
وَقَالُوا۟ بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ إِنَّا لَنَحْنُ ٱلْغَٰلِبُونَ ﴿٤٤﴾ فَأَلْقَىٰ مُوسَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِىَ تَلْقَفُ مَا
يَأْفِكُونَ ﴿٤٥﴾ فَأُلْقِىَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ ﴿٤٦﴾ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾ رَبِّ
مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿٤٨﴾ قَالَ ءَامَنتُمْ لَهُۥ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِى عَلَّمَكُمُ
ٱلسِّحْرَ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ۚ لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَٰفٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ
أَجْمَعِينَ ﴿٤٩﴾ قَالُوا۟ لَا ضَيْرَ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴿٥٠﴾ إِنَّا نَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا
خَطَٰيَٰنَآ أَن كُنَّآ أَوَّلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٥١﴾ الشعراء: ۲۹ـ۵۱

(فرعون موسی علیه السلام ته) وویل: که له ما نه پرته دي بل معبود غوره کړ له زندانیانو څخه به دي وګرځوم، (هغه ورته) وویل: (زندان ته مي لېږې) که څه هم (د خپل حقانیت د اثبات لپاره) څرګنده نښه درته وړاندي کړم؟! هغه ورته وویل: راتې وړه که رښتینی یې! نو خپله عصا ئې وغورځوله چي ښکاره مار ترې جوړ شو او خپل لاس ئې راوایست چي لیدونکو ته روڼ او ځلانده وو، (فرعون) په خپلي خوا کي درباریانو ته وویل: دا خو ډېر پوه جادوګر دئ، غواړي په خپل جادو سره مو له خپل ملکه وباسي، نو څه مشوره راکوئ؟ وئې ویل: ده او ورور ته ئې مهلت ورکړه او په ښارونو کي ټول راغونډوونکي (جارچیان او اربکي) وګماره، تر څو ټول پوه ماهر جادوګران درته راولي، نو جادوګران د معلومي ورځي ټاکلي ځای ته راغونډ کړی شول او خلکو ته وویل شو: آیا تاسو هم راغونډېدونکي یئ، تر څو د (موسی په ځای د خپلو) دغو جادوګرانو متابعت وکړو، (په خاصه توګه هغه وخت چي) دوی برلاسي شي، نو کله چي جادوګران راغلل فرعون ته ئې وویل: که موږ برلاسي

شوو نو آيا موږ ته به حتماً څه انعام او اجوره راکول کېږي؟! وئې ويل: هو! او په هغه صورت کې خو به تاسو (دربار ته) د مقربينو په ډله کې وئ!! موسی ورته وويل: څه چې (د جادو ښودلو لپاره) غورځوئ وئې غورځوئ!! نو خپل پړې او عصاګانې ئې وغورځولې او وئې ويل: د فرعون په عزت قسم چې موږ هرو مرو غالبېدونکي يو!! نو موسی خپله عصا وغورځوله چې ناڅاپه ئې هغه څه تېرول چې دوی په درواغو جوړول، نو جادوګران په سجده پرېوتل او وئې ويل: په رب العالمين مو ايمان راوړ، د موسی او هارون په رب، (فرعون) وويل: آيا تر دې د مخه چې زه اجازه درکړم تاسو ايمان راوړ؟!! په دې کې شک نشته چې دی ستاسو هغه مشر دئ چې جادو ئې درښودلی، نو اوس به پوه شئ، حتماً به ستاسو لاسونه او ستاسو پښې بدل بدل پرې کړم او تاسو ټول به په دار وځړوم، (دوی ورته) وويل: باک نشته، موږ د خپل رب په لوري ورګرځېدونکي يو، طمع مو دا ده چې زموږ رب به زموږ خطاګانې په دې خاطر راته وبخښي چې لومړني ايمان راوړونکي شوو)

د قرآن په دې موجزو او مختصرو الفاظو کې هومره پراخ او ژور مطالب او لارښووني پرتې دي چې له شرحې او تفصيل نه ئې يو کتاب جوړيږي، ځينې مهمې برخې ئې دا دي:

- فرعونان په دلايلو نه قانع کېږي، د حق د لارې مبارزين دې له ظالمو او فرعون صفته واکمنانو دا طمع نه کوي چې د دوی دلايل به ومني او له مخالفته به لاس واخلي.
- لکه څنګه چې فرعون د موسی عليه السلام مقابلې ته د مصر جادوګران راوړاندې کړل، همدا راز به تل او د تاريخ په هر پړاو کې، د فرعون ملګري، د هر ديني تحريک په ضد، ټګمار مذهبي مشران راوړاندې کوي او د دين مقابله به په دين او د مذهب مقابله به په مذهب سره کوي، د حقپالو دعوتګرانو په ضد به د دين پلورونکو ټګمارو مذهبي مشرانو ډله لومړي خط ته لېږي.

- که غواړئ چې يو واقعي دعوتګر وپېژنئ او له دروغجن، ټګمار، دين خرڅوونکي او مذهب پلورونکي مذهبي مشر نه ئې تفکيک کړئ نو دا به د يوه ځلانده ملاک او معيار په توګه په پام کې لرئ چې له فرعونانو سره ئې چلند څنګه دئ، د هغه مقابله کوي که د هغه مزدور دئ، د ده په ضد خوځښت کوي که د ده په امر او اشاره، خدای ته د تقرب په لټه کې دئ که فرعون ته؟! قرآن دلته د موسی عليه السلام په مقابل کې ټګمار او د فرعون مزدور مذهبي مشران د جادوګرانو په څېره کې انځوروي چې دا ئې ځانګړتياوې ګڼي: د حقپالونکو په ضد د فرعون په امر راغونډېږي، له فرعون نه د مزد او اجورې طمع لري، تر ټولو ستر هدف ئې دا دئ چې فرعون ته ئې تقرب او نږدې والی په برخه شي او د درباريانو په ډله کې ونيول شي.
- د فرعوني نظامونو واکمنان به تل د ديني خوځښتونو په ضد په هغه دين او مذهب ترکيز کوي چې د دوی د واکمنۍ تر سيوري لاندې په ولس کې خور شوی، د قومي مذهب بڼه ئې غوره کړې، د ټولني حاکم وضعيت د الهي مقدراتو مطابق او د الله تعالی د خوښې حالت ګڼي، ولس ته په دې حالت د قناعت توصيه کوي، له مخالفت نه ئې منع کوي، ولس ته ئې پيغام دا وي چې په روان وضعيت راضي اوسه، دا واکمنان د خدای سيوری ګڼه، له دې حالت سره مخالفت له الهي مقدراتو سره مخالفت بوله!! ګورئ چې فرعون ولس ته څه وايي: ولې د موسی په ځای د خپلو مخکنيو مذهبي مشرانو متابعت ونه کړو؟!!
- خو دغه لومړي خط ته لېږل شوي مذهبي مشران، هغه چې فرعون خلکو ته ويل: د موسی په ځای ولې د دوی متابعت ونه کړو!! کله چې د موسی عليه السلام د دعوت پر حقانيت پوهېږي او ايمان راوړي، د دوی په اړه د فرعون دريځ او پرېکړه دا ده: موسی ستاسو په څېر دئ، ستاسو استاد دئ، تاسو ته هم ده د جادو ښودنه کړې، په ګډه مو دا لوبه او توطئه جوړه کړې وه، که داسې نه وی نو ولې مو زما له

اجازې مخکې خپله ماتې ومنله، د خلکو په وړاندې موسی ته تسلیم شوئ او ایمان مو راوړ؟ اوس به پوه شئ چې له تاسو سره څه کوم، لاسونه او پښې به مو بدل بدل سره قطع کوم.

- کوم ځواب چې جادوګران ئې په دې وخت کې فرعون ته ورکوي، ډېر عجیب، د پام وړ او ارزښتناک دئ، وايي: هیڅ پروا مو نشته، مرګ ته چمتو يو، دا مرګ خو له دې پرته بل څه نه دئ چې موږ د خپل پالونکي رب په لوري بيايي، هسې هم مرو او د خپل رب په لوري خامخا ورګرځو!! په دې سره قرآن موږ ته له يوې خوا دا لارښوونه کوي چې پر خدای باندې ایمان انسان ته داسې جرأت او شهامت ورپه برخه کوي، دا جادوګران ګورئ چې څو شېبې مخکې د فرعون په امر راغونډ شوي وو، د ده لپاره ئې د موسی علیه السلام مقابله کوله، د فرعون پر سر ئې لوړه کوله او د ده د عزت او جلال په طفيل ئې خپله بريا يقيني او حتمي ګڼله، له فرعون نه ئې د اجورې طمع وه او تر ټولو ستر هدف ئې دا وو چې د فرعون د درباريانو په ډله کې ونيول شي، خو اوس او په الله تعالی باندې له ایمان نه وروسته په دوی کې دومره ژوره تبدیلي راغلې چې د فرعون د ګواښونو پروا نه کوي، له مرګه نه وېرېږي، مرګ د الله تعالی په لوري د تلو وسيله ګڼي او پرونۍ مادي طمع ئې اوس په معنوي تلوسې بدله شوې او موخه ئې دا ده چې الله تعالی ترې راضي شي او ګناهونه ئې ورته وبخښي!! له بلې خوا موږ ته وايي چې د ایمان خاوند باید داسې وي، که تاسو په رښتيا په الله تعالی ایمان لرئ نو د فرعونانو له ګواښونو به نه وېرېږئ.

- د فرعون په ځواب هم باید غور وکړو چې موسی علیه السلام ته ئې ورکړ او وئې ويل: که له ما پرته دې بل اله او معبود ونيولو، خامخا به دې له زندانيانو څخه وګرځوم. (يعني په دې ملک کې به له ما پرته بل چا ته په دې سترګه نه ګورې چې احکام صادروي او د پرېکړو حق لري، دلته خو يوازې زما احکام چلېږي او که تا د

بلي مرجع دعوی وکړه نو ځای دې زندان دئ، له نورو زندانیانو سره به یو ځای په زندان کي پروت وې)

- د قرآن د وینا له مخي نن د نړۍ نږدې ټول نظامونه فرعوني نظامونه دي، شتمنۍ د څو محدودو شتمنو په لاس کي، پراخي او اضافي اداري له ډېرو مامورینو سره، ستر ستر فوځونه او پولیس او د هغوی ملا ماتوونکي مصارف... دا ټول د عام ولس په اوږو بار وي او مصارف ئې له عام ولس نه ترلاسه کېږي، چارواکي ئې تر فرعون هم زیات بې رحمه، ظالم او مغرور، چي نه له الله تعالی وېرېږي او نه په ولس ترحم لري!!
- قرآن عظیم الشأن فرمايي: چي فرعون نه یوازي خپل مخالفین په زندان کي اچول بلکي هغوی ئې رجم کول، د دوی پر لاسونو او پښو کي ئې مېخونه ټک وهل، عادي او پردي مخالفین خو پرېږده حتی د خپلي هغي مېرمني په لاس او پښو کي ئې هم مېخونه ټک وهل چي ایمان ئې راوړی وو!!

---

فَلَمَّا جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِـَٔايَـٰتِنَا بَيِّنَـٰتٍ قَالُواْ مَا هَـٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًى وَمَا سَمِعْنَا بِهَـٰذَا فِىٓ ءَابَآئِنَا ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٣٦﴾ وَقَالَ مُوسَىٰ رَبِّىٓ أَعْلَمُ بِمَن جَآءَ بِٱلْهُدَىٰ مِنْ عِندِهِۦ وَمَن تَكُونُ لَهُۥ عَـٰقِبَةُ ٱلدَّارِ ۖ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلظَّـٰلِمُونَ ﴿٣٧﴾

نو کله چي موسی څرګندي نښې ورته راوړې وئې ویل: دا خو له ځانه جوړ شوي جادو نه پرته بل څه نه دي او دا مو د خپلو مخکنیو پلرونو په ویناوو کي نه وې اورېدلې. او موسی وویل: زما رب هغه څوک ډېر ښه پېژني چي د ده له لوري له لارښوونو سره راغلی او هغه چي د (آخرت) غوره مېشت ځای به

ئې په برخه وي، حقيقت دا دئ چې ظالمان نه بريالي کېږي.

(۳۶-۳۷)- دلته د موسی علیه السلام د څرگند لاربنود دعوت په وړاندي د قوم عکس العمل او د ده ځواب زموږ مخي ته اېښودل شوي:

- قوم ورته وايي: ستا ټولي معجزې له جادو پرته بل څه نه دي، دا نوې خبري دي، زموږ د پلار نيکه له دين او مذهب سره اړخ نه لگوي، دا خبري مو تر دې د مخه له خپلو نيکونو نه نه دي اورېدلې، ته غواړې د پلار نيکه لار پرېږدو او نوي دين ومنو؟!!
- موسی علیه السلام ورته وايي: الله تعالی ښه پوهېږي چې څوک په سمه لار روان دئ او څوک په کږې، د چا عاقبت نېک او غوره دئ او د چا بد، د هر چا د وينا او عمل په اړه بايد د الله تعالی د دين په رڼا کې قضاوت وکړو، نه دا چې له پلار نيکه نه راپاته دين او مذهب حق او سم وگڼو او په پټو سترگو پسي روان شو، په دې پوه شئ چې د ظالمانو پايله وخيمه ده، هيڅ بريا به ئې په برخه نشي او له الهي عذابه به ونه ژغورل شي.

په نورو آيتونو کې د دې پېښې تفصيلات داسي راغلي:

قَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِ فِرْعَوْنَ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ عَلِيمٌ ﴿١٠٩﴾ يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُمْ ۖ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴿١١٠﴾ قَالُوٓا۟ أَرْجِهْ وَأَخَاهُ وَأَرْسِلْ فِى ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿١١١﴾ يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٍ ﴿١١٢﴾ وَجَآءَ ٱلسَّحَرَةُ فِرْعَوْنَ قَالُوٓا۟ إِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ ٱلْغَٰلِبِينَ ﴿١١٣﴾ قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ لَمِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿١١٤﴾ الاعراف: ۱۰۹-۱۱۴

د فرعون د قوم درباريانو وويل: دا خو حتماً يو ډېر پوه جادوگر دئ. غواړي تاسو له خپل ټاټوبي وباسي، نو څه امر کوئ؟ وئې ويل: ده او ورور ته ئې مهلت ورکړه او ښارونو ته اربکي ولېږه، چې هر ماهر او پوه ساحر درته راولي. او جادوگران

فرعون ته راغلل او وئې ویل: حتماً به مو څه بدله په برخه کېږي، که بر لاسي شوو؟ وئې ویل: هو؛ او تاسو به خامخا له مقربینو څخه وئ.

دلته څو ټکي په پام کې ولرئ:

- درباریانو د موسی علیه السلام د معجزو له لیدو وروسته وویل چې دا حتماً یو ماهر جادوګر دئ، که خپلې مخې ته پرېښودی شي نو زمکه به درته سور اور کړي، تاسو به له اقتدار او واکمنۍ نه محروم او د دې هېواد پرېښودو ته اړ کړي، ووایئ چې څه چاره ئې وکړو، مشوره مو څه ده، له "ما ذا تأمرون" نه دا معنی هم اخیستل کېدی شي چې دوی فرعون ته ویلي چې څه امر کوې، که څه هم تأمرون د جمع صیغه ده، خو واکمنانو ته د دوی درباریان تل همداسې خطاب کوي، دا توجیه تر ټولو غوره برېښي چې درباریانو په خپل منځ کې دا خبره یاده کړې، د دوی له منځه چا ویلي چې نو مشوره مو څه ده، ټول په دې متفق شوي چې فرعون ته ووایي: موسی او ورور ته ئې مهلت ورکړه، د هېواد ګوټ ګوټ ته اربکي ولیږه چې له موسی سره د مقابلې لپاره تکړه جادوګران راغونډ کړي، فرعون دا مشوره منلې ده. دا ځکه چې په الفاظو کې دا نه مومو چې غونډه د فرعون په حضور کې دائره شوې او هغه درباریانو ته څه ویلي.

دلته دا پوښتنه راولاړېږي چې فرعون او درباریان ئې ولې د موسی علیه السلام له یوې معجزې نه دومره په وېره کې شول چې وایي تاسو له خپل ملک نه باسي؟! د یوه داسې ستر هېواد مطلق العنان واکمن چې له شام نه تر لیبیا پوري او د مدیترانې له ساحله تر حبشې پوري غزېدلی وو، څنګه له تش لاسي موسی علیه السلام او د ده له بې وزلې او مریي قوم نه دا وېره احساس کړه؟! ځواب ئې دا دئ چې:

١- د همدغه بې وزلي قوم یوه ستر او نامتو مشر یوسف علیه السلام په دغه ستر هېواد حکومت کړی وو، د مصر اکثریت اوسېدونکو له هغه سره کلکه مینه درلوده

او د ده په خبر د يوه مهربان، زړه سواند، امين او مدبر مشر غوښتونکي ول، د غافر (المؤمن) سورې په ۳٤ آيت کي ويل شوي چي کله فرعون د موسی عليه السلام د وژلو خبره وکړه د ده له درباريانو نه يوه کس چي ايمان ئې راوړی وو خو خپل ايمان ئې نه څرګنداوو له موسی عليه السلام نه په ډېرو اغېزناکو الفاظو دفاع وکړه، دوی ته ئې يوسف عليه السلام ورپه ياد کړ او وئې وويل: تر دې د مخه يوسف له څرګندو نښو سره درته راغلی وو، د هغه له وفاته وروسته تاسو ويل چي الله به بيا داسي پيغمبر راونه لېږي، دا آيت ښيي چي د موسی عليه السلام د دعوت اغېز حتی تر دربار پوري غز پدلی وو.

۲- د موسی عليه السلام دعوت داسي وو چي له فرعوني نظام نه د بغاوت معنی ئې درلوده، فرعونيان پوهېدل چي که په مصريانو کي دا دعوت خور شي نو د دوی اقتدار له ستر ګواښ سره مخامخ کوي.

فرعون ته د جادوګرانو په وينا کي موږ ته د سرکاري مذهبي مشرانو خصوصيات معرفي شوي، دوی د واکمنانو په حکم راغوندېږي، له حکامو نه د خپلو فتوی ګانو اجوره ترلاسه کوي، ستر هدف ئې دا وي چي د دربارونو تقرب ئې په برخه شي.

قَالُوا۟ يَـٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلْقِىَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ نَحْنُ ٱلْمُلْقِينَ ﴿١١٥﴾ قَالَ أَلْقُوا۟ ۖ فَلَمَّآ أَلْقَوْا۟ سَحَرُوٓا۟ أَعْيُنَ ٱلنَّاسِ وَٱسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَآءُو بِسِحْرٍ عَظِيمٍ ﴿١١٦﴾ ۞ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ۖ فَإِذَا هِىَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ﴿١١٧﴾ الاعراف: ۱۱۵-۱۱۷

(جادوګرانو) وويل: اې موسی! ته ئې غورځوې (خپله عصا) او که موږ لومړني غورځوونکي شو (د خپلو پړو او عصاګانو)؟ وئې ويل: وئې غورځوئ، نو کله چي دوی وغورځول د خلکو سترګي ئې په جادو (سره اغېزمني) کړې، وئې وېرول او ستر جادو ئې وړاندي کړ. او موسی ته مو وحي وکړه چي خپله عصا وغورځوه، نو

ناڅاپه دې هغه څه ښوی تېرول چې دوی په دوکې او چل ول سره جوړ کړي وو.

په دې آیتونو کې ځو خبري شوې:

- جادوګرانو موسی علیه السلام ته وویل چې ته خپله معجزه ښيي او که موږ پرېږدې چې خپل هنر وړاندي کړو؟ د وینا الفاظ ئې داسي وو چې غوښتل ئې دوی ته د لومړيتوب موقع ورکړی شي. موسی علیه السلام ورسره موافقه کوي.
- د دوی هنر د لاس چالاکي او د خلکو سترګي دوکه کول او تر اغېز لاندي نیول وو، داسي څه ئې وښودل چې خلک ئې ووېرول، د جادو ستره مظاهره ئې وکړه.
- الله تعالی موسی علیه السلام ته وحي وکړه چې خپله عصا وغورځوي، عصا ئې فوراً د جادويي پړو او عصاګانو په ښوی تېرولو پیل وکړ.

فَوَقَعَ ٱلۡحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١١٨﴾ فَغُلِبُواْ هُنَالِكَ وَٱنقَلَبُواْ صَٰغِرِينَ ﴿١١٩﴾ وَأُلۡقِيَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ ﴿١٢٠﴾ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٢١﴾ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿١٢٢﴾

الاعراف: ۱۱۹-۱۲۲

نو حق واقع او محقق شو او هغه څه باطل او محوه شول چې دوی کول. هلته نو مغلوب او ذلیل شول. او جادوګران په سجده پرېوتل. وئې ویل: په رب العالمین مو ایمان راوړ. د موسی او هارون په رب.

حق غالب شو، د فرعونیانو هڅي هدر ولاړې، په دې مقابلې کي مغلوب شول، د کبر او لويي پایله ئې سپکاوی او ذلت وو، د چا په هنر او کمال چې دوی تکیه کړې وه؛ هغوی نه یوازي ماتې وخوړه بلکي د موسی علیه السلام د دعوت پر حقانیت پوه شول، د الله تعالی په وړاندي په سجده پرېوتل، په رب العالمین باندي ئې خپل ایمان څرګند کړ، ټولو خلکو دا صحنه په خپلو سترګو لیدله، فرعونیان په خپلي لومي کي ننښتي ول، هغه څه وشول چې دوی ترې وېرېدل.

قَالَ فِرْعَوْنُ ءَامَنتُم بِهِۦ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّ هَـٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوهُ فِى ٱلْمَدِينَةِ
لِتُخْرِجُوا۟ مِنْهَآ أَهْلَهَا ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿١٢٣﴾ لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَـٰفٍ ثُمَّ
لَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٢٤﴾ قَالُوٓا۟ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴿١٢٥﴾ وَمَا تَنقِمُ مِنَّآ إِلَّآ أَنْ
ءَامَنَّا بِـَٔايَـٰتِ رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتْنَا ۚ رَبَّنَآ أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَتَوَفَّنَا مُسْلِمِينَ ﴿١٢٦﴾

الاعراف ۱۲۳ ـ ۱۲۶

**فرعون وويل: آيا له دې مخکې چې زه اجازه درکړم ايمان مو راوړ؟ دا حتماً ستاسو داسې يو پټ تدبير دئ چې په دې ښار کې مو ترسره کړ د دې لپاره چې اوسېدونکي ئې ترې وباسئ! نو ژر به پوه شئ (چې څه درسره کوم). حتماً به ستاسو لاس پښې يو د بل خلاف پرې کړم، بيا به تاسو ټول پانسي کړم. وئې ويل: يقيناً چې موږ د خپل رب لوري ته بېرته ورګرځېدونکي يو. او له دې پرته په بل څه موږ نه رټې چې د خپل رب په آيتونو مو له هغه وروسته ايمان راوړ چې موږ ته راورسېدل، اې زموږ ربه! پر موږ صبر راولېږه او په داسې حال کې مو وفات کړه چې مسلمان وو.**

فرعون چې په خپلې لومې کې نښتی وو، له يوې خوا بايد ولس ته څه ووايي او له بلې خوا جادوګرانو ته چې د ده دښمن ته تسليم شوي او دی ئې له ستر سپکاوي سره مخامخ کړی، د همدې لپاره وايي: تاسو ولې زما له اجازې مخکې ايمان راوړ؟ ښکار خو دا وه چې زما تر پرېکړې مو انتظار کړی وی، دا حتماً ستاسو چل ول وو، موسی ستاسو د ډلې مشر دئ، په ګډه مو دا دسيسه جوړه کړې ده، غواړئ د دې ښار اصلي اوسېدونکي ترې وباسئ، نو اوس به د خپلې توطئې سزا حتماً وګورئ، د لاس پښو پرې کېدا او په دار ځوړېدا مو سزا ده!!

په دې مختصرو الفاظو کې ډېر زيات ستر ستر حقايق او درسونه پراته دي،

موږ ته لارښوونه کوي چې د مظلومو او محکومو ولسونو د وېرولو لپاره د فرعونانو وینا څه وي؟ خلکو ته څه وايي؟ له څه نه ئې وېروي؟ دوی له یوې خوا ولس ته د عدالت غوښتونکو په ضد وايي: دوی د نظام په ضد توطئې کوي، غواړي امنیت له منځه یوسي، ستاسو هېواد په سور اور بدل کړي، تاسو د هېواد پرېښودو ته اړ کړي او له بلې خوا ئې وېروي، هم له نظام سره د مخالفت له سختې سزا او هم د مخالفینو د برلاسي له خطرناکو عواقبو نه.

خو د جادګرانو په ځواب کې څو مهمې خبرې ترسترګو کېږي:

- هغه کسان چې تر ایمان د مخه د فرعون په حکم خوځېدل، د اجورې لپاره ئې د موسی علیه السلام مقابلې ته ملا تړلې وه، لویه هیله ئې دا وه چې د دربار تقرب ئې په برخه شي، له ایمان راوړو وروسته نه یوازې د فرعون له سختو ګواښونو څخه نه وېرېږي، بلکې مرګ د خپل رب په لورې د تلو وسیله ګڼي، فرعون ته وايي چې زموږ جرم فقط دا دئ چې د نښو او دلایلو له لیدو وروسته مو د الله تعالی په آیتونو ایمان راوړی، له الله تعالی نه د صبر او استقامت غوښتنه کوي، غواړي مرګ ئې د مسلمان مرګ وي، یعنی اوس ئې وېره په خپل ایمان او اسلام ده، یوازې له دې وېرېږي چې د تعذیبونو په وړاندې بې صبره نه شي او داسې څه ته اړ نشي چې له اسلام او د الله تعالی له اوامرو نه د مخالفت په معنی وي!!

---

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَأُ مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِى فَأَوْقِدْ لِى يَٰهَٰمَٰنُ عَلَى ٱلطِّينِ فَٱجْعَل لِّى صَرْحًا لَّعَلِّىٓ أَطَّلِعُ إِلَىٰٓ إِلَٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّى لَأَظُنُّهُۥ مِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿٣٨﴾ وَٱسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُودُهُۥ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَظَنُّوٓا۟ أَنَّهُمْ إِلَيْنَا لَا يُرْجَعُونَ ﴿٣٩﴾ فَأَخَذْنَٰهُ وَجُنُودَهُۥ

فَنَبَذۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡيَمِّۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٠﴾
وَجَعَلۡنَٰهُمۡ أَئِمَّةٗ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلنَّارِۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾
وَأَتۡبَعۡنَٰهُمۡ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا لَعۡنَةٗۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ هُم مِّنَ ٱلۡمَقۡبُوحِينَ
﴿٤٢﴾

او فرعون وویل: اې درباریانو! ستاسو لپاره له ځانه پرته بل معبود نه پېژنم، نو اې هامانه! خټه په اور راته پخه کړه او لوړه ماڼۍ راته جوړه کړه چې د موسی د معبود لوري ته لوړ شم او یقیناً چې زه ئې له دروغجنو څخه ګڼم. او ده او لښکرو ئې په زمکې کې په ناحقه لویي وغوښته او ګمان ئې وکړ چې زموږ لوري ته به نه راګرځول کېږي. نو دی او د ده لښکري مو ونیول او سیند ته مو وغورځول، نو وګوره چې د ظالمانو پایله څنګه وه؟! او له دوی نه مو داسې ډله جوړه کړه چې د اور په لوري بلنه ورکوي او د قیامت په ورځ به ئې (هیڅوک) مرسته ونه کړی شي. او په دې دنیا کې مو لعنتونه ورپسې کړل او د قیامت په ورځ له قبیح او رذیل ګڼل شوو څخه دي.

---

(۳۸-۴۲)- د دې مبارکو آیتونو ځیني جامع لارښووني دا دي:

- فرعون خپلو درباریانو ته هم وایي چې ستاسو لپاره له ځانه پرته بل معبود نه پېژنم. یعني هغه خپلو درباریاونو ته هم د غلامانو او بندګانو په سترګه ګوري، له دوی سره ئې هم معامله د بادار او غلام معامله وي.
- هامان ته وایي دنګه ماڼۍ راته جوړه کړه، خو تر دې نامه لاندې چې غوارې بر لاړ شي او خلکو ته دا وښیي چې هلته ئې د موسی رب نه دئ موندلی، هغه درواغ

وايي چې رب ئې بر په آسمان کې دئ!! ځان ته لوړه ماڼۍ جوړوي خو د رژيم له مخالفينو سره د مقابلې تر نامه لاندې، هر فرعون همداسې کوي، د دنګو ماڼيو له جوړولو نه د فرعونانو موخه يوازې دا نه وي چې د مرفه او له تعيشه ډک ژوند شرايط ځان ته برابر کړي بلکې پر دې برسيره غواړي عام ولس تر خپل رعب او هيبت لاندې راولي.

- هامان ته دنده سپاري چې دا دنګه ماڼۍ به له پخو خښتو جوړوي، خو بايد وګورو چې آيا دا د مصر موجود اهرامونه همغه دي چې فرعون جوړ کړي؟ آيا دا سترې سترې ډبرې چې د اهرامونو په جوړولو کې کارول شوې؛ ډبرې دي که له ختو جوړې شوې پخې خښتې چې د وخت په تېرېدو سره په ډبرو بدلې شوې؟ ځيني دا ادعاء کوي چې اهرامونه له داسې سترو سترو تيږو جوړ شوي چې له درې سوه کيلومتره لرې سيمې نه د غلامانو په واسطه راوړل شوې دي، په خپله د اهرام شاوخوا نږدې سيمې کې داسې ډبرې نه موندل کېږي!! له پرمخ تللو وسايلو پرته د داسې تيږو راوړل او هغه هم په دومره لوی شمېر کې او بيا يوه د بلې د پاسه اېښودل ډېر ګران کار دئ. که دا اهرامونه همغه وي چې قرآن ورته ګوته نيسي نو په بشپړ يقين سره ويلی شو چې تيږې ئې په اصل کې سترې سترې پخې خښتې دي چې د زمانې په تېرېدو سره په ډبرو بدلې شوې. ما څو کاله مخکې د يوې څېړنې تفصيلات واورېدل چې ويل ئې د اهرامونو په ځينو برخو کې داسې سوړې وموندلې شوې چې له ايرو ډکې وې، همدا راز د جهاد په کلونو کې مې د شلمان غره په ډډې کې داسې معبدونه وليدل چې په دېوالونو کې ئې پلنې ډبرې کارول شوې وې او د ډبرو تر منځ ختې، خو دا ختې د اوږدې مودې په تېرېدو سره تر سمنټو هم زياتې کلکې او ډبرينې شوې وې.

- فرعون او لښکرو ئې د استکبار لار غوره کړه، غوښتل ئې خپله لويي په ناحقه توګه پر خلکو ومني، د دنګو قصرونو او ماڼيو جوړول ئې د همدې ناحق استکبار

نښه وه، د هري زمانې فرعونان به همداسي وومئ. له الله تعالى غافل، له آخرته بې پروا، ځان تر نور لوړ ګڼل، خپله لويي پر نورو منل او نورو ته د حقارت په سترګه کتل، د تاريخ د ټولو فرعونانو مشترک خصلتونه دي.

- الله تعالى د کبر او ظلم سزا ورکړه، د عذاب په منګولو کي ئې ونيول، په بحر کي ئې له خپلو لښکرو سره يو ځای غرق کړل.
- وګوره چي د ظالمانو پايله څنګه ده، د تاريخ هر فرعون ته همدا او دې ته ورته پايله منتظره ده.
- داسي ډله ترې جوړه شوه چي خلک ئې د اور په لوري بلل، د دوی په ملګرتيا کي خلک په اور کي پرېوتل، او د آخرت له عذابه خو ئې هيڅوک او هيڅ څه نشي ژغورلی، هلته به هيڅ مل او مرستندوی ونه مومي.
- په دنياکي به هم خلک پرې لعنتونه وايي او په آخرت کي به هم د رټل شوو او سپک شوو په ډله کي وي.

---

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَـٰبَ مِنۢ بَعْدِ مَآ أَهْلَكْنَا ٱلْقُرُونَ ٱلْأُولَىٰ بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٤٣﴾

او يقناً چي موسی ته مو له هغه وروسته کتاب ورکړ چي مخکني پېړۍ وال مو هلاک کړل، خلکو ته د بصيرت اسباب، لارښود او رحمت؛ ترڅو پند واخلي.

---

(٤٣)- دا آيت موږ ته ښيي چي:

- موسی عليه السلام ته له هغه وروسته کتاب ورکړی شو چي الله تعالى فرعون او فرعونيان هلاک کړل.
- د دې کتاب ځانګړتياوي دا وې: ١- د بصيرت وسيله وو، هر څه ئې خلکو ته

معرفي کول، د دوی سترګي ئې پرانیستلې، د نور او رڼا په څېر وو چي دوی ئې له تیارو ایستل، ۲- د ژوند په ټولو اړخونو کي ئې د دوی لارښوونه کوله. ۳- او د الله تعالی د رحمت او پېرزوینو دروازې ئې د دوی پر مخ پرانیستلې.

دا مبارک آیت ښیي چي بني اسرائیلو تر هر څه د مخه یوه لارښود مشر ته ضرورت درلود چي د فرعون له غلامۍ ئې وژغوري، له آزادۍ وروسته ئې لارښود کتاب ته ضرورت وو چي د ژوند اړوند ټولي برخي ئې تنظیم کړي. په همدې کتاب د عمل کولو په نتیجه کي به د الله تعالی د رحمت او پیرزوینو نیکمرغه وزر پر دوی وغوړېږي.

---

وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ ٱلْغَرْبِيِّ إِذْ قَضَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَى ٱلْأَمْرَ وَمَا كُنتَ مِنَ
ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٤٤﴾ وَلَٰكِنَّآ أَنشَأْنَا قُرُونًا فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ ٱلْعُمُرُ ۚ وَمَا
كُنتَ ثَاوِيًا فِىٓ أَهْلِ مَدْيَنَ تَتْلُوا۟ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِنَا وَلَٰكِنَّا كُنَّا
مُرْسِلِينَ ﴿٤٥﴾ وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ ٱلطُّورِ إِذْ نَادَيْنَا وَلَٰكِن رَّحْمَةً مِّن
رَّبِّكَ لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن نَّذِيرٍ مِّن قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ
﴿٤٦﴾

او ته هغه مهال په غربي اړخ کي نه وې چي موسی ته مو کار سپارلو او له شاهدانو څخه هم نه وې. خو موږ د پېړیو پېړیو نسلونه راپیدا کړل او اوږده عمرونه پرې تېر شول، او ته په مدین کي هم مېشت نه وې چي زموږ آیتونه پرې لولې خو موږ د پیغمبر لېږونکي وو. او ته د طور په اړ خ کي هم نه وې

**چي موږ غږ کړ خو اما ستا د رب له لوري يوه پېرزوينه ترڅو هغه قوم انذار کړې چي تر تا د مخه هيڅ خبرداری ورکوونکی نه دئ ورغلی، تر څو پند واخلي.**

---

(٤٤-٤٦)- د دې مبارکو آيتونو څو حساسو خبرو ته جدي توجه وکړئ:

- پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چي ته هغه مهال د طور د ناو په غربي اړخ کي حاضر نه وې چي موسی عليه السلام ته تورات ورکول کېدو او هغه مهال هم حاضر نه وې چي د خپل قوم اويا مشران ئې له ځان سره طور ته بېول چي د الله تعالی له لوري د تورات د احکامو د ترلاسه کولو شاهدان وي. او په مدين کي هم مېشت نه وې چي په هغه پوري اړوند آيتونه اوس قوم ته اوروې، او هغه مهال هم د طور په اړخ کي حاضر نه وې چي موږ موسی عليه السلام ته غږ کړ، په پيغمبری مو مبعوث او د فرعون مقابلې ته مو لېږلو، دا حقايق د وحي له لاري تا ته ښودل شوي. په دې پېښو پېړی پېړی او اوږده عمرونه تېرې شوي، هغه پېښي تا په خپلو سترګو نه دي ليدلې، موږ اراده وکړه چي تا د پيغمبر په توګه ولېږو، زما د آيتونو په ترڅ کي دا پېښي هغو خلکو ته بيان کړې چي تر تا د مخه هيڅ پيغمبر نه دئ ورغلی، په مکرره توګه دې خبري ته ګوته نيول چي ته دلته او هلته نه وې، څه چي وايي نه ستا د سترګو ليدلې پېښي او حوادث دي او نه له کوم مخکني پېغمبر نه اورېدلې خبري، بلکي د وحي له لاري تا ته ويل شوې، دا ښيي چي دلته يوه مهم مطلب ته اشاره کول په پام کي دي او هغه دا چي مسيحيانو د مسيح عليه السلام په اړه وويل چي هغه نور وو، تر ټولو مخلوقاتو مخکي د الله خوا ته د يوه روڼ ستوري په څېر موجود وو، اوس شته او تل به وي، په مسلمانانو کي هم داسي خلک راپيدا شول چي د بايبل تر اغېز لاندي ئې د پيغمبر عليه السلام په اړه همغه خبري وکړې چي مسيحيانو د مسيح عليه السلام په اړه کولې، دا مبارک آيتونه د هغو ټګمارانو او

لاروركو پر خوله سخت گوزار دئ چي وايي پيغمبر عليه السلام په هر ځای کي هر وخت حاضر دئ، د همدې لپاره هغه ته د (حضور) لفظ کاروي!! دوی دا ادعاء هم کوي چي پيغمبر عليه السلام له آدم عليه السلام او ټولو مخلوقاتو نه مخکي پيدا شوی، وايي د آسمانونو او زمکي له پيدا کېدو زرگونه کاله مخکي د نور په څېر ځلېدو، په ظاهر کي تر ټولو وروسته خو په باطن کي تر ټولو مخکي دئ، دا همغه څه دي چي بايبل ئې د عيسی عليه السلام په هکله وايي، دوی دا ټولي خبري له محرف بايبل نه اخيستې او په هغوی کي ئې يوازې دومره تصرف کړی چي د مسيح عليه السلام په ځای ئې د محمد عليه السلام نوم راوړی، دوی د قرآن دې وينا ته هم پام نه کوي چي آدم عليه السلام د محمد او عيسی عليهما السلام په شمول د ټولو انسانانو لومړی جد دئ، آدم عليه السلام له خاوري پيدا شوی او ټول انسانان د ده له نطفې، د دغو لاروركو متصوفينو افكار د قرآن د صريح آيتونو خلاف او له يهودو او نصاراوو اخيستل شوي افكار دي.

- بايبل وايي: عيسی د خدای کلمه ده، کلمه د خدای صفت دئ، صفت له خدای نه بېل نه دئ، نو عيسی خدای دئ!! دې جنابانو ته وايو: د خدای کلمه يوه نه بلکي دومره دي چي قرآن ئې داسي بيانوي: که بحر مداد (د قلم رنگ) شي، د زمکي د سر ټولي وني قلمونه شي، اوه بحرونه نور ورسره يو ځای شي او د الله تعالی کلمې وليکي، نو رنگ به خلاص شي خو د خدای کلمې به لا پاتې وي!! دا د عالم هر شی د الله تعالی د يوې کلمې مظهر دئ، د الله تعالی د (کن) په امر سره راپيدا شوی!! دا جنابان هسي د الفاظو په چکر کي لوېدلي دي، يوازې عيسی د خدای کلمه گڼې او کلمه يوه، په دې هم نه پوهېږې چي کلمه شی نه دئ او په کلام سره له متكلم نه کوم شی نه بېلېږي، کلمه مستقل وجود نه لري، داسي نه چي عيسی عليه السلام يا د عالم دا ټول مخلوقات د الله تعالی له ذات نه رابېل شوي، بلکي دا هر څه د الله تعالی په يوه فرمان (کلمې) له نشت نه راپيدا شوي.

بایبل تر دې عنوان لاندي (مسیح زمورږ دنیا ته راغی) لیکي: په ازل کي، مخکي له دې چي څه پیدا شي، (کلمه) وه او د خدای په خوا کي وه، هغه تل ژوندی وو او دی په خپله خدای دئ، چي څه شته د ده په وسیله پیدا شوي، داسي څه نشته چي ده نه وي پیدا کړي، دا تلپاته ژوندی خلکو ته نور او رڼا بخښي!!

- یوحنا وایي چي مسیح د خدای په خوا کي یوه کلمه وه! انسان شو، زمکي ته راغی او زمورږ په منځ کي ئې ژوند وکړ!! پوښتنه کوو: د دې خبري معنی څه ده؟ دا خو یوه نامکمله او نامفهومه جمله ده، کلمه خو وجود نه لري، کلمه او لفظ خو (شی) نه دئ چي د خدای په خوا کي ئې وګڼو، کلمه خو د متکلم د ارادې او فکر مظهر دئ او د دې ښودنه کوي چي متکلم څه غواړي او څه وایي، د دې ناقصي جملې بشپړه بڼه دا ده چي ووایو: مسیح د الله تعالی د یوې داسي کلمې مظهر دئ چي مریمي علیها السلام ته ئې القاء کړه، الله تعالی فیصله وکړه چي مسیح له پلار نه پرته او یوازي له مور نه په فوق العاده توګه پیدا شي، دا فرمان ئې صادر کړ، مسیح د هغي کلمې مظهر دئ چي دا الهي فرمان ئې منعکس کړ، قرآن هم د مسیح علیه السلام په هکله د (کلمه) لفظ کاروي خو د یوه بشپړ، مکمل او واضح آیت په ترڅ کي او فرمایي:

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ وَلَا تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ إِنَّمَا ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلۡقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرۡيَمَ وَرُوحٞ مِّنۡهُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۖ وَلَا تَقُولُواْ ثَلَٰثَةٌۚ ٱنتَهُواْ خَيۡرٗا لَّكُمۡۚ إِنَّمَا ٱللَّهُ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ سُبۡحَٰنَهُۥٓ أَن يَكُونَ لَهُۥ وَلَدٞۘ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلٗا ﴿١٧١﴾

النساء: ۱۷۱

اې اهل کتابو! په خپل دین کي غلو مه کوئ او د الله په هکله له حق نه پرته بل څه

مه وايئ، بې شکه چې مسيح د مريمې زوی خو يوازې د الله رسول او د ده هغه کلمه وو چې مريمې ته ئې القاء کړې وه او د ده يوه روح، نو پر الله او پېغمبرانو ئې ايمان راوړئ او مه وايئ چې درې دي، دډه وکړئ، چې دا درته غوره دئ، الله خو يوازنی اله دئ، له دې نه منزه دئ چې کوم زوی ئې وي، څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په زمکې کې دي ټول د ده دي او الله د وکيل په توګه کافي دئ.

د بايبل منونکو ته وايو: يوازې مسيح نه بلکې د عالم هر (شی) د الله تعالی د يوې کلمې مظهر دئ، يوحنا هم د الله تعالی د يوې کلمې مظهر دئ، د الله تعالی له کلمې نه د يوحنا په څېر يو انسان جوړ شوی، يوحنا بايد د الله تعالی د کلمو شمېر لږ تر لږه هومره وګڼي لکه د عالم د ټولو موجوداتو شمېر. جنابه! ته له يوې خوا وايې چې مسيح کلمه وو، له بلې خوا وايې هغه تل ژوندی وو او پر دې سربېره وايې چې هغه په خپله خدای وو!! دا درې خبرې هومره متناقضې دي چې يوازې ستر ناپوه او جاهل به په يوه وخت کې ټولې منې!! نه کلمه تلپاتې ژوندی (شی) ګڼلی شو، نه پر خدای د کلمې اطلاق کولی شو او نه د خدای په خوا کې بل شی په خپله خدای ګڼلی شو!!

---

وَلَوْلَآ أَن تُصِيبَهُم مُّصِيبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ فَيَقُولُوا۟ رَبَّنَا لَوْلَآ أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ ءَايَـٰتِكَ وَنَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾
فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلْحَقُّ مِنْ عِندِنَا قَالُوا۟ لَوْلَآ أُوتِىَ مِثْلَ مَآ أُوتِىَ مُوسَىٰٓ ۚ أَوَلَمْ يَكْفُرُوا۟ بِمَآ أُوتِىَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ ۖ قَالُوا۟ سِحْرَانِ تَظَـٰهَرَا وَقَالُوٓا۟ إِنَّا بِكُلٍّ كَـٰفِرُونَ ﴿٤٨﴾ قُلْ فَأْتُوا۟ بِكِتَـٰبٍ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ هُوَ أَهْدَىٰ مِنْهُمَآ أَتَّبِعْهُ

إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤٩﴾ فَإِن لَّمْ يَسْتَجِيبُواْ لَكَ فَٱعْلَمْ أَنَّمَا
يَتَّبِعُونَ أَهْوَآءَهُمْ ۚ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ ٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ ٱللَّهِ ۚ
إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٠﴾

او که دا نه وی چې کله دوی ته د هغه څه له امله کوم مصیبت وروسېږي چې په خپلو لاسونو ئې ترسره کړي نو وايي به: اې زموږ ربه! ولې دې کوم پیغمبر راونه لېږو چې ستا د آیتونو متابعت مو کړی وی او له مؤمنانو څخه شوي وی؟! نو کله چې زموږ له لوري حق ورغی وئې ویل: ولې ده ته هم موسی ته د ورکړی شوو (معجزو) په څېر (معجزې) نه دي ورکړی شوې؟! آیا تر دې د مخه په هغه څه کافران نشول چې موسی ته ورکړی شوي وو؟ وئې ویل: دوه کوډي (سحر) چې یو د بل ملاتړ کوي، او وئې ویل: موږ له هر یوه انکار کوونکي یو. ورته ووایه: د الله له لوري داسي کتاب راوړئ چې تر دې دواړو ښه لارښود وي چې متابعت ئې وکړم کي رښتیني یئ. نو که ئې ځواب درنه کړ (ستا بلنه ئې ونه منله) نو پوه شه چې دوی د خپل هوی او هوس متابعت کوي، او تر هغه چا به زیات بې لاري څوک وي چې له الهي لارښووني پرته ئې د خپل هوس متابعت کړی، یقیناً چې الله داسي ظالم وګړي نه هدایتوي.

---

(۴۷ - ۵۰) - په دې مبارکو آیتونو کي لاندي لارښووني شوې:

- کله چې خلکو ته د خپلو ناروا کړنو، شرک، ظلم او فساد له امله مصیبتونه ورسېږي نو خدای ته مخه کړي، ژمنه کوي چې د الله تعالی بندګي او د هغه د

پیغمبر اطاعت به کوي، شکایت کوي چې الله تعالی ولې تر دې د مخه چې موږ په گناهونو کې غرق شو او دا سزا راکړی شي کوم پیغمبر راونه لېږو، د دوی په ځواب کې ویل شوي: دا دئ الله تعالی پیغمبر درولېږو، خو تاسو د دې په ځای چې په خپلو ژمنو عمل وکړئ، ایمان راوړئ او له گناهونو لاس واخلئ وایئ: ولې ده ته هغه معجزې نه دي ورکړی شوې چې موسی علیه السلام ته ورکړی شوې وې؟!! دوی ته ویل شوي چې آیا د موسی علیه السلام له ټولو معجزو سره سره له ده او معجزو ئې انکار ونه شو؟ ستاسو پلرونو د هغه معجزو ته د سحر په سترگه وکتل او تاسو د محمد علیه السلام دعوت ته، دواړه مو کوډي او سحر او یو د بل مؤید وگڼل.

- پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چې دوی ته ووایه: نو تاسو داسې کتاب راوړئ چې تر تورات او قرآن ښه وي چې زه ئې متابعت وکړم، زه خو د هدایت په لټه کې یم، د همدې لپاره مې قرآن د لارښود په توگه منلی، که تر دې غوره لارښود کتاب موندل کېدی هغه به مې غوره کړی وو، که تاسو په رښتیا د حق او هدایت په لټه کې وئ نو تر تورات او قرآن به غوره لارښود کتاب چېري وي؟!
- څوک چې نه تورات مني او نه قرآن هغه د هوی او هوس بنده دئ، نه د حق پروا لري او نه د هدایت په لټه کې دئ، تر ټولو ستر لارورکی او په ضلالت کې پرېوتی انسان هغه دئ چې د خپل هوس بنده وي، د داسې ظالمانو په وړاندې د هدایت دراوازې تړل شوې او الله تعالی له هدایته محروم کړي.

---

۞ وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ ٱلْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥١﴾ ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ
ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِهِۦ هُم بِهِۦ يُؤْمِنُونَ ﴿٥٢﴾ وَإِذَا يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِهِۦٓ
إِنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّنَآ إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلِهِۦ مُسْلِمِينَ ﴿٥٣﴾ أُوْلَٰٓئِكَ يُؤْتَوْنَ أَجْرَهُم

مَّرَّتَيۡنِ بِمَا صَبَرُواْ وَيَدۡرَءُونَ بِٱلۡحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ﴿٥٤﴾ وَإِذَا سَمِعُواْ ٱللَّغۡوَ أَعۡرَضُواْ عَنۡهُ وَقَالُواْ لَنَآ أَعۡمَٰلُنَا وَلَكُمۡ أَعۡمَٰلُكُمۡ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡ لَا نَبۡتَغِي ٱلۡجَٰهِلِينَ ﴿٥٥﴾

او یقیناً چې دا وینا مو په پرله پسې توګه ورته کړې ده؛ په دې هیله چې پند واخلي. هغه چې تر دې د مخه کتاب (په حقیقي معنی) ورپه برخه شوی هغوی ایمان پرې راوړي، او کله چې پرې ولوستی شي وايي: ایمان مو پرې راوړی، بې شکه چې دا زموږ د رب له لوري حقیقت دئ، یقیناً چې موږ تر دې د مخه منقاد او غاړه ایښودونکي وو. دوی ته به له دې امله خپل اجر دوه ځلي ورکړی شي چې صبر ئې وکړ او په ښېګڼې سره بدي دفعه کوي، او له هغه څه چې موږ وررزوي کړي انفاق کوي. او کله چې چټې خبره واوري مخ ترې اړوي او وايي: موږ ته خپل عملونه او تاسو ته خپل عملونه، پر تاسو دې سلام وي، موږ جاهلان نه غواړو.

---

(۵۱-۵۵)- د دې مبارکو آیتونو اساسي لارښووني دا دي:

- الله تعالی په پر له پسې توګه دوی ته خپله وینا اورولې، اوس د قرآن په بڼې کې او تر هغه مخکې د انجیل او تورات په صفحاتو کې، د دې لپاره چې پند واخلي.
- چا چې تر قرآن مخکې پر تورات او انجیل ایمان راوړی هرو مرو به پر قرآن هم ایمان راوړي او د قرآن په اورېدو سره به حتماً وايي: چې دا له شکه پرته زموږ د رب له لوري دئ، هره وینا ئې رښتینې ده، موږ تر دې د مخه خپل رب ته منقاد وو او په همغه څه مو عمل کولو چې قرآن ئې اوس له موږ غواړي.
- دوی ته به هم په مخکنیو کتابونو د ایمان راوړلو او په مقتضاء ئې د عمل کولو

اجر ورکړی شي او هم پر قرآن د ایمان راوړلو او عمل کولو. دا ځکه چي دوی د صبر لمنه کلکه نیولې وه، په ښېګڼو سره ئې بدي دفعه کوله او هغه څه ئې د الله تعالی په لار کي لګول چي الله تعالی پرې پېرزو کړي وو او کله چي به ئې کومه خوشې او چټي خبره واورېده مخ به ئې ترې اړولو او ویل به ئې: موږ ته خپل عملونه او تاسو ته خپل عملونه، هر څوک به د خپل عمل جزا او سزا ګوري، هر چا ته خپل عمل ښه ښکاري، تاسو ته سلامتي غواړو خو موږ ناپوهان او جاهلان نه خوښوو او مجالست او ملګرتیا ئې نه غواړو.

---

إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَآءُ ۚ وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ ﴿٥٦﴾

یقیناً چي ته هغه څوک نشې هدایتولی چي خوښ دي دئ، خو الله چي هر څوک وغواړي هدایتوي ئې، او هغه هدایتېدونکي ډېر ښه پېژني.

---

(٥٦)- د دې مبارک آیت په وړاندي باید لږ توقف وکړو او څو مهمو برخو ته ئې ځیر شو:

- پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چي دا ستا په واک کي نه ده چي څوک له هدایته برخمن کړې او د ایمان راوړو سعادت ئې په برخه کړې، ستا دنده ایمان او سمي لاري ته د دوی بلنه ده، دا پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي چي چا ته په سمي لاري د تلو توفیق ورکوي او څوک ترې محروموي.

- په دې اړه د الله تعالی پرېکړه د هغه جامع او کامل علم له مخي کېږي چي د هدایت کېدونکي په اړه ئې لري. ته نه پوهېږې چي څوک د دې سعادت وړ دئ او څوک ترې محروم، الله تعالی د هغه چا په وړاندي د هدایت دروازه پرانېزي او په سمي لار د تلو توفیق ورکوي چي وړتیا ئې لري، تا ته نه د دوی وړتیا معلومه ده او

نه د زړه کیفیت او نه دا چې دوی په سمې لار د تلو مجال او اراده لري که نه.

- دا مبارک آیت د هغو لارورکو خرافي عقیده ردوي چې وايي: پیغمبر علیه السلام د الله تعالی د پېرزوینو وېشونکی او مُقَسِم دئ، د الله تعالی د عنایاتو له خزانو هر چا ته هر څه ورکولی شي، پیر او مرشد کولی شي له لري واټنه؛ حتی له خپل قبر نه؛ مریدانو ته روحاني فیوضات ورسوي!! که پیغمبر علیه السلام نشي کولی خپل غیرتي او د ده ستر حامي او مدافع تره ابوطالب ته د ایمان راوړو سعادت ورپه برخه کړي او په روحاني فیض سره د هدایت دروازه د هغه پر مخ پرانېزي بل څوک به څنګه دا کار وکولی شي؟!! آیا د عظیم الشأن قرآن دغه مبارک آیت کافي نه دئ چې داسې خرافي عقاید په دېوال ووهو او په دې باور وو چې الله تعالی هیڅوک د خپلو عنایاتو او پېرزوینو د خزانو واکمن نه دئ ټاکلی او د دې خزانو کلیاني ئې هیچا ته نه دي سپارلې، په خپله او د خپل بنده وړتیاوو ته په پام سره پرېکړه کوي چې چا ته څومره ورکړي او څوک ترې محروم کړي.

---

وَقَالُوٓاْ إِن نَّتَّبِعِ ٱلۡهُدَىٰ مَعَكَ نُتَخَطَّفۡ مِنۡ أَرۡضِنَآۚ أَوَلَمۡ نُمَكِّن لَّهُمۡ حَرَمًا ءَامِنٗا يُجۡبَىٰٓ إِلَيۡهِ ثَمَرَٰتُ كُلِّ شَيۡءٖ رِّزۡقٗا مِّن لَّدُنَّا وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٥٧﴾ وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةِۭ بَطِرَتۡ مَعِيشَتَهَاۖ فَتِلۡكَ مَسَٰكِنُهُمۡ لَمۡ تُسۡكَن مِّنۢ بَعۡدِهِمۡ إِلَّا قَلِيلٗاۖ وَكُنَّا نَحۡنُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ﴿٥٨﴾

او وئې ویل: که له تا سره د لارښووني متابعت وکړو له خپل ټاټوبي تښتول کېږو! آیا دوی ته مو داسې حرم یو خوندي ټاټوبی نه کړ چې هغه ته د هر څه مېوې راوړل کېږي زموږ له لوري د رزق او روزي په توګه؟!! خو د دوی ډېری نه پوهېږي. او له کلو نه مو څومره هغه ترې هلاک کړل چې پر خپل

معیشت له پولو واوښتل، نو دا ئې د دوی مېشت ځي چي له دوی وروسته مېشتیا په کي نه وه مګر ډېره لږ، او موږ (ئې) په مېراث وړونکي وو.

(۵۷-۵۸)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- پر پیغمبر علیه السلام د ایمان نه راوړلو او د ده له ملګرتیا نه د اجتناب یو اساسي او لوی سبب دا ښودل شوی چي وېرېدل د ده د ملګرتیا له امله به د دوی ژوند، مال او ثروت له ګواښونو سره مخامخ شي. نن هم له اسلام نه د مخ اړولو، له مسلمانانو سره د نه پیوستون او د ظالمانو، مفسدینو او کافرانو د ملګرتیا یو لوی عامل همدا دئ، شتمن په خپلو شتمنیو وېرېږي او د اقتدار خاوندان په خپلو کرسیو، او د رفاه او تعیش خاوندان د مرفه او سوکاله ژوند له لاسه ورکولو نه.
- دا مبارک آیت دا حقیقت هم زموږ مخي ته ږدي چي د دې سورې د نازلېدو په مهال په مکه مکرمه کي د اختناق، خوف او وېري څه حالت وو او قریشو له مسلمانانو سره څنګه چلند کاوو، دوی د خوف او وېري داسي حالت رامنځته کړی وو چي ډېرو د دوی د تعذیبونو له وېري ایمان نشو راوړی.
- الله تعالی هغو ضعیف النفسه خلکو ته چي د قریشو له وېري ئې له ایمان راوړلو ډډه کوله، خپلي سوکالي، بې خطره او مرفه ژوند ته ئې پر ایمان ترجیح ورکوله فرمایي: چي نه ګورئ د ایمان د یوې نبښي (کعبې) په طفیل ئې دا حرم څنګه خوندي او د امن ځای وګرځولو، نه ګورئ چي له هري خوا؛ د هر موسم؛ راز راز مېوې ورته رادرومي؟! تاریخ ته رجوع وکړي، صفحات ئې واړوئ او وګورئ چي د هغو خلکو شمېر څومره دئ چي مرفه ژوند ئې درلود، خپل معیشت او سوکاله ژوند هغه پړاو ته رسولي ول چي تېری ئې وکړ او له پولو واوښتل او له همدې امله هلاک شول؟! دا دي تشي او وراني مانۍ ئې د عبرت لپاره ترې پاتې، چي لږ خلک د لنډي مودې لپاره په کي پاته شوي، هر څه ئې الله تعالی ته په میراث پرېښودل. نو

سره له دې څنګه د ایمان راوړلو له نتایجو وېرېږئ او د سوکاله او مرفه ژوند له بدو پایلو وېره نه لرئ.

قرآن په بل ځای کې دا حقیقت په دې اغېزناکو الفاظو بیانوي:

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا ءَامِنًا وَيُتَخَطَّفُ ٱلنَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ۚ أَفَبِٱلْبَٰطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ ٱللَّهِ يَكْفُرُونَ ﴿٦٧﴾ العنکبوت: ٦٧

آیا وئې نه لیدل چې موږ (له مکې نه) خوندي او باامنه ټاټوبی جوړ کړ، په داسې حال کې چې د دوی شاوخوا ته خلک تښتول کېږي، نو آیا پر باطل ایمان راوړي او د الله د نعمت ناسپاسي کوي؟!

---

وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهْلِكَ ٱلْقُرَىٰ حَتَّىٰ يَبْعَثَ فِىٓ أُمِّهَا رَسُولًا يَتْلُوا۟ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِنَا ۚ وَمَا كُنَّا مُهْلِكِى ٱلْقُرَىٰٓ إِلَّا وَأَهْلُهَا ظَٰلِمُونَ ﴿٥٩﴾

او ستا رب تر هغه د کلیو هلاکوونکی نه دئ چې په مرکزي برخې کې ئې یو پیغمبر ونه لېږي، چې زما آیتونه پرې ولولي او موږ د کلیو هلاکوونکي نه یو مګر دا چې اوسېدونکي ئې ظالمان وي.

---

(٥٩)- دلته د عذابونو د نزول په اړه الهي سنت بیان شوی، الله تعالی تر هغه پر یوه قوم د عذاب لېږلو پرېکړه نه کوي چې پیغمبر ئې نه وي ورلېږلی، هغه هم په داسې سیمې کې چې ټولو ته مرکزي حثیت ولري، او له هغه ځایه ټولو ته د ده دعوت په آسانۍ ورسېږي، او تر هغه د یوه ولس د هلاکولو فیصله نه کوي چې ظلم ئې څرګند شي. قرآن دا مطلب په بل ځای کې داسې بیانوي:

وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ فِيهِمْ ۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ

(۳۳) الانفال: ۳۳

او الله داسي نه دئ چي دوی تعذيب کړي په داسي حال کي چي ته (اې پيغمبره!) لا په دوی کي يې او الله په داسي حال کي د دوی تعذيبوونکی نه دئ چي دوی د بخښني غوښتونکي وي.

دلته هم د عذابونو د نزول په اړه الهي سنت بيان شوی، د عذاب په راتلو کي د څنډ دوه وجوهات ښودل شوي: په ولس کي د داعي شته والی او په دوی کي د داسي خلکو شته والی چي توبه به کوي او له کفر، شرک او گناه نه به لاس اخلي.

الله تعالی دا ځواب هغه چا ته ورکړی چي په خپله خوله د عذاب نازلېدل غواړي او وايي: ولي په موږ باندي له آسمانه ډبري نه راورېږي؟ الله تعالی فرمايي: زما سنت دا دئ چي د پيغمبر په شته والي کي او تر هغه چي په خلکو کي د توبې او استغفار امکان وي زه خپل عذاب نه نازلوم!!

گورئ چي الله تعالی دا ځواب هغه چا ته ورکړی چي په خپله خوله د عذاب نازلېدل غواړي او وايي: زموږ له شديد مخالفت سره سره ولي په موږ باندي له آسمانه ډبري نه ورېږي او ولي په کوم بل عذاب نه اخته کېږو؟! الله تعالی فرمايي: زما سنت دا دئ چي د پيغمبر په شته والي کي او تر هغه چي په خلکو کي د توبې او استغفار امکان وي زه خپل عذاب نه نازلوم!! په دې سره قريشو ته ويل شوي: تاسو د پيغمبر عليه السلام وژل او شړل غواړئ، خو په دې نه پوهېږئ چي د ده شته والی د الهي عذاب د راتلو مانع دئ، تاسو په خپل لاس هغه ستنه ړنگول غواړئ چي د دردناک الهي عذاب چت ئې تم کړی. د عذاب په راتلو کي د څنډ وجه دا نه ده چي تاسو د الهي عذاب مستحق نه يئ، بلکي وجه ئې دا ده چي د الهي سنت مطابق د راتلو نېټه ئې نه ده رارسېدلې او موانع له منځه نه دي تللي.

راشئ د قرآن دا دقيقه او عادلانه وينا د بايبل له هغې وينا سره مقايسه کړئ چي په همدې اړه او د يونس عليه السلام د بعثت په ارتباط ئې کړې، بايبل ليکي:

"خدای یونس ته دا پیغام ولېږو: د نینوا لوی ښار ته ولاړ شه او اوسېدونکو ته ئې ووایه چې خدای داسې فرمايي: زه ستاسو له شرارتونو غافل نه یم، ډېر ژر به مو هلاک کړم!!

که پر الله تعالی د ایمان په رڼا کې دې خبرو ته ځېر شو نو پوهېږو چې دا نه الهي پیغام کېدی شي او نه د یوه پیغمبر رسالت، داسې پیغامونه یوازې هغه څوک لېږي چې له یوه قوم سره د جنګ اراده لري، داسې پیغامونه د هیټلر او موسولیني په څېر جلادانو ته منسوبول صحیح دي خو الله تعالی ته ئې انتساب لوی ظلم او ستر جسارت دئ، الله تعالی د خپل رحمت او پېرزوینې په سبب او د خلکو د هدایت لپاره پیغمبران لېږي، د عذاب پرېکړه هغه وخت کوي چې د خلکو د هدایت ټولې هڅې ناکامې شي، ولس خپل پیغمبر ته د رد ځواب ورکړي، اتمام حجت وشي، نه د زړه سواندو پیغمبرانو علیهم السلام مسلسل دعوت څه نتیجه ورکړي او نه ئې معجزې، په دې وخت کې خلک په الهي عذاب ګواښل هم معقول کار دئ او هم عادلانه، خو له دې د مخه ګواښل له مهربان رب سره نه ښايي!!

قرآن د قریشو په ځواب کې او هغه مهال چې ویل ئې: دا ولې پر موږ الهي عذاب نه راځي، د عذاب نه راتګ ښيي چې موږ په حقه یو؛ فرمايي:

وَمَا لَهُمْ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللَّهُ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَمَا كَانُوا أَوْلِيَاءَهُ ۚ إِنْ أَوْلِيَاؤُهُ إِلَّا الْمُتَّقُونَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٤﴾ وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَاءً وَتَصْدِيَةً ۚ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٣٥﴾ الانفال: ٣٤_٣٥

او الله به ئې ولې په عذاب نه اخته کوي، په داسې حال کې چې له مسجدالحرام نه (د خلکو) مخنیوی کوي، او دوی ئې (حقیقي) متولیان نه دي، حقیقي متولیان خو ئې

يوازې متقيان دي، خو د دوی ډېری نه پوهېږي. او د بيت الله خوا ته د دوی لمانځنه (او عبادت) له شپېلکي او چکچو پرته بل څه نه وي، نو په سبب د هغه کفر چې تاسو کولو دا عذاب وڅکئ.

يعني دوی د الهي عذاب وړ دي، دا ځکه چې په کفر او د خدای پالني خلاف په خپلي دښمنۍ کې هغه پړاو ته رسېدلي چې له مسجدالحرام نه د خلکو مخنيوی کوي، دا په داسي حال کي چې ځان د مسجد الحرام متوليان گڼي، د دې په ځای چې خلک د مسجدالحرام په لوري راتلو او د الله تعالی عبادت ته تشويق کړي، په دې لار کي خنډونه راولاړوي، دوی په خپله او په خپلو بدو عملونو سره د الله تعالی لوري ته د خلکو د راتلو په وړاندي خنډ او مانع دي، د مسجد الحرام حقيقي متولي خو داسي نه وي، دوی ئې حقيقي متوليان نه دي، دا سپېڅلې دنده چې کومي ځانگړتياوي غواړي په دوی کي نشته، حقيقي متوليان خو ئې متقيان دي، دوی له تقوی محروم او د گناهونو په گنده ډنډ کي تر ستوني غرق، جاهل او ناپوه دي، په دې هم نه پوهېږي چې د بيت الله متولي بايد څنگه وي!! هغه څوک څنگه ځان د مسجد الحرام متولي گڼي چې د بيت الله خوا ته ئې عبادت له شپېلکيو او چکچو پرته بل څه نه وي؟!

له مسجدالحرام نه د دوی د ممانعت دوه صورتونه وو: يو دا چې خپل مخالفين به ئې نه ورته راپرېښودل، له چا سره چې به د دوی دښمني راولاړه شوه هغوی به ئې مسجدالحرام ته له ننوتلو منعه کول او دوهم دا چې د دوی عملونه داسي وو چې د دين په خلاف به د خلکو د کرکي او نفرت باعث وو، کله چې د دين له حقيقت نه بې خبره خلک، د دين مدعيان په گناهونو او فسادونو کي غرق گوري له دين نه ئې زړه تور شي او گمان کوي چې د دې دين اصلي ماهيت همغه دئ چې موږ ئې د دغو خلکو په کړو وړو کي گورو، که په دې دين کي د اصلاح قوت وی نو خپل پلويان به ئې اصلاح کړي وو، د دوی اخلاقي او عملي وضعه به دومره کرکجنه نه وه، نو ځکه

دې ته زړه نه ښه کوي چې د دغه دين خوا ته راشي.

دا آيت د واقعي خدای پال بنده او دوکه شوي ديندار او د الله د دين د واقعي او صادق خادم او دروغجن او ټګمار خادم د پېژندو لپاره يو دقيق محک او معيار زموږ مخې ته ږدي، د الله تعالی مخلص بنده هغه دئ چې:

- د شعائر الله، ديني مقدساتو او خدای پالونکو درناوی کوي.
- د هغه چا مخې ته نه خنډ کېږي او دښمني ورسره نه کوي چې د الله تعالی د عبادت تکل کوي، نه يوازې مخې ته ئې نه خنډ کېږي بلکې مرسته ئې کوي.
- د عبادت په وخت کې به د ده په څېره، الفاظو او حرکاتو کې په څرګنده توګه احساس کړې چې په الله تعالی ايمان لري، له هغه وېرېږي، هغه ته طمعه لري.
- الفاظ ئې د طمعې الفاظ او حرکات ئې د الله تعالی په عظمت له اعتراف نه راولاړ شوي حرکات دي، د يوه هيبت وهلي، خاضع، خاشع او محتاج بنده په توګه د ستر ټولواک په وړاندې ولاړ او په زاريو سره دعاء کوي.

خو هغه چې دوکه شوی ديندار يا د ديني مقدساتو ټګمار خادم دئ داسې به ئې ګورې چې:

- نه ئې په څېره کې له الله تعالی نه د وېرې او هيبت نښې او آثار تر سترګو کېږي، نه په الفاظو کې او نه په حرکاتو کې.
- د عبادت په وخت او معبد کې به ئې په لهو و لعب بوخت ومومې، همغسې لکه چې قريشو به د طواف په وخت او د بيت الله خوا ته شپېلکې کول او چکچې به ئې وهلې او همغسې لکه چې نن ځينې خلک د ذکر په حلقو کې ډول او دبلې ته غورځي، پرځي، څنې اچوي، قوالي سندرې وايي، د هو هو چيغې وهي او د جذبې په نامه مستې کوي.
- له خدای پالونکو سره به دښمني کوي، کافر ته به پر مؤمن ترجيح ورکوي، له

خدای او دین نه منکر او باغي انسان سره به دوستي کوي او د هغه چا په ضد به ئې مرسته کوي چې دیندار دئ او د الله په عبادت او لمانځني بوخت.

د دوی په مقابل کې د دیانت او دیني مشرتابه دروغجن مدعي هغه دئ چې:

- دیني او مذهبي منصب په میراث ورته پاته شوی، د نېک پلار بد ځای ناستی، له هغو ځانګړتیاوو نه بې برخې چې د مذهبي قیادت او مشرتابه لپاره ضروري دي.
- د دې په ځای چې په قول او عمل سره خلک د دین لوري ته تشویق کړي په خپله د دین په وړاندې خنډ وي، واقعي دین ته د خلکو د راتلو مانع ګرځي.

---

وَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيْءٍ فَمَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَزِينَتُهَا ۚ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰٓ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٠﴾

او (له راز راز) شیانو نه چې څه تاسو ته درکړی شوي دا ټول د دنیوي ژوند متاع او د ښایست (اسباب) دي، او څه چې له الله سره دي هغه غوره او تر ټولو زیات پاته کېدونکي دي، نو آیا تعقل نه کوئ؟!

---

(٦٠)- دلته د مخکني مطلب په دوام کې ویل شوي چې ستاسو هر څه یا د څو ورځو ژوند لپاره د تمتع او ګټې اخیستو وسایل دي او یا د زینت او ښایست اسباب، دې ته د هدف په سترګه مه ګورئ، تر هغه څه ئې غوره مه ګڼئ چې د ایمان په نتیجه کې ئې د الله تعالی په خوا کې ترلاسه کوئ، هغه غوره دي او تلپاته.

---

أَفَمَن وَعَدْنَٰهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ لَٰقِيهِ كَمَن مَّتَّعْنَٰهُ مَتَٰعَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ثُمَّ هُوَ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ مِنَ ٱلْمُحْضَرِينَ ﴿٦١﴾

نو آیا هغه چې د غوره وعدې ژمنه مو ورسره کړې چې هغه به ورسره مخامخ

کېدونکی وي د هغه چا په څېر دئ چي د دنیوي ژوند متاع مو ورپه برخه کړې بیا به هغه د قیامت په ورځ له حاضر کړی شوو څخه وي؟!

(٦١)- دلته دوه کسان د مخاطب مخي ته انځور شوي: یو ئې هغه چي الله تعالی غوره وعده ورسره کړې، دا له ده سره شوې وعده په دنیا او آخرت کي هرومر ترسره کېدونکې ده، او بل ئې هغه چي دنیوي متاع ئې ورپه برخه کړې خو د قیامت په ورځ به د الله تعالی په وړاندي د محاسبې لپاره حاضر کړی شي. ووایئ کوم یو بختور دئ، د کوم په څېر کېدل غواړئ؟

وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٦٢﴾ قَالَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْقَوْلُ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَغْوَيْنَآ أَغْوَيْنَٰهُمْ كَمَا غَوَيْنَا تَبَرَّأْنَآ إِلَيْكَ مَا كَانُوٓاْ إِيَّانَا يَعْبُدُونَ ﴿٦٣﴾ وَقِيلَ ٱدْعُواْ شُرَكَآءَكُمْ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيبُواْ لَهُمْ وَرَأَوُاْ ٱلْعَذَابَ لَوْ أَنَّهُمْ كَانُواْ يَهْتَدُونَ ﴿٦٤﴾

او هغه ورځ چي ورغږ به کړي او وبه وایي: زما هغه شریکان چېري دي چي (زما د شریکانو) ګمان مو (پرې) کاوو؟ هغه کسان چي (الهي) وینا ئې په اړه ترسره شوې وایي به: اې زموږ ربه! دا هغه دي چي موږ بې لاري کړي ول، همغسي مو بې لاري کړي ول چي موږ په خپله بې لاري شوي وو، ستا په وړاندي (ترې) بې زاره کېږو، دوی زموږ عبادت نه کاوو. او وبه ویل شي: خپل شریکان (مرستي ته) دروبلئ! نو وروبه ئې بلي خو دوی ته به ځواب نه ورکوي او عذاب به وګوري (او وبه وایي) ای کاش چي لار ئې موندلې وی.

(٦٢-٦٤)- دلته د قیامت په ورځ د هغو دوو کسانو دردوونکی حالت انځور شوی

چې يوه ئې بل بې لارې کړ، يو ئې د مال، جاه او اقتدار خاوند وو، د نورو مشرۍ ورپه غاړه وه، خو بې لارې وو، بل ئې په همدې بې لارې مشر پسې روان وو او د دې په ځای چې د الله تعالی بندګي وکړي د همدې مشر د غلامۍ او بندګۍ کړۍ ئې په خپلې غاړې کې اچولې وه، په حقيقت کې ئې هغه د خپل رب شريک ګرځولې وو، الله تعالی به پوښتنه ترې وکړي: هغه ذوات چېرې دي چې ګمان مو کاوو زما شريکان دي؟!! کشران به ساکت وي او مشران به ځواب ورکړي: دا دي هغه خلک چې موږ بې لارې کړي ول، همغسې مو بې لارې کړي ول چې موږ په خپله بې لارې شوي وو، لکه چې موږ په خپله خوښه د ضلالت لار غوره کړې وه، دوی هم په خپله خوښه او زموږ له جبر او اکراه پرته په موږ پسې راغلل او بې لارې شول، اوس ستا په وړاندې خپله بې زارې ترې اعلانوو، او وايو چې دوی زموږ عبادت نه کاوو، بلکې د خپل هوس بندګان ول، کشرانو ته به ووېل شي: خپل شريکان (مرستې ته) دروبلئ! نو وروبه ئې بلې خو دوی ته به ځواب نه ورکوي او په بدل کې به ئې الهي عذاب تر سترګو شي او وبه وايي: ای کاش چې په سمه لار تللي وی.

- ګورئ چې دلته د لاروركو مشرانو اطاعت داسې ښودل شوی لکه هغوی په الوهيت کې له الله تعالی سره شريکول، د قرآن په ګڼ شمېر نورو آيتونو کې هم په پټو سترګو د بې لارې مشرانو اطاعت د شرک مترادف ښودل شوی، په دنيا کې ئې له دوی طمعه درلوده، دغې طمعې د دوی اطاعت ته چمتو کول، نو ځکه به د قيامت په ورځ ورته ووېل شي چې اوس ئې هم مرستې ته دروبلئ، دوی به بيا هم ورغږ کړي خو هيڅ ځواب به ترلاسه نه کړي، له خپل شرک او د لار ورکو مشرانو له غلامۍ نه به بې بيزاره وي خو هيڅ ګټه به نه وررسوي.

---

وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ مَاذَآ أَجَبْتُمُ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٦٥﴾ فَعَمِيَتْ عَلَيْهِمُ ٱلْأَنۢبَآءُ

يَوْمَئِذٍ فَهُمْ لَا يَتَسَآءَلُونَ ﴿٦٦﴾

او هغه ورځ چې ورغږ به کړي او وبه وايي: پيغمبرانو ته مو څه ځواب ورکړ؟ نو په دې ورځ به خبرې ترې ورکې شي او يو به بل نشي پوښتی.

---

(٦٥-٦٦)- د قيامت په ورځ به ترې پوښتنه وشي چې خپل خپل پيغمبر ته ستاسو ځواب څه وو؟ کله چې هغوی تاسو ته بلنه درکوله چې پر الله تعالی او آخرت ايمان راوړئ څه ځواب مو ورکړ؟! له هغوی نه به ځواب ورک شي، خبره به نشي کولی، د ويلو لپاره به څه نلري او يو به له بله پوښتنه هم نشي کولی.

---

فَأَمَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَعَسَىٰٓ أَن يَكُونَ مِنَ ٱلْمُفْلِحِينَ ﴿٦٧﴾

او هغه چې توبه ئې وکړه، ايمان ئې راوړ او صالح عمل ئې وکړ نو هيله ده چې له برياليو څخه وي.

---

(٦٧)- د پورتنيو دوو ډلو په مقابل کې هغه خلک دي چې له کفر او شرک نه لاس اخلي او د خپل رب لوري ته ورگرځي، ايمان راوړي او صالح عملونه کوي، هيله ده چې همدا توبه، ايمان او صالح عمل ئې بريا په برخه کړي، ولې دلته د (عسی) لفظ کارول شوی چې د يقين په ځای احتمال په گوته کوي، ځينې مفسرين وايي چې کله دا لفظ د الله تعالی له لوري وي نو د يقين معنی ورکوي، خو غوره توجيه دا ده چې توبه، ايمان او صالح عمل د ثبات او دوام غوښتنه کوي، يو ځلي کار نه دئ چې د هغه له مخې وروستی او يقيني پريکړه وشي، که ثبات او دوام ونه کړي کېدی شي دا توبه، ايمان او صالح عمل په يقيني بريا منتج نشي.

وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ مَا كَانَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ
وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٦٨﴾ وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ وَمَا
يُعْلِنُونَ ﴿٦٩﴾ وَهُوَ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ لَهُ ٱلْحَمْدُ فِى ٱلْأُولَىٰ وَٱلْءَاخِرَةِ وَلَهُ
ٱلْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٧٠﴾

او ستا رب چي څه غواړي پیدا کوي ئې او غوره کوي ئې، اختیارول (ئې) له دوی سره نه دئ، پاکي الله لره ده او لوړ دئ له هغه څه چي دوی ئې (ورسره) شریکوي. او ستا رب په هغه څه هم پوهېږي چي د دوی سینې ئې پټوي او په هغه څه هم چي څرګندوي ئې. دی هغه الله دئ چي له ده پرته معبود نشته، ستاینه مخکي او وروسته ده لره ده، او حکم (صادرول) د ده (کار) دئ او د ده لوري ته ګرځول کېږئ.

---

(۶۸-۷۰)- دا مبارک آیتونه د توحید او شرک په اړه څو ستر ستر حقایق زموږ مخي ته ږدي:

- پر الله تعالی د ایمان معنی دا ده چي هغه یوازنی خالق او پیدا کوونکی ومنو، او دا د الله تعالی کار وګڼو چي څه او څوک د کوم ځانګړي کار لپاره غوره کوي او د هغه کار د ترسره کولو توان او توفیق ورکوي، په دې دواړو کي هیڅوک له الله تعالی سره شریک نه کړو، نه په خلقت کي او نه غوراوي او اختیار کي، الله تعالی له دې ډېر لوړ وبولو چي څوک په دې چارو کي ورسره شریک وي. په دې باور وو چي الله تعالی په هر څه پوهېږي، په پټو او څرګندو، حاضر او غائب، ماضي، حال او مستقبل، هغه یوازنی معبود ومنو، له هغه پرته هیڅوک او هیڅ څه د لمانځني او

عبادت وړ ونه ګڼو، له هر عیب او نقص لوړ او د ټولو ستاینو وړ، پرېکړې د ده له لوري صادرېږي، قضایا ده ته راجع کېږي او د هر څه په اړه وروستۍ پرېکړه د ده لوري وي، او په پای کې د ده لوري ته ورګرځول کېږو.

- او شرک یعني دا چې له الله تعالی پرته د بل چا په اړه دا عقیده ولرو چې د پیداینښت په چارو کې ونډه لري، بل ته د مال او اولاد ورکوونکی، له بېماریو رغوونکی، له کړاوونو ژغورونکی او د مشکلاتو حلوونکی وبولو، یوه ته ئې هغه اوصاف او صلاحیتونه منسوب کړو چې د الله تعالی لپاره مختص دي او بل ته ئې هغه واکونه او اختیارونه ورکړو چې الله تعالی هیڅ مخلوق ته نه دي ورکړي، له الله تعالی پرته بل چا ته لمن ونیسو، مرسته ترې وغواړو، لمانځنه ئې وکړو او په وړاندې ئې د دعاء لاسونه اوچت کړو، حاضر او ناظر ئې وبولو او په غیب پوه ورته ووایو او په دې باور وو چې هغه مو له لرې غږ اوري او دعاء مو په خپله او یا پر الله تعالی قبلوي!!

---

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمُ ٱلَّيْلَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ مَنْ إِلَـٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِضِيَآءٍ ۖ أَفَلَا تَسْمَعُونَ ﴿٧١﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمُ ٱلنَّهَارَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ مَنْ إِلَـٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِلَيْلٍ تَسْكُنُونَ فِيهِ ۖ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٧٢﴾ وَمِن رَّحْمَتِهِۦ جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ لِتَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾

ووایه: که الله دا شپه د قیامت تر ورځې درباندې تلپاتې کړي، له الله پرته بل معبود څوک دئ چې رڼا درته راوړي؛ نو آیا نه اورئ؟! ووایه: که الله دا ورځ د

قیامت تر ورځې درباندې تلپاتې کړي، له الله پرته بل معبود څوک دئ چې شپه درته راوړي چې پکې آرام وکړئ، آیا نه ګورئ؟! او د خپلې پېرزوینې له امله ئې شپه او ورځ درته جوړه کړه چې پکې آرام وکړئ او چې د ده فضل ولټوئ او ترڅو شکر وکړئ.

(۷۱-۷۳)- په دې مبارکو آیتونو کې د مخکنې مهم مطلب د اثبات لپاره څو دلایل وړاندې شوي:

- دا ستاسو شپه چې د خاص مصلحت له مخې په خاص او دقیق تناسب ټاکل شوې، کله لنډه او کله اوږده شي، خو خپل دقیق او ثابت تناسب مراعاتوي او په دې سره د زمکې پر سر د انسان لپاره لازم او ضروري شرایط برابرېږي، که په دې تناسب کې تغییر راشي نو د زمکې پر سر به هیڅ ژوی پاته نشي، نه انسان، نه حیوان او نه هغه ونې او بوټي چې انسان ته مېوې او دانې جوړوي، که الله تعالی وغواړي چې دا شپه دومره اوږده کړي چې د قیامت تر ورځې دوام وکړي، لمر او زمکه له حرکته ودرېږي؛ آیا داسې ذات مومئ چې شپه مو په ورځې بدله کړي؟ که داسې څوک نه مومئ نو څنګه له الله تعالی پرته بل چا ته د دعاء لاسونه لوړوئ او مرسته ترې غواړئ؟!!
- که الله تعالی وغواړي چې دا ورځ مو تلپاتې کړي او د قیامت تر ورځې ئې اوږده کړي؛ آیا داسې څوک مومئ چې ورځ پای ته ورسوي او شپه راولي چې تاسو د هغې په غېږ کې څو شېبې آرام وکړئ؟! که داسې ځواک په ټول عالم کې په نظر نه درځي نو ولې له الله تعالی پرته بل چا ته لمن غوړوئ او مرستې ته ئې دربلئ؟!!
- مګر دې ته پام نه کوئ چې الله تعالی شپه او ورځ داسې پیدا کړي چې تاسو ورته اړ یئ، شپه د خوب او آرام لپاره او ورځ د معیشت د تأمین لپاره، تاسو خوب ته ضرورت لرئ، داسې یوه فرصت ته چې په ورځنې کار کې خپله مصرف شوې

انرژي او قوت جبران کړئ، دمه وکړئ، اعصاب مو لږ آرام وکړي او ستړيا مو رفع شي، الله تعالی ته داسي پيدا کړي يې چي له څه وخت کار نه وروسته خوب درباندي غلبه وکړي، په خپله راشي، ستا له اجازې او موافقې پرته راشي، لاس، پښې دروتړي او له ځان سره دي بوځي، د خوب مهار ئې ستا په واک کي نه دئ درکړی، بلکي ستا مهار ئې د هغه لاس ته ورکړی، چي کله ستومانه شې او ستا ستوماني او ضعف هغه ځای ته ورسېږي چي نور نو هيڅ کار نه شې کولی، ناڅاپه دي خوب خوا ته راشي، ستا کار درباندي متوقف کړي، ستا د وجود بېلابېلو برخو ته دا فرصت ورکړي چي خپلي نيمګړتياوي پوره کړي، خپله ستوماني رفع کړي او د راتلونکي پړاو لپاره کار ته ځان چمتو کړي، ګورې چي ( ستا په خوب) کي څومره ستر مصلحت او حکمت پروت دئ!! که (خوب) نه وی او يا ئې مهار د انسان په واک کي وی، څومره ستر ستر مصيبتونه به ئې انسان ته راولاړ کړي وو؟!! حريصو انسانانو به خپل ټول توان او ځواک په لنډي مودې کي مصرفاوو، خپله روغتيا به ئې په خطر کي اچوله او خپل ژوند به ئې د مرګ له ګوابښ سره مخامخ کاوو!! تاسو د دغه (خوب) لپاره دوو شيانو ته ضرورت لرئ: تياره او خاموشي، نه په رڼا کي سم او ژور خوب کولی شئ او نه له شور او ځوګ نه ډک محيط کي، ناڅاپي ګورې چي شپه ستا مرستي ته راشي، خپل تور وزر په هر څه او هر ځای وغوړوي، غږونه خاموش شي، هر د غږ خاوند د خوب غېږ ته پناه يوسي او په دې سره ستا د خوب لپاره مناسب شرايط برابر شي. بيا تاسو د خپل ژوند مخکي بيولو او د خپل معاش او رزق، روزي د تأمين لپاره ورځي ته ضرورت لرئ، ترڅو د هغې په رڼا کي هر څه وپېژنئ، مفيد له مضر نه تفکيک کړئ، دوست له دښمن نه بېل کړئ او په خپل چاپېريال کي د شته توکو د کارولو امکان ترلاسه کړئ. د زمکي او آسمانونو خالق زمکه داسي جوړه کړې او د زمکي او لمر ترمنځ فاصله او د زمکي حرکت په خپل محور او د لمر په محور ئې داسي تنظيم کړی چي کله د زمکي پر سر شپه وي او

کله ورځ، نه شپه هومره اوږده وي چې زمکه تر ضرورته زیاته سړه شي او نه ورځ هومره اوږده چې زمکه تر لازم حده زیاته توده شي، باید یوه په بلې پسې راشي، تر هغه ستا خوا ته پاتې شي چې ضروري وي، ستا اړتیا رفع کړي، خپل کارونه ترسره کړي، بېرته ولاړه شي او خپل ځای بلې ته خالي کړي!! که دا دقیق نظم نه وی، شپه او ورځ تر خپل اوسني وخت لنده یا اوږده وی، د لمر او زمکې تر منځ واټن کم یا زیات وی، د زمکې چورلېدل او خوځېدل تند یا سست وی، نو د زمکې پر سر به ژوند ممکن نه وو.

---

وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٧٤﴾ وَنَزَعْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا فَقُلْنَا هَاتُوا۟ بُرْهَٰنَكُمْ فَعَلِمُوٓا۟ أَنَّ ٱلْحَقَّ لِلَّهِ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿٧٥﴾

او هغه ورځ چې ورغږ به کړي او وبه وايي: زما هغه شریکان چېرې دي چې (زما د شریکانو) گمان مو (پرې) کاوو؟ او له هرې ډلې به یو گواه راوباسو او وبه وایو: خپل دلایل راوړاندې کړئ، نو پوه به شي چې حق د الله په خوا دئ او هغه څه به ترې ورک شي چې له ځانه ئې په دروغو جوړول.

---

(٧٤-٧٥)- دلته د قیامت د ورځې مځکنۍ صحنه له یوه بله اړخه انځور شوې: الله تعالی به له مشرکانو نه پوښتنه وکړي چې هغه معبودان مو چېرې دي چې د زما د شریکانو گمان مو پرې کاوو، بیا به له هر قوم نه د هغوی پیغمبر د گواه په توگه راوړاندې کړی شي چې د دوی په خلاف به گواهي ورکوي، بیا به دوی ته وویل شي چې خپل دلیل او شاهد وړاندې کړئ! پوه به شي چې حق د الله تعالی په خوا دئ، دوی نه د خپل شرک په دفاع کې کوم عذر وړاندې کولی شي، نه دلیل او نه گواه،

هغه شرکي افکار او له ځانه جوړ کړي دروغجن معبودان به ترې ورک وي او مرسته به ئې نشي کولی!!

---

إِنَّ قَٰرُونَ كَانَ مِن قَوْمِ مُوسَىٰ فَبَغَىٰ عَلَيْهِمْ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ مِنَ ٱلْكُنُوزِ مَآ إِنَّ مَفَاتِحَهُۥ لَتَنُوٓأُ بِٱلْعُصْبَةِ أُو۟لِى ٱلْقُوَّةِ إِذْ قَالَ لَهُۥ قَوْمُهُۥ لَا تَفْرَحْ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْفَرِحِينَ ﴿٧٦﴾ وَٱبْتَغِ فِيمَآ ءَاتَىٰكَ ٱللَّهُ ٱلدَّارَ ٱلْءَاخِرَةَ ۖ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ ٱلدُّنْيَا ۖ وَأَحْسِن كَمَآ أَحْسَنَ ٱللَّهُ إِلَيْكَ ۖ وَلَا تَبْغِ ٱلْفَسَادَ فِى ٱلْأَرْضِ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٧٧﴾

يقيناً چي قارون د موسی له قومه وو، چي پر دوی ئې تېری وکړ، له خزانو مو دومره ورکړې وې چي کونجياني به ئې يوې ځواکمني ډلي ته درنې وې، کله چي خپل قوم ورته وويل: (په دې) مه وياړه، يقيناً چي الله وياړونکي نه خوښوي، په هغه څه کي چي الله درکړي د آخرت کور ولټوه او خپله دنيوي برخه دي هم مه هېروه او همغسي (له نورو سره) ښېګڼه کوه چي الله له تا سره ښېګڼه کړې او په زمکي کي فساد مه لټوه، يقيناً چي الله مفسدين نه خوښوي.

---

۷۶-۷۷ دلته څو خبرو ته توجه ولرئ:

- له قارون سره مبارزه هغه مهال رامنځته شوه چي موسی عليه السلام له بني اسرئيلو سره يو ځای له مصره ووتل، د سينا په صحرا کي د اوسېدو په دوران کي د ده ستونزه راولاړه شوه.

- دا ښيي چې له قارونانو سره مقابله او په ټولنې کې اقتصادي اصلاحات باید د انقلاب له بري وروسته او هغه مهال پلي او ترسره شي چې د فرعونانو واکمني نسکوره شوې وي، په مبارزې کې دې موضوع ته پاملرنه زيات اهميت لري، تر څو چې انقلاب بري ته نه وي رسېدلی ټوله توجه باید یوې جبهې ته مبذول شي، خپل ټول توان طاقت باید اصلي دښمن او لومړنۍ جبهې ته متوجه کړو، په نورو جبهو کې او د دوهمې او درېيمې کچې له دښمنانو سره په نښتو کې ښکېل نشو، مګر دا چې دښمن ئې زموږ مخې ته راوړاندې کړي، دا سوره موږ ته لارښوونه کوي چې د مبارزې په لومړي پړاوو کې باید خپل ټول توان طاقت د ستر دښمن په ضد جنګ ته سوق کړو، په نورو جبهو کې ثانوي او غیرضروري فعالیتونه متوقف کړو او په بل جنګ او په وړو جبهو کې له مصروفېدو ډډه وکړو. دا صحيح نه ده چې په یوه وخت کې په ډېرو جبهو کې مصروف شو او په ګڼ شمېر محاذونو کې خپل محدود ځواک ووېشو. دښمنان باید درجه بندي کړو، لومړی باید د لوی او اصلي دښمن چاره وکړو، حج موږ ته همدا درس راکوي چې د جمراتو د رمي په ورځو کې لومړۍ ورځ د جمرة الکبرٰی د رمي ورځ ده، جمرة الاولٰی او جمرة الوسطٰی په دوهمه او درېيمه ورځ رمي کېږي، په لومړۍ ورځ د دواړو لخوا نه آرام تېرېږو، له رمي نه ئې ډډه کوو او ځان جمرة الکبرٰی ته رسوو، لوی دښمن ته، د وړو دښمنانو ترشا ولاړ دښمن ته، اصلي کار چې ترسره شي واړه او فرعي کارونه له څه زحمت نه پرته ترسره کېږي، زموږ تېره تجربه؛ د شوروي اتحاد ماتې؛ په همدې حقیقت شهادت ورکوي. پیغمبر علیه السلام سود هغه مهال تحریم کړ چې مکې ته د فاتح په توګه ننوت او انقلاب پر اصلي او ځواکمن دښمن وروستۍ بریا ترلاسه کړه.
- قارون د بني اسرائیلو له یوې قبیلې څخه وو، د فرعون ملګرتیا ئې کوله، د همدې ملګرتیا له امله د ډېرو شتمنیو خاوند شو، له مصره د بني اسرائیلو د وتلو پر مهال دی هم دې ته اړ شو چې له قوم سره یو ځای ووځي، ځان ئې په مصر کې

خوندي نه ليدو، له وتلو پرته ئې بله چاره نه درلوده. خو د بغاوت لار ئې غوره کړه، له خپلو شتمنيو نه په استفادې سره د فساد خورولو په لټه کې وو.

- د قوم صالح شخصيتونو ورته نصيحت وکړ چې له فساده لاس واخله، له خپلې شتمنې داسې کار واخله چې هم دې آخرت ښه شي او هم خپله دنيوي برخه ترلاسه کړې، له محتاجو خلکو سره داسې احسان وکړه لکه چې الله تعالی له تاسره احسان کړی. خو ده نصيحت کوونکو ته همغه ځواب ورکړی چې هر مفسد او له الله تعالی غافل بډای او شتمن ئې ورکوي، قرآن د ده ځواب په دې توګه رانقلوي:

---

قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلْمٍ عِندِيٓ ۚ أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ قَدْ أَهْلَكَ مِن قَبْلِهِۦ مِنَ ٱلْقُرُونِ مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَأَكْثَرُ جَمْعًا ۚ وَلَا يُسْـَٔلُ عَن ذُنُوبِهِمُ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٧٨﴾

وئې ويل: له دې پرته بل څه نه دي چې ما ته راکړل شوی (مال او دولت) زما د هغې پوهې او هنر نتيجه ده چې زه ئې لرم، آيا په دې نه پوهېدو چې الله تر ده د مخه ډېر داسې خلک هلاک کړل چې زور ئې تر ده زيات او راټول کړی (مال او دولت) ئې تر ده ډېر وو؟ او له مجرمانو نه د دوی د ګناهونو (د څرنګوالي او لاملونو) پوښتنه نه کېږي.

---

(٧٨)- د قارون ځواب دا وو: څه چې لرم زما د هنر او کمال؛ او زيار او زحمت نتيجه ده، په لاس ته راوړو کې ئې نه د چا د احسان او پېرزونې مرهون او پوروړی يم او نه ئې چا ته په څه ورکولو مکلف!! الله تعالی ده او ده ته ورته مغرورو او بخيلو شتمنو ته په ځواب کې فرمايي: آيا نه پوهېږي چې تر ده د مخه مو داسې شتمن خلک هلاک کړل چې هم ئې ځواک او قوت تر ده زيات وو او هم ئې شتمنې، خپل

قوت او شتمنيو مغرور کړي ول او غرور او بخل باعث شو چي د الله تعالی په سخت عذاب اخته شي، هغه مهال چي د الله تعالی عذاب پرې نازلېدو نو د ګناهونو (د څرنګوالي او لاملونو) پوښتنه نه ترې کېده، دا ورته نه ويل کېدل چي شتمني دي څنګه او له کوم هنر او کمال نه په استفادې سره او د کومې ګناه د ارتکاب له لارې تر لاسه کړه؟!! له هر مجرم بدای سره به همدا معامله کېږي.

---

فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ فِي زِينَتِهِۦ ۖ قَالَ ٱلَّذِينَ يُرِيدُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا
يَٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَآ أُوتِىَ قَٰرُونُ إِنَّهُۥ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴿٧٩﴾ وَقَالَ
ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ ٱللَّهِ خَيْرٌ لِّمَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ
صَٰلِحًا وَلَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلصَّٰبِرُونَ ﴿٨٠﴾ فَخَسَفْنَا بِهِۦ وَبِدَارِهِ ٱلْأَرْضَ
فَمَا كَانَ لَهُۥ مِن فِئَةٍ يَنصُرُونَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَمَا كَانَ مِنَ
ٱلْمُنتَصِرِينَ ﴿٨١﴾ وَأَصْبَحَ ٱلَّذِينَ تَمَنَّوْا۟ مَكَانَهُۥ بِٱلْأَمْسِ يَقُولُونَ
وَيْكَأَنَّ ٱللَّهَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ وَيَقْدِرُ ۖ لَوْلَآ أَن
مَّنَّ ٱللَّهُ عَلَيْنَا لَخَسَفَ بِنَا ۖ وَيْكَأَنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٨٢﴾

نو د خپل قوم په وړاندي له خپل شأن او شوکت سره راووت، هغو چي د دنيوي ژوند په لټه کي ول وئې ويل: کاش زموږ هم دغه حالت وی چي د قارون په برخه شوی! يقيناً چي دی د لويي برخي خاوند دئ او هغو چي علم ئې په برخه شوی وو وئې ويل: افسوس ستاسو په حال، الهي ثواب او بدله

هغه چا ته چې ايمان ئې راوړی او نېک عمل ئې کړی (تر دې ډېر) غوره دئ او دا خو يوازې د صابرانو په برخه کېدی شي، نو دی او د ده کور مو په زمکه کې ښخ کړ، نو له الله پرته ئې نه کومه ډله وه چې مرسته ئې وکړي او نه وو له انتقام اخيستونکو څخه، او هغه چې پرون ئې د ده د مقام او مرتبې تمنا کوله داسې شول چې ويل ئې: او هو ! خبره خو دا وه چې په حقيقت کې دا الله دئ چې د خپلو بندګانو نه چې چا ته وغواړي رزق ورته پراخوي او تنګوي، که دا نه وی چې الله پر موږ احسان وکړ نو موږ به ئې هم په زمکې کې ننويستلي وو، او هو! حقيقت خو دا دئ چې کافران هيڅکله نه شي ژغورل کېدئ.

---

(۷۹-۸۲)- دلته د ولس په وړاندې د قارون د څرګندېدو او د ده حالت ته په پام سره د خلکو د دوو ډلو ويناوو او غبرګون ته په دې توګه ګوته نيول شوې:

- ولس ته به له غولوونکې شأن او شوکت سره، په فاخره جامو کې او په ګاڼو سمبال راووت.
- ضعيف النفسه، له آخرته غافل او په دنيوي لذتونو پسې لالهاندو خلکو به د ده غولوونکې حالت ته په پام سره ويل: ای کاش موږ ته هم همغسې څه راکړی شوي وی چې قارون ته ورکړی شوي، هغه خو له شکه پرته ډېر بختور دئ.
- د ايمان او علم خاوندانو به دغو ضعيف النفسو وګړو ته ويل: افسوس ستاسو په حال، الهي ثواب او بدله هغه چا ته چې ايمان ئې راوړی او نېک عمل ئې کړی تر دې ډېر ډېر غوره دئ او دا خو يوازې د صابرانو په برخه کېدی شي، هغه چې پر خپل حلال رزق اکتفاء کوي او حرامو ته لاس نه غزوي.
- الله تعالی قارون او د ده کور او کورنۍ يو ځای په زمکه کې ښخ کړل، له الله تعالی پرته ئې نه داسې ډله ومونده چې مرسته ئې وکړي او نه ئې په خپله له ځانه

دفاع کولی شوی.

- چا چې پرون د ده د مقام او مرتبې تمنا کوله، د ده د پایلي په لیدو سره ئې وویل: خبره خو دا ده چې په حقیقت کي دا الله دئ چې د خپلو بندګانو رزق پراخوي او تنګوي، که الله تعالی پر موږ احسان نه وی کړی نو موږ به ئې هم په زمکي کي ننویستلي وو، حقیقت خو دا دئ چې کافران هیڅکله د خپل کفر او ظلم له بدو پایلو نه ژغورل کېږي.

---

تِلْكَ ٱلدَّارُ ٱلْأَخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي ٱلْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا ۚ وَٱلْعَٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٨٣﴾

دا اخروي کور خو د هغه چا لپاره ټاکو چې په زمکي کي نه لويي غواړي او نه فساد، او غوره پایله د متقیانو ده.

---

(۸۳)- الله تعالی د آخرت غوره ﻣﻬشت ځای د هغه چا لپاره ټاکلی چې نه په زمکي کي د خپلي لويي په لټه کي وي او نه د فساد خورولو په لټه کي، د دنیا او آخرت نېکه پایله د هغو متقیانو ده چې له کبر او فساد نه ډډه کوي.

ګورئ چې قرآن په څومره حکیمانه انداز د قارون او د ده د شأن او شوکت تر اغېز لاندي د تللو ضعیف الایمانو کسانو حالت او پایله بیانوي او د دوی په وړاندي د واقعي مؤمنانو حالت څنګه انځوروي؟!! قرآن فرمايي چې موسی علیه السلام د فرعون، هامان او قارون مقابلې ته لېږل شوی وو، قارون د موسی له قومه او اسرائیلي وو خو د خپل قوم په ضد له فرعون سره ملګری شوی او په ټولو تېریو کي ئې د هغه ملګرتیا کوله، قارون په خپل کور کي له ټولي کورنۍ سره په زمکي کي خسف شو او فرعون له خپلو لښکرو سره په سیند کي غرق شو.

راشئ وګورو چې بایبل په دې اړه څه چټیات ویلي: بایبل تر دې عنوان (وتي)

لاندې ليکي چې خدای موسی ته وفرمايل: اسرائيليانو ته ووايه چې د خپلو جامو په لمنو کې له تاره جوړ شوي وتې (ځوندي) په شنه تار وځړوئ او دا به تل ستاسو د ټولو نسلونو لپاره يو دود وي، دغه وتې به تاسو ته زما احکام درياد‌وي!! او ورپسې د موسی عليه السلام په ضد د رؤبين د قبيلې د دريو مشرانو د بغاوت يادونه کوي او ليکي چې په دې کې د لاويانو د قوم دوه سوه پنځوسو منتخبو مشرانو هم برخه اخيستې وه، غوښتل ئې د موسی عليه السلام مشري پای ته ورسوي، ... موسی دوی ته وويل: آيا ستاسو لپاره مخکني امتيازات کافي نه دي، چې اوس د کاهني مقام هم غواړئ؟ ... موسی غصه شو او خدای ته ئې وويل: نور نو د دوی قرباني مه قبلوه... سبا ټول قوم د موسی په وينا د عبادت د خيمې خوا ته راغونډ شو، ... د خدای جلال ټولو اسرائيليانو ته راڅرگند شو، خدای موسی او هارون ته وويل: د دې قوم له څنگه لرې شئ چې فوراً ئې هلاک کړم... خو موسی او هارون په سجده پرېوتل او وئې ويل: ... آيا د يوه کس د گناه لپاره په ټول قوم غصه کېږې؟ ... نو خدای وويل: اسرائيليانو ته ووايه چې د قورح، دوتان او ابيرام له خيمو لرې شي.... همداسې ئې وکړل... ناڅاپي زمکه وچاوده او دا درې کسان له خپلو کورنيو سره په کې ښخ شول... بيا د خدای له لوري يو اور راغی او هغه دوه نيم سوه کسان ئې وسوزول (دا دوه نيم سوه کسان چې په توطئې کې ئې برخه اخيستې وه د معبد خادمان وو، سپېلنې به ئې دودول، هر يوه ځان ته د سپېلنيو دودولو سامان او لوازم جوړ کړي وو او له قربانيو او هديو نه به ئې خپله برخه ترلاسه کوله).... يوه ورځ وروسته اسرائيليانو بيا له موسی نه شکايت وکړ... بيا خدای په ورېځو کې راڅرگند شو... څوارلس زره اوه سوه کسان ئې ترې ووژل شول!!! ليکې چې شخړه د زعامت پر سر وه، خلکو د هارون مشري نه منله... په پای کې دا لانجه داسې پای ته ورسېده چې خدای موسی ته وويل: ټول مشران دې خپلې عصاگانې تا ته راوړي، په هرې عصا د هغه د خاوند نوم وليکه... د عهد صندوق خوا ته ئې کېږده... هغه څوک چې

زه ئې د مشرۍ لپاره غوره کوم عصا به ئې غوټۍ وکړي... همداسي ئې وکړل... سبا چي د عبادت خيمې ته ننوت نو وئې ليدل چي د هارون عصا غوټۍ کړې، ګل ترې ټوکېدلی او بادام ئې کړی... موسی ټولي عصاګاني راوايستې او هر چا خپله عصا واخيسته... خو سره له دې اسرائيليانو خپل شکايتونه تر مخکي نه هم زيات کړل. ښايي ويل به ئې چي موسی (عليه السلام) د هارون د عصاء په ځای د بادام د وني تازه څانګه ودرولې!!

داسي معلومېږي چي د بايبل ليکونکي په تورات يا انجيل کي د قارون د خسف کېدو خبر لوستی او ده ترې دا قصه جوړه کړې، په دې کي هيڅ شک نشته چي په تورات او انجيل کي به د قارون قصه په همغه بڼې کي راغلې وي چي په قرآن کي راغلې، قرآن د بايبل دا قصه له بنسټه ردوي او د قورح په ځای د قارون نوم اخلي او فرمايي چي دی له فرعون سره د خپل قوم په ضد ملګری شوی وو، د ډېرو شتمنيو خاوند وو، دا شتمنۍ ئې هم د دغي ملګرتيا په وجه ترلاسه کړې وه، د موسی عليه السلام مخالفت ته ئې ملا تړلې وه او له خپلو شتمنيو سره په ځمکه کي ښخ شو.

---

مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيۡرٞ مِّنۡهَاۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجۡزَى ٱلَّذِينَ عَمِلُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ إِلَّا مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿٨٤﴾

څوک چي له ښېګڼي سره راشي نو ده ته به تر هغې غوره ورپه برخه شي، او څوک چي له بدو کړنو سره راشي نو بدعملو ته به له خپلو کړنو نه پرته د بل څه سزا نه ورکول کېږي.

---

(۸۴)- په دې مبارک آيت کي ويل شوي چي:

- الله تعالی نېک عملو ته تر خپلو عملونو غوره بدله ورکوي، او بدعملو ته د

خپلو بدو عملونو مطابق سزا ورکوي.

إِنَّ ٱلَّذِى فَرَضَ عَلَيْكَ ٱلْقُرْءَانَ لَرَآدُّكَ إِلَىٰ مَعَادٍ ۚ قُل رَّبِّىٓ أَعْلَمُ مَن جَآءَ بِٱلْهُدَىٰ وَمَنْ هُوَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٨٥﴾

يقيناً چا چې پر تا دا قرآن فرض کړی حتماً تر موعود مقامه ستا رسوونکی دئ، ووايه: زما رب هغه څوک ښه پېژني چې له لارښووني سره راغلی او هغه چې په ښکاره ګمراهۍ کې دئ.

(۸۵)- يعني چا چې دا ذمه واري تا ته سپارلې ده چې دا قرآن به تر خلکو رسوې، هغوی ته به ئې ورزده کوې او د قرآن د تعليماتو مطابق د خپل ژوند سمبالولو ته به ئې رابلې، هغه به هرومرو خپلي وعدې ترسره کړي، تا به هغه لوړ مقام ته ورسوې چې وعده ئې درسره کړې، د معاد لغوي معنی د وعدې مهال او ځای دئ، هم ئې په اخروي وعدو اطلاق کېدی شي او هم په دنيوي وعدو، خو د آيت سياق او سباق او ټول هغه مضمون ته په پام سره چې تر دې آيت مخکې راغلی او پر فرعون او قارون د موسی بريا او برلاسي او د ده د ښمنانو په بحر کې غرقېدا او په زمکې کې ښخېدا په کې راغلې؛ ښيي چې دې ته ورته وعدې ترې مراد دي. يعني له خپلو دښمنانو سره به ستا روانه مبارزه هرومرو په همغه څه پای ته رسي چې الله تعالی ئې له تا سره وعده کړې، د حق بشپړه غلبه او د باطل زوال.

د دوی د تبليغاتو پروا مه کوه، په ځواب کې ئې ووايه: زما رب تر ټولو ښه پوهېږي چې څوک له لارښوونو سره راغلی او څوک په ښکاره ګمراهۍ او ضلالت کې دئ.

وَمَا كُنتَ تَرْجُوٓا۟ أَن يُلْقَىٰٓ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبُ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۖ فَلَا

تَكُونَنَّ ظَهِيرًا لِّلْكَـٰفِرِينَ ﴿٨٦﴾ وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ ءَايَـٰتِ ٱللَّهِ بَعْدَ إِذْ أُنزِلَتْ
إِلَيْكَ ۖ وَٱدْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ ۖ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٨٧﴾ وَلَا تَدْعُ مَعَ
ٱللَّهِ إِلَـٰهًا ءَاخَرَ ۘ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ كُلُّ شَىْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُۥ ۚ لَهُ ٱلْحُكْمُ
وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٨﴾

او ته داسې نه وې چې د کتاب درتلو ته دې هیله کوله، مګر ستا د رب له لوري یوه پېرزوینه، نو د کافرانو ملاتړی مه شه. او دوی دې تا د الله له آیتونو نه له هغه وروسته منعه نه کړي چې درته نازل کړی شول، او د خپل رب لوري ته بلنه ورکړه او له مشرکانو څخه مه شه. او له الله سره بل معبود مه بله (د ده تر څنګ د بل معبود عبادت مه کوه)، له ده پرته بل معبود نشته، هر څه هلاکېدونکي دي مګر د ده ذات، حکم ده لره دئ او د ده په لور ګرځول کېږئ.

(۸۶-۸۸)- دا وروستي درې آیتونه چې د دې مبارکې سورې خلاصه زموږ مخې ته ږدي لاندي لارښووني لري:

- پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چې تا دا هیله او انتظار نه درلود چې کتاب درباندې نازل شي او په پیغمبرۍ مبعوث شې، بس الله تعالی اراده کړې وه چې پر تا او ستا پر امت رحم وکړي، همغسې لکه چې موسی علیه السلام؛ نه پر پیغمبرۍ د ګمارل کېدو انتظار درلود او نه ئې ځان د دې ستر منصب لپاره مستعد او جوګه ګڼلو، له اته - لسو کلونو مسافرۍ او تبعیدي ژوند وروسته مصر ته روان وو، د لارې په نیمایي کې ئې رڼا تر سترګو شوه، خوا ته ئې ورغی او هملته په نابېره توګه او د خپل تصور او انتظار خلاف پر پیغمبرۍ وګمارل شو او د فرعون مقابلې ته د

بني اسرائیلو د ژغورنې لپاره ولېږل شو، لکه څنګه چې د ده بعثت د دې قوم لپاره د الله تعالی یوه پېرزوینه وه همداسې ستا بعثت هم ستا د امت لپاره یوه ستره الهي پېرزوینه ده، ته هم د دوی د نجات لپاره مبعوث شوی یې.

- لکه څنګه چې موسی علیه السلام ژمنه کړې وه چې له دې وروسته به هیڅکله د مجرمینو ملاتړ نه کوم ته هم هیڅکله د کافرانو ملتیا او ملاتړ مه کوه.
- پام کوه چې د دښمنانو تهدید او تطمیع دې تا دې ته ونه هڅوي چې د الله تعالی د آیتونو له متابعت نه امتناع وکړې، د الله تعالی د حکمونو مطابق عمل کوه، د خپل رب لوري ته بلنه ورکوه او په هیڅ څه کې د مشرکانو په څېر مه کېږه.
- د الله تعالی تر څنګ د بل معبود عبادت مه کوه، له ده پرته بل معبود نشته، له الله تعالی پرته هر څه هلاکېدونکي دي، حکم صادرول، حکمیت کول، د قضایاوو او پېښو په اړه پرېکړې کول مختص ده لره دي، او تاسو ټول به د ده لوري ته ورګرځول کېږئ.

دلته د القصص مبارکه سوره پای ته ورسېده.

سُبْحَانَکَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِکَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُکَ وأَتوبُ إِلَيْکَ

# د بني اسرائيلو د قصې نوري برخي

لکه څنګه چي ګورئ د القصص په مبارکي سورې کي د بني اسرائيلو د عبرتناکي قصې ځيني برخي په تفصيل سره راغلې او نورو برخو ته ئې يا په ايجاز او اختصار سره اشاره شوې او يا اصلاً نه دي راوړل شوې، د دې لپاره چي په دې کتاب کي مجمل او پاتې برخي هم ذکر شي؛ دا غوره بريښي چي د نورو سورتونو هغه آيتونه هم د لوستونکو مخي ته کېږدو چي د بني اسرائيلو د عروج او زوال عبرتناکه قصه څېړي، په دې سره به دا کتاب يوازي د القصص د سورې تفسير نه وي بلکي د بني اسرائيلو د تاريخ لوړي ژوري به ئې په نسبتاً مفصله توګه څېړلي او د هغه په ترڅ کي به ئې د ملتونو د عروج او زوال عوامل په ګوته کړي وي.

د قرآن په نورو سورتونو کي راغلي چي کله موسى عليه السلام مصر ته ستون شو او خپل دعوت ئې پيل کړ او په ضمن کي ئې فرعون ته بلنه ورکړه، هغه او درباريانو ئې انکار وکړ، ده ته ئې د کوډګر خطاب وکړ او خلکو ته ئې وويل: موسى د بې امنيو باعث دئ، فساد خوروي، که خپلي مخي ته پرېښودى شي تاسو به له

مصره وتلو ته اړ کړي، څه چي تاسو ته ښيي زموږ د کوډګرو کوډو ته ورته دي، نه دي د خدای پیغمبر دئ او نه ئې دعوت الهي دعوت، د مصر ټول ماهر کوډګران ئې راغونډ کړل چي د ده مقابله وکړي، قرآن په دې اړه فرمايي:

وَقَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِ فِرْعَوْنَ أَتَذَرُ مُوسَىٰ وَقَوْمَهُۥ لِيُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ وَيَذَرَكَ وَءَالِهَتَكَ ۚ قَالَ سَنُقَتِّلُ أَبْنَآءَهُمْ وَنَسْتَحْىِۦ نِسَآءَهُمْ وَإِنَّا فَوْقَهُمْ قَٰهِرُونَ ﴿١٢٧﴾ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ ٱسْتَعِينُوا۟ بِٱللَّهِ وَٱصْبِرُوٓا۟ ۖ إِنَّ ٱلْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ وَٱلْعَٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٢٨﴾ قَالُوٓا۟ أُوذِينَا مِن قَبْلِ أَن تَأْتِيَنَا وَمِنۢ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ۚ قَالَ عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ﴿١٢٩﴾ الاعراف: ١٢٧_١٢٩

او د فرعون د قوم مشرانو وويل: آيا موسی او قوم ئې پرېږدې چي په زمکي کي فساد خور کړي، تا او ستا خدايان پرېږدي؟ وئې ويل: حتماً به ئې زامن ووژنو او ښځي به ئې ژوندۍ پرېږدو، په داسي حال کي چي موږ پرې برلاسي يو. موسی خپل قوم ته وويل: له الله مرسته وغواړئ او صبر وکړئ، زمکه خو له شکه پرته د الله ده، له خپلو بندګانو ئې چي چا ته غوښتي وي په ميراث ئې ورکوي او نېکه پايله د پرهېزګارانو ده. وئې ويل: ستا له راتلو د مخه هم کړول شوي يو او له راتلو وروسته دي هم، (موسی عليه السلام ورته) وويل: اميد دئ چي رب مو ستاسو دښمن هلاک کړي او د زمکي خلافت درپه برخه کړي او بيا وګوري چي تاسو څنګه عمل کوئ.

د قوم مشرانو له فرعون نه د موسی عليه السلام او د ده د پلويانو په ضد د قاطع او پرېکنده اقدام غوښتنه وکړه، هغه ته ئې وويل چي دوی هم له نظامه بغاوت کړی او هم له مذهبه، نه تا مني او نه ستا خدايان. د فرعون ځواب دا دئ: د

دوی په ضد د هر څه کولو توان لرو، زموږ ترلاس لاندې دي، زامن ئې ورته وژنو او ښځې ئې د دې لپاره ژوندۍ پرېږدو چې د وینځو په توګه زموږ خدمت وکړي. دا د هر فرعون او فرعوني نظام منطق دئ، مخالفین نشي زغملی، یو وژني، بل په اسارت کې ساتي، د مخالفتونو د ځپلو لپاره له خپلې سلطې او واکمنۍ کار اخلي.

په دې دوران کې چې بني اسرائیل له سختو ستونزو او کړاوونو سره مخامخ دي راشئ وګورو چې موسی علیه السلام څه توصیه ورته کوي؟ موسی خپل قوم ته وویل: له الله مرسته وغواړئ او صبر وکړئ، زمکه خو له شکه پرته د الله ده، له خپلو بندګانو ئې چې چا ته غوښتې وي په میراث ئې ورکوي او نېکه پایله د پرهېزګارانو ده.

د موسی علیه السلام په دې وینا کې څو اساسي لارښوونې د هر مؤمن لپاره ګورو:

- له الله تعالی مرسته وغواړئ، بلې خوا ته د امید سترګې مه اړوئ، له بل چا مرسته مه غواړئ.
- د ګواښونو، ستونزو او کړاوونو په وړاندې صبر وکړئ.
- په دې پوه شئ چې د زمکې حقیقي ټولواک الله تعالی دئ، دا پرېکړه د ده له لوري کېږي چې چا ته ئې په میراث ورکړي، له چا ئې بېرته واخلي او د ده په ځای ئې چا ته وسپاري.
- نېکه پایله د پرهېزګارانو ده، د هغو ځان ساتونکو چې له الله تعالی پرته بل ته طمعه نه کوي، له بې صبرۍ ځان ساتي او دا پرېکړه د بل چا په واک کې نه ګڼي چې د زمکې واکمني به چا ته سپارل کېږي.

ګورئ چې موسی علیه السلام په هغه سخت او ستونزمن حالت کې چې دی او ټول پلویان ئې ورسره مخامخ دي، خپلو مؤمنو پلویانو ته توصیه کوي چې مرسته باید یوازې له الله تعالی وغواړئ، د ستونزو او مشکلاتو په وړاندې صبر وکړئ، او

په دې باور ولرئ چې د ځمکې رښتینی او یوازنی څښتن لوی الله دئ، هغه به د دې فیصله کوی چې له خپلو بندګانو نه ئې چا ته په میراث ورکړي. د دې قضیې فیصله د الله تعالی له لوري کېږي چې ځمکه او په هغې کې واکمني او اقتدار چا ته په میراث ورکړی شی، د دې خبري اختیار چې ځمکه چا ته په میراث ورکړي شي، د ځمکې پر سر هیچا ته نه دئ سپارل شوی، لوی څښتن تعالی دا پرېکړه له عرش نه صادروي، موسی علیه السلام خپلو مؤمنو پلویانو ته همدا ویل چې په دی کې به شک نه کوئ، که ستاسو او ستاسو د دښمن حالت هر ډول وي، دا فیصله به مالک الملک خدای کوی. "إن الارض لله: ځمکه یقیناً د الله ده"، "یورثها من یشاء من عباده: له خپلو بندګانو نه چې چا ته وغواړی په میراث ئې ورکوی"، "والعاقبة للمتقین: او نېکه پایله د پرهیزګارانو ده"، د کومو پرهیزګارانو؟ هغه چې له الله تعالی پرته له بل چا استعانت نه غواړي، په ستونزو، مشکلاتو او محرومیتونو کې هم پرته له خدای نه بل چا ته امید نه ساتي، بل چا ته لاس او لمن نه اوږدوی. څوک چې صبر، حوصله، ثبات او استقامت له لاسه نه ورکوي، او په دې اړه هیڅ شک نه لري چې دا ځمکه چې مالک ئې خدای دئ چا ته چې ئې وغواړي هغه ته ئې په میراث ورکوی، د دغو متقیانو او پرهیزګارانو عاقبت نېک دئ.

د موسی علیه السلام قوم د صبر مظاهره وکړه، ورته وئې ویل: ستا له راتلو د مخه هم کړول شوي یو او له راتلو وروسته دي هم، (موسی علیه السلام ورته وویل: امید دئ چې رب مو ستاسو دښمن هلاک کړي او د ځمکې خلافت درپه برخه کړي او بیا وګوري چې تاسو څنګه عمل کوئ.

قوم په ځواب کې ورته وویل: ستا له راتلو نه مخکې هم اذیت شوي یو او ستا له راتلو وروسته هم، داسې نده چې یوازې ستا په راتلو سره دا مصیبتونه پر موږ نازل شوي، پروا ئې نشته، موږ په همدغو مصیبتونو کې لوی شوی یو، تر دې د مخه هم دا موږ وو او دا مصیبتونه.

که څه هم ځينو مفسرينو دا وينا د بني اسرائيلو د شکايت وينا ګڼلې، خو حقيقت دا دئ چې د دوی تعبير کمزوري دئ، د بني اسرائيلو وينا به په هغه صورت کې شکوه او شکايت ګڼل کېده چې ويل شوی وی: ستا له راتلو نه وروسته په موږ دا د مصيبتونو دور پيل شوی، خو د دوی دا وينا چې ستا تر راتلو د مخه هم زموږ همدا حالت وو، معنا ئې دا ده چې ستا په راتلو سره دا مصيبتونه پر موږ نه دي نازل شوی، پروا ئې نشته، دا خبره د دوی صبر او استقامت څرګندوی، همدا علت دئ چې موسی عليه السلام د دوی د صبر له مشاهدی وروسته هغوی ته وايي: هيله ده چې الله تعالی ستاسی دښمن هلاک کړي او د زمکې خلافت تاسي ته وسپاري او بيا به ګوری چې تاسی څه کوئ؟ ځکه که دا د صبر مظاهره نه وای نو موسی عليه السلام به کله هم دوی ته نه وو ويلي: اوس نو هيله من يم چې ستاسی د دې صبر په نتيجه کې به الله تعالی ستاسی دښمن هلاک کړی، تاسی ته به د زمکې خلافت دروسپاري او بيا به ګوری چې تاسی څه کوئ؟ د دغه آيت تر ټولو غوره او حقيقی توجيه همدا ده، عظيم الشأن قرآن دا د يوه ضعيف النفسه او بې صبره ټولګي نښه ګڼي چې کله له کوم مصيبت سره مخامخ شي نو خپل لارښود او مشر ته شکايت کوي او وايي: ستا په خاطر موږ له دې مشکلاتو او کړاوونو سره مخامخ شوی يو.

وَإِن تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةٞ يَقُولُواْ هَٰذِهِۦ مِنۡ عِندِكَ ... النساء: ٧٨

په دې وينا سره بني اسرائيلو موسی عليه السلام ته ډاډ ورکړی چې بې صبري به نه کوي، په کړاوونو کې پاخه شوي يو، ستا له راتلو وروسته زموږ د ځورولو او کړولو لړۍ نه ده پيل شوې، تر دې د مخه هم ځورول شوي يو، د دوی د دې وينا په ځواب کې موسی عليه السلام وفرمايل: إن شاء الله چې ستاسو رب به دښمن هلاک کړي، د دې زمکې خلافت به تاسو ته وسپاري، بيا به وګوري چې تاسو به څه کوئ؟

دې ته مو بايد پام وي چې دا مطلب هغه مهال مسلمانانو ته اورول شوی چې

دوی په مکې مکرمې کې له ورته ګواښونو سره مخامخ ول، ځورول کېدل، وژل کېدل او هجرت ته مجبورېدل، په دې سره دوی ته ویل شوي چې ستاسو دریځ، وینا، صبر، مقاومت، پرالله تعالی توکل باید همغسي وي لکه ستاسو د مخکنیو مؤمنو ورونو.

په دې موده کې الله تعالی پر مصر رنګ رنګ عذابونه نازل کړل، د قرآن د وینا له مخې په مصریانو باندې دا عذابونه او مصیبتونه نازل شوي: قحطي، د حاصلاتو کموالی، طوفان، ملخان، کنې، چنګاښې، وینې، خو قرآن وایي چې د دې مصیبتونو وجه د دوی ګناهونه وو او هدف ترې دا چې دوی پند واخلي او له خپل کفر، شرک، ظلم او فساد نه لاس په سر شي.

وَلَقَدْ أَخَذْنَآ ءَالَ فِرْعَوْنَ بِٱلسِّنِينَ وَنَقْصٍ مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٣٠﴾

الاعراف: ۱۳۰

او یقیناً چې فرعونیان مو په قحطي او د حاصلاتو په کموالي سره ونیول تر څو پند واخلي.

فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلطُّوفَانَ وَٱلْجَرَادَ وَٱلْقُمَّلَ وَٱلضَّفَادِعَ وَٱلدَّمَ ءَايَٰتٍ مُّفَصَّلَٰتٍ فَٱسْتَكْبَرُوا۟ وَكَانُوا۟ قَوْمًا مُّجْرِمِينَ ﴿١٣٣﴾

الاعراف: ۱۳۳

نو طوفان، ملخان، کنې، چنګاښې او وینه مو د بېلابېلو نښو (په توګه) پرې راولېږل او دوی لویي وکړه او یو مجرم قوم وو.

د دې آیت د (مفصلات) له لفظ نه په څرګنده توګه معلومېږي چې دا مصیبتونه په یوه وخت او یو په بل پسې نه دي نازل شوي بلکې په بېلابېلو وختونو کې نازل شوي، یو کال قحطي راغلې، یو کال د باغونو او زمکو حاصلات کم شوي، یو کال ملخانو د دوی پر فصلونو برید کړی، یو وخت طوفان پرې راغلی، بل وخت کنې او بیا چنګاښې پرې مسلطې شوې او یو وخت د دوی اوبه د سرو وینو په څېر

شوې او دا د بايبل د دې ادعاء خلاف ده چې وايي دا ټول حوادث د څو اونيو په منځ کې او د موسى او هارون عليهما السلام په لاس او هغه وخت تر سره شوي چې دوى د فرعون له جادوګرانو سره مقابله کوله، د بايبل ادعاء هم د عقل او واقع خلاف ده او هم د قرآن د وينا خلاف!! د الله تعالى سنت دا دئ چې له مصيبت نه وروسته خپلو بندګانو ته د توبې او تجديد نظر موقع ورکوي، که پند وانه خلي، بل او بل مصيبت پرې راولي، په يوه وخت د ګڼ شمېر مصيبتونو يو په بل پسې راتلو سره د توبې او تجديد نظر مجال ختمېږي.

## د فرعون د مشر زوى مړينه

بايبل تر دې عنوان لاندې ليکي: خداى په نيمه شپه کې د ټولو مصريانو ټول مشران زامن ووژل، د فرعون له مشر زويه د هغه غلام تر زويه چې ترزمکې لاندې تور زندان کې پروت وو... په دغه شپه فرعون او درباريان راويښ شول ... ټولو په جګ غږ ژړا پيل کړه... فرعون په همدغه شپه موسى او هارون راوغوښتل او ورته وئې ويل: ژر له مصره ووځئ او اسرائيليان هم درسره بوځئ، خپل څاروي هم درسره روان کړئ... خو له وتلو مخکې ما ته دعاء وکړئ، ... نورو مصريانو هم اسرائيليانو ته وويل: له مصره ووځئ... دوى له مصريانو نه ډېر سره او سپين زر هم واخيستل... او په دې توګه ئې د مصر ټولي شتمنى له ځان سره يوووړې... شمېر ئې له ښځو او ماشومانو پرته نږدې شپږ سوه زره سړي وو... اسرائيليانو څلور سوه دېرش کاله په مصر کې تېر کړل...

دلته د بايبل څو عجيبو خبرو ته لږ ځير شئ: خداى په نيمه شپه کې مصر ته راغى، د مصر په ټولو کورونو وګرځېدو، له هغه کوره تېر شو چې دروازه ئې په وينو لړلې وه، د هر مصري کور ته داخل شو، د هغه مشر زوى ئې ورته وواژو، په دې وخت کې د اسرائيليانو شمېر نږدې دوه مليونه وو، طبيعي ده چې د مصريانو

شمېر به هم لږ تر لږه څلور مليونه وو، که هره کورنۍ لس کسان وګڼو نو د مصر د کورونو شمېر به شپږ لکه وو، د بايبل خدای چې د انسان په څېر دی او تګ ئې هم انسان ته ورته، ګام په ګام مخکې ځي، په پاتې نيمي شپې کي په دې شپږ لکه کورونو ګرځېدلی، شا وخوا څلور لکه مصري ځوانان ئې وژلي، بيا په همدې پاتې نيمي شپې کي فرعون موسی او هارون ځان ته غوښتي، هغوی ته ئې له مصره د وتلو او ده ته د دعاء کولو خبره کړې!!! په همدې شپه د اسرائيليانو ښځو د خپلو مصري ګاونډيو له مېرمنو نه ښه ډېر سره او سپين زر ترلاسه کړي، هومره چې د مصر ټولي شتمنۍ ئې د ځان کړې او له ځان سره ئې وړې!!! نه پوهېږم مسيحيان او يهودان کومي بلا وهلي چې داسي مسخره خبري مني، که يو ناول ليکونکی وغواړي چې ډېر حيرانووکی ناول وليکي نو دا هڅه خامخا کوي چې خبري ئې څه نا څه په عقل برابرې وي، که ډېر هوښيار خلک ئې ونه مني نو ځيني کم عقله خلک خو ئې ومني، خو د بايبل ليکونکي د دې پروا نه ده کړې، مسيحيان او يهودان ئې داسي موندلي چې ګران دروغ تر آسان رښتيا ژر مني، د زوړ تاريخ هره خبره ورته مقدسه برېښي!! هر څه چې د دوی پلرونو ته منسوب شي او د انجيل او تورات په نامه وړاندي شي له تعمقه پرته ئې مني!!

بايبل تر دې د مخه ليکلي چې په مصر کي د يعقوب عليه السلام د مېشتېدو په وخت کي د ده د کورنۍ د ټولو غړو شمېر اويا کسان وو او اوس ليکي چې څلور سوه دېرش کاله وروسته کله چې له مصره وتل نو يوازي د نارينه وو شمېر نږدې شپږلکه وو، يعني د ښځو او ماشومانو په شمول به لږ تر لږه دوه مليونه ول او د دې معنی دا ده چې په دې موده کي د دوی شمېر نږدې اته ويشت زره پنځه سوه ځله زيات شوی، که د بايبل دا له مبالغې ډکه محاسبه ومنو نو دا دوه مليونه يهودان بايد له نورو څلور سوه دېرشو کلونو تېرېدو وروسته اوه پنځوس ملیارده شوي وي، چې دا د ټولي نړۍ د موجوده نفوس نږدې لس برابره دئ او بيا په تېرو نږدې دوه

نیم زرو کلونو کې به د دوی شمېر څومره شوی وي؟!! آیا دا محاسبه ډېره خندونکې نه ده؟ ښايي د بايبل ليکونکي به غوښتلي وي چې همغه زړه بې بنسټه خبره رښتينې کړي چې بايبل خدای ته منسوب کړې او ويلي ئې دي: د يهودانو شمېر به د آسمان تر ستورو او د زمکې تر شگو هم زيات شي!! خو نن او په ۲۰۰۹ ميلادي کال کې د يهودانو مجموعي شمېر شپږو مليونو ته نه رسېږي!! بايبل دا خبري په داسې وخت کې کړې دي چې د شمېرو په اړه ئې چا درواغ نه شوی ثابتولی، هغه وخت خو به تر زرو زيات رقم هم نه وو، چا دا محاسبه ورسره کوله چې اويا کسيزه کورنۍ څنگه په ۴۳۰ کلونو کې (يعني پنځه نسله وروسته) دوه مليونو ته ورسېده؟!! په دومره موده کې خو د سويانو په څېر د هغو حيواناتو شمېر هم دې حد ته نه شي رسېدی چې هر ځل ډېر بچيان زېږوي!! بايبل دې ته هم پام نه دئ کړی چې په مصر کې بني اسرائيلو ډېر بد ژوند درلود، فرعون د دوی زامن ورته وژل، په دې صورت کې خو بايد د دوی شمېر د زياتېدو په ځای کمېدی!! که زياتېدل ومنو، نو په ۱۹۹۸کال کې د دوی د نفوس وده په کال کې ۱،۹% وه که د بايبل په خاطر دا ۲% وگڼو نو د دوی شمېر بايد په ۴۳۰ کلونو کې نږدې درې لکه پنځوس زره وی نه دوه مليونه!!

له دغو غلطو ارقامو او په ارقامو باندې د بايبل له ترکيز نه د بايبل په ماهيت پوهېدی شئ، په لاربښود کتاب کې د ارقامو، شجرو او نومونو په ځای په اساسي مفاهيمو ترکيز کېږي او لاربښوونو ته اهميت ورکول کېږي، قرآن د ارقامو په اړه فرمايي چې په دې ځان مه مصروفوئ، دا هومره ارزښت نه لري چې له چا سره پرې مناقشه وکړئ او خپل وخت پرې ضايع کړئ، د اصحاب کهف د قصې په ترڅ کې فرمايي چې په دې له خلکو سره بحثونه مه کوئ چې د دوی شمېر څومره وو او څو کلونه په غره کې پاته شول، بس همدومره کافي ده چې ووايئ: دا د مؤمنو زلميانو يوه ډله وه، په خدای ئې ايمان راوړ، د ظالمو واکمنانو له وېرې ئې غره ته

پنا یووړه او الله تعالی د اوږدې مودې لپاره په خوب ویده او ژوندي وساتل، نه د دوی شمېر په ګوته کوي او نه دا وایي چې څو کلونه په غره کې پاته شول، فرمایي:

نَّحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُم بِٱلْحَقِّ ۚ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ ءَامَنُوا۟ بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَـٰهُمْ هُدًى ﴿١٣﴾

الکهف: ۱۳

موږ د دوی قصه په رښتیني توګه درته بیانوو، دوی یوه داسې ډله وه چې په خپل رب ئې ایمان راوړی او موږ ئې ایمان ورمضبوط کړ.

د خپل قوم په اړه د دوی نظر داسې بیانوي:

إِنَّهُمْ إِن يَظْهَرُوا۟ عَلَيْكُمْ يَرْجُمُوكُمْ أَوْ يُعِيدُوكُمْ فِى مِلَّتِهِمْ وَلَن تُفْلِحُوٓا۟ إِذًا أَبَدًا ﴿٢٠﴾

الکهف: ۲۰

که دوی درباندې برلاسې شي نو یا به مو د ډبرو په ویشتلو سره وژني او یا به مو خپل مذهب ته وراړوي او په دې صورت کې به هیڅکله بریا درپه برخه نه شي.

د دوی د شمېر په اړه د قصه خوښو وینا او د دوی په مقابل کې د مسلمان داعي دریځ داسې په ګوته کوي:

سَيَقُولُونَ ثَلَـٰثَةٌ رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ وَيَقُولُونَ خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ كَلْبُهُمْ رَجْمًۢا بِٱلْغَيْبِ ۖ وَيَقُولُونَ سَبْعَةٌ وَثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ ۚ قُل رَّبِّىٓ أَعْلَمُ بِعِدَّتِهِم مَّا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا قَلِيلٌ ۗ فَلَا تُمَارِ فِيهِمْ إِلَّا مِرَآءً ظَـٰهِرًا وَلَا تَسْتَفْتِ فِيهِم مِّنْهُمْ أَحَدًا ﴿٢٢﴾

الکهف: ۲۲

وایي به: درې ول او څلورم ئې د دوی سپی وو او وایي به: پنځه ول او شپږم ئې د دوی سپی وو، دا هسې په تیاره کې کاڼي ویشتل دي او وایي به: اوه ول او اتم ئې د دوی سپی وو!! ووایه: زما رب د دوی له شمېره ښه خبر دئ، یوازې لږ کسان پرې پوهېږي، د دوی (د شمېر) په اړه له سر سري بحثه پرته له چا سره شخړه مه کوه او د دغو خلکو له هیچا نه د دوی په اړه پوښتنه مه کوه.

## کله چې تشدد نتیجه نه ورکوي:

ځومره چې فرعون او فرعونیانو د موسی علیه السلام د پلویانو په ضد خپل تشدد زیات کړ همدومره نهضت قوت وموند، د موسی علیه السلام د پلویانو او د فرعون د مخالفینو شمېر زیات شو، فرعون پرېکړه وکړه چې ځان د هغه دین مدافع وښیي چې له پلار نیکه نه مصریانو ته په میراث پاته دئ او موسی علیه السلام له دې دین نه باغي وښیي، دا د دیني خوځښتونو یوه ځانګړتیا ده چې دښمنان ئې په یوې مرحلې کي ځان د دین مدافعان او نهضت له دین او دیانت نه د باغي په توګه وړاندي کړي، د دین په جامه کي د دین مقابله کوي، همغه شعارونه ورکوي چې نهضت عنوان کړي، فرعون د دین ساتونکی شي او موسی (ع) د دین مخالف!! فرعون صالح او صلح غوښتونکی شي او موسی د بې امنیو او فساد عامل!!، خو کله چې تبلیغات هم بې اغېزه پاته شي، نه د نهضت د مزید ځواکمنیدو او خورېدو مخه ونیسي او نه له نهضت سره د ولس د یو ځای کېدو، نو د شخصیتونو د ترور او وژني مرحله راورسېږي، د عام وژنو او د بني اسرئیلو د زامنو د ذبح کولو په ځای د موسی علیه السلام د وژلو پرېکړه کېږي، قرآن فرمایي چې په دې پړاوکي دښمن دوه کاره کوي:

۱ـ همغه شعارونه عنوانوي چې نهضت عنوان کړي، هغه هم د دین مدافع او خواخوږی شي.

۲ـ د شخصیتونو د ترور پرېکړه کوي.

قرآن په دې اړه فرمایي:

وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُونِيٓ أَقْتُلْ مُوسَىٰ وَلْيَدْعُ رَبَّهُۥٓ ۖ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُبَدِّلَ دِينَكُمْ أَوْ أَن يُظْهِرَ فِي ٱلْأَرْضِ ٱلْفَسَادَ ﴿٢٦﴾ غافر: ٢٦

او فرعون وویل: ما پرېږدئ چې موسی ووژنم، او هغه دي خپل رب (مرستي ته)

وروبلي، زه ويرېږم چې ستاسو دين بدل نکړي او يا په ځمکه کې فساد خور نه شي!

گورئ چې هغه په پټه يوه خبره کوي او په څرگنده بله، خپلو درباريانو ته د ترلو دروازو تر شا وايي: ما پرېږدئ چې موسی ووژنم، موسی دې خپل خدای مرستې ته وروبلي، خو کله چې له عام ولس سره مخامخ کيږی وايي: زه وېرېږم چې موسی ستاسو غوره دين بدل نه کړي او په مصر کې بې امني او فساد خور نشي!! دا دئ گورئ چې هغه ستر مفسد اوس دا دعوی کوی چې موسی عليه السلام فساد خوروي، هغه له الله تعالی باغي او د دين ستر دښمن اوس د دين حامي شوی، قرآن په دې سره موږ ته لارښوونه کوي چې دا د هرې ديني مبارزې يوه مرحله ده، د پيغمبرانو عليهم السلام په خط روانو نهضتونو باندې هرومرو دا مرحله راځي، د مبارزې په يوه خاص پړاو کې به دښمن هم د نهضت شعارونه عنوانوي، د دين په جامه کې به د دين مقابله کوي، موږ د خپلې مبارزې په جريان کې په وار وار دا حقيقت په خپلو سترگو وليد، په وار وار همداسې وشول، د کمونيستانو په ضد د مبارزې په دوران کې هغه پړاو راغی چې له الله تعالی منکر او د دين سرسختو دښمنانو به خپلې ويناوې په بسم الله الرحمن الرحيم شروع کولې او په من الله التوفيق به ئې ختمولې، بې اودسه به په لمانځه ودرېدل، د لمانځه فيلمونه به ئې په تلويزيون کې ښودل کېدل، د شئون اسلامي وزارت ئې جوړ کړ، ويل ئې چې دولت ئې څلرويشتو زرو ملايانو ته معاش ورکوي، د مجاهدينو په اړه به ئې ويل چې دوی جوماتونه ورانوي او ملايان وژني!! عظيم الشأن قرآن دغه مرحله د نهضت د يوې طبيعي او حتمي راتلونکې مرحلې او د يوه سنت په توگه معرفي کوي، او په دې سره د الله د لارې مجاهدينو ته لارښوونه کوي چې له داسې پړاو سره مخامخ کېدو ته ذهناً چمتو وي، هغه ورځ به راځي چې فرعون ووايي: إني اخاف أن يبدل دينكم: زه ويرېږم چې ستاسی دين بدل نکړي!! ستاسو د غوره پلرني دين په اړه اندېښنه لرم، داسې نه چې موسی په خپل سحر او جادو او په

خپلو جادويي ويناوو سره ستاسو پلرني لرغوني دين او مذهب بدل کړي، هغه لوی مفسد، د طبقاتي نظام سالار، چې ولس ئې په ډلو ډلو ويشلی وو، د بني اسرائيلو زامن ئې ذبح کول، لوني ئې د وينځو په توگه ساتلې، پردې مظلوم او بې وزلې قوم ئې ټول هغه ظلمونه او ناروا وي له کلونو کلونو رااېسې روا گڼلې، هغه ئې په استضعاف او ذلت کې ساتلی، د يوه بشپړ قوم فرد فرد د مريي او وينځې په توگه د فرعونيانو په دربارونو کې د ذلت شپې ورځې تيرولې، د همدې ظالم او طبقاتي نظام بې رحمه سالار؛ له ډېرو ظلمونو، تړلو او وژلو وروسته وايي: ويرېږم چې په هېواد کې بې امني خوره نشي!! دا خبره پرون روسانو تکرار کړه، نن ئې امريکايان تکراروي، پرون کمونيستانو وکړه؛ نن ئې د امريکا د فوځونو په زور مسلط شوي لنډه غر غرپالان کوي!! روسانو يو نيم مليون بې گناه افغانان ووژل، ټول هېواد ئې په کنډوالو بدل کړ، کلي او کورونه ئې په توپونو او بمونو ويجار کړل؛ خو سره له دې به ئې ويل: مجاهدين پلونه ورانوي، مدرسې، جوماتونه او مکتبونه ورانوي، نن امريکايان همدغه تبليغات کوي، په داسې حال کې چې په کليو، ښارونو، مدرسو او جوماتونو بمونه وروي، د خلکو د غم او ښادي په غونډو ډزې کوي، هره ورځ په لسگونو افغانان په خپلو وينو کې رغړوي، خو وايي چې مجاهدين مکتبونه، مدرسې او جوماتونه او عام المنفعه تأسيسات ورانوي، په خپل لاس به په دغو ځايونو کې بمونه منفجر کړي چې مجاهدين پرې تورن کړي، گورئ چې هماغه د فرعون خبره پرون د روسانو په خوله تکرارېده او نن د امريکايانو په خوله. او دا ښيي چې د قرآن قصې تاريخي بېلگې او مثالونه دي چې تل به تکرارېږي، د تاريخ په هر پړاو او د زمانې په هر موړ کې به يو فرعون وي او په مقابل کې ئې يو موسی، او دا مبارزه به د فرعون په غرقېدا پای ته رسي.

که څه هم موسی عليه السلام په دې توگه لېږل شوی چې په لومړي سر کې به د فرعون مقابله کوي، د دښمن د متحدي جبهې له دريو اړخونو څخه به لومړی د

فرعون (د سیاسي حاکمې طبقې سالار) په خلاف د جنګ جبهه پرانېزي، خو کله
چي فرعون ګوري چي د بني اسرائیلو د زامنو وژلو هم څه نتیجه ورنکړه، او د
قرآن په اصطلاح : و ما کید الکافرین الافی ضلال: او د کافرانو کید او توطئه له دې
پرته بله پایله نه درلوده چي معکوس نتایج ورکړي، د موسی علیه السلام د وژلو
پرېکړه هم عملی نه شوه، نو له خپلو درباریانو سره مشوره کوي چي اوس څه
وکړو؟ قرآن د دوی د ځواب په اړه داسي فرمايي:

قَالُوٓاْ أَرْجِهْ وَأَخَاهُ وَأَرْسِلْ فِي ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿١١١﴾ الاعراف: ١١١

وئې ویل: د ده او د ورور معامله ئې وروسته کړه او ټولو ښارونو ته اربکي ولېږه چي
ښه پوه او ماهر جادو ګران درته راولې.

پوه او ماهر جادو ګران راغونډ شول، قرآن دا ساحران په دې توګه موږ ته
معرفي کوي. ١- د فرعون دسترګو په اشاره خوځېږي .٢- د فرعون اربکي ئې
راغونډوي او د فرعون په ایماء او اشاره د حق مقابله کوي. ٣- د حاکم نظام په
خدمت کي دي. ٤- له فرعون نه د اجر او بدلی هیله لري.

دا د هغوی خصوصیات دي، که فتوی ورکوی هم د هغه په اشاره ئې ورکوی،
که مقابلی ته راوځي نو د فرعون په امر راوځي، د هغه په اشاره راغونډ ېږي، د بدلې
هیله هم له هغه څخه لري او تر ټولو ستر هدف ئې دا دئ چي دربار ته مقرب او
نږدې شي. عظیم الشأن قرآن د ساحرانو د پیژندلو معیارونه په ګوته کوي هلته چي
فرمايي:

فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالُواْ لِفِرْعَوْنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ ٱلْغَٰلِبِينَ ﴿٤١﴾ قَالَ نَعَمْ
وَإِنَّكُمْ إِذًا لَّمِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٢﴾ الشعراء: ٤١-٤٣

نو کله چي جادوګران راغلل فرعون ته ئې وویل: موږ ته به څه اجر او بدله حتماً وي
که بریالي شوو؟ هغه (ورته) وویل: هو! تاسی به له مقربینو څخه وئ (زما له نږدې

درباريانو څخه او د درباريانو په فهرست کي به نيول کېږئ).

تاسو د روسانو د اشغال په دوران کي وليدل چي د مجاهدينو د مقابلې لپاره رياست شئون اسلامي او پلاروطنه ملي جبهه جوړه شوه، و موليدل چي د اسلامی شئونو رياست ئې په وزارت بدل کړ، امريکايانو په همدې موخه لويه جرگه، منتخب پارلمان او ستره محمکه رامنځته کړل، قاضيان ئې د روزني لپاره ايټاليا ته ولېږل، ديني مدرسې ئې جوړې کړې، همغسې لکه چي فرعون د نهضت په خلاف لومړی د ساحرانو جبهه پرانيستله، غوښتل ئې د دوی په ذريعه د موسی عليه السلام مقابله وکړي او مصريانو ته ئې ويل: که دا ساحران بريالي شول ټول به په گډه د هغوی متابعت کوو!!

فَجُمِعَ ٱلسَّحَرَةُ لِمِيقَٰتِ يَوۡمٖ مَّعۡلُومٖ ﴿٣٨﴾ وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلۡ أَنتُم مُّجۡتَمِعُونَ ﴿٣٩﴾
لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ ٱلسَّحَرَةَ إِن كَانُواْ هُمُ ٱلۡغَٰلِبِينَ ﴿٤٠﴾ الشعراء:٣٨-٤٠

کودگران د معلومي ورځې ميقات ته راغونډ کړی شول او خلکو ته وويل شول: آيا تاسو هم غونډ يدونکي ياست؟ تر څو د سحره وو متابعت وکړو که غالب شول.

سحره چي د حاکم نظام په خدمت کي دي او د اربکيو په ذريعه را غونډ يږي او د مسابقې ميدان ته سوق کېږي، دوی د عام ولس د راغونډولو وسيله گرځوي، خلکو ته وويل شول: که دا سحره غالب شول د دوی متابعت به کوو، خو کله چي همدا سحره ماتې خوري، د موسی عليه السلام د دعوت پر حقانيت پوهېږي، ايمان راوړي، گورئ چي فرعون ئې په مرگ او لاس پښو قطع کولو گواښي !!

قَالَ ءَامَنتُمۡ لَهُۥ قَبۡلَ أَنۡ ءَاذَنَ لَكُمۡۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِي عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحۡرَ فَلَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَۚ لَأُقَطِّعَنَّ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَرۡجُلَكُم مِّنۡ خِلَٰفٖ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٤٩﴾

الشعراء: ٤٠

فرعون وويل: پر ده مو ايمان راوړ، مخکې تر دې چې زه درته اجازه درکړم، دی ستاسو هغه مشر دئ چې سحر ئې درښودلی، نو ژر به پوه شئ (چې څه درسره کوم؟)، لاسونه او پښې به مو حتماً يو د بل خلاف پرې کړم، او هرومرو به تاسو ټول په دار وځړوم،

په دې سره قرآن موږ ته وايي: هغه مذهبي مشران چې د فرعون د غلامۍ کړۍ په غاړه اچوي او د هغه په امر د مجاهدينو مقابله کوي پايله ئې دا ده چې د فرعون له لوري به په مرگ گواښل کېږي!! دوی ته به ويل کېږي چې تاسو له مجاهدينو سره پټې اړيکې درلودې.

له ساحرانو نه چې چا ايمان راوړ د فرعون د گواښونو پروا ئې ونه کړه، او د قرآن د وينا له مخې ئې د گواښونو په وړاندې ځواب دا وو:

قَالُوا۟ لَا ضَيْرَ ۖ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ۝ إِنَّا نَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطَـٰيَـٰنَآ أَن كُنَّآ أَوَّلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۝ الشعراء: ۵۰-۵۱

پروا ئې نشته، يقيناً چې موږ دخپل رب لوري ته گرځېدونکي يو، زموږ طمع دا ده چې زموږ رب زموږ خطاگانې راوبخښي، په دې چې موږ لومړني مؤمنان شوو.

هغوی اوس نه يوازې له مرگه نه وېرېږي بلکې وايي مرگ موږ له خپل معبود خدای سره وصلوي، تر ايمان راوړلو د مخه ئې له فرعون نه اجر او معاوضه غوښتله خو اوس د دوی مادي طمعه په معنوي تلوسې بدله شوې. هغوی اوس له خپل رب نه پرته له بل هيچا نه طمع نلرې او څه نه غواړي. له موسی عليه السلام نه هم څه نه غواړي، د هغوی مادي حرص او طمعه، د چوکۍ او اقتدار تلوسه، اوس په معنوي تلوسې بدله شوې، اوس يوازې له خپل رب نه طمعه لري، خو د هدايت او مغفرت طمعه، د فرعون له خوا د لاس پښو په قطع کولو گواښل کېږي، په مرگ او په دار ځړولو، خو هغوی وايي: موږ د دې پروا نلرو، باک ئې نشته، موږ د خپل رب لوري

ته تلونکي یو، اوس زموږ هیله دا ده چې الله تعالی زموږ ګناهونه راته وبخښي!!
ګورئ چې ایمان څومره ژوره تبدیلي په دوی کې راوسته، اوس ئې له مرګه وېره ختمه شوې، مرګ له خپل معبود رب سره د یو ځای کیدو وسیله ګڼي.

دا په یوه قوم کې د ایمان اثرات دي، هغه قوم چې په خوف او وېرې کې ئې ژوند کاوو، د فرعون لپاره ئې د موسی علیه السلام مقابله کوله، ایمان د دوی په شخصیت کې دو مره ژور بدلون او انقلاب راوست، له دې خبرې نه هدف دا دئ چې موږ ته د ایمان اغېز راوښيي او په دې مو پوه کړې چې د حقیقي ایمان اغېز داسې ژور او پراخ وي، کله چې حقیقي ایمان زړونو ته لار پیدا کړي حتماً به دې ته ورته نتایج ورکوي، همدا راز موږ ته ښيي چې دا د ایمان غوښتنه ده، چیرې چې ایمان وي هلته به دغسې له مرګه نه وېرېدل، زړورتیا، جرئت او شهامت وي، حریص، طماع، بخیل، جبون او ډارن خلک په دې لیار د تلو اهلیت نلري، بلکې هغسې خلک ایمان راوړلی او ساتلی شي چې د طمعې، حرص او بخل پر ځای قناعت لري او قرباني ته چمتو وي، دا قوم اوس ګورئ چې له موسی علیه السلام نه هم طمعه نلري، هغه ته هم نه وايي چې ستا په خاطر زموږ لاس پښې قطع کېږي، ستا په خاطر په دار ځړول کېږو، له داسې سختو ستونزو او مشکلاتو سره دې مخامخ کړي یو، دا هم نه وايي، بلکه ورته وايي: زموږ طمع دا ده چې زموږ رب زموږ خطاګانې راوبخښي، په دې چې موږ لومړني مؤمنان شوو.

ایمان انسان ته د (حرص) په ځای (قناعت) ورکوي، ایمان انسان ته جرئت او شهامت ورکوي، له مرګ نه ویره ئې په جرئت بدلوي، او حتی د شهادت په تمنا ئې بدلوي، عظیم الشأن قرآن د صحابه وو په اړه فرمايي چې هغوی ټولو له الله نه د شهادت تمنا کوله. فرمايي:

وَلَقَدۡ كُنتُمۡ تَمَنَّوۡنَ ٱلۡمَوۡتَ مِن قَبۡلِ أَن تَلۡقَوۡهُ فَقَدۡ رَأَيۡتُمُوهُ وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ ﴿١٤٣﴾

آل عمران: ۱۴۳

او یقیناً چې تاسو له دې نه مخکې چې له مرګ سره مخامخ شئ د هغه تمنا مو کوله، نو دا دئ ومو لیدو په داسې حال کې چې ورته کتل مو.

دلته له مرګه نه وېرېدل او د الله په لار کې د شهادت تلوسه، د ایمان نښه ګڼل شوې او د پېغمبر علیه السلام ټولو صحابه وو ته په خطاب کې ویل شوي چې تاسو ټولو د شهادت تمنا کوله، په دې مبارک آیت کې څو مهمې خبرې توجه غواړي:

- صحابه وو د شهادت تلوسه درلوده.
- د احد په جګړې کې ئې د دې تمنا د تر سره کېدو فرصت ترلاسه کړ.
- د دې صحنې د نظارې په ځای باید له هغې نه د خپل آرمان د ترسره کېدو په اړه استفاده شوې وی.

## د هجرت پرېکړه

کله چې مصر د بني اسرائیلو لپاره د اور په کندې بدل شو، الله تعالی موسی علیه السلام ته امر وکړ چې له خپلو ټولو پلویانو سره یو ځای د سینا په لورې هجرت وکړي، د هجرت لپاره معینه شپه وټاکل شوه، معینه شپه د دې لپاره وټاکل شوه چې د فرعون تر خبریدو مخکې او له دې نه وړاندې چې دوی را ایسار کړي او د هجرت مخه ئې ونیسي، له مصر نه په زیات واټن کې لرې شوي وي، ټول قوم د موسی علیه السلام په ملګرتیا په شپه کې له مصره وځي.

هجرت د پیغمبرانو سنت دئ، هجرت دمدنیتونو د جوړولو مقدمه ده او هجرت د انقلابي بدلونو پیل دئ. پر ولسونو کله کله داسې حالت راشي چې یا به هجرت کوي او یا به د تل لپاره په ذلت کې پاته کېدا مني، بني اسرائیل هجرت ته چمتو شول، راشئ وګورو چې قرآن د بني اسرائیلو د وتلو څرنګوالی څنګه بیانوي، او بایبل په دې اړه څه وایي؟ آیا دا وتل ئې د فرعون په اجازه ګڼي؛ همغسې چې

بایبل وایي او که له فرعونه د بغاوت په توګه؟ آیا د مصریانو ظلمي زامن په سیند کې غرق شوي که په خپلو کورونو کې وژل شوي؟ د شپې لخوا وتل ئې د دې لپاره وو چې فرعون په همغه شپه د وتلو امر ورته کړی وو او که د دې لپاره چې د فرعون له خبریدو د مخه ډېر مزل ووهي او که د فرعون لښکري ئې تعقیبوي نو وئې نه شي نیولی؟!!

قرآن فرمایي چې الله تعالی موسی علیه السلام ته د هجرت امر وکړ، ورته وئې ویل چې د شپې شپې بني اسرائیل مخکې او ته تر شا له مصره ووځئ، فرعون به له خپلو لښکرو سره په تاسو پسې درځي، د نیول کېدو وېره مه کوئ... د قرآن الفاظ دا دي:

فَأَسْرِ بِعِبَادِى لَيْلًا إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٢٣﴾ وَٱتْرُكِ ٱلْبَحْرَ رَهْوًا ۖ إِنَّهُمْ جُندٌ مُّغْرَقُونَ ﴿٢٤﴾ كَمْ تَرَكُوا۟ مِن جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٢٥﴾ وَزُرُوعٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٢٦﴾ وَنَعْمَةٍ كَانُوا۟ فِيهَا فَٰكِهِينَ ﴿٢٧﴾ كَذَٰلِكَ ۖ وَأَوْرَثْنَٰهَا قَوْمًا ءَاخَرِينَ ﴿٢٨﴾ فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ ٱلسَّمَآءُ وَٱلْأَرْضُ وَمَا كَانُوا۟ مُنظَرِينَ ﴿٢٩﴾ وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مِنَ ٱلْعَذَابِ ٱلْمُهِينِ ﴿٣٠﴾ مِن فِرْعَوْنَ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَالِيًا مِّنَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿٣١﴾ وَلَقَدِ ٱخْتَرْنَٰهُمْ عَلَىٰ عِلْمٍ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٣٢﴾ وَءَاتَيْنَٰهُم مِّنَ ٱلْءَايَٰتِ مَا فِيهِ بَلَٰٓؤٌا۟ مُّبِينٌ ﴿٣٣﴾ الدخان: ۲۳-۳۳

زما بندګان په شپې کې روان کړه، یقیناً چې ستاسو تعاقب به کېږي او بحر آرام او ولاړ پرېږده، بې شکه چې دوی غرقېدونکی لښکر دئ، څومره باغونه، چینې، فصلونه او د اوسېدو غوره ځایونه ئې پرېښودل او هغه نعمتونه چې چړچې ئې په کې کولې؟!! همداسې او بل قوم ته مو په میراث ورکړل، نو نه آسمان او ځمکې پرې وژړل او نه مهلت ورکړی شو!! او یقیناً چې بني اسرائیل مو له هغه سپکوونکي عذابه وژغورل، له فرعونه؛ یقیناً چې هغه د مسرفینو له ډلې نه یو ستر متکبر وو او

يقيناً چي په پوهي سره مو (بني اسرائيل) پر ټولو نړۍ والو غوره کړل او هغه نښې مو ورکړې چي څرګندي آزمويني په کي وې.

همدا راز فرمايي:

وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِيٓ إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٥٢﴾ فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِي ٱلْمَدَآئِنِ
حَٰشِرِينَ ﴿٥٣﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ ﴿٥٤﴾ وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُونَ ﴿٥٥﴾ وَإِنَّا لَجَمِيعٌ
حَٰذِرُونَ ﴿٥٦﴾ فَأَخْرَجْنَٰهُم مِّن جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٧﴾ وَكُنُوزٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٥٨﴾ كَذَٰلِكَ
وَأَوْرَثْنَٰهَا بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٥٩﴾ فَأَتْبَعُوهُم مُّشْرِقِينَ ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا تَرَٰٓءَا ٱلْجَمْعَانِ قَالَ
أَصْحَٰبُ مُوسَىٰٓ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ ﴿٦١﴾ قَالَ كَلَّآ إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴿٦٢﴾ فَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ
مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْبَحْرَ فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَٱلطَّوْدِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٦٣﴾
وَأَزْلَفْنَا ثَمَّ ٱلْءَاخَرِينَ ﴿٦٤﴾ وَأَنجَيْنَا مُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓ أَجْمَعِينَ ﴿٦٥﴾ ثُمَّ أَغْرَقْنَا ٱلْءَاخَرِينَ
﴿٦٦﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَءَايَةً وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٦٧﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ
ٱلرَّحِيمُ ﴿٦٨﴾ الشعراء: ٥٢-٦٨

او موسی ته مو وحي وکړه چي زما بندګان په شپه کي روان کړه، (دوی ترمخ او ته ئې تر شا)، يقيناً چي ستاسو تعاقب به کېږي، نو فرعون ښارونو ته اربکي ولېږل، (او وئې ويل) : دا يو لږکی ټولګی دئ او دا دوی دي چي زموږ غصه ئې راپارولې او يقيناً چي موږ يو محتاط ټولی يو، نو له باغونو او چينو مو وايستل او له خزانو او غوره بنګلو، همداسي؛ او بني اسرائيلو ته مو په ميراث ورکړل، نو د لمر خاته پر مهال ورپسې شول او کله چي دواړو ډلو يو بل سره وليدل د موسی ملګرو وويل: شک نشته چي موږ وموندل شوو (دا دئ موږ ته راورسېدل)، وئې ويل: داسي نه ده؛

يقيناً چې زما رب راسره دئ، هغه به حتماً (د نجات) لار راښيي، نو موسی ته مو وحي وکړه چې دا سيند په عصا ووهه، نو وچاود او هره برخه ئې د ستر غره په څېر (پر ځای ولاړه) وه، هغه ځای ته مو وروستني هم رانږدې کړل او موسی او ټول هغه کسان مو وژغورل چې له ده سره ول، بيا مو وروستني غرق کړل، يقيناً چې په دې کې ستره نښه ده او ډېری ئې ايمان راوړونکي نه ول او يقيناً چې ستا رب مهربان عزتمن دئ.

ګورئ چې موسی عليه السلام په هغه سخت حالت کې، چې له هرې خوا لار پرې بنده، د دښمن مجهز فوځ ئې تر شا، مخې ته بحر حايل او ملګري ئې هم وېرې اخيستي، خو دی په همدې حالت کې ډاډه او مطمئن دئ او د الله تعالی مرستې ته سترګې په لار او د همدغه ډاډ او اطمئنان په وجه الله تعالی ورته وفرمايل: اوس نو دا بحر په خپلې عصا ووهه، يعني دا الهي مرسته د هغه ډاډ او اطمئنان نتيجه وه چې موسی عليه السلام وښوده او خپلو ملګرو ته ئې وويل: ګمان مه کوئ چې موږ ونيول شوو او د دښمن په لاس کې پرېوتو!! الله تعالی راسره دئ؛ هغه زموږ د ژغورني ذمه وار دئ!!

ښايي هيڅ هوښيار او د حساس ضمير خاوند به دا ضرورت احساس نه کړي چې د قرآن دا بليغه، اغېزناکه او عبرتناکه وينا د بايبل له هغې پرېوتې او ګډې وډې وينا سره مقايسه شي، دې ته د انسان زړه په رېږدا راشي، د سر وېښتان ئې ځېږ شي، دا آيتونه ئې له ځان سره همغې صحنې ته بوځي، داسې احساس ورسره راپيدا شي چې دا هر څه په خپلو سترګو ګوري، يوه ډله د سيند په څپو سره وژغورل شي او بله په همدې څپو کې غرقه شي، يوه ته سيند په خپلې سينې لار ورکوي او بل ته خپل کومی پرانېزي، له يوه سره بې وزلي او وېرې اخيستي ملګري دي او له بل سره مغرور او مجهز فوځ، يو د آزادۍ لپاره خوځېدلی او بل د غلامۍ په زنځېرونو کې د يوه مظلوم ولس د ساتلو تکل کوي، يو پر الله تعالی توکل کوي،

د هغه په امر خوځېدلی او خپله لار په خپلې عصا پرانېزي او بل د خدایۍ دعوی کوي، یو د بنګلو، باغونو او خزانو خاوند دئ او بل تش لاسی ولس، له هر څه محروم، د وطن پرېښودو ته اړ، ... خو ګورئ چې وروستۍ فتح او بریا د چا په برخه کېږي او له ماتې سره څوک مخامخ کېږي؟!! پرېکړې له عرشه صادرېږي نه د زمکې پر سر له قصرونو نه، داسي نه ده چې د زور او ځواک خاوندان به تل برلاسي وي او په هرې نښتې کې به بریا د دوی په برخه!! نه ګورئ چې فرعون له کوم برخلیک سره مخامخ شو؟!! آیا له خپل لښکر سره یو ځای غرق نه شو؟ او شتمنې ئې بني اسرائیلو ته په مېراث پاتې نه شوه؟!!

د فرعون غرقېدا داسي پېښه ده چې انکار ترې ډېر ګران دئ، د مصر فرد فرد له خپل پلار نیکه نه اورېدلې او سینه په سینه تر ننه رارسېدلې، د فرعون په مومیایي شوي کالبت باندي؛ وروستیو علمي څېړنو هم ثابته کړه چې هغه په اوبو کې د غرقېدو په وجه مړ شوی، بایبل هم دا قصه رااخیستې ده خو هسې د یوې پېښې په توګه، له قصې مخکې او وروسته به داسي څه په نظر در نه شي چې د قصې د بیانولو موخه او هدف ګڼل کېږي، خو وګورئ چې قرآن په دې اړه څومره عبرتناکه وینا لري:

وَجَٰوَزۡنَا بِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡبَحۡرَ فَأَتۡبَعَهُمۡ فِرۡعَوۡنُ وَجُنُودُهُۥ بَغۡيٗا وَعَدۡوًاۖ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَدۡرَكَهُ ٱلۡغَرَقُ قَالَ ءَامَنتُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱلَّذِيٓ ءَامَنَتۡ بِهِۦ بَنُوٓاْ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَأَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿٩٠﴾ ءَآلۡـَٰٔنَ وَقَدۡ عَصَيۡتَ قَبۡلُ وَكُنتَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٩١﴾ فَٱلۡيَوۡمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنۡ خَلۡفَكَ ءَايَةٗۚ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ عَنۡ ءَايَٰتِنَا لَغَٰفِلُونَ ﴿٩٢﴾ یونس: ۹۰-۹۲

او بني اسرائیل مو له سینده تېر کړل، نو فرعون او لښکري ئې د ظلم او تېري په

قصد ورپسې شول، تر هغه چې غرقېدا راګېر کړ، وئې ویل: په دې ایمان راوړم چې له هغه معبود پرته بل معبود نشته چې بني اسرائیلو پرې ایمان راوړی او زه (نور د الله تعالی په وړاندې) له غاړه اېښودونکو او تسلیم شوو څخه یم!! اوس! او په داسې حال کې چې مخکې دې سرکښې کوله او له مفسدینو څخه وې؟!! نو نن به دې بدن وژغورو تر څو هغو کسانو ته (د عبرت) نښه وې چې له تا وروسته (راځي او پاته) دي او د خلکو ډېری زما له آیتونو غافل دي!!

بایبل د دغو اساسي خبرو له کولو عاجز دئ، قصه د قصې لپاره راوړې نه د کوم اوچت او سپېڅلي مقصد لپاره !!

دا هم د قرآن یو بل اعجاز دئ چې د فرعون د جسد په اړه ئې وینا رښتینې ختلې، جسد ئې تر نن پورې د عبرت په توګه پاته دئ او دښمن اعتراف کوي چې هغه د قرآن له وینا سره سم په اوبو کې د غرقېدو په وجه مړ شوی!!

## د نجات د ورځې لمانځنه

بایبل (د فصح عید) تر عنوان لاندې داسې کاږي: خدای موسی او هارون ته وویل: له دې وروسته به ستاسو لپاره دا میاشت د کال لومړۍ او تر ټولو مهمه میاشت وي... هر کال به د دې میاشتې په لسمه هره کورنۍ یو وری تیاروي، که د کورنۍ شمېر کم وي په خپل ګاونډ کې له بلې وړې کورنۍ سره دې ګډ شي، دا وری یا سېرلی به نر، بې عیبه او یو کلن وي، د همدې میاشتې د څوارلسمې په مازدیګر دې ټول اسرائیلیان دا وري قرباني کړي او د هغوی وینې دې د دروازو د ولاړو تیرانو او د هغو خونو د دروازو پر سر وشیندي چې د وري غوښه په کې خوړل کېږي، په همدې شپه دې دا غوښه وریته کړي او له پتیري ډوډۍ او ترخو سابه سره دې وخوري، غوښه به اومه او په اوبو کې پخه شوې نه خوري، بلکې ټوله به د سر، پښو، زړه او یني په شمول وریته او ټوله به د همدې شپې تر سهاره

خوري، که څه پاتې شوه هغه به سوزوي (د دې لپاره چې غیر یهودي ته ئې تر پاتې کېدو سوزول غوره دي!!)، د وري له خوړو مخکې به خپلې څپلې په پښو کوئ، خپله عصا به په لاس کې نیسئ او د سفر لپاره به تیارېږئ...دا مراسم به د خدای فصح په نامه یادېږي، دا ځکه چې زه خدای یم او نن شپه به د مصر له سیمې تېرېږم او د مصریانو ټول مشران زامن او د دوی د څارویو لومړي پیدا شوي بچیان به وژنم او د دوی خدایانو ته به سزا ورکوم، کومې وینې چې تاسو د دروازو پر تیرانو شیندلې دا به د دې نښه وي چې دا کورونه ستاسي دي، زه به ئې په همدې سره پېژنم، له هغوی به تېرېږم او یوازې مصریان به وژنم!!! هر کال به د دې ورځې په یاد جشن نیسئ، په دې جشن کې چې اوه ورځې به وي یوازې پتیره ډوډی خورئ، په لومړی ورځ به خمېره له کوره بهر وړئ... ځکه که څوک په دغو ورځو کې د خمېره شوو وړو ډوډی وخوري له اسرائیلیانو نه به شړل کېږي، په لومړی او اوومه ورځ به ټول په ګډه د خدای عبادت کوئ، په دغو دوو ورځو کې به د خوراک له برابرولو پرته بل هیڅ کار نه کوئ!! بایبل دلته دا خبره درې ځلي تکراروي چې په دغو اوه ورځو کې به یوازې پتیره ډوډی خورئ، په کور کې به خمېره نه ساتئ، چا چې خمیره ډوډی وخوړله له اسرائیلیانو نه به طرد کېږي!!! دا به تر ابده پر تاسو واجب وي... دا د دې لپاره چې په دغې ورځې ما له مصره وژغورلئ!!!

لکه چې ګورئ دا برخه هم له ډېرو مسخره او خندوونکو خبرو ډکه ده، چې ځیني ئې دا دي:

- آیا دا عجیب مذهب نه دئ چې د یوه کلن وري حلالول، وریتول او په خپله ئې خوړل یو مهم مذهبي کار ګڼي؟!! داسي نه چې هغه حلال کړئ او د الله تعالی په نامه ئې فقیرانو او مسکینانو ته ورکړئ!! قرباني خو دې ته ویل کېږي چې څوک له یوه غوره شي؛ د یوه سپیڅلي هدف لپاره تېر شي، نه پوهېږو چې د داسي وریتي غوښې خوړلو ته څنګه د قربانی نوم ورکوئ؟!!

- آیا کېدی شي الهي دین انسانانو ته ووایي چې د خپلو کورونو او خونو دروازې د قربانۍ په وینو ولړئ؟!! آیا داسي دین به د سالم فطرت خاوند ومني؟!! او په خاصه توګه چې دا په وینو د دروازو لړل د دې لپاره ضروري ګڼي چې خدای ته د یوې نښې په توګه وي او په دې سره پوه شي چې دا کور او دا خونه د اسرائیلیانو ده، نو هلته به له ننوتلو ډډه کوي او د دوی زامن به نه وژني؟!!!
- ګورئ چې د بایبل له نظره مهم مسایل کوم دي؟ د ثواب کار کوم دئ او د ګناه کار کوم؟ خدای په څه راضي کېږي او په څه ناراضه کېږي؟ د بایبل خدای د پتیري ډوډۍ په خوړلو راضي کېږي او د خمېره ډوډۍ په خوړلو دومره غصه کېږي چې خوړونکی ئې له خپل نازولي قوم نه د شړلو او رټلو وړ ګڼي!!! آیا داسي دین ته څوک الهي دین ویلی شي؟ آیا هغه دین یو انساني دین کېدی شي چې د انسان د ژوند اړوند ټول مهم او اساسي مسایل ئې له پامه غورځولي وي او ترکیز ئې په دغسي مسایلو وي؟!!

قرآن وایي چې فرعون ټولو ښارونو ته اربکي ولېږل، لوی فوځ ئې برابر کړ، د هغوی په ستنولو او وژلو پسې ووتل:

وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِيٓ إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٥٢﴾ فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِي ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿٥٣﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ ﴿٥٤﴾ وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُونَ ﴿٥٥﴾ وَإِنَّا لَجَمِيعٌ حَٰذِرُونَ ﴿٥٦﴾ الشعراء: ٥٢-٥٦

او موسی ته مو وحي وکړه چې زما بندګان په شپې کي وباسه (او په دې پوه شه چې) حتماً به ستاسو تعاقب کېږي. نو فرعون ټولو ښارونو ته اربکي ولېږل وئې ویل: دا یوه وړوکې ډلګۍ ده، او یقیناً چې دوی زموږ لپاره غصه کوونکي دي، او بې شکه چې موږ یوه محتاطه ډله یو.

په دې مبارکو آیتونو کي څو اساسي خبري تر سترګو کېږي:

- موسی علیه السلام ته د هجرت حکم شوی خو په دې توګه چې قوم مخکې او دی تر شا، پیغمبر علیه السلام هم لومړی خپل ټول اصحاب له مکې نه رخصت کړل او ترټولو وروسته ده هجرت وکړ. موسی علیه السلام ته هم همداسې وینا شوې وه.
- دا هجرت د شپې له لوري پیل شوی او په ډله ییزه توګه وو.
- دوی ته ویل شوي وو چې دښمن به وړپسې وځې، د دوی د نیولو، راستنولو او وژلو هڅه به کوي.
- فرعون ویلي چې دا یوه کوچنۍ ډله ده، د ګوتو په شمېر، چې مقصد ئې یا په درواغو د دوی شمېر کم ښودل او د خپلو جنګالیو روحیه لوړول وو؛ همغسې چې تل د اقتدار خاوندان د خپلو مخالفینو په اړه وایي، همغسې لکه چې کمونیستانو او روسانو به د مجاهدینو په اړه ویل چې دا د ګوتو په شمیر اشرار دي، په سلوکې ۹۸ ولس له موږ سره دئ، او همغسې چې نن امریکایان د مجاهدینو په اړه همدا خبره کوي، خپلو لښکرو ته د فرعون دا وینا؛ یوازې د فرعون خبره نده بلکې هر فرعون د حقپالو په خلاف تل همدا خبره کړې چې دوی په ټولنه کې وجاهت او نفوذ نلري، محدود شمیر کسان دي، (ان هؤلاءلشرذمة قلیلون: په رښتیا چې دا یوه وړوکې ډلګۍ ده!!) او یا په دې سره قرآن د بایبل هغه وینا ردوي چې وایي: له مصر نه د وتلو پر مهال د بني اسرائیلو شمېر دومره وو چې یوازې د جنګیالیو شمېر ئې شپږ لکه وو، یعني لږ تر لږه دوه ملیونه.
- د(انهم لنا لغائظون) د فقرې دوه ژباړې کېدی شي: ۱- دوی زموږ غصه کوونکې دي، زموږ غصه ئې راپارولې ده، اوس به خپله غصه پرې سړوو، ۲- دوی موږ ته په غصه دي، که د وتلو اجازه ورکړو د غچ اخیستو هڅه به کوي. خو له الفاظو چې کوم مطلب په آسانۍ او ژر اخیستل کېږي دوهمه ژباړه ئې افاده کوي. وړپسې آیت هم د دې تأیید کوي، یعني د احتیاط تقاضاء دا ده چې دوی له مصر نه

وتلو ته پرې نږدو كه نه موږ ته به ستونزې راولاړې كړي.

موسى عليه السلام او ملګرې ئې له بحر سره مخامخ كېږي، د تېرېدو لار نه مومي، له شا نه د فرعون لښكري رانږدې كېږي، دوى ځان په محاصره كيويني، موسى عليه السلام ته د سخت اضطراب، پرېشانى او نا اميدى په حال كي وايي: موږ محاصره شوو، د دښمن لاس ته ورغلو، د خلاصون او نجات لاره نشته، له محاصرې نه د وتلو امكان نه مومو، قرآن په دې اړه فرمايي:

فَلَمَّا تَرَٰٓءَا ٱلۡجَمۡعَانِ قَالَ أَصۡحَٰبُ مُوسَىٰٓ إِنَّا لَمُدۡرَكُونَ ﴿٦١﴾ الشعراء: ٦١

كله چي دواړو ډلو يوبل وليدل، د موسى يارانو وويل: موږ ونيول شوو!

په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه كوي چي ښايي پر تاسو هم داسي حالت راشي، د محاصرې حالت او هرى خوا ته د نجات د امكاناتو فقدان او د ټول قوم او د سفر د ملګرو اضطراب او پرېشاني، خو لكه چي الله تعالى دغه پرېشان او نهيلي قوم ته چي ځان ئې په سختي او نه ماتېدونكې محاصره كي ليدو، له نجات او ژغورني مأيوس وو، په پاى كي نجات وركړ؛ همداسي به تاسو ژغوري، په دې شرط چي د موسى عليه السلام په څېر صبر وكړئ، بې همته نشئ او خداى ځان ته كافي وګڼئ، قرآن په دې سخت حالت كي د موسى وضعيت داسي انځوروي:

قَالَ كَلَّآۖ إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهۡدِينِ ﴿٦٢﴾ الشعراء: ٦٢

وئې ويل: نه؛ هيڅكله (داسي نه ده)، له ما سره زما رب دئ، حتماً به ما ته لار ښيي.

يعني موسى عليه السلام په همدې سخت حالت كي ډاډه او مطمئن دئ چي الله تعالى به ئې ژغوري، په خپلي بريا باور لري، د همدغي سختي محاصرې او د خپلو ملګرو د نهيلى په حالت كي د خپلي بريا په اړه شك نلري، كه څه هم مخي ته بحر، شا ته د دښمن مجهز لښكر، د سفر ملګري مضطرب او پرېشانه، هومره چي وايي: نور نو موږ ونيول شوو، محاصره يو، له دې محاصرې نه د وتلو امكان نشته!!

د تنگسې او اضطراب په دغسې سخت حالت کې مطمئن وو او خپلو یارانو ته ئې اطمئنان ورکاوو او ویل ئې: داسې نده لکه چې تاسو گمان کوئ، له ما سره زما رب دئ، هغه به د نجات لار راښیي، هغه به د نجات لاره زموږ پرمخ پرانېزي.

عظیم الشأن قرآن فرمایي چې د همدې اطمینان له امله موږ ورته وویل چې اوس نو دا بحر پخپلې عصا ووهه، بحر شق شو، او د موسی علیه السلام او د ده د ملگرو د تېرېدو لپاره د بحر په زړه کې وچه لاره پرانیستل شوه، دا هر څه د موسی علیه السلام د هماغه اطمئنان نتائج وو، هماغه ډاډ او سکون او د خپل رب په وعدو پوخ باور او د راتلونکې په اړه ډاډ او اطمئنان، د موسی علیه السلام او د ده یارانو د ژغورنې او خلاصون باعث شو. په دې کې د هر مؤمن او مجاهد لپاره ستر درس دئ، او لارښوونه ورته کوي چې که له داسې حالت سره مخامخ شوئ چې موسی علیه السلام او د سفر ملگري ئې ورسره مخامخ شول، که په دې حالت کې د صف قائد او د مبارزې ملگري ئې صبر وکړي، د خپلې فتحې او بریا په اړه هیله من وي، پر خپل رب ئې توکل وي، له هغه مرسته وغواړي او هغه ځان ته کافي وگڼي، الله تعالی به ئې هرومرو مرسته کوي او د نجات لارې به ئې پر مخ پرانېزي، ډېر ځلې داسې شوي چې یو هیله من، صابر او متوکل شخصیت د یوه ستر قوم او لښکر د خلاصون باعث شوی، او ډېر ځلې یو نهیلی او ویریدونکی قائد د یوه لوی لښکر د ماتې باعث شوی، په جنگونو کې ډېر ځلې لیدل شوي چې د یوه لوی بریدکوونکی، برلاسي او غالب لښکر په یوه گوټ کې یوه ډارن او جبون کس نورو ته غږ کړی چې دښمن له هرې خوا محاصره کړي یو او تعداد ئې زیات دئ، د دې جبون فوځي غږ په ټول لښکرکې دومره ویره او خوف راپیدا کړی چې هغه د فتحې او بریا په حال کې لښکر ماتې خوړلې، وېره پرې مسلطه شوې، له وارخطایۍ او پریشانۍ ئې سنگرونه پرېښي، داسې وېرې اخیستې چې زمکې ځای نه ورکولو او په هیڅ لورې کې ئې د امان او ټېکې ځای نه موندو، همدا راز بله ډله به گورې چې د ماتې په حال

کې ده، خو د صفوفو له منځه به يو زړه ور او توريالی پر نورو غږ کړي چې ډاډه اوسئ، مقاومت وکړئ، تاسو بريالي يئ، دښمن په تيښته دئ... د دې هيله من او ډاډمن انسان دا همتناک غږ به د همدی کمزوري او نهيلي او د ماتې په حال کې لښکر د فرد فرد په زړه کې د بري هيله راژوندی کړي، مړاوې روحيه به ئې راژوندی کړي، په هغوی کې به د ثبات او استقامت عزم او د قربانۍ جذبه راپيدا کړي او همدا همتناک غږ به د دې باعث شي چې ماتې په فتحې او بريا بدله شي.

د قرآن له وينا معلومېږي چې د بني اسرائيلو ژغورنه د موسی عليه السلام د هغه اطمئنان نتيجه وه چې د الله تعالی د تأييد او حمايت په اړه ئې ښودلې، د قرآن الفاظ دا دي:

فَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْبَحْرَ ۖ فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَٱلطَّوْدِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٦٣﴾ وَأَزْلَفْنَا ثَمَّ ٱلْـَٔاخَرِينَ ﴿٦٤﴾ وَأَنجَيْنَا مُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓ أَجْمَعِينَ ﴿٦٥﴾

الشعراء: ٦٣-٦٥

نو موسی ته مو وحي وکړه چې بحر په خپلي عصا ووهه، نو وچاود او هره برخه ئې داسې وه لکه لوی غر، او هلته مو وروستني هم رانږدې کړل، او موسی مو وژغورو او ټول هغه چې له ده سره ول.

يعني دا وحي او د بحر چاودېدا د هغه وينا نتيجه وه چې موسی عليه السلام د خپل مأيوس او وېرېدلو ملګرو په وړاندي وکړه.

قرآن د دې پېښې په يادولو سره هر باايمان داعي او مؤمن مجاهد ته لارښوونه کوي چې په داسې سختو شېبو کې بايد مأيوس نشي او د خپل رب د مرستې او تأييد په اړه ئې باور او اعتماد کمزوری نشي.

## د فرعون غرقېدا

کوم بحر چې موسی عليه السلام او د ده د سفر ملګروته ئې په خپلي سينې لار

ورکړه، د دوی لپاره وچاود، وچه لار ئې ورته پرانیسته، او دواړه برخې ئې تر هغه لوړې ولاړې وې چې دوی له بحر نه آخوا تېر شول، همدا بحر د فرعون او د هغه مغرورو لښکرو لپاره خپل کومې پرانیستي وو، ټول ئې له خپل ستوني تېر او غرق کړل، دا ده د الله تعالی د قدرت حیرانوونکې کرشمه، یو د بحر په څپو کې ژغوري او بل په همدغو څپو کې وژني، دا پېښه به بیا او بیا هم تکرارېږي، کله په یوې بڼې کې او کله په بلې بڼې کې!!

فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ فَأَغۡرَقۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡيَمِّ بِأَنَّهُمۡ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُواْ عَنۡهَا غَٰفِلِينَ ﴿١٣٦﴾ الاعراف: ۱۳٦

نو انتقام مو ترې واخیست او په سیند کې مو غرق کړل، د دې لپاره چې زما آیتونه ئې تکذیبول او ترې غافله ول.

د الله تعالی د قدرت د نخښو درواغ ګڼل، غفلت او بې باکي د دې سبب شوه چې په بحر کې غرق شي، دا همغه څپې دي چې دوه ځلې ئې موسی علیه السلام وژغورو، په ماشومتوب کې هم او هغه مهال هم چې د یوه ستر تاریخي کاروان مشري ئې کوله.

نو اې د الله د لارې مجاهده! کېدی شي د مبارزې په دوران کې ته او یاران دې هم له داسې لوړو، ژورو او هسکو، ټیټو سره مخامخ شئ، خو د دې طوفانونو او حوادثو له لوړو او ژورو به وېره نلرې، هیله ده چې د دغو پېښو په لوړو ژورو کې حکیم خدای تاسې همغسې وژغوري لکه چې موسی علیه السلام ئې د هغه بحر په چاودلو سره وژغورو چې فرعون ئې په کې غرق کړ، او لکه چې تر ده د مخه ئې د نوح علیه السلام کشتۍ د هغه طوفان په څپو کې وژغورله چې د ده دښمنان او مخالفان ئې د همدې طوفان په څپو کې ډوب کړل، ښايي ستا مخې ته به هم د داسې طوفانونو څپې راشي خو مطمئن اوسه چې دا طوفانونه د یوه مظلوم او با ایمانه قوم د

نجات او خلاصون لپاره او د بل ظالم ټولګي د ځپلو، نسکورولو او غرقولو لپاره دي، د ستونزو او کړاوونو په دوران کې باید ستا دريځ همغسې وي لکه د موسی علیه السلام، داسې نه چې په سختو شېبو او د مشکلاتو او ستونزو په وړاندې د خپل رب له عناياتو مأيوس او ناهيلی شې او د يأس په وجه مبارزه په نيمايي کې پرېږدې او دښمن ته تسليم شې. موسی علیه السلام په الهي وعدو باور وکړ، د دې باور او اعتماد پايله بريا او فتحه وه، فرعون الهي وعده او وعيد دروغ وګڼل؛ پايله ئې غرقېدا وه.

## د فرعون له غرقېدو وروسته څه وشول؟

قرآن په دې اړه فرمايي:

وَأَوْرَثْنَا ٱلْقَوْمَ ٱلَّذِينَ كَانُوا۟ يُسْتَضْعَفُونَ مَشَـٰرِقَ ٱلْأَرْضِ وَمَغَـٰرِبَهَا ٱلَّتِى بَـٰرَكْنَا فِيهَا ۖ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ ٱلْحُسْنَىٰ عَلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ بِمَا صَبَرُوا۟ ۖ وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُۥ وَمَا كَانُوا۟ يَعْرِشُونَ ﴿١٣٧﴾ الاعراف: ۱۳۷

او هغو خلکو ته مو چې په بې وزلۍ کې ئې د ساتلو هڅه کېده، د هغې زمکې ختيزې او لوېديزې برخې په ميراث ورکړې چې برکت مو په کې اچولی وو او ستا د رب نېکه وينا د بني اسرائيلو په اړه له دې امله بشپړه شوه چې صبر ئې وکړ او هغه څه مو هم ويجاړ کړل چې فرعون او د ده قوم جوړول او هغه څه هم چې دوی لوړول.

دلته څو اساسي خبرې غور او دقت غواړي:

- آيا دا بابرکته زمکه په خپله د مصر زمکه وه، که د مصر تر ولکې لاندې کومه بله زمکه او که شام او فلسطين چې په قرآن کې څو ځايه په همدې نامه ياده شوې؟ ځينې مفسرين په دې عقيده دي چې د فرعون له مرګه وروسته مصر د بني اسرائيلو

په لاس کې پرېوتی، دوی د قرآن په ځینو آیتونو د خپلې رأیې په تأیید کې استناد کوي، ځیني نور تاریخي روایاتو ته په پام سره وايي چې بني اسرائیل مصر ته بېرته نه دي ګرځېدلي بلکې خپل سفر ته ئې د فلسطین په لوري دوام ورکړی او زیاته موده د سینا په بیدیا کې لالهانده پاته شوي، که څه هم تاریخي روایات، مخصوصاً په بایبل متکي روایات قطعاً د اعتبار وړ نه دي، خو په قرآن کې داسې صریح اشاره نه مومو چې مصر ته د بني اسرائیلو د بېرته ستنېدو خبره ترې ثابته شي، داسې معلومېږي چې د فرعون سلطه د سیند ختیځې غاړې ته هم غزېدلې وه، دلته ځیني ښېرازه سیمي بني اسرائیلو ته په لاس ورغلې، وروستني آیت هم دې ته اشاره کوي چې دوی له سیند نه له تېرېدو وروسته مخامخ صحرا ته نه دي کوز شوي بلکې مېشتو سیمو ته داخل شوي، خو دا چې ولې دلته نه دي تم شوي، ولې ترې وتلي او کله، په دې اړه څه ویل ګران دي.

- دا آیت ښیي چې بني اسرائیلو په لومړي سر کې د موسی علیه السلام صادقانه ملګرتیا کړې، د الله په لار کې ئې ستونزي ګاللې او صبر ئې کړی او د دغه اخلاص او صبر په وجه الله تعالی خپل تأیید او نصرت د دوی په حال شامل کړی.
- آیا د فرعونیانو د جوړ کړی شوو او لوړ کړی شوو څخه مراد د دوې وسلې، جنګي ګاډي او قصرونه دي؟ جنګي وسایل خو ئې یقیناً په سیند کې غرق او ټول ویجاړ شول خو قصرونه ئې څنګه ویجاړ شول؟ دا ښیي چې د فرعون له مرګه وروسته په مصر کې ګډوډي، وراني او بې امني رامنځته شوې، نظام په بشپړه توګه له منځه تللی، ډېر دولتي تأسیسات ویجاړ شوي، طبیعي ده چې کله د مصر د مجهز فوځ تر ټولو منظم ځواک او فرعون ته وفادار قطعات له منځه تللي، د فرعون ځای ناستي زوی هم وژل شوی وو، نو له سختو مخالفتونو سره مخامخ دیکتاتوري او استبدادي نظام نشو کولی داسې صدمه په آسانۍ وزغمي، دا آیت د هغو کسانو رأیه تردیدوي چې ګمان کوي یوازې د سیند په غاړه د مصري فوځ ځیني قطعات غرق

شوي او نوره هیڅ تبدیلي نه ده راغلې.

همدا راز قرآن فرمايي:

فَأَخْرَجْنَٰهُم مِّن جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٧﴾ وَكُنُوزٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٥٨﴾ كَذَٰلِكَ وَأَوْرَثْنَٰهَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٥٩﴾ الشعراء: ٥٧-٥٩

نو له له باغونو، چینو، خزانو او غوره ځايونو نه مو وايستل، همداسي مو بني اسرائيلو ته په ميراث ورکړل.

بل ځای فرمايي:

كَمْ تَرَكُوا۟ مِن جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٢٥﴾ وَزُرُوعٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٢٦﴾ وَنَعْمَةٍ كَانُوا۟ فِيهَا فَٰكِهِينَ ﴿٢٧﴾ كَذَٰلِكَ ۖ وَأَوْرَثْنَٰهَا قَوْمًا ءَاخَرِينَ ﴿٢٨﴾ فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ ٱلسَّمَآءُ وَٱلْأَرْضُ وَمَا كَانُوا۟ مُنظَرِينَ ﴿٢٩﴾ الدخان: ٢٥-٢٩

څومره باغونه، چينې، فصلونه او د اوسېدو غوره ځايونه او هغه نعمتونه ئې پرېښودل چي پکي خوشحاله ول، همداسي مو بل قوم ته په ميراث ورکړل، بيا نه زمکي او آسمان پر هغوی وژړل او نه په انتظار کي پرېښودی شوي ول.

الله تعالی مزيد وخت ورنکړ، په زمکه او آسمان کي هیڅوک پيدا نشو چي د دوی په حال تأسف وکړي او اوښکي پرې توی کړي، ځکه هغوی له الله تعالی سره د خپل تعلق په شلولو سره د آسمانونو او زمکي له هر څه سره خپلي اړيکي شلولې وې، د الله تعالی له تأييد نه د محرومېدا په سبب د هر څه له تأييد نه محروم ول، له دی ظالم قوم نه هر څه مظلوم قوم ته په ميراث پاته شول. باغونه، فصلونه، چينې، بنگلې او ټول هغه نعمتونه چي الله تعالی ورکړي وو، ټول په ميراث ترې پاته شول، د اقتدار په دوران کي ډېرو خلکو د دوی ستاينه او مداحي کوله، د هغوی په وړاندي ئې غوړه مالی کوله، د هغوی خدمت ته ئې ملاتړلې وه، د

وفادارۍ دعوی ئې کوله، ویل ئې د دوی په خاطر هري قربانۍ ته چمتو دي، په ښو او بدو کي ئې هغوی تأییدول، خو کله چي الله تعالی غرق کړل، نو بیا په زمکه او آسمان کي داسي څوک نه وو چي د هغوی لپاره ئې اوښکي توی کړې وی، الله تعالی تر خاصي نېټي او تر هغه ظالمانو ته مهلت ورکوي چي خپل حجت پرې اتمام ته ورسوي، بیایی کلک نیسي، د عذاب دا نېټه ثابته او نه بدلېدونکې ده، نه ئې د ظالمانو زور او تزویر بدلولی شي او نه د دوی د پلویانو ډېروالی او شمېر، کله چي دا عذاب نازل شي هیڅ څه او هیڅوک ئې مرسته نشي کولی: لکه چي قرآن فرمایي:

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٢٢﴾ آل عمران: ۲۲

دوی هغه دي چي عملونه ئې په دنیا او آخرت کي حبط او تباه شوي او هیڅ مرستندوی ورته نشته.

نه به په دنیا کي له خپلو کړنو او هلو ځلو څه ترلاسه کړی شي او نه په آخرت کي او نه به داسي څوک ومومي چي په دنیا او آخرت کي ئې له خپل شوم عاقبت نه وژغوري، دوی هیڅ مرستندوی نه لري، هیڅوک ئې له زړه نه او په اخلاص سره مرسته نه کوي، که نن ډېر د دوی د مرستي او حمایت تیږي په سینه وهي او د دوی لپاره لاس ترلي ولاړ دي، چي د ربښتیا ورځ راشي، نو یو کس به هم د دوی مرستي ته راوړاندي نه شي او مرسته به ئې ګټه ورونه رسوي.

## غوره امت

بل لوري ته الله تعالی بني اسرائیل د عزت او سرلوړۍ هغه اوچت مقام ته ورسول چي پر ټولو نړۍ والو دوی ته فضیلت ورکړی شو، د ټولو آزادي

غوښتونکو لپاره امامان شول، لکه چې قرآن فرمايي:

وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا ۖ وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ ﴿٢٤﴾

السجده: ٢٤

له دوی نه مو هغه امامان جوړ کړل چې زموږ په حکم ئې د خلکو لارښوونه کوله، د دې لپاره چې صبر ئې وکړ او زما په آيتونو ئې يقين درلود.

د نورو لپاره امامان او پيشوايان شول، د نورو لپاره ئې د هادي او مرشد حيثيت تر لاسه کړ، وجه ئې د دوی صبر او د الله تعالی په آيتونو باور او يقين وو.

په دې توګه ګورو چې الله تعالی بني اسرائيلو ته د څو خبرو په سبب پر نورو قومونو فضيلت ورکړ او د عزت او شرف لوړو پوړو ته ئې ورسول:

- پر الله تعالی او د هغه پر پيغمبر موسی عليه السلام ئې ايمان راوړ.
- له فرعون نه ئې د بغاوت لار غوره کړه.
- د ايمان په لار کې ئې د ستونزو او کړاوونو په وړاندې صبر وکړ.
- د الله تعالی په لار کې ئې هجرت وکړ.

اوس راشئ وګورو چې د دې قوم زوال څنګه پيل شو او د ذلت عوامل ئې کوم وو؟

## ژوندی بُت او مړه بُتان

له بحر نه په تېرېدو سره بني اسرائيل له داسې قوم سره مخامخ شول چې د بُتانو عبادت ئې کاوو، په مصر کې د ژوندي بُت عبادت کېدو او دلته د مړو بُتانو، اکثراً دا مړه بُتان هم د هغو ژونديو بُتانو انځورونه وي، دوی د ژوندي بُت مقابله وکړه؛ راشئ وګورو چې له مړه بُت سره به د دوی چلند څنګه وو؟ قرآن په دې اړه فرمايي:

وَجَاوَزْنَا بِبَنِي إِسْرَائِيلَ الْبَحْرَ فَأَتَوْا عَلَىٰ قَوْمٍ يَعْكُفُونَ عَلَىٰ أَصْنَامٍ لَهُمْ ۚ قَالُوا

يَـٰمُوسَى ٱجْعَل لَّنَآ إِلَـٰهًا كَمَا لَهُمْ ءَالِهَةٌ ۚ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ ﴿١٣٨﴾ إِنَّ هَـٰٓؤُلَآءِ
مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ فِيهِ وَبَـٰطِلٌ مَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٣٩﴾ قَالَ أَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْغِيكُمْ إِلَـٰهًا وَهُوَ
فَضَّلَكُمْ عَلَى ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿١٤٠﴾ وَإِذْ أَنجَيْنَـٰكُم مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ
سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ ۖ يُقَتِّلُونَ أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ ۚ وَفِى ذَٰلِكُم بَلَآءٌ مِّن
رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿١٤١﴾ الاعراف: ۱۳۸-۱۴۱

او بني اسرائيل مو له بحره تېر کړل، نو په داسي قوم راغلل چي د خپلو بُتانو په وړاندي ئې اعتکاف کولو، وئې ويل: اې موسی! موږ ته د دوی د معبودانو په څېر يو معبود وټاکه، وئې ويل: په رښتيا تاسو يو جاهل قوم يئ. يقيناً دا خلک چي په کوم مذهب دي، هغه ويجاړ او خراب دئ او څه چي دوی کوي باطل دي. آيا له الله پرته بل معبود درته ولټوم حال دا چي هغه تاسو ته پر ټولو خلکو فضيلت درکړ. او هغه وخت درپه ياد کړئ چي له فرعونياتو نه مو وژغورلئ، چي بد بد عذابونه ئې درکول، ستاسو زامن ئې وژل او ستاسو ښځي ئې ژوندۍ پرېښودې او په دې کي ستاسو د رب له لوري ستر آزمېښت وو.

گورئ چي له دې وروسته د موسی عليه السلام د اوږدې مبارزې بل پړاو پيل شوی، د داخلي مبارزې پړاو، د خپلو پلويانو په ليکو کي له انحرافاتو سره مبارزه، لومړی انحراف شرک دئ، لکه چي توحيد د ټولو ښېگڼو بنسټ دئ همداراز شرک د ټولو انحرافاتو او مفاسدو بنسټ دئ، هره گناه له دغه گنده رنده خړوبه کېږي. موسی عليه السلام په مصر کي د دې فرصت نه وو ترلاسه کړی چي خپل قوم په فکري لحاظ ښه وروزي، ټول کالونه ئې له فرعوني نظام سره په کلکي او دوامداري مبارزې کي تېر کړل، د همدې لپاره گورو چي بني اسرائيل د يوه بُت پالونکي قوم له ليدو سره سم له موسی عليه السلام نه د بُت په څېره کي د يوه

مجسم معبود مطالبه وکړه، د دې جاهلانه غوښتنې په ځواب کې موسی علیه السلام وفرمایل:

- تاسو یو ناپوه قوم یئ، داسې غوښتنه یوازې جاهلان کوي.
- د دغو خلکو مذهب خوشې او ویجاړ مذهب دئ او عبادت ئې باطل.
- آیا له الله تعالی پرته بل معبود درته ولټوم، حال دا چې هغه تاسو ته پر ټولو خلکو فضیلت درکړ.
- د الله تعالی هغه پېرزوینه درپه یاد کړئ چې له فرعونیانو ئې وژغورلئ، چې بد بد عذابونه ئې درکول، ستاسو زامن ئې وژل او ستاسو ښځې ئې ژوندۍ پرېښودې.
- هغه بدې ورځې هم د آزمېښت لپاره وې او دا ژغورنه هم ستاسو د رب له لوري ستر آزمېښت وو، چې وګورې تاسو څه کوئ، د الله تعالی پېرزوینې په پام کې ساتئ که د عصیان او بغاوت لار غوره کوئ.

## من او سلوی

د سینا په لویې او وچې صحرا کې مهاجر بني اسرائیل له دریو اساسي ستونزو سره مخامخ شول: تودوخه، د ځان او خپلو څارویو لپاره د څښاک اوبه او خوراک نه موندل. الله تعالی دا درې واړه ستونزې ورته حل کړې، قرآن په دې اړه فرمايي:

وَمِن قَوْمِ مُوسَىٰٓ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِٱلْحَقِّ وَبِهِۦ يَعْدِلُونَ ﴿١٥٩﴾ وَقَطَّعْنَٰهُمُ ٱثْنَتَىْ عَشْرَةَ أَسْبَاطًا أُمَمًا ۚ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ إِذِ ٱسْتَسْقَىٰهُ قَوْمُهُۥٓ أَنِ ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْحَجَرَ ۖ فَٱنۢبَجَسَتْ مِنْهُ ٱثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ۖ قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ۚ وَظَلَّلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلْغَمَٰمَ وَأَنزَلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلْمَنَّ وَٱلسَّلْوَىٰ ۖ كُلُوا۟ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقْنَٰكُمْ ۚ

وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿١٦٠﴾ الاعراف: ۱۵۹-
۱۶۰

او د موسى د قوم يوه ډله په حقه (دخلکو) لارښوونه کوي او په همدې سره عدالت قايموي. او دوى مو په دولسو قومي ټوليو ووېشل او موسى ته مو هغه مهال وحي وکړه چې قوم ئې اوبه ترې وغوښتې، چې دا ډبره په خپلې عصا ووهه، نو دولس چينې ترې راوخوټېدې، داسې چې هرې قبيلې خپل اوبه خوړ وپېژندو او پر دوى مو وريځې سيورى کړې او من او سلوىٰ مو پرې نازل کړل، (ورته ومو ويل) د هغه رزق پاکيزه پاکيزه وخورئ چې مونږ درروزي کړي او پر مونږ ئې ظلم نه دئ کړى بلکې پر خپل ځان ئې ظلم کولو.

په دې مبارکو آيتونو کې د موسى عليه السلام د قوم په اړه څو خبري شوې:

- يوه ډله ئې حقپاله وه، خلک ئې د حق په لوري بلل او په همدې سره ئې په ټولنې کې عدالت قايمولو.
- دوى په دولسو قومي ټوليو وېشل شوي وو؛ يعنى يو قوم وو چې دولس قبيلې ئې وې.
- کله چې د سينا په ستري بيديا کې له سختې تندې سره مخ شول او له موسى عليه السلام نه ئې د اوبو غوښتنه وکړه، الله تعالى موسى عليه السلام ته وحي وکړه چې دا ډبره په خپلې عصا ووهه، نو دولس چينې ترې راوخوټېدې، داسې چې هرې قبيلې خپل اوبه خوړ وپېژندو.
- کله چې د صحرا سختې تودوخې تنګ کړل نو الله تعالى د وريځو سيورى پرې جوړ کړ.
- کله چې د دوى ټول خوراکي توکي ختم شول نو الله تعالى من او سلوىٰ پرې نازل کړل او ورته وئې ويل: د هغه رزق پاکيزه پاکيزه وخورئ چې مونږ درروزي کړي.

- دوی د الله تعالی د دغو پېرزوینو پاس ونه ساتو، د عصیان او بغاوت لاره ئې غوره کړه او په دې سره ئې پر خپل ځان ظلم وکړ او له سپکاوي، ذلت او فقر سره مخ شول.

په بل ځای کې الله تعالی همدغه نعمتونه دوی ته ورپه یادوي او فرمايي:

وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ وَأَنزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوَىٰ ۖ كُلُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ ۖ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٥٧﴾ البقرة: ٥٧

او د ورېځو مو پرتاسو سیوری جوړ کړ او پر تاسو مو من او سلوىٰ نازل کړل، له هغو پاکيزه وو نه چې درروزي کړي مو دي وخورئ، پر مونږ ئې ظلم نه دئ کړی بلکې پر خپل ځان ئې ظلم کولو.

په دې آیت سره نه یوازې بني اسرائيلو ته هغه نعمتونه ورپه یاد شوي چې د هجرت په دوران کې الله تعالی ورپه برخه کړل، له مصر نه د شام په لوري د تلو په وخت کې، د سینا په تودې او وچې بیدیا کې او هغه وخت چې د دوی کېږدۍ هم شړېدلې وې او د صحرا گرمي هوا سخت ځورول، الله تعالی په دوی باندې یو په بل پسې داسې ورېځې راوستې چې هم ئې له گرمۍ وساتي او هم ئې د اوبو ضرورت رفع کړي، سېل سېل مرزان به راتلل او دوی به نیول، هر سهار به د بیدیا د بوټو په سر داسې خوندور څه راپیدا کېدل چې دوی به راغونډول او په خوند خوند به ئې خوړل، خو دوی د هجرت په دې ژوند او یو ډول خوړو صبر ونشو کړی، موسی علیه السلام ته ئې په څرگندو الفاظو وویل چې نور نو تر دې زیات صبر نه شو کولی، د دغه بې صبرۍ په وجه له دې نعمتونو نه محروم او په فقر، لوږه او ذلت محکوم شول، د بني اسرائیلو په دې قصې کې هر مسلمان ته د دې سبق ورکړی شوی چې که د الله په لار کې هجرت وکړئ، د رزق او روزي ضامن مو الله دئ، د بني اسرائیلو د من او سلوىٰ په څېر به تاسو ته روزي درکوي، خو که بې صبري

وکړئ او په نیمه لار کې ودرېږئ او سفر نیمگړی پرېږدئ، د دوی په برخلیک به اخته شئ. الله په هیڅا ظلم نه کوي، د خپلې لارې پر مجاهد او مهاجر خو ئې په هیڅ صورت کې نه کوي، څنگه ممکنه ده چې دوی یوازې او بې اسرې پرېږدي، بني اسرائیل چې له کومو بدو پایلو سره مخامخ شول، دا د دوی د ظلمونو سزا وه.

د سینا په لویې صحرا کې چې د ژوند هیڅ ډول امکانات نشته، سیوری نشته، اوبه نشته، دانه او مېوه نشته، الله تعالی د بني اسرائیلو لپاره د رزق او روزي انتظام وکړ. وربځې ئې د هغوی پر سر سیوری کړ، من او سلوی ئې ورته راپیدا کړل او له کلکې ډبرې ئې دوولس چینې ورته راوایستلې.

قرآن په دې قصې سره موږ ته ډاډینه راکوي چې الله تعالی د هر هغه چا لپاره د رزق او روزي ذمه وهلې چې د ده په لارکې هجرت وکړي، رزاق خدای د دوی د رزق او روزي ضامن دئ، دوی ته به له حلالې او آسانې لارې رزق او روزي ورکوي، دا تل په تاریخ کې تکرار شوې، د شوروي اشغالگرانو په ضد د جهاد په دوران کې هم موږ د دې الهي وعدې مصداق په خپلو سترگو ولید، چا د دې تصورکولی شو چې د درې نیمو میلونو مهاجرو لپاره به د پاکستان په سپېرو ډاگونوکې د رزق او روزي او اوسېدو امکانات برابر شي؟ چا گمان کولو چې نړی به نږدې پنځو ملیونو افغان مهاجرینو ته پناه ورکړي؟ دا ومو لیدل چې د بني اسرائیلو د هجرت قصه دلته ټکي په ټکي او گام په گام تکرار شوه!!

د من او سلوی تر عنوان لاندې په بایبل کې دا خبرې د غور وړ مومو: (بني اسرائیلو بیا له موسی او هارون نه شکایت وکړ او وئې ویل: کاش چې په مصر کې پاته وی او هملته خدای وژلي وی، هلته به له غوښو د ډکو دېگونو خوا ته کښېنستو او چې څومره مو زړه غوښتل خوړه مو، خو اوس به په دغې دښتې کې چې تاسو ورته راوستلو ډېر ژر له لوږې ومرو... خدای موسی ته وویل: اوس به له آسمانه دوی ته ډوډۍ راولېږم... هرڅوک کولی شي له خپله کوره ووځي او د

همغې ورځې لپاره ډوډۍ جمع کړي... غواړم په دې حکم سره دوی وآزمويم چې زما اطاعت کوي که نه... د جمعې په ورځ کولی شي د دوو ورځو خوراک جمع کړي...دوی ته ووايه چې هر مازديگر به غوښې خوري او هر سهار به په ډوډۍ مړېږي... د همغې ورځې په مازديگر ډېر مړزان راغلل او د دوی شا و خوا سيمه ترې ډکه شوه... او سهار پرخه پرېوته او کله چې پرخه ختمه شوه وړې وړې دانې ترې پاتې شوې چې د واورې دانو ته ورته وې... يوه له بله ئې وپوښتل: دا څه دي؟ موسی ورته وويل: دا همغه ډوډۍ ده چې خدای درکړې چې وئې خورئ... خدای فرمايلي چې هره کورنۍ د خپلې ورځنۍ اړتيا په اندازه ترې جمع کولی شي... د هر کس لپاره يو عومر (نږدې دوه نيم ليتره)،... نو دوی بهر ووتل او په ټولولو ئې لګيا شول، چا ډېر او چا کم غونډ کړل خو کله چې ئې وتلل نو وئې ليدل چې چا ډېر غونډ کړي وو زيات ونه ختل او چې چا لږ غونډ کړي وو کم ونه ختل... هر چا خپله ټاکلې برخه ترلاسه کړې وه!!! موسی ورته وويل: هيڅ څه به ئې تر سبا پورې نه ساتئ... خو ځينو د موسی خبرې ته اعتناء ونه کړه، څه ئې سبا ته ساتلي ول... خو سهار متوجه شول چې ټول خوسا شوي او چينجي په کې راپيدا شوي... موسی هارون ته وويل: له دې من څخه يو عومر (نږدې دوه نيم کيلو) په يوه لوښي کې وساته چې راتلونکو نسلونو ته د پند او عبرت لپاره پاته شي... چې دغه بيا (د عهد صندوق) کې له نورو مقدسو شيانو سره کېښودی شو!!!

دلته د بايبل د وينا ضعيف ټکي دا دي:

- اسرائيليان ئې داسې انځور کړي لکه چې په مصر کې دوی ډېر مرفه ژوند درلود، داسې چې له غوښو د ډکو دېگونو خوا ته به کښېنستل او چې څومره به ئې زړه غوښتل خوړله به ئې!! دا په مصر کې د اسرائيليانو د بد ژوند، فقر، لوږې او د غلامۍ د ژوند يو معکوس او غلط تصوير او د حقايقو خلاف وينا ده، که اسرائيليانو په مصر کې داسې مرفه ژوند درلودی نو هيڅکله به له موسی عليه السلام سره

هجرت ته نه وو تيار شوي!!

- وايي: خداى له دوى سره وعده کړې وه چې مازديګر به غوښه او سهار به ډوډۍ ورکوي، خو سهار ئې د ډوډۍ په ځاى سپيني دانې وموندې او موسى ورته وويل چې همدا همغه ډوډۍ ده چې خداى ئې وعده درسره کړې وه!! په دانو باندې د ډوډۍ اطلاق نه شي کېدئ، د خوراک، روزي او رزق په نامه يادېدى شي خو هيڅوک دا غلطي نه کوي چې دانو ته د ډوډۍ نوم ورکړي.
- دا خوشې او بې بنسټه خبره ده چې وايي: که چا ډېر غونډ کړي وو يا لږ، چې کور ته ئې يووړل او وئې تلل نو همغه يو (عومر) ترې جوړ شو!! دا هم بې بنسټه خبره ده چې دوى ته ويل شوي وو د ورځني خوراک په اندازه به ئې راټولوئ او د سبا لپاره به ئې نه ساتئ!! د دوى جرم دا نه وو چې زيات ئې غونډ کړي وو ځکه په خپله بايبل وايي چې زيات غونډولو کومه ګټه نه وررسوله، په تللو کې به ډېر هم يو عومر ختل او لږ هم!! ذخيره کول ئې هم دوى ته ګټه نه رسوله ځکه دا به تر سهاره خوسا کېدل!! د بايبل ليکونکى دې دا معما حل کړي چې يو ځاى وايي: چې چا دا (من) د سبا لپاره ذخيره کړي وو سبا ئې هغه خوسا او ګنده شوي وموندل، بل ځاى وايي چې د جمعې په ورځ به ئې د شنبې د ورځې لپاره هم ټولول، ځکه چې په دې ورځ له کار کولو منع شوي وو او بيا ليکي چې موسى عليه السلام هارون عليه السلام ته وويل چې د (من) يو (عومر) راټول کړه چې د راتلونکو نسلونو لپاره ئې وساتو او دا ئې (د عهد په صندوق) کې کېښودل!!! دا خبره به کوم عقل ومني چې يو شي هم په يوه شپه کې ګنده کېږي او هم د راتلونکو نسلونو لپاره په ساتلو نه ګنده کېږي!!!

قرآن د بايبل دا ادعاء ردوي او وايي چې اسرائيليانو بې صبري وکړه او موسى عليه السلام ته ئې وويل: تر څو به په دې يو ډول خوراک صبر کوو؟ تر څو به همدا صحرا وي او دا من و سلوىٰ؟!!

وَإِذْ قُلْتُمْ يَـٰمُوسَىٰ لَن نَّصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ وَٰحِدٍ فَٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلْأَرْضُ مِنۢ بَقْلِهَا وَقِثَّآئِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا ۖ قَالَ أَتَسْتَبْدِلُونَ ٱلَّذِى هُوَ أَدْنَىٰ بِٱلَّذِى هُوَ خَيْرٌ ۚ ٱهْبِطُوا۟ مِصْرًا فَإِنَّ لَكُم مَّا سَأَلْتُمْ ۗ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلذِّلَّةُ وَٱلْمَسْكَنَةُ وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ ۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ وَيَقْتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ۗ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا۟ وَّكَانُوا۟ يَعْتَدُونَ ﴿٦١﴾

**البقرة: ٦١**

**او هغه وخت چې تاسو وویل: ای موسی! په یوه رنګ خوراک هیڅکله صبر نه شو کولی!! نو خپل رب ته دې زموږ لپاره دعاء وکړه چې موږ ته هغه څه راوباسي چې ځمکه ئې راشنه کوي: له ساګ سابه ئې، تره او بادرنګ ئې، غنم ئې، نسک ئې او پیاز ئې، وئې ویل: آیا د هغه څه په عوض کې چې غوره دئ هغه څه غواړئ چې راټیټ او ناغوره دئ، مصر ته کوز شئ، چې هلته هغه څه ترلاسه کړئ چې تاسو ئې غوښتنه وکړه، نو سپکاوی او خواري وربانديې وتپل شوه او د الله په غضب اخته شول، دا په دې خاطر چې د الله آیتونه ئې تکذیبول او پیغمبران ئې په ناحقه وژل، دا هم په دې سبب چې عصیان ئې وکړ او تېری ئې کاوو.**

**د قرآن له دې وینا معلومېږي چې په مصر کې د بني اسرائیلو خواړه؛ ساګ، تره، بادرنګ، غنم، نسک او پیاز وو، له موسی علیه السلام نه ئې همدا غوښتل، نه د غوښو ډک دېګونه.**

**بایبل تر دې عنوان (له ډبرې اوبه!) لاندې لیکي: اسرائیلیانو په رفیدیم کې له موسی اوبه وغوښتې او ورته وئې ویل: ولې دې له مصره راوایستلو؟ آیا دلته دې د دې لپاره راوستلو چې له تندې ومرو؟ موسی خدای ته وویل: زه له دې قوم سره څه وکړم؛ نږدې ده ما سنګسار کړي!! خدای ورته وویل: د بني اسرائیلو ځیني مشران**

درسره واخله، د حوریب غره ته ولاړ شه، هلته به زه د یوې ډبرې خوا ته ستا په څنګ کې ودرېږم، په خپلې عصا دې ډبره ووهه چې اوبه ترې وبهېږي...موسی همداسې وکړل او اوبه ترې وبهېدې... دلته اسرائیلیانو له خدای سره مجادله وکړه او وئې ویل آیا خدای زموږ په منځ کې شته...نو ځکه موسی دا ځای مریبه (یعني د شخړې او مجادلې ځای) ونوماوو!!

قرآن د بایبل دا وینا هم تصحیح کوي او فرمايي:

وَإِذِ ٱسۡتَسۡقَىٰ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦ فَقُلۡنَا ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡحَجَرَۖ فَٱنفَجَرَتۡ مِنۡهُ ٱثۡنَتَا عَشۡرَةَ عَيۡنٗاۖ قَدۡ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٖ مَّشۡرَبَهُمۡۖ كُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ مِن رِّزۡقِ ٱللَّهِ وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ ٦٠ البقرة: ٦٠

او کله چې موسی علیه السلام د خپل قوم لپاره د ځړوبه کېدو غوښتنه وکړه، نو (ورته) ومو ویل: دا ډبره په خپلې عصا ووهه، نو په دې سره له هغې دولس چینې راوخوټېدې، هري ډلې خپل اوبه خوړ وپېژندو، د الله له رزق نه وخورئ او وڅښئ او په ځمکې کې فساد کوونکي مه ګرځئ.

په دې آیتونو کې له یوې خوا د بایبل دا خبره رد شوې چې وايي: اسرائیلیانو له خدای سره شخړه وکړه او وئې ویل چې که خدای زموږ په منځ کې وي نو چېري دئ؟ ولې ئې موږ په خپلو سترګو نه ګورو؟!! قرآن فرمايي نه يوازي دوی دلته شخړه نه ده کړې بلکې دلته د دوی تر منځ د راتلونکو شخړو مخه هم نیول شوې، دلته دولس چینې راوخوټېدې، د هري قبیلې لپاره بېله چینه، او دا د دې لپاره چې د اوبو په سر ئې لانجه راولاړه نه شي. له بلې خوا د الله د لارې مجاهد او مهاجر ته ډاډ ورکړی شوی چې الله ستا د رزق او روزي ذمه وار دئ، که الله وغواړي نو له ډبرې نه تاسو ته چینې رااېستی شي، همغسې لکه چې بني اسرائیلو ته ئې د سینا په لويې وچې صحرا کې له ډبرې نه دولس چینې راوایستې، الله تعالی هغه ولس ته د

ډاډه او پراخ رزق او روزي تضمين ورکوي چي ايمان راوړي، د دين په نسبت التزام ولري او د الله په لار کي جهاد ته ملا وتړي، د روزي په سر د دوی ترمنځ د شخړو راولاړېدو مخه به هم نيسي او الله به عزت او سوکالي ورپه برخه کوي.

دلته د بايبل ادعاء دا ده چي خدای د هغي ډېري خوا ته ولاړ وو، موسی عليه السلام ليدو، خو اسرائيلي مشرانو نه ليدو، د دې خبري پر سر شخړه راولاړه شوه چي آيا خدای همدا اوس زموږ په منځ کي شته که نه؟!! له خپل خدای او له موسی سره ئې شخړه وه، خدای ته ئې ويل: که ته زموږ په منځ کي يې نو موږ ته ځان راوښيه!! موسی ته ئې ويل: که خدای دلته وي نو ولي ئې موږ نه ګورو؟!! لانجه حل نه شوه، نو ځکه موسی عليه السلام دا ځای د مريبه په نامه ياد کړ!!! سل حيف او افسوس په هغه عقل چي داسي مسخره خبري مني او هغه د الله تعالی د کتاب خبري ګڼي!!!

## د زوال او ذلت پړاو

قرآن د بني اسرائيلو د زوال ټول اساسي عوامل په دقت او تفصيل سره ښېرلي، چي شرک، د الله تعالی له اوامرو سرغړاوی، د پيغمبر مخالفت، له جهاد نه ډډه، خپلمنځي اختلافات، بې صبري، په حلال رزق قناعت نه کول او مذهبي حيلې د دې عواملو عمده برخي دي، قرآن په دې اړه فرمايي:

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ يَـٰقَوْمِ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَةَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَعَلَ فِيكُمْ أَنۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُم مُّلُوكًا وَءَاتَىٰكُم مَّا لَمْ يُؤْتِ أَحَدًا مِّنَ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿٢٠﴾ يَـٰقَوْمِ ٱدْخُلُوا۟ ٱلْأَرْضَ ٱلْمُقَدَّسَةَ ٱلَّتِى كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوا۟ عَلَىٰٓ أَدْبَارِكُمْ فَتَنقَلِبُوا۟ خَـٰسِرِينَ ﴿٢١﴾ قَالُوا۟ يَـٰمُوسَىٰٓ إِنَّ فِيهَا قَوْمًا جَبَّارِينَ وَإِنَّا لَن نَّدْخُلَهَا حَتَّىٰ يَخْرُجُوا۟ مِنْهَا فَإِن يَخْرُجُوا۟

مِنۡهَا فَإِنَّا دَٰخِلُونَ ﴿٢٢﴾ قَالَ رَجُلَانِ مِنَ ٱلَّذِينَ يَخَافُونَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمَا
ٱدۡخُلُواْ عَلَيۡهِمُ ٱلۡبَابَ فَإِذَا دَخَلۡتُمُوهُ فَإِنَّكُمۡ غَٰلِبُونَۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَتَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم
مُّؤۡمِنِينَ ﴿٢٣﴾ قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّا لَن نَّدۡخُلَهَآ أَبَدٗا مَّا دَامُواْ فِيهَا فَٱذۡهَبۡ أَنتَ
وَرَبُّكَ فَقَٰتِلَآ إِنَّا هَٰهُنَا قَٰعِدُونَ ﴿٢٤﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّي لَآ أَمۡلِكُ إِلَّا نَفۡسِي وَأَخِيۖ
فَٱفۡرُقۡ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿٢٥﴾ قَالَ فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيۡهِمۡۛ أَرۡبَعِينَ سَنَةٗۛ
يَتِيهُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ فَلَا تَأۡسَ عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿٢٦﴾ المائدة: ٢٠-٢٦

او کله چې موسی خپل قوم ته وویل: اې زما قومه! پر تاسو د الله پېرزوینې راياد کړئ؛ کله چې ئې په تاسو کې پيغمبران راپيدا کړل، تاسو ئې پاچايان وگرځولئ او هغه څه ئې درکړل چې په ولسونو کې ئې هېچا ته نه وو ورکړي. اې زما قومه! دغې مقدسي زمکي ته چې الله درته ليکلې ورننوځئ او شا ته شا ته مه کېږئ، که نه نو زيانمن به راوگرځئ. وئې ويل: اې موسی! په دې کې خو يو پياوړی قوم دئ او موږ به تر هغه هيڅکله ورداخل نشو چې دوی ترې ووځي، که ترې ووتل بيا به ورننوتونکي شو. له دغو چې وېرېدل، دوو سړيو ئې چې الله پرې پېرزوينه کړې وه، وويل: له دروازې پرې ورننوځئ، نو کله هم چې ورننوتئ تاسو به بريالي وئ او که مؤمنان وئ نو پر الله بايد توکل وکړئ. وئې ويل: اې موسی! تر څو چې دوی پکې وي موږ به هيڅکله ورداخل نشو، نو ته او رب دې لاړ شئ او وجنگېږئ، موږ به همدلته ناست يو! وئې ويل: اې زما ربه! زما په واک کې خو له خپل ځان او له خپل وروره پرته نور څه نشته، نو موږ او دغه فاسق قوم په خپلو کې سره بېل کړه. وئې فرمايل: نو دا تر څلوېښتو کلونو پرې حرامه شوه، په زمکې کې به لالهانده گرځي، نو پر دې فاسق قوم تأسف مه کوه.

په پورتنيو آيتونو کې بني اسرائيلو ته هغه ورځې ورپه ياد شوې چې موسی

علیه السلام دوی جهاد ته وبلل، ترې وئې غوښتل چې فلسطین ته ننوځئ، له عمالقه وو نه ئې ونیسئ، دا ستاسو پلرنی ټاټوبی دئ، الله تعالی درسره وعده کوي چې دا سیمه به بېرته تاسو ته سپاري، که له جهاده ډډه وکړئ، زیان کوئ او له سپکاوي او ذلت سره مخامخ کېږئ، دوی د نه ځواب ورکړ، موسی علیه السلام د سیمي او د دښمن د وضعیت څېړني لپاره یو پلاوی ولیږو، پلاوی له سیمي بېرته راوګرځېد، له دوو پرته نورو د جنګ مخالفت وکړ او وئې ویل چې دښمن ډېر ځواکمن دئ، موږ ئې له مقابلې عاجز یو، ته ئې د ایستلو چاره وکړه، له خپل رب نه وغواړه چې دوی وباسي، د دوی له وتلو وروسته به سیمي ته ننوځو، د پلاوي دوو چې وېره ئې له الله تعالی وه، نه د دښمن له زور او ځواکه، وویل: که د دښمن ظاهر ځواکمن برېښي، په حقیقت کي ډېر بې همته او ډارن دئ، ستاسو له برید سره سم به تښتي او سیمه به پرېږدي، د ایمان تقاضا خو دا ده چي پر خپل رب توکل وکړو. قوم په ځواب کي وویل: اې موسی! پدې پوه شه چي موږ تر هغه دې سیمي ته هیڅکله نه ننوځو چي دښمن ترې وتلی نه وي، ته دي له خپل رب سره ولاړ شه او وجنګېږئ. موسی علیه السلام له خپل بې همته او جبون قوم نه خپل رب ته په داسي الفاظو شکایت وکړ چي ترې معلومېږي له خپل قوم نه سخت مأیوس شوی، په ځای ئې د بل باهمته او توریالي قوم د ملګرتیا هیله لري او دا شکایت او هیله په دې الفاظو بیانوي: زما ربه! له ځان او خپل ورور نه پرته بل څوک راسره نشته، ته مو له دې فاسق قوم نه بېل کړې!

الله تعالی د دوی په اړه پرېکړه وکړه چي تر څلوېښتو کلونو به په صحرا کي لالهانده ګرځي، د تېکي ډاډمن ځای به نه مومي، موسی علیه السلام ته ئې وفرمایل: اې موسی! دا د دوی د فسق او له جهاد نه د انکار سزا ده، ته ئې پر دردناک حالت تأسف مه کوه.

دا قصه بني اسرائیلو ته هم او د قرآن هر مخاطب ته هم دا حقیقت په ګوته

کوي چې الله تعالی ولې د بني اسرائیلو په ځای په بل قوم کې پیغمبر مبعوث کړ؟ وجه ئې دا وه چې نور نو دا قوم د دې وړ نه وو، دوی په سختو شپو ورځو کې خپل ناجي لاربښود او پیغمبر موسی علیه السلام یوازې پرېښود، دوی د پیغمبرانو د ملګرتیا وړ نه دي، په دوی کې د جهاد او د الله تعالی په لار کې د قرباني جذبه مړه شوې، په کورنیو شخړو کې ډېر تکړه دي، یو د بل ویني ته تږي خو د حق په لار کې جهاد ته ئې ملا ماته ده، له راتلونکې قصې نه هم معلومېږي چې په دې قصې کې همدا مطلب مراد دئ.

همداراز قرآن فرمایي:

وَإِذْ قِيلَ لَهُمُ ٱسْكُنُوا۟ هَٰذِهِ ٱلْقَرْيَةَ وَكُلُوا۟ مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ وَقُولُوا۟ حِطَّةٌ وَٱدْخُلُوا۟ ٱلْبَابَ سُجَّدًا نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطِيٓـَٔـٰتِكُمْ ۚ سَنَزِيدُ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٦١﴾ فَبَدَّلَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مِنْهُمْ قَوْلًا غَيْرَ ٱلَّذِى قِيلَ لَهُمْ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِجْزًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُوا۟ يَظْلِمُونَ ﴿١٦٢﴾ الاعراف: ١٦١-١٦٢

او کله چې دوی ته وویل شو: په دې کلي کې مېشت شئ او له هره ځایه ئې چې غواړئ وخورئ او وایئ: بخښنه (درنه غواړو) او په دروازې سجده کوونکي ننوځئ، چې ګناهونه مو درته وبخښم، نېکانو ته به ئې حتماً زیات کړو. خو د دوی ظالمانو دوی ته له ویل شوې وینا پرته بله وینا په بدل کې خپله کړه، نو په دې سبب مو پر دوی له آسمانه د اضطراب عذاب نازل کړ چې ظلم ئې کولو.

بني اسرائیلو ته وویل شو چې پر دښمن برید ته چمتو شئ، خو دې ته مو پام وي چې د بریا او فتحې په وجه مغرور نه شئ، مفتوحه سیمو ته د مغرورو فاتحانو په څېر داخل نه شئ، د دوی ویناوو ته ورته ویناوي مو په ژبه رانشي او بریاوې د خپل تدبیر او د خپلو متو د زور نتیجه ونه ګڼئ. برعکس الله ته د مطیع او ساجد

بنده په څېر داخل شئ او له الله نه د خپلو ګناهونو او اشتباهاتو معافي وغواړئ. خو دوی په برياوو مغرور شول او د ظالمو او فاسقو فاتحانو کړه وړه او وينا ئې تکرار کړه، د همدې لپاره هغه له بريا او فتحې نه ترلاسه شوې خوشحالي، سکون او اطمئنان ئې ببرته په اضطراب او پرېشانۍ بدل شو. په دې کې د الله د لارې مجاهدينو ته ډېرې مهمې لارښوونې شوې، له برياوو او فتوحاتو نه وروسته له کبر او غرور نه ځان وساتئ، د نيول شوو سيمو له اوسېدونکو سره د مغرورو فاتحانو سلوک مه کوئ، دا ستاسو فتح په اضطراب او ماتې بدلوي.

بايبل هم د اعداد په کتاب کې ليکلي چې د خدای په حکم سره اسرائيليان څلوېښت کاله په صحرا کې لالهانده ژوند ته اړ شول، خو وروسته ليکي چې دوی د سيحون پاچا ټول هېواد سره له پلازمېنې او نورو ښارونو ونيوو!! دلته څو خبرې په پام کې ولرئ:

- د قرآن له وينا معلومېږي چې اسرائيليانو د موسی عليه السلام په ژوند کې جهاد نه دئ کړی، کله چې ده جهاد ته رابللي دوی د رد ځواب ورکړی.
- د بايبل له نورو برخو هم معلومېږي چې دوی څلوېښت کاله په صحرا کې لالهانده ژوند کړی. بايبل ليکلي چې خدای لوړه کړې وه چې د اسرائيليانو دا نسل به پرې نږدي چې موعود ځمکې ته داخل شي.
- په دې اساس په يقين سره ويلی شو چې د اعداد دا قصه بې بنسټه او سراسر جعلي ده او د بايبل د مخکنيو ويناوو خلاف ده.

د اعداد يوه بله خندوونکې قصه هم واورئ: ... د بالاق پاچا، بلعام (د باعور زوی) ته د يوه پلاوي په لاس دا پيغام ولېږو: يو لوی قوم له مصره راوتلی او زما سيمې ته راروان دئ، هيله کوم چې راشه او دا قوم زما لپاره په خپلې دعاء سره د لعنت وړ وګرځوه...پلاوی له نقدو پيسو سره بلعام ته ورغی... بلعام ورته وويل: شپه دلته وکړئ، زه به له خدايه پوښتنه وکړم چې دا کار وکړم که نه؟ په دې شپه

خدای د بلعام خوا ته راغی او هغه ته ئې وویل: دا خلک څوک دي؟ ده ورته وویل: دا د موآب د پاچا بالاق لخوا راغلي او زه ئې د لعنت کولو لپاره غوښتی یم... خدای ورته وویل: له دوی سره مه ځه او په دې قوم باندي لعنت مه وایه... بلعام پلاوي ته وویل: خدای ما ته د تلو اجازه رانه کړه... پلاوی بېرته ولاړ... بالاق تر مخکني مهم پلاوی له دې پیغام سره ورولېږو... ښه بدله به درکړم... چي څه غواړې هغه به درکړم ... بلعام ورته وویل: که له سرو زرو ډک قصر هم راکړئ نه ځم...د خدای د امر مخالفت نه شم کولی... خو بیا هم نن شپه پاته شئ زه به له خدایه پوښتنه وکړم چي اجازه راکوي که نه؟ ...هغه شپه خدای بلعام ته وویل: له دوی سره ولاړ شه خو هغه کار به کوې چي زه ئې در ته وایم...سهار ئې پر خپل خره کته واچوله او له پلاوي سره وخوځېدو...خو خدای د ده په تلو غصه شو...فرشته ئې ولېږله چي لار ئې خنډ کړي... د بلعام خره فرشته ولیده چي دوه توري ئې په لاس کي او په لار کي ولاړه ده، وترېدو او له لاري پټي ته واوښتو، خو بلعام وواهو او لاري ته ئې سم کړ...بیا د خدای فرشته په یوه تنګ ځای کي چي دواړو خواوو ته ئې دېوالونه وو، ودرېده، خره چي فرشته په لار کي ولاړه ولیده نو دېوال ته داسي نږدې تېر شو چي د بلعام پښه له دېوال سره ولګېده، هغه بیا خر لاري ته سم کړ، بیا فرشته لږ لاندي په داسي ډېر تنګ ځای کي ودرېده چي خر نه شو تېرېدئ، نو خر پرېوت، بلعام پرې غصه شو او په لرګي ئې وواهو، په دې مهال خدای خر په خبرو راووست او وئې ویل: ما څه کړي؟ ولي دي درې ځلي ووهلم؟ بلعام ورته وویل: د دې لپاره چي زه دي مسخره کړم، کاش توره راسره وی چي ته مي همدلته وژلی وی!! خره ورته وویل: آیا تر دې د مخه مي کله هم داسي کار کړی؟ بلعام وویل: نه! په دې وخت کي خدای د بلعام سترګي پرانستې او هغه د خدای فرشته ولیده چي توره په لاس په لار کي ولاړه ده! نو د هغې په وړاندي په سجده پرېوت، فرشتې ورته وویل: ولي دي دا خر درې واري وواهو؟ زه راغلې یم چي ستا مانع شم، دا

ځکه چې ستا دا سفر د تمرد له وجهې دئ، دې خره درې وارې زه ولیدم او له ما ئې لار چپه کړه، که دا کار ئې نه وی کړی نو ته مې وژلې او هغه مې ژوندی پرېښود!!! بلعام اعتراف وکړ چې ما ګناه کړې، متوجه نه شوم چې تا زما لار نیولې، نو اوس که ته زما له تلو سره موافق نه یې بېرته خپل کور ته ستنېږم، فرشتې ورته وویل: له دوی سره ولاړ شه خو همغه کار به کوې چې زه ئې درته وایم،... پاچا ترې وپوښتل: ولې له لومړي پلاوي سره رانه غلې، آیا ګمان دې کاوو چې ښه شکرانه به درنه کړم؟ هغه ورته وویل: اوس راغلی یم، خو د څه ویلو توان نه لرم، څه چې خدای زما پر ژبه جاري کړي همغه به وایم!! ... پاچا دی له ځان سره د حصورت کلي ته بوت، هلته پاچا پسه او غویی قرباني کړل او له غوښې ئې څه بلعام او د پلاوي غړو ته ورکړه، سهار ئې دی له ځان سره د بموت غره ته وخېژاوو، له هغه ځایه ئې د اسرائیلیانو یوه برخه لیدلی شوی، بلعام پاچا ته وویل: دلته د قربانۍ اوه ځایونه جوړ کړه او اوه پسونه او اوه غويي د قربانۍ لپاره حاضر کړه، پاچا همداسي وکړل، بیا ئې پاچا ته وویل: دلته د خپلو سوزېدونکو قربانیو په خوا کي ودرېږه، زه ځم چې وګورم خدای زما ملاقات ته راځي که نه، نو بلعام د یوې غونډۍ سر ته وخوت، بلعام خدای ته وویل: ما د قربانۍ اوه ځایونه او د هر یوه پر سر اوه پسونه او اوه غويي حاضر کړي، په دې وخت کي خدای د بلعام په لاس بالاق ته دا پیغام ولېږو:

بالاق پاچا زه له موآب نه دلته راوستم چې د اسرائیل قوم لعنت کړم،

زه څنګه هغه څوک لعنت کړم چې خدای نه دي لعنت کړي؟

زه ئې د ډېرې له سره ګورم، د لوخړو په څېر دي، بې شماره بې حسابه

کاش دومره بختور وی چې د یوه اسرائیلي په توګه مړ شوی وی!

کاش پای مې د اسرائیلیانو په څېر وی!

پاچا ورته وویل: دا دې څه کار وکړ؟ تا خو د لعنت په ځای دوی ته برکت ورکړ!

ده ورته وویل: زه خو هغه څه وایم چې خدای ئې راباندې وایي!!

بیا ئې بل غره ته بوتلو، هلته ئې هم د قربانۍ اوه ځایونه جوړ کړل ... مخکنی بهیر تکرار شو او د ده له خولې اسرائیلیانو ته ښېرا ونه ختله،... بیا ئې درېیم غره ته بوتلو هلته ئې همغه کارونه وکړل، د اسرائیلیانو ډېره ستاینه ئې وکړه،... څلورمه وحي پرې نازله شوه... د عمالیقیانو او قینیانو چې له اسرائیلیانو سره جنګېدل، د دوی د ماتې او تباهۍ وړاندوینې ئې وکړې... بیا بلعام او پاچا خپل خپل ځای ته ستانه شول!!

دا خندوونکې قصه په نقد نه ارزي، جمله جمله ئې د خندا وړ ده، ډېر احمق انسان به ئې ومني، هغه څوک به ئې مني چې د بلعام خر ترې هوښیار وي!! څو خبرې ئې چې ټوکو ټکالو ته ورته دي بیا تکراروم:

- بلعام د خدای په اجازه خوځېدلی خو خدای ئې په روانېدو غصه شوی!!
- خر ئې فرشته ګوري او دی ئې له لیدو عاجز دئ!!
- د فرشتې په لیدو سره خر لار بدلوي خو فرشته له خپله ځایه نه شي خوځېدی او مخه ئې نه شي نیولی!!
- فرشتې غوښتل بلعام ووژني خو خره ترې بچ کړ!!
- بیا ئې له وژلو تېره شوه او له پاچا سره ئې د تلو اجازه په دې شرط ورکړه چې همغه کار به کوي چې فرشته ئې ورته وایي او دا همغه خبره وه چې خدای د اجازې په وخت کې بلعام ته کړې وه!!
- پاچا پر دریو غرونو یوویشت د قربانۍ ځایونه جوړ او یو ویشت غویي او یوویشت پسونه ئې حلال کړل خو بلعام اسرائیلیانو ته د ښېرا په ځای دعاء کوله!!
- دغه بلعام چې لرې لید ئې تر خپل خره هم لنډ وو او سترګې ئې تر هغه کمزورې، د دریو قومونو د راتلونکې په اړه وړاندوینې وکړې!! او بایبل وروسته لیکي چې دی په خپله لنډه موده وروسته ووژل شو!!

چا چې جهاد کړی وي حتماً به ئې ډېر بلعامان تر سترگو شوي وي، د دښمن لپاره مجاهدينو ته ښېرا کوونکي، خو چې مجاهدين برلاسي شوي همدغو بلعامانو ورته ويلي: موږ هلته په خوله ښېرا او په زړه کې دعاء درته کوله!! د قرآن په الفاظو سره : (إنا كنا معكم: يقيناً چې موږ د دښمن په خوا کې ستاسو ملگري وو)!!
انگرېزانو هم د افغانستان د اشغال په وخت کې ډېر بلعامان د دوو سترو سترو سره افغانستان ته راوستل، يو له عراقه او بل له هند نه، د موسى عليه السلام بلعام د غرونو پر سر د قربانۍ ځايونه جوړول او دوی د غرونو او غونډيو پر سر څهل گزي زيارتونه، هغوی هم د قربانۍ له ځايه ترصد کاوو او دوی هم له دې زيارتونو نه د ترصد لپاره کار اخيست!!

## مذهبي حيله

په اسرائيلو کې مذهبي حيله رائج شوه، مذهبي مشرانو به ئې د حرامو د حلال گرځولو لپاره داسې چلونه خلکو ته ښودل چې صريح حرام ته به ئې د حلال رنگ ورکړ، قرآن د دې يوه بېلگه په دې توگه بيانوي:

وَسۡـَٔلۡهُمۡ عَنِ ٱلۡقَرۡيَةِ ٱلَّتِي كَانَتۡ حَاضِرَةَ ٱلۡبَحۡرِ إِذۡ يَعۡدُونَ فِي ٱلسَّبۡتِ إِذۡ تَأۡتِيهِمۡ حِيتَانُهُمۡ يَوۡمَ سَبۡتِهِمۡ شُرَّعٗا وَيَوۡمَ لَا يَسۡبِتُونَ لَا تَأۡتِيهِمۡۚ كَذَٰلِكَ نَبۡلُوهُم بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ﴿١٦٣﴾ وَإِذۡ قَالَتۡ أُمَّةٞ مِّنۡهُمۡ لِمَ تَعِظُونَ قَوۡمًا ٱللَّهُ مُهۡلِكُهُمۡ أَوۡ مُعَذِّبُهُمۡ عَذَابٗا شَدِيدٗاۖ قَالُواْ مَعۡذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمۡ وَلَعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ ﴿١٦٤﴾ فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِۦٓ أَنجَيۡنَا ٱلَّذِينَ يَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلسُّوٓءِ وَأَخَذۡنَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ بِعَذَابِۭ بَـِٔيسِۭ بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ﴿١٦٥﴾ فَلَمَّا عَتَوۡاْ عَن مَّا نُهُواْ عَنۡهُ قُلۡنَا لَهُمۡ كُونُواْ قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ

﴿وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَن يَسُومُهُمْ سُوءَ الْعَذَابِ ۗ إِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيعُ الْعِقَابِ ۖ وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ الاعراف: ۱۶۳-۱۷۰

او د هغه کلي په اړه ترې وپوښته چې د بحر په غاړه (پروت) وو، چې د شنبې (په ورځ) به ئې تېرى کاوو، چې کبان به د دوى د شنبې په ورځ له هر لورې څرګند ورته راروان ول، او چې د شنبې ورځ به ئې نه وه نو نه به ورته راتلل، همداسې مو د دې لپاره آزمویل چې فسق ئې کاوو. او کله چې د دوى یوې ډلې وویل: ولې هغو خلکو ته وعظ کوئ چې الله ئې هلاکوونکى یا په شدید عذاب سره تعذیبوونکى دئ، وئې ویل: ستاسو رب ته د عذر په توګه او د دې لپاره چې ښایي ځان به ترې وساتي. خو کله چې دوى هغه څه هېر کړل چې پند پرې ورکېدو، هغه مو وژغورل چې له بدو کړنو ئې مخنیوى کاوو او ظالمان مو د دې لپاره په بد عذاب اخته کړل چې سرغړاوى ئې کاوو. نو کله چې دوى له هغه څه نه سرغړاوى وکړ چې ترې منعه شوي ول، ورته ومو ویل: رټل شوې بیزوګاني شئ. او کله چې ستا رب دا خبره په ډاګه کړې وه چې پر دوى به د قیامت تر ورځې داسې څوک مسلط کړي چې په بد عذاب به ئې اخته کوي. یقیناً چې ستا رب په عذاب ورکولو کې سریع دئ او یقیناً چې هغه مهربان بخښونکى دئ.

په دې مبارکو آیتونو کې د بني اسرائیلو د یوې قبیلې په قصې کې د اړوند سورې اساسي مضامین د یوې بلې تاریخي بېلګې په ترڅ کې زموږ مخې ته اېښودل شوي، دا د بحر غاړې ته مېشت قوم وو، دنده ئې د کبانو نیول، ورته امر شوى وو چې د شنبې په ورځ به له ښکاره ډډه کوي، همداسې لکه مسلمانانو ته چې ویل شوي د جمعې د لمانځه لپاره به له کاره لاس اخلئ، دوى د الله تعالى له امره سرغړاوى وکړ، په نورو مواردو کې هم او په دې خاص مورد کې هم، په نورو مواردو کې ئې فسق او سرغړاوى مقدمه او دا ئې پایله او تتمه وه، الله تعالى د

همدې لپاره د شنبې په ورځ له هر لوري دوی ته ماهيان راوستل، دوی د دغې ممنوعه ورځې د ښکار لپاره مذهبي حيله جوړه کړه، ماهيان به ئې په ډنډونو کې بند کړل خو په سبا به ئې راوايستل او ادعاء به ئې دا وه چې موږ د شنبې د ورځې احترام ساتلی، ځينو دوی ته نصيحت کاوو او له دې کاره ئې منعه کول، ځينو نورو به نه يوازې د دوی ممانعت نه کولو بلکې نصيحت کوونکې به ئې ترټل چې ولې خپل وخت ضايع کوئ؟ د څه لپاره ځان له دوی سره په لانجه کې غورځوئ؟ پرېږدئ چې الله تعالى په خپله سزا ورکړي، يا ئې هلاک کړي يا عذاب پرې راولېږي، کار ئې دې ځای ته ورسېدو چې د ټولنې اکثريت دين ته شا کړه، الله تعالى هغه خلک وژغورل چې له بدو کړنو ئې مخنيوی کاوو او ظالمان ئې د دې لپاره په بد عذاب اخته کړل چې سرغړاوی ئې کاوو.

د دوی سرغړاوی مزيد عام او پراخ شو او الله تعالى د دوی په اړه پرېکړه وکړه چې د رټل شوو بيزوګانو په څېر مسخه شي او د قيامت تر ورځې داسې څوک پرې مسلط کړي چې په بد عذاب به ئې اخته کوي. دا څکه چې الله تعالى د ظالمانو په نيونې او مواخذې کې سريع دئ او د توبه کوونکو لپاره مهربان بخښونکی.

دلته دا پوښتنه راولاړېږي چې دا مسخه جسمي وه که معنوي؟ که جسمي وه نو د پيغمبر عليه الصلاة و السلام د حديث له مخې مسخه شوي خلک مري او هيڅ نسل نه ترې پاته کېږي، خو دلته د آيت په وروستۍ برخې کې ويل شوي چې پر دوی به د قيامت تر ورځې داسې څوک مسلط کړي چې په بد عذاب به ئې اخته کوي، د دې معنی خو دا ده چې د دوی نسل نه يوازې پاته شوی بلکې تر قيامته به پاته وي. دغه مطلب ته په پام سره ويلی شو چې يا خو دا مسخه معنوي مسخه وه، د بيزوګانو په څېر سپک، ذليل او مقلد قوم ترې جوړ شوی او يا خو يوه ډله ئې په جسمي توګه هم مسخه شوې او له منځه تللې، نور ئې پاته شوي. دې آيت او لاندې حديث ته په پام سره دا رأيه ارجح برېښي چې مسخه ئې معنوي وه.

عن عبد الله بن مسعود قال رجل يا رسول الله القردة والخنازير هي مما مسخ ؟ فقال النبي صلى الله عليه وسلم إن الله عز وجل لم يهلك قوما أو يعذب قوما فيجعل لهم نسلا وإن القردة والخنازير كانوا قبل ذلک رواه مسلم

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت کوي چې يوه سړي وپوښتل: يا رسول الله! آيا دا بيزوګاني او خنزيران همغه خلک دي چې مسخه شوي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: يقيناً چې الله داسې نه کوي چې کوم قوم هلاک کړي يا ئې په عذاب اخته کړي او بيا ئې نسل ترې پرېږدي، دا بيزوګاني او خنزيران تر دې د مخه موجود وو.

## اختلاف او تشتت

د دوی د زوال يو بل عامل خپلمنځي اختلافات وو، په ډلو ډلو ووېشل شول، قرآن په دې اړه فرمايي:

وَقَطَّعْنَاهُمْ فِي الْأَرْضِ أُمَمًا مِّنْهُمُ الصَّالِحُونَ وَمِنْهُمْ دُونَ ذَٰلِكَ وَبَلَوْنَاهُم بِالْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿١٦٨﴾ الاعراف: ١٦٨

او په زمکې کې مو په ډلو ډلو خواره واره کړل، ځيني ئې صالح دي او ځيني ئې تر دې راټيټ، په ښو او بدو (شېبو) مو وآزمويل چې راوګرځي.

دا آيت ښيي چې بني اسرائيل له پراخ تشتت او تفرق سره مخ شوي، په زمکې کې خواره واره شوي، يوه وړه ډله ئې روغه او سمه او نور ئې پرېوتي او ټيټ، الله تعالى کله په خپلو نعمتونو آزمويلي او کله په نقمتونو، په دې موخه چې پند واخلي او بېرته سمې لارې ته راوګرځي.

فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَرِثُوا الْكِتَابَ يَأْخُذُونَ عَرَضَ هَٰذَا الْأَدْنَىٰ وَيَقُولُونَ سَيُغْفَرُ لَنَا وَإِن يَأْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهُ يَأْخُذُوهُ ۚ أَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِم مِّيثَاقُ الْكِتَابِ أَن لَّا

يَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّ وَدَرَسُواْ مَا فِيهِۗ وَٱلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿١٦٩﴾ الاعراف: ١٦٩

نو تر دوی وروسته داسې (بد) پاته شوني ترې پاته شول چې كتاب ئې په ميراث يووړ، په داسې حال کې چې د دې خسيسې (دنيا) مال متاع به ئې (پرې) ترلاسه كاوو او ويل به ئې: خدای به ئې حتماً راته وبخښي او كه همداسې مال متاع بيا ورته رامخه كړې بيا ئې اخلي، آيا د كتاب دا ژمنه نه وه ترې اخيستل شوې چې د الله په اړه به له حق پرته بل څه نه وايي؟ او هغه څه ئې لوستلي وو چې په دغه (كتاب) كې وو او د آخرت كور هغه چا لره غوره دئ چې تقوى كوي، آيا تعقل نه كوئ.

دا مبارک آيت څو مهمې لارښووني لري:

- دوی ته كتاب په ميراث پاته شو، داسې نه چې كتاب ئې غوره كړی، د كتاب په محتوى كې له غور او دقت نه وروسته ئې هغه د الهي لارښود كتاب په توګه منلی، بلكې د يوه ميراثي توكي په څېر ئې ترلاسه كړی، محتوى ته ئې له پامه پرته او د احكامو په وړاندې ئې له التزام نه پرته.
- د دوی ملايانو او مذهبي مشرانو په دې موروثي كتاب دنيوي خسيسې ګټې ترلاسه كولې، له كتاب نه ئې دام او دكان جوړ كړی وو، خلک ئې پرې غولول او له دوی نه ئې شكرانې ترلاسه كولې، خو هر ځل چې به دوی دا كار وكړ، په كومې فتوى به ئې څه زهر زقوم په برخه شول، نو پټ به ئې له ځان سره وويل: زموږ مجبوريتونو ته په پام سره به خدای حتماً دا ګناه راوبخښي!! خو لا به څو ورځې نه وې تېرې چې همدا سپک كار به ئې بيا او بيا تكرار كړ، دا په داسې حال کې چې له الله تعالى سره ئې ژمنه كړې وه چې د الله تعالى او د ده د دين په اړه به افتراء نه كوي، له ځانه به دروغجنې فتواګانې نه وركوي، دين به نه خرڅوي، الهي احكام به د دنيوي اغراضو لپاره نه پټوي، نه د كومې طمعې په وجه او نه د كومې وېرې په

وجه، او دا ټول په داسې حال کې چې دوی دغه الهي احکام په کتاب کې لوستلي او نورو ته ئې هم ورزده کړي. دا ئې هم په کتاب کې ترسترګو شوي وو چې څوک له داسې کارونو ځان وساتي د آخرت غوره کور به ئې په برخه شي!!

دا هغه ستره جفا ده چې له هر الهي کتاب سره شوې، دا هغه ستر ظلم دئ چې تل دين پلورونکو او ټګمارو مذهبي مشرانو له دين سره کړی، دا همغه فتنه ده چې تل په هغو قومونو کې راولاړېږي چې الهي کتاب د يوه ميراثي توکي په څېر ترلاسه کړي.

وَٱلَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِٱلْكِتَـٰبِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُصْلِحِينَ ﴿١٧٠﴾

الاعراف: ۱۷۰

او هغه چې په کتاب تمسک کوي او لمونځ اقامه کوي، يقناً چې د دغو مصلحينو اجر نه ضايع کوو.

په دې مبارک آيت کې د مخکنۍ ډلې په مقابل کې د يوې بلې ډلې يادونه شوې چې قرآن ئې د مصلحينو په نامه يادوي او دا ئې ځانګړتياوي ګڼي:

- دوی په الهي کتاب تمسک کوي، په هر څه کې د دوی مستمسک د الله تعالی کتاب وي، په وينا، قضاوت او عمل کې، دا کتاب ئې هم خپل لارښود وي او هم نورو ته په همدې کتاب لارښوونه کوي.
- لمونځ اقامه کوي، هم خپلې اړيکې له الله تعالی سره ټينګوي او هم نور دې ته رابلي چې په لمانځه سره خپلې اړيکې له الله تعالی سره ټينګې کړي.

له دې مبارک آيت نه په ډېر وضاحت او صراحت سره معلومېږي چې د ټولنې د اصلاح کار له دغو دوو لارو پرته له بلې لارې امکان نه لري، په الهي کتاب تمسک او د لمانځه اقامه، په کومې ټولنې کې چې الهي کتاب هېر کړی شو، شا ته وغورځول شو، بل څه ته پرې ترجيح ورکړی شوه، جوماتونه ئې له معنوي پلوه ويجاړ شول، امامت ئې د غلطو او دين پلورونکو خلکو په لاس کې پرېوت،

هیڅکله به ښېرازه نشي، سمه ورځ به ئې په برخه نشي او د اصلاح هره هڅه به ئې بې نتیجې پاته شي.

## له الله تعالی سره کړې ژمنې ماتول

پر بني اسرائیلو یو په بل پسې مصیبتونه راغلي، د مصیبتونو په دوران کې ئې له الله تعالی سره د بندګۍ، اخلاص او صداقت ژمنه کړې، د تورات نازلېدو پر مهال ئې په دې کتاب د عمل کولو تعهد کړی خو هر ځل ئې خپلې ژمنې او تعهدات مات کړي، قرآن فرمايي:

فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَٰقَهُمْ وَكُفْرِهِم بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَقَتْلِهِمُ ٱلْأَنۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَقَوْلِهِمْ قُلُوبُنَا غُلْفٌۢ ۚ بَلْ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٥٥﴾ النساء: ۱۵۵

نو د خپلو ژمنو د ماتولو په وجه او د الله پر آیتونو د دوی د کافرېدو په سبب او په ناحقه د پیغمبرانو د وژنې او د دوی د دې وینا له امله چې زړونه مو په پردو کې دي، بلکې الله د دوی د کفر په وجه پرې مهر لګولی، نو ایمان نه راوړي مګر ډېر لږ.

په دغو مبارکو آیتونو کې د بني اسرائیلو هغو انحرافاتو ته ګوته نیول شوې چې الله پرې مواخذه کړل او له دردناک عذاب سره ئې مخامخ کړل:

- خپلې ژمنې ئې ماتې کړې.
- د الله له آیتونو نه ئې انکار وکړ.
- د انبیاءو د وژلو لپاره ئې ملا وتړله.
- د خپل ذهن زېږنده جعلي مذهب په نسبت ئې داسې ړوند تعصب پیل کړ چې د هغه په خلاف د هیڅ دلیل اورېدو ته تیار نه وو.
- په خپل کفر کې هغه ځای ته ورسېدل چې الله تعالی د دوی پر زړونو مهر ولګاوو او د هدایت دروازې ئې پر مخ وتړل شوې.

همداراز د المائدې سورې په ۱۳ آیت کې فرمایي:

فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَٰقَهُمْ لَعَنَّٰهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَٰسِيَةً ۖ يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ ۙ وَنَسُوا۟ حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوا۟ بِهِۦ ۚ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَىٰ خَآئِنَةٍ مِّنْهُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۖ فَٱعْفُ عَنْهُمْ وَٱصْفَحْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٣﴾ المائده: ۱۳

نو د خپلو ژمنو د ماتولو په وجه مو ورټل او د دوی زړونه مو سخت کړل، کلمې له خپل خپل ځایه کږوي او له هغه څه ئې برخمن کېدل هېر کړل چې پند پرې ورکېدو او تل به د دوی له یوه او بل خیانته خبرېږې، مګر لږ ئې، نو ترې تېر شه او مخ ترې واړوه، بې شکه چې الله داسې محسنین خوښوي.

په دې مبارکو آیتونو کې د یهودانو څو هغو خصلتونو ته ګوته نیول شوې چې الله تعالی د همدې په سبب ورټل او زړونه ئې ورسخت کړل، د همدې په وجه د هر چا له لوري رټل شوي او هر څوک په سپکه سترګه ورته ګوري او د همدې له امله له الهي هدایته محروم شوي:

- خپلې ژمنې ماتول.
- هغه لارښوونې شا ته غورځول چې د پیغمبرانو علیهم السلام په لاس ئې په برخه شوې وې.
- پرله پسې خیانت، له دوست او دښمن سره، له الله تعالی او د ده له بندګانو سره.
- دا خیانت پکې عام شوی، له لږو پرته ټول پرې اخته شوي.

له دوی سره په معامله کې د څو لارښوونو توصیه کېږي: د دوی له کړو وړو سترګې پټول، مخ ترې اړول او بښګڼه ورسره کول، دا ځکه چې الله تعالی ښېګڼې او نېکان خوښوي.

همداراز فرمایي:

وَٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقْطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ
وَيُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ ۙ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ﴿٢٥﴾ الرعد:٢٥

او هغه چې د الله عهد له هغه وروسته ماتوي چې ژمنه ئې پرې کړې او هغه څه قطعه کوي چې الله ئې د وصلولو امر کړی او په زمکې کې فساد کوي، دوی ته لعنت دئ او دوی لره بد تاڼوبی دئ.

ٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقْطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ
وَيُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٢٧﴾ البقرة:٢٧

هغه (فاسقان) چې الهي ژمني له ټينګولو وروسته ماتوي او هغه غوڅوي چې الله ئې د وصلولو امر کړی او په زمکه کې فساد کوي، همدا دوی خاسر او تباه شوي دي.

له دې آيت نه په ډېر صراحت سره معلومېږي چې د فطري اړيکو شلول او هغه څه قطع کول چې الله ئې د وصلولو امر کوي، د هغو فاسقانو کار دئ چې له الهي هدايت او لارښووني نه محروم دي او د الله په کتاب د ايمان راوړو سعادت ئې نه په برخه کېږي او دا همغه مطلب دئ چې د بقرې د سورې په سر کې راغلی، او هغه دا چې د قرآن له لارښوونو نه هغه څوک ګټه اخيستی شي چې يو صفت ئې (د الصلوة اقامه) وي، لمونځ په حقيقت کې د اقامه صلوة تر ټولو ستره ښېلګه ده، دا هم د انسان او الله ترمنځ او هم د انسانانو ترمنځ د اړيکو د مضبوطولو ترټولو مؤثره او اغېزمنه ذريعه ده، د همدې لپاره الله تعالی د لمانځه ادا کولو لپاره د اقيموا الصلوة صيغه غوره کړې.

وَإِذْ نَتَقْنَا ٱلْجَبَلَ فَوْقَهُمْ كَأَنَّهُۥ ظُلَّةٌ وَظَنُّوٓا۟ أَنَّهُۥ وَاقِعٌۢ بِهِمْ خُذُوا۟ مَآ ءَاتَيْنَٰكُم بِقُوَّةٍ
وَٱذْكُرُوا۟ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٧١﴾ الاعراف: ١٧١

او کله چې مو غر پرې راپورته کړ، داسې لکه چې چترۍ وي او ګمان ئې وکړ چې

پرې راپرېوتونکی دئ، (ومو ویل:) هغه څه په زور سره (ټینګ) ونیسئ چې تاسو ته مو درکړ او هغه څه ئې په یاد کړئ چې په هغه کې دي، ترڅو مو ځان ساتنه په برخه شي.

دلته بني اسرائیلو ته خپلې هغه ژمنې ورپه یادوي چې د تورات د نازلېدو په مهال ئې کړې وې، دوی له الله تعالی سره په داسې حال کې ژمنه کړې وه چې لوی غر ئې پر سر داسې راپورته شوی وو لکه چتری، هره شېبه ئې ګمان کاوو چې غر پرې راپرېوځي، ژمنه ئې دا وه چې د الله تعالی په کتاب به کلکې منګولې لګوي او لارښوونو ته به ئې تل پام کوي.

که له بني اسرائیلو نه په دې توګه ژمنه ترلاسه شوې وه، په نورو قومونو هم دې ته ورته حالات راځي، د مصیبتونو غرونه ئې پر سر سیوری وغوړوي، له سترو سترو ګواښونو او خطرونو سره مخامخ شي، په دې وخت کې الله تعالی ته مخه کړي، له ګناهونو نه د لاس اخیستو او په اخلاص او صداقت سره د الله تعالی د بندګۍ ژمنې کوي. په افرادو باندې هم دې ته ورته حالتونه راځي او همداسې له الله تعالی سره ژمنې او تعهدونه کوي.

وَوَٰعَدۡنَا مُوسَىٰ ثَلَٰثِينَ لَيۡلَةٗ وَأَتۡمَمۡنَٰهَا بِعَشۡرٖ فَتَمَّ مِيقَٰتُ رَبِّهِۦٓ أَرۡبَعِينَ لَيۡلَةٗۚ وَقَالَ مُوسَىٰ لِأَخِيهِ هَٰرُونَ ٱخۡلُفۡنِي فِي قَوۡمِي وَأَصۡلِحۡ وَلَا تَتَّبِعۡ سَبِيلَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿١٤٢﴾ الاعراف: ١٤٢

او له موسی سره مو د دېرشو شپو ژمنه کړې وه او بیا مو په لسو نورو بشپړې کړې، چې په دې سره ئې د رب وعده بشپړې څلوېښت شپې شوې، او موسی خپل ورور هارون ته وویل: په قوم کې مې نیابت وکړه، د اصلاح په کار بوخت اوسه او د مفسدینو په لار مه ځه.

الله تعالی موسی علیه السلام وروغوښت چې د بني اسرائیلو د ژوند د چارو

تنظیمولو لپاره ضروري لارښووني او احکام ورکړي، د دېرشو شپو لپاره غوښتل شوی وو، خو دا موده لس ورځې نوره هم اوږده شوه، موسی علیه السلام د تلو په مهال هارون علیه السلام خپل نائب وټاکو، هغه ته ئې سپارښتنه وکړه چي د اصلاح په کار بوخت وي او د مفسدینو په لار ولاړ نشي.

د قرآن داسي لارښوونو ته په پام سره به پیغمبر علیه الصلاة و السلام غزواتو ته تلو په مهال په مدینه کي خپل نائب ټاکلو، د تبوک جنگ ته د تلو په ورځ ئې غوښتل علی رضي الله عنه د نائب په توگه وټاکي، په هغه باندي دا خبره گرانه تمامه شوه، نه ئې غوښتل له یوه ستر جهاد نه محروم پاته شي، پیغمبر علیه الصلاة و السلام ته ئې عرض وکړ چي آیا ما له ماشومانو او ښځو سره پرېږدې؟! پیغمبر علیه السلام ورته وویل: آیا نه غواړې زما لپاره داسي شې لکه هارون د موسی علیه السلام لپاره، مگر دا چي له ما نه وروسته پیغمبر نشته.

عن مصعب ابن سعد عن أبيه: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم خرج إلى تبوك واستخلف عليا فقال أتخلفني في الصبيان والنساء؟ قال ألا ترضى أن تكون مني بمنزلة هارون من موسى؟ إلا أنه ليس نبي بعدي» رواه البخاری

متأسفانه ځینو شیعه وو په دغه حدیث استناد کړی او ادعاء ئې کړې چي په دې سره علی رضي الله عنه د پیغمبر علیه السلام ځای ناستی ټاکل شوی او خلافت د ده مسلم حق وو!! د همدې لپاره د دوی ځینو ټول صحابه په دې دلیل تکفیر کړل چي تر علی رضي الله عنه ئې نورو ته ترجیح ورکړه، ځینو حتی علی رضي الله عنه له اسلام نه په مخالفت متهم کړ او دا اعتراض ئې پرې وکړ چي ولي ئې پر خپل حق ټینگار ونه کړ، له نورو سره ئې بیعت وکړ!! دا ادعاء ئې د علی رضي الله عنه له شهادت نه نږدې څلور سوه کاله وروسته وکړه. که څه هم دا موضوع زموږ له اصلي بحث نه وتلې ده خو دا مناسب گڼو چي دغو جنابانو ته ووایو:

- څوک چي د صحابه وو اجماع نه مني هغه باید دغه قرآن هم ونه مني چي نن

زموږ په لاس کې دئ، موږ خو په دې دليل دې قرآن ته د همغه قرآن په سترگه گورو چې پر پيغمبر عليه الصلاة و السلام نازل شوی چې صحابه وو پرې اتفاق کړی!!

- صحابه هغه خلک دي چې د پيغمبر عليه السلام په لاس روزل شوي، تر هر چا زيات او ښه په قرآن پوهېدل، نه څوک د قرآن په پوهې کې هغوی ته رسېدی شي او نه په اخلاص کې، دا دوی ول چې اسلام ئې د نړۍ گوټ گوټ ته ورساوو، موږ ته دا دين صحابه وو رارسولی، هغوی تر هر چا ښه پوهېدل چې د خلافت لپاره تر ټولو وړ او مناسب شخصيت څوک دئ، موږ د دوی پرېکړه د ابوبکر، عمر، عثمان او علی رضي الله عنهم په اړه عادلانه، اصوب او احسن گڼو. ډېر ناپوه او په غرض او مرض مبتلا انسان به په دې اړه د دوی پرېکړه د اسلام او عدالت خلاف گڼي.
- پيغمبر عليه السلام نور صحابه او تر علي رضی الله عنه مخکې او وروسته او څو ځلي د موقت نائب په توگه گمارلي، ولي هغوی ته د ځای ناستي په سترگه نه گوري؟!

## د الله تعالی د ليدو هيله

قرآن د دې قصې په ترڅ کې موږ ته هغه پېښه هم رايادوي چې موسی عليه السلام د طور په غره کې او له الله تعالی سره له تکلم وروسته دا هيله وکړه چې خپل رب په خپلو سترگو وگوري، فرمايي:

وَلَمَّا جَآءَ مُوسَىٰ لِمِيقَٰتِنَا وَكَلَّمَهُۥ رَبُّهُۥ قَالَ رَبِّ أَرِنِيٓ أَنظُرۡ إِلَيۡكَۚ قَالَ لَن تَرَىٰنِي وَلَٰكِنِ ٱنظُرۡ إِلَى ٱلۡجَبَلِ فَإِنِ ٱسۡتَقَرَّ مَكَانَهُۥ فَسَوۡفَ تَرَىٰنِيۚ فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُۥ لِلۡجَبَلِ جَعَلَهُۥ دَكّٗا وَخَرَّ مُوسَىٰ صَعِقٗاۚ فَلَمَّآ أَفَاقَ قَالَ سُبۡحَٰنَكَ تُبۡتُ إِلَيۡكَ وَأَنَا۠ أَوَّلُ

ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٤٣﴾ الاعراف: ۱۴۳

او کله چې موسی زموږ میقات ته راغلی او رب ئې ورسره خبرې وکړې، وئې ویل: اې زما ربه! ما ته (ځان) راوښیه چې درته وګورم، وئې فرمایل: هیڅکله مې لیدی نه شې، خو دې غره ته وګوره، که په خپل ځای ثابت پاته شو، نو ته به مې هم حتماً وګورې، خو کله چې د ده رب د غره په لوري تجلي وکړه، ټوټې ټوټې شو او موسی بې سده پرېووت، کله چې راپه سد شو وئې ویل: پاکي تا لره ده، تا ته مې توبه ده او زه لومړنی مؤمن او باورکوونکی یم (د دې خبرې چې هیڅوک الله تعالی په خپلو سترګو نه شي لیدی)

دلته څو ډېرې اساسي او مهمې خبرې زموږ توجه جلبوي:

- الله تعالی له موسی علیه السلام سره تکلم او خبرې کړې، موږ د دې خبرو په کیفیت او څرنګوالي نه پوهېږو، دومره ویلی شو چې موسی علیه السلام دا خبرې اورېدلې دي او پرې پوه شوی.
- خبرې په داسې حالت کې شوې چې موسی علیه السلام خپل رب نه لیدو، د لیدو تمنا ئې کړې او الله تعالی ورته فرمایلي چې زما د لیدو توان او استعداد نه لرې، ستا په څېر یو انسان خو پرېږده ستر غر هم د الله تعالی د تجلي په وړاندې مقاومت نشي کولی، که دا غر زما د تجلي په وړاندې تم شو نو ته مې هم لیدی شې.
- کله چې الله تعالی د غره په لوري تجلي کړې غر ټوټې ټوټې شوی او موسی علیه السلام بې سده شوی.
- کله چې راپه سد شو وئې ویل: پاکي تا لره ده، تا ته مې توبه ده او زه لومړنی مؤمن او باورکوونکی یم، یعنې زما نه غلطي وشوه، ته تر دې ډېر لوړ یې چې انسان دې په خپلو کمزورو سترګو ولیدی شي، تا ته مې توبه ده، زه لومړنی کس یم چې دې نتیجې ته رسېدلی چې هیڅوک الله تعالی په خپلو سترګو نه شي لیدی.

د قرآن دا وینا او هغه هم د موسی علیه السلام د قصې په ترڅ کې د یهودانو او د بایبل د هغو پلویانو په خوله سخت سوک دئ چې د بایبل دا غلطه خبره مني چې د دوی ګڼ شمېر انبیاءو الله تعالی په خپلو سترګو لیدلی او ډوډۍ ئې ورسره خوړلې!!

دا آیت د ټولو هغو ټګمارانو ادعاء هم ردوي چې د (شهود) او (حضور) په نامه د الله تعالی د لیدو خبره کوي. که د موسی علیه السلام په څېر اولوالعزمه پیغمبر نشي کولی الله تعالی وګوري بل څوک به ئې څنګه ولیدی شي؟!

موسی علیه السلام لومړی او وروستی شخص دئ چې الله تعالی ورسره تکلم کړی او دا ئې په خپلو سترګو لیدلي چې نه غر او نه انسان د الله تعالی د تجلي په وړاندې مقاومت کولی شي.

## د تورات ورکړه

بني اسرائیلو له آزادۍ وروسته یوه داسې لارښود کتاب ته ضرورت درلود چې د دوی فردي او اجتماعي ژوند تنظیم کړي، ښه او بد، حلال او حرام وروښیي، د کفر، شرک، نفاق او ایمان تر منځ پولې او نښې په ګوته کړي، د عدل او ظلم د تفکیک لپاره واضح او څرګند معیارونه په لاس کې ورکړي، د همدې لپاره موسی علیه السلام ته تورات ورکړی شو، لکه چې قرآن فرمایي:

قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّي ٱصۡطَفَيۡتُكَ عَلَى ٱلنَّاسِ بِرِسَٰلَٰتِي وَبِكَلَٰمِي فَخُذۡ مَآ ءَاتَيۡتُكَ وَكُن مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ ﴿١٤٤﴾ وَكَتَبۡنَا لَهُۥ فِي ٱلۡأَلۡوَاحِ مِن كُلِّ شَيۡءٖ مَّوۡعِظَةٗ وَتَفۡصِيلٗا لِّكُلِّ شَيۡءٖ فَخُذۡهَا بِقُوَّةٖ وَأۡمُرۡ قَوۡمَكَ يَأۡخُذُواْ بِأَحۡسَنِهَاۚ سَأُوْرِيكُمۡ دَارَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿١٤٥﴾

الاعراف: ۱۴۴_۱۴۵

وئې فرمایل: اې موسی! ما په خپلو رسالتونو او په خپل کلام سره تا ته پر خلکو

غوره والی درکړ، نو څه چې مې درکړل وائې خله او له شکرکوونکو څخه اوسه. او ده ته مو په (ډبرینو) تختو کې د هر څه (په اړه) موعظه او د هر څه (په اړه) تفصیلي لیکنه ورکړه، نو په قوت سره ئې واخله او خپل قوم ته سپارښتنه وکړه چې په غوره توگه ئې ترلاسه کړي، ژر به د فاسقانو ټاټوبی دروښیم.

دلته څو خبري په پام کې ولرئ:

- الله تعالی خپل پیغمبر موسی علیه السلام هغو سترو سترو پېرزوینو ته متوجه کوي چې د ده په برخه شوې وې: رسالت ئې ورپه برخه کړی وو او د ټولو انسانانو له منځه ئې یوزاې له ده سره په استثنائي او ځانگړې توگه تکلم کړی وو او ده ته ئې په لوحو کې لیکلې هدایات ورکړي وو.
- دا لوحې څو وې؟ په دې کې ټول تورات لیکل شوی وو که ځیني اساسي احکام ئې؟ په دې اړه په قرآن او د پیغمبر علیه الصلاة و السلام په احادیثو کې واضح ځواب نشو موندلی، د مفسرینو گڼ اقوال نقل شوي، بایبل ئې دوه ډبریني لوحې گڼي، چې لس احکام په کې لیکل شوي وو، یهودان او مسیحیان د بایبل لومړی برخي (عهد قدیم) ته د تورات په سترگه گوري، خو څوک چې بایبل په دقت سره مطالعه کړي پوهېږي چې دا نه یوازې په موسی علیه السلام باندې نازل شوی تورات نه دئ، بلکي له خرافاتو او تناقضاتو ډک کتاب دئ.

بایبل د دغو لوحو په اړه لیکي: خدای موسی ته امر وکړ چې ... د عهد صندوق به د سَرَوْ (لمنځه) له لرگي جوړوئ، اوږدوالی به ئې ۱۲۵ سانتي متره، سور او لوړوالی ئې ۷۵ سانتي متره، منځ او بهر ئې په خالصو سرو زرو وپوښه او په ژۍ ئې د سرو زرو گاره تېره کړه، د دې صندوق لپاره د سرو زرو څلور حلقې جوړې کړه، د صندوق څلور لاندنیو کونجونو سره ئې ونښلوه، ... د صندوق د وړلو لپاره د لمنځې د لرگي دوه دستکې په سرو زرو وپوښه او په حلقو کې ئې ننباسه، کله چې د صندوق جوړول بشپړ شي هغه دوه لوحې به درکړم چې قوانین او لارښووني مې په

کې ليکلې دي تر څو ئې په دې صندوق کې کېږدې. د صندوق سرپوښ به له خالص سرو زرو جوړوې، اوږدوالی ئې ۱۲۵ او سور ئې ۷۵ سانتي، دا سرپوښ د (رحمت تخت) دئ، ستاسو د گناهونو د کفارې لپاره!! د رحمت د تخت پر سر د فرشتې د شکل دوه مجسمې له سرو زرو نصب کړه، دا مجسمې داسي جوړي کړه چې د رحمت له تخت سره جوخت او نښتې وي، دواړه يوې بلې ته مخامخ او سترگې ئې د تخت په لوري او وزرونه ئې په تخت خواره وي، د رحمت تخت پر صندوق نصب کړه، بيا به زه هملته ملاقات درسره کوم او د دغو دواړو فرشتو له منځه به خبري درسره وکړم او بني اسرائيلو ته به اړيني لارښووني وکړم.!!

د دې خبرو په اړه د بايبل منونکو ته وايو:

- آيا ستاسو عقل دا خبره مني چې الله تعالی به موسی عليه السلام په داسي بېهوده کارونو گمارلی وي او د معبد په جوړولو کې د سرو او سپينو زرو او قيمتي ډبرو د کارولو امر به ئې کړی وي؟!! آيا د خدای له يوه مسکين او فقير بنده سره چې له لوږې او بيمارۍ مري، مرسته به غوره وي که د معبد د تزئين او ښکلا لپاره بې درېغه مصرف؟!! که دا تاسو ته پرېښودی شي نو ستاسو پرېکړه به څه وي، کوم ته به ترجيح ورکوئ؟!!
- آيا الله تعالی د تورات لوحې د دې لپاره لېږلې وې چې د سرو زرو په صندوق کې کېښودی شي که د دې لپاره چې د خلکو د ژوند لارښود وي او عمل پرې وشي؟ څنگه ممکنه ده چې موسی عليه السلام به تورات د سرو زرو په صندوق کې ږدي؟!! قرآن خو موږ ته تورات د هغه کتاب په توگه معرفي کوي چې نسخې ترې جوړي شوې او په ولس کې خورې شوې (والطور وکتاب مسطور في رق منشور)، موسی عليه السلام خو د تورات له راوړلو سره سم له بني اسرائيلو نه په دې کتاب د عمل کولو ژمنه اخيستې وه، قرآن خو موږ ته وايي چې موسی عليه السلام دا لوحې هغه وخت لرې وغورځولې چې وئې ليدل د ده قوم د سامري په لاس دوکه

شوی او د خدای په ځای ئې د سخوندر د مجسمې عبادت پیل کړی، تورات هم همدغه خبره کوي، له دې نه خو معلومېږي چې د موسی علیه السلام له نظره دا لوحې نه بلکې په دې لوحو کې لیکل شوي احکام مهم ول!! د ټولو جاهلو قومونو تاریخ په دې شهادت ورکوي چې دوی له خپلو سپېڅلو کتابونو سره همدا معامله کړې ده، هغه کتاب چې په لومړي سر کې د دوی د نېکو او صالحو پلرونو لپاره لارښود کتاب وو، خو ورو ورو ترې لرې شوي، د کتاب لارښوونې ئې هېرې کړې، په جامو کې ئې نغښتی، په لوړ طاق کې ئې ایښی او د تبرک وسیله ئې ترې جوړه کړې، هندوانو او سیکانو له خپلو هغو مذهبي کتابونو سره چې سپېڅلي ئې ګڼي همداسې وکړل، په درمسال کې ئې کېښود، په ګڼ شمېر جامو کې ئې پټ کړ، خوا ته ئې عطر شیندي، خوشبویه لرګي دودوي، بوزی ورته وهي، د برکت ترلاسه کولو لپاره ئې تر خوا تېرېږي او تعظیم ئې کوي!! مسلمانانو د جهل او انحطاط په دوران کې له قرآن سره همدا معامله وکړه، هغه کتاب چې د یوه ستر سیاسي، اجتماعي او اقتصادي انقلاب لارښود وو، د ژوند د هرې پېښې په اړه به مسلمانانو هغه ته رجوع کوله، د خپلې هرې پوښتنې ځواب به ئې له قرآنه غوښت، هره شخړه به ئې په قرآن حلوله، د هرې قضیې په اړه به ئې د قرآن لارښوونه او پرېکړه وروستۍ پرېکړه ګڼله، هغه کتاب چې په نړۍ کې ئې ستره او ژوره تبدیلي راوسته، له خورو ورو قومونو نه ئې یو ستر او سرلوړی متحد امت جوړ کړ، د ظالمانو په ضد ئې مظلومان پاڅون ته وهڅول، اقتدار ئې له ظالمانو واخیست او مظلومانو ته ئې وسپارو، دوه سترې امپراطورۍ ئې په زوال محکومې کړې، خو آیا پوهېږئ چې څو پېړۍ وروسته، تش په نامه مسلمانانو له دغه لارښود او انقلابي کتاب سره څه وکړل؟!! هغه ئې هېر کړ، یوازې د تبرک وسیله ئې ترې جوړه کړه، په جامو کې ئې ونغاښتو، د تعظیم او احترام په نامه ئې د خپلې خونې په داسې طاق کې کېښود چې تر ټولو لوړ وي او د هیچا لاس نه وررسي، هغه وخت به ئې له لوړ

ځایه راکوزاوو چې غوښتل ئې د لوړي لپاره لاس پرې کېږدي!!

بايبل بل ځای ليکي: کله چې موسی د سينا په غره کي وو خدای ورته هغه لوحې ورکړې چې په خپلو گوتو ئې لس احکام په کي ليکلي وو!! خو د سينا په غره کي ئې ځنډ وکړ... خلک هارون ته راغلل چې پاڅه او موږ ته خدای جوړ کړه چې زموږ لارښوونه وکړي... هارون ورته وويل: د سرو زرو هغه گاڼې ما ته راوړئ چې ستاسو د مېرمنو، لوڼو او زامنو په غوږونو کي دي، خلکو دا کار وکړ... هارون ټولي ويلي کړې، په يوه قالب کي ئې واچولې او سخوندر ئې ترې جوړ کړ، کله چې خلکو سخوندر وليد چيغي ئې کړې: اې بني اسرائيلو! دا ستاسو هغه خدای دئ چې له مصره ئې راوايستئ!! هارون د دې صحنې په ليدو سره د سخوندر مخي ته د قربانۍ ځای هم جوړ کړ او وئې ويل: سبا د خدای لپاره جشن نيسو!! سبا خلک سهار وختي پاڅېدل، د سخوندر په وړاندې ئې د سوزولو او سلامتۍ قرباني وړانده کړه، کښېنستل... ښه ډېر خوراک څښاک او د بې حيايۍ کارونه ئې وکړل... خدای موسی ته وويل: په تلوار لاندي ولاړ شه چې ستا قوم فاسد شوی... پرېږده چې د خپلي غصې اور پرې بل کړم... او ټول ووژنم... خو موسی وويل: خدايه! ولي پر خپل قوم دومره غصه يې؟ سوال کوم چې خپله غصه پرېږده او د خپل قوم له مجازاته تېر شه!! ... خپله هغه لوړه درپه ياد کړه چې ابراهيم او اسحاق ته دې ويلې وو: په خپل ذات لوړه کوم چې ستاسو اولاد به د آسمان د ستورو په څېر بې شمېره کړم!! ... نو له دې کبله خدای له خپل تصميم نه تېر شو!! ... نو موسی له غره راکوز شو... او هغه دوه ډبريني لوحې ئې په لاس کي وې چې په دواړو خواوو ئې (خدای په خپل لاس) لس احکام ليکلي وو... کله چې پنډغالي ته رانږدې شو، شور او ځوږ ئې ترغوږ شو... سترگې ئې پر طلايي سخوندر ولگېدې چې خلک ئې مخي ته په نڅا او خندا بوخت دي... داسي غصه شو چې لوحې ئې تر غره!! لاندي وغورځولې او ټوټې ټوټې شوې... بيا ئې طلايي سخوندر په اور کي ويلي کړ، وئې

ټکاوو او د هغه دوړې ئې پر اوبو وشيندلې او دا اوبه ئې پر بني اسرائيلو وڅښلې!!! ... هارون ته ئې وويل: ولې دې له قوم سره دا جفا وکړه؟.. د پنډغالي په دروازه کې ودرېدو او غږ ئې کړ: څوک چې د خدای پلوي وي زما خوا ته دې راشي... د لاوي ټول ټبر د ده خوا ته راغونډ شو... ورته وئې ويل: خدای امر کوي چې توري ترملا وتړئ، د پنډغالي له يوه سره تر بل سره ولاړ شئ، خپل ورور، دوست او ګاونډی ووژنئ...لاويانو اطاعت وکړ او په دې ورځ درې زره اسرائيليان ووژل شول... موسی لاويانو ته وويل: تاسو ثابته کړه چې د خدای د خدمت وړ ياست... نو خدای به تاسو ته برکت درکړي!!!... موسی خدای ته وويل: دې قوم لويه ګناه کړې، خو ته ئې وبخښه او يا خو زما نوم له خپل کتابه محوه کړه!! خدای ورته وويل: ستا نوم به ولې محوه کوم... چا چې ګناه کړې هغه ته سزا ورکوم...خدای د هغه بُت د لمانځنې له امله پربني اسرائيلو لويه بلا نازله کړه چې هارون جوړ کړی وو!! بيا خدای موسی ته وفرمايل: دا قوم هغې سيمې ته بوځه چې شات او شيدې په کې بهېږي!!! خو زه به په دې سفر کې ستاسو په منځ کې نه وم، ځکه چې سرکش يئ... ممکن په لارې کې مو هلاک کړم!! که يوه شېبه ستاسو په منځ کې پاته شم نو تاسو حتماً وژنم... تر څو چې ستاسو په اړه وروستۍ پرېکړه کوم هر ډول ګاڼې او جواهرات له ځانه لرې کړئ... )

که څه هم د دې وينا جمله جمله غلطه ده او هر عاقل انسان ئې په غلطۍ پوهېږي، خو د بايبل د هغو منونکو لپاره چې دا کتاب ئې له غور نه پرته منلی او هره وينا ئې ورته مقدسه برېښي، څو وضاحتونه ضروري ګڼو:

- آيا الله تعالی زمونږ په خبر دئ چې د څه ليکلو لپاره بايد قلم په لاس کې واخلي او په خپلو ګوتو څه وليکي؟!! د الله تعالی په اړه داسې وينا خو يوازې هغه څوک کولی شي چې نه ئې پېژني او په يوه کمزوري او محتاج انسان ئې قياسوي، راشئ د بايبل دا ضعيفه وينا د قرآن له جامع او کاملې وينا سره مقايسه کړئ چې

فرمايي:

إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٨٢﴾ يس: ٨٢

يقيناً چې د ده کار له دې پرته بل څه نه دئ چې کله د کوم څه اراده وکړي نو ورته وايي: وشه، نو هغه (له ځنډه پرته ترسره) کېږي!!

- که په رښتيا دا د سرو زرو سخوندر ډوله بُت او د هغه مخې ته د قرباني ځای هارون جوړ کړی وي، نو تر ټولو سخته سزا خو بايد ده ته ورکړې شوې وی!! دا څنګه موسی عليه السلام د نورو د وژلو امر کوي، هغه هم له پوښتنې او ګوېږنې پرته او د پنډغالي له يوه سره تر بله سره د ټولو د وژلو امر، او هارون عليه السلام ته نه يوازې کومه سزا نه ورکوي بلکې دی او زامن ئې د معبد د ساتونکو او پالونکو په توګه پرېږدي او پرېمانه امتيازات ورته مني؟!!!
- آيا ستاسو عقل او ايمان دا مني چې الله تعالی به داسې پرېکړه کړې وي چې يوه ډله به توري له تېکو راباسي او د پنډغالي له يوه پلوه به تر بله پلوه پوري درومي او چې څوک مخې ته ورځي، که ئې ورور وي، که دوست، که ګاونډی، نو وژني به ئې؟!! پرته له دې چې وګوري د سخوندر عبادت ئې کړی وو که نه، د وژلو وړ دئ که نه؟ د عقل، عدل او دين تقاضا خو دا ده چې يوازې مجرم ته سزا ورکړې شي او يوازې بُت لمانځونکي مجازات شي!! که دا د پېټو سترګو وژنه وی نو ولې به له شپږو لکو نه يوازې درې زره وژل کېدل؟! په کار خو دا وه چې په داسې عام قتل کې د وژل شوو شمېر ډېر زيات وی، که د بايبل دا خبره رښتيا وي چې درې زره وژل شوي نو بيا خو د دې معنی دا ده چې يوازې مجرمان وژل شوي. متأسفانه زموږ ځينې مفسرين هم د دغو اسرائيلي رواياتو تر اغېز لاندې تللي او د بايبل دا غلطه او بې بنسټه وينا ئې د قرآن د دې مبارک آيت په تفسير کې رااخيستې.
- هر عقلمن انسان په دې پوهېږي چې د معبد د سينګارولو لپاره سره او سپين

زر کارول او مجاور ته ئې د نفیس ټوکر جامې جوړول او قیمتي ډبري ئې په سینه بند او ملابند کې کارول یوازې د ټگمارو مذهبي مشرانو کار کېدی شي، په اسلام کې نه خاصه مذهبي طبقه شته، نه ئې خاص امتیازات، نه ئې خاصه تبعیضي او امتیازي جامه، نه ئې په قربانیو او صدقاتو کې خاصه برخه، اسلام موږ ته وایي ټوله زمکه مسجد دئ، په هر ځای کې د الله تعالی عبادت کولی شئ، امام په خپله غوره کړئ، هغه امام مه نیسئ چې پر امامت اجوره غواړي، مسجد به مو ساده وي او له سینگارولو به ئې ډډه کوئ، د لمانځه په مهال به امام له مقتدیانو نه په لوړ ځای نه ودرېږي. او دا همغه خبره ده چې د بایبل لیکونکي سهواً لیکلې وه: د قربانۍ ځای له خاورو جوړ کړئ، که ډبره کاروئ نو مه ئې تراشئ، تراشلې ډبري له ما سره نه ښایي!! په معبد کې زینه هم مه جوړوئ، خو هغه د انجیل په دغې خبري کې تحریف کړی او دا ئې پرې اضافه کړې: داسې نه چې له دغو زینو د پورته تلو په مهال مو عورت بربنډ نه شي...د بایبل لیکونکی دې ته نه دئ تیار چې ووایي: زینې د دې لپاره مه جوړوئ چې د الله تعالی په وړاندې یو برابر ودرېږئ!!

- آیا ستاسو عقل دا خبره مني چې موسی علیه السلام به په بني اسرائیلو له اېرو ډکې اوبه څښلې وي؟! ولي به ئې دا بېهوده او بې معنی کار کاوو او د دې گټه څه وه او څه معنی ئې درلوده؟! قرآن د بایبل دا وینا ردوي او فرمایي چې بني اسرائیلو د سوزول شوي بُت په اېرو لړلې اوبه نه وې څښلې بلکې د دې بُت مینه ئې څښلې وه!!

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ ٱلطُّورَ خُذُوا۟ مَآ ءَاتَيْنَٰكُم بِقُوَّةٍ وَٱسْمَعُوا۟ۖ قَالُوا۟ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَأُشْرِبُوا۟ فِى قُلُوبِهِمُ ٱلْعِجْلَ بِكُفْرِهِمْۚ قُلْ بِئْسَمَا يَأْمُرُكُم بِهِۦٓ إِيمَٰنُكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٩٣﴾ البقرة: ۹۳

او چې کله مو ستاسو ژمنه درنه واخیسته او د طور غر مو ستاسو له پاسه رااوچت

کړ، (او ومو ویل:) په هغه څه منګولي کلکې ولګوئ چې تاسو ته مو درکړی او غوږ شئ، وئې ویل: غوږ شوو خو سرغړونه کوو او د خپل کفر په سبب ئې سخوندر په زړونو کې ننه ایستی شو،ووایه: که تاسو مؤمنان یاست دا ایمان خو مو په ډېرو بدو شیانو ګماري!!

یعني دوی په داسې حالت کې له الله سره کړې ژمنې ماتې کړې چې د طور غر ئې د سر له پاسه وو، په همدغه وخت کې ئې په ژبه د منني او اطاعت الفاظ وو خو په زړونو کې ئې د عصیان هوډ او اراده، له همدې تعهد نه وروسته ئې جعلي معبود غوره کړ، دوی ته ویل شوي: چې د کفر په سبب د سخوندر مینه ستاسو د زړه تل ته کوزه شوه، که ستاسو دا ټول ناوړه اعمال د کوم ایمان په حکم او د کومې عقیدې له مخې وي نو دا خو ډېر کرغېړن ایمان او بده عقیده ده چې په داسې بدو کارونو مو ګماري.

- آیا ستاسو ایمان دا اجازه درکوي چې د بایبل دا خبره ومنئ: موسی وویل: خدایه! ولې پر خپل قوم دومره غصه یې؟ سوال کوم چې خپله غصه پرېږده او د خپل قوم له مجازاته تېر شه!! ... خپله هغه لوړه درپه یاد کړه چې ابراهیم او اسحاق ته دې ویلې وو: په خپل ذات لوړه کوم چې ستاسو اولاد به د آسمان د ستورو په څېر بې شمېره کړم!! ... نو له دې کبله خدای له خپل تصمیم نه تېر شو!! یعني دا چې خدای غصه وو، پرېکړه ئې دا وه چې بني اسرائیل هلاک کړي، خپله مخکنی ژمنه ئې هېره وه... موسی علیه السلام خپله ژمنه ورپه یاد کړه نو ځکه له خپل تصمیم نه منصرف شو!!
- آیا ستاسو عقل دا خبره مني چې الله تعالی به په خپلې وینا کې دومره مبالغه کړې وي او ویلې به ئې وي: دا قوم هغې سیمې ته بوځه چې شات او شیدې په کې بهېږي!!! شمېر به ئې د آسمان د ستورو په اندازه کړم!!

بایبل د (لس فرمانونه) تر عنوان لاندې لیکي: خدای له موسی سره خبرې

وکړې او دا احکام ئې ورکړل: (زه خدای، ستا خدای یم، همغه خدای چې ته ئې له اسارت او غلامۍ وژغورلې. له ما پرته به دې نور خدایان نه وي، د ځان لپاره هیڅ بُت د حیوان، مارغه او ماهي په څېر مه جوړوه، د هغه په وړاندې مه په گونډه کېږه او عبادت ئې مه کوه، دا ځکه چې زه خدای ستا خدای یم، غیور خدای یم، څوک چې له ما سره دښمني وکړي سزا ورکوم، دا سزا به د دوی د زامنو تر دریم او څلورم پوښته پورې ورکول کېږي!! خو څوک چې له ما سره دوستي کوي او زما احکام پر ځای کوي، تر زر پوښته به پرې رحمت کوم!! ... زما له نومه غلطه استفاده مه کوه، که په بې احترامۍ سره زما نوم یاد کړې یا د درواغو قسم پرې وخورې مجازات کوم دې، ... د سبت (شنبې) ورځ په یاد لره او سپېڅلې ئې گڼه... په دې ورځ به هیڅ کار نه کوئ... دا ځکه چې خدای په شپږو ورځو کې آسمان، زمکه او... راپیدا کړل او په اوومه ورځ ئې له کاره لاس واخیست... نو ده دا ورځ د استراحت ورځ ونوموله...د پلار او مور احترام کوه ترڅو دې عمر اوږد شي... قتل مه کوه، زنا مه کوه، غلا مه کوه او درواغ مه وایه، د بل د مال او ناموس طمع مه کوه، د خپل گاونډي د مریي، وینځې، غوایي، خره او مال د لاس ته راوړو هڅه مه کوه.) ... کله چې بني اسرائیلو رعد و برق او له غره نه د لوخړو پورته کېدا ولیده او د شپېلۍ غږ ئې واورېدو ووېرېدل او ولړزېدل او له غره نه لرې ودرېدل او موسی ته ئې وویل: ته د خدای خبرې واوره، موږ ته ئې ووایه موږ اطاعت کوو، خدای دې مخامخ له موږ سره خبرې نه کوي ځکه وېرېږو چې وبه مرو!!! موسی ورته وویل: مه وېرېږئ... خدای د دې لپاره راکوز شوی چې تاسو ته خپل قدرت وښیې تر څو له دې وروسته ترې ووېرېږئ او گناه ونه کړئ!!... نو بیا خدای له موسی وغوښتل چې بني اسرائیلو ته ووایه: تاسو ولیدل چې څنگه مې له آسمانه له تاسو سره خبرې وکړې!!! نو له دې وروسته د سرو او سپینو زرو نه ځان ته بُتان مه جوړوئ او عبادت ئې مه کوئ... ما ته چې د قربانۍ کوم ځای جوړوئ باید له خاورې

جوړ شوی وي، د خپلو څارویو نه چې کومې سوزېدونکې قرباني او د سلامتي هدیې ورېاندې کوئ نو دلته ئې قرباني کوئ، ... که مو غوښتل چې د قربانۍ ځای له ډبرو جوړ کړئ نو دا ډبرې (د څټک په څېر) وسایلو سره مه ماتوئ او مه ئې تراشئ،... داسې ډبرې زما د قربانۍ له ځای سره نه ښايي!! د قربانۍ د ځای لپاره زينه هم مه جوړوئ، داسې نه چې له دغو زينو د پورته تلو په مهال مو عورت بربنډ نه شي...)

دلته د بايبل ليکونکي ته څو پوښتنې راجع کېږي:

- په دې کې هيڅ شک نشته چې په تورات کې به د الله تعالى لومړی لارښوونه دا وه چې له الله جل شأنه پرته بل معبود نشته، د انسان، حيوان، مارغه او بل څه بُت به نه جوړوئ او عبادت به ئې نه کوئ، دا د هر الهي دين اساسي او لومړنۍ خبره ده، خو د بايبل له منونکو پوښتنه کوو چې تاسو د بايبل د دغې څرګندې او پرېکنده وينا په خلاف ولې عيسى عليه السلام په الوهيت کې شريک کړی؟ ولې مو د ده او د مريمې عليهما السلام مجسمې جوړې کړې، ټولې کليساوې مو په دغو مجسمو ډکې دي؟ ولې مو د فرشتو مجسمې د رحمت د صندوق پر سر جوړې کړې؟!! دا ولې ستاسو کشيشان د د دغو مجسمو په وړاندې په ګونډه کېږي، عبادت ئې کوي او مرسته ترې غواړي؟!! د بايبل د وينا معنى خو دا ده چې چا له الله تعالى سره څوک يا څه شريک کړ، د هغه مجسمه ئې جوړه او د هغه په وړاندې په ګونډه شو له الله تعالى سره ئې دښمني کړې، داسې دښمني چې الله تعالى به ده او د ده درې او څلور پوښته ته سزا ورکوي!!
- خو د بايبل دا خبره د دين له بنيادي اساساتو سره ټکر کوي چې خدای تر درې څلور پوښته خپل دښمن ته سزا ورکوي او تر زر پوښته خپل دوست په خپل رحمت او پېرزوينو نازوي!! دا باور او نظر هم د ديني اصولو او باورونو خلاف دئ او هم د عدل او عقل خلاف، ولې به عادل خدای يو چا ته د پلار او غور نيکه په جرم سزا ورکوي؟!! او ولې به د غور نيکه په خاطر د ده کړوسيانو ته نېکه بدله ورکوي

که څه هم د الله تعالی د پېرزوینو او رحمت مستحق نه وي؟!! که داسي وی نو د آدم علیه السلام په زر پوشته اولاد به د الهي رحمت سیوری غوړېدلی وو، خو بایبل په خپله اعتراف کوي چي د آدم علیه السلام په تېرو شپېتو پوشته کي دېر د الله تعالی له رحمته محرومه او په الهي عذاب اخته شوي!!! د بایبل د ادعاء په اساس خو باید د نوح علیه السلام، ابراهیم علیه السلام، موسی علیه السلام او نورو پیغمبرانو علیهم السلام په زر پوشته کي د الله تعالی د لعنت او عذاب مستحق اولاد نه راپیدا کېدو!!

- الله تعالی په اونۍ کي یوه ورځ د دې لپاره د تعطیل او رخصتۍ ورځ نه ده گرځولې چي ده په خپله عالم په شپږو ورځو کي پیدا کړ او اوومه ورځ ترې وزگار شو او آرام ئې وکړ!! الله تعالی عالم پیدا کړی او له پیدا کولو وروسته ئې د دې عالم چارې په خپل واک کي نیولې، د عالم تر پیدا کولو د دې عالم ساتل او پالل که گران کار نه وي نو آسان خو په هیڅ صورت کي نه دئ، قرآن فرمایي چي الله تعالی هم خالق دی او هم ئې ټولواک، مالک او حاکم، د آسمانونو او زمکي له پیدا کولو وروسته ئې د دې عالم د پاچایۍ پر عرش استوی وکړه او د مالک الملک په توگه ئې د عالم د ادارې، ساتني او پالني واگي په خپل اختیار کي واخیستې او په دې سره د بایبل د دغي غلطي وینا تردید شوی چي الله تعالی په انسان قیاسوي، ستومانه کېږي او استراحت ته ضرورت لري!! د انسان لپاره په اونۍ کي یوه ورځ د عبادت لپاره مختص شوې، د یهودانو لپاره هفته، د مسیحیانو لپاره یکشنبه او د مسلمانانو لپاره جمعه، پر مسلمانانو د جمعې لمونځ فرض شوی، په دې ورځ به ټول په جومات کي راغونډ ېږي، په جماعت سره به لمونځ کوي او د جمعې د ورځې هغه خطبه به اوري چي د امام او د هغه د نائب له لوري ورکول کېږي او په هغې کي د تېري اونۍ ټولي مهمي او اساسي مسئلې څېړل کېږي. په دې ورځ به یوازي د لمانځه لپاره خپل کارونه متوقف کوي، له لمانځه وروسته خپل کارونه د نورو ورځو

په څېر کولی شي!! د بایبل لیکونکي ته وایو: که د اونۍ آخري ورځ د عبادت لپاره ټاکل شوې وي نو آخري ورځ خو جمعه ده نه هفته!! که دا وروستۍ ورځ وګڼو نو تاسو ولې د یکشنبې ورځ د تعطیل ورځ منئ؟!! د بایبل کومه خبر د منلو ده؟

- د بایبل لیکونکی له یوې خوا دا ادعاء کوي چې خدای د اور لمبو او لوخړو کې د غره پر سر راکوز شو... او له بلې خوا لیکي چې خدای د موسی له لارې بني اسرائیلو ته وویل: تاسو ولیدل چې څنګه مې له آسمانه له تاسو سره خبرې وکړې!!! نو له دې وروسته د سرو او سپینو زرو نه ځان ته بُتان مه جوړوئ او عبادت ئې مه کوئ... دې تناقض ته څه ځواب وايي؟ په دې مهال خدای په آسمان کې وو که د غره پر سر ورېځو او لوخړو کې؟!!

- که الله تعالی تاسو ته دا ویلي وي چې ما ته د قربانۍ کوم ځای جوړوئ باید له خاورې جوړ شوی وي، د خپلو څارویو نه چې کومې سوزېدونکې قربانۍ او د سلامتۍ هدیې وړاندې کوئ نو دلته ئې قربانۍ کوئ، ... که مو غوښتل چې د قربانۍ ځای له ډبرو جوړ کړئ نو دا ډبرې (د څټک په څېر) وسایلو سره مه ماتوئ او مه ئې تراشئ،... داسې ډبرې زما د قربانۍ له ځای سره نه ښايي!! نو تاسو ولې خپل معبد او د عهد صندوق له څو زره کیلو ګرامه سرو او سپینو زرو او ... جوړ کړی؟!! الله تعالی خو تاسو ته ویلي چې د قربانۍ ځای له خاورو جوړ کړئ، که له ډبرو ئې جوړوئ نو ډبرې به نه تراشئ... او دا د ټولو جاهلو قومونو بد عادت دئ چې معبدونه ئې له معنوي لحاظه وران وي خو ظاهر ئې ډېر ښایسته او مزین، ډېر قومونه به وګورئ چې له بې وزلو او غریبو دوکه شوو دیندارانو د شکرانو او صدقو په نامه؛ سره او سپین زر راغونډوي او د قبرونو پر سر ستري ستري بنګلې جوړوي او دروازې ئې په سرو او سپینو زرو ورته سینګاروي!! که د الله تعالی د خوښې له معبد سره تراشلې ډبرې هم نه ښايي نو د سرو زرو دروازې او په سرو زرو پوښل شوی د عهد صندوق به څنګه خوښوي؟!! زموږ عظیم الشأن قرآن خو فرمايي چې

چا سره او سپين زر ذخيره کړل او د الله تعالی په لاري کي ئې خرڅ نه کړل او له مسکينانو او فقيرانو سره ئې له مرستي ډډه وکړه، د قيامت په ورځ به ئې تندی، اړخ او شا د همدغو سرو او سپينو زرو په سکو داغل کېږي!!

- آيا ممکنه ده چي الله تعالی خپل بنده په دې مأمور کړي چي څاروي د دې لپاره ذبح کړي چي بيا ئې وسوزوي؟!! د دې په ځای چي غوښه ئې د الله تعالی بې وزلو، وږو او نيستمنو بندګانو ته ورکړي د قربانۍ په ځای کي ئې وسوزوي؟!! آيا هيڅ عاقل انسان به داسي دين ومني چي خلک په داسي بېهوده او له عقل او انصاف نه لري امورو باندي مکلفوي؟!

- د بايبل دا خبره هم ډېره مسخره او خندونکې ده چي وايي: خدای وفرمايل: د قربانۍ په ځای کي زينې هم مه جوړوئ، دا ځکه چي کېدی شي پر زينو د ختلو په مهال ستاسو عورت بربنډ شي!!! ښايي په اصلي انجيل کي ويل شوي وي چي معبد بايد پوړ پوړ نه وي، ټول بايد د الله تعالی په وړاندي يو برابر ودرېږئ، نه دا چي ځيني لوړ او ځيني ټيټ، او دا همغه لارښوونه ده چي اسلام ئې مونږ ته کوي، خو د بايبل ليکونکي دا خبره تحريف کړې او له هغې ئې داسي مسخره خبره جوړه کړې!!

## د پيغمبرانو او عدالت غوښتونکو وژل

بني اسرائيلو يوازي د پيغمبرانو عليهم السلام په تکذيب بسنه ونه کړه، بلکي بې د هغوی او د هغوی د صادقو او عدالت غوښتونکو پلويانو په وژلو ئې لاس پوري کړ، لکه چي قرآن فرمايي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقۡتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيۡرِ حَقّٖ وَيَقۡتُلُونَ ٱلَّذِينَ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡقِسۡطِ مِنَ ٱلنَّاسِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢١﴾

آل عمران: ٢١

یقیناً هغه کسان چې د الله په آیتونو کافران کېږي او د الله پېغمبران په ناحقه وژني او له خلکو نه هغه کسان هم وژني چې د عدل کولو امر کوي، نو د دردناک عذاب زېرى ورکړه.

هغه کافران چې د الله له آیتونو نه انکار کوي، د الله د پېغمبرانو په مخالفت کې هغه ځاى ته رسي چې د دوى د وژلو لپاره ملا تړي او آمرین بالقسط وژني، هر څوک چې د ظلم خلاف غږ اوچت کړي او عدالت ته بلنه ورکړي، دوى ئې وژني، ځیني له دې انکار او د پېغمبرانو او آمرین بالقسط له وژلو نه دا طمع لري چې په دې سره به خپل مخالفین وځپي او د دوى اقتدار ته ورپېښ ګواښونه به ختم کړي او د دوى د ریاست او قیادت بقاء او دوام به تضمین شي او ځیني نور ئې دا کار په دې هیله او ګومان کوي چې په دې سره له خپل (حق مذهب) نه دفاع کوي، الله به ترې راضي شي او جنت به ئې په برخه شي!! خو دوى ته د دوى د دې کاذب او غولوونکي انتظار او هیلي خلاف د دردناک عذاب زېرى ورکړه، دوى دې مطمئن وي چې د خپلو هیلو د ترسره کېدو زېرى به هیڅکله وانه وري.

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٢٢﴾ آل عمران: ٢٢

دوى هغه دي چې عملونه ئې په دنیا او آخرت کې حبط او تباه شوي او هیڅ مرستندوى ورته نشته.

نه به په دنیا کې له دې عمل نه څه ترلاسه کړى شي او نه په آخرت کې او نه به داسې څوک ومومي چې په دنیا او آخرت کې ئې له خپل شوم عاقبت نه وژغوري، دوى هیڅ مرستندوى نه لري، هیڅوک ئې له زړه نه او په اخلاص سره مرسته نه کوي، که نن ډېر د دوى د مرستي او حمایت تیزې په سینه وهي او د دوى لپاره لاس تړلي ولاړ دي، چې د ربتیا ورځ راشي، نو یو کس به هم د دوى مرستي ته

راوړاندي نه شي او مرسته به ئې ګټه ورونه رسوي.

له ﴿حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ﴾ نه معلومېږي چي د دوی ځینو له دې عملونو نه دنیوي اهداف درلودل او ځینو ئې اخروي هیلي او طمعي.

## د کتاب په ځینو برخو عمل او په ځیو نه عمل

دا هم د بني اسراسیلو یو بل انحراف وو چي قرآن ئې په دغو آیتونو کي په دې توګه بیانوي:

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِنَ الْكِتَابِ يُدْعَوْنَ إِلَىٰ كِتَابِ اللَّهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ مِنْهُمْ وَهُمْ مُعْرِضُونَ ﴿٢٣﴾ آل عمران: ٢٣

آیا هغو ته دې پام نه دئ چي د کتاب څه برخه ورکړی شوې، د کتاب په لوري بلل کېږي ترڅو د دوی ترمنځ پرېکړه وکړي، خو یوه ډله ئې ډډه کوي، په داسي حال کي چي عمداً اعراض کوونکي وي.

دلته د دوی د علماءو په هکله بحث شوی، هغه چي د کتاب په څه برخي پوه شوي، د کتاب څه محدود او لږ علم ئې په برخه شوی، خو کله چي د الله کتاب ته د خپلو شخړو او منازعاتو د حل و فصل لپاره بلنه ورکړی شي او کله چي ورته وویل شي چي د الله په کتاب عمل وکړئ، له دې اعراض کوي او مخ اړوي.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَعْدُودَاتٍ ۖ وَغَرَّهُمْ فِي دِينِهِمْ مَا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٢٤﴾ آل عمران: ٢٤

دا د دې لپاره چي وايي: مونږ ته به له څو شمېرلو ورځو پرته (د دوزخ) اور راونه رسېږي، خپلو افتراءاتو په خپل دین کي دوکه کړل.

دوی د دې لپاره د الله کتاب شا ته وغورځاوو او په هغه ئې عمل کول پرېښود

چې گومان ئې کولو جنت د دوی لپاره پیدا شوی او دوی د جنت لپاره، دوزخ ته به نه ځي مگر څو محدودي ورځې، دا د دوی ټگمارو مذهبي مشرانو ورته ویلي وو، هغوی دې خبري ته مذهبي رنگ ورکړی وو، هغوی ورته ویلي وو چې دا خبره د الله په کتاب کې راغلې، دا په روایاتو کې راغلې، پېغمبر دا خبره کړې، دغو افتراءاتو وغولول، په خپل دین له پوهېدو ئې عاجز کړل او په هغه له عمل کولو نه ئې بې پروا کړل.

همدا راز قرآن فرمایي:

ثُمَّ أَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ وَتُخْرِجُونَ فَرِيقًا مِّنكُم مِّن دِيَٰرِهِمْ تَظَٰهَرُونَ عَلَيْهِم بِٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَإِن يَأْتُوكُمْ أُسَٰرَىٰ تُفَٰدُوهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ ۚ أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ ٱلْكِتَٰبِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ ۚ فَمَا جَزَآءُ مَن يَفْعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمْ إِلَّا خِزْىٌ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰٓ أَشَدِّ ٱلْعَذَابِ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٨٥﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشْتَرَوُا۟ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا بِٱلْءَاخِرَةِ ۖ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ ٱلْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٨٦﴾ البقرة: ۸۵-۸٦

بیا تاسو همغه یاست چې یو بل وژنئ او خپله یوه ډله له خپل کور کلي باسئ، د دوی په ضد په گناه او تېري کې د (تېري کوونکو) مرسته کوئ او که د اسیرانو په څېر درته راشي نو فدیه ئې ورکوئ، حال دا چې د دوی ایستل دربانديي حرام دي، آیا د کتاب په یوې برخي ایمان راوړئ او په بلې برخې ئې کافران کېږئ؟! او له تاسو نه چې هرڅوک دا کار وکړي، نو سزا ئې په دنیا کې له سپکاوي پرته بل څه نه ده او د قیامت په ورځ به د شدید عذاب په لور گرځول کېږي او الله له هغه څه چې تاسو ئې کوئ غافل نه دی. دا همغه خلک دي چې دنیوي ژوند ئې د آخرت په بیه وپېرو، نو نه به عذاب ترې سپک کړی شي او نه به ئې مرسته وشي.

د خپل قوم پر بې وسه او بې وزلو به ئې ظلمونه کول، له خپل کور کلي نه به ئې ايستل، د دوی د وينو له تويولو ئې هم ډډه نه کوله، خو چې کله به د بل په لاس کې اسير پرېوتل نو د هغوی د ژغورني لپاره به ئې بسپني راټولولې، دا کار به ئې د خپل قومي تعصب په اساس کولو خو هغه ته به ئې ديني او مذهبي رنګ ورکاوو، نو ځکه الله تعالی هغوی ته فرمايي: آيا د کتاب په يوې برخي ايمان راوړئ او په بلي برخي ئې کافران کېږئ؟!

دلته دا خبره هم د زيات دقت وړ ده چې په کتاب عمل او نه عمل ئې په کتاب له ايمان او کفر سره مترادف ګڼلی، د دې معنی دا ده چې په کتاب د ايمان لومړنی او اساسي غوښتنه پر هغه عمل کول دي، په کتاب د هغه چا د ايمان ادعاء دروغجنه ده چې عمل ورباندې نه کوي.

دا آيت مونږ ته دا هم راښيي چې د يوه ديندار ولس د ذلت او سپکاوي ستر عامل دا وي چې د کتاب پر يوې برخي عمل کوي او بله ئې شا ته غورځوي.

همدا راز مونږ ته راښيي چې د الله کتاب وېشل، په يوې برخي ئې عمل او بله ئې شا ته غورځول د هغه چا کار دئ چې دين په دنيا پلوري، دوی به په دنيا او آخرت کې له الهي عذاب سره مخامخ وي، هيڅ څه به ئې له دې عذاب نه ونه ژغوري، هيڅوک او هيڅ څه به ئې مرسته ونشي کړی.

## دين پلورنه

د دوی علماءو دين پلورني ته مخه کړه، د دنيا لپاره ئې دين پلورلو، فتواګاني به ئې خرڅولې، هره فتوی به ئې د دنيوي اغراضو لپاره وه، د حکامو په ګټه به ئې فتواګاني ورکولې، خو سره له دې به ئې طمعه دا وه چې خدای به ئې وبخښي!!
قرآن په دې اړه فرمايي:

يَـٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَوۡفُواْ بِعَهۡدِيٓ أُوفِ بِعَهۡدِكُمۡ

وَإِيَّٰيَ فَٱرۡهَبُونِ ۝٤٠ وَءَامِنُواْ بِمَآ أَنزَلۡتُ مُصَدِّقٗا لِّمَا مَعَكُمۡ وَلَا تَكُونُوٓاْ أَوَّلَ كَافِرِۭ بِهِۦۖ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِـَٔايَٰتِي ثَمَنٗا قَلِيلٗا وَإِيَّٰيَ فَٱتَّقُونِ ۝٤١ البقرة: ٤٠-٤١

اې د اسرائیل زامنو! زما هغه نعمتونه درپه یاد کړئ چې پر تاسو مې پېرزو کړل او له ما سره په کړو ژمنو وفا وکړئ ترڅو زه له تاسو سره په خپلو ژمنو وفا وکړم او یوازې له ما ووېرېږئ. او په هغه څه ایمان راوړئ چې ما نازل کړی، له تاسو سره د شته (کتاب) تصدیقوونکی او لومړی انکار کوونکی او کافر ئې مه کېږئ او زما آیتونه په لږه بیه مه پلورئ او یوازې له ما نه ځان ساتنه او وېره ولرئ.

له دې مبارکو آیتونو نه معلومېږي چې:

- د دیندار قوم لومړني انحرافات درې دي: د الهي پېرزوینو او نعمتونو هېرول او ناشکري، له الله سره په کړو ژمنو کې بې وفايي او له الله تعالی پرته له بل چا وېره درلودل.
- د الله ژمنې مشروطې دي؛ هلته به ترسره کېږي چې ته له الله سره په خپلو کړو ژمنو وفا وکړې.
- د دین لومړني او تر ټولو خطرناک دښمنان هغه دین پلورونکي دي چې دین په ډېره ارزانه بیه خرڅوي، د دې په ځای چې دوی د هر واقعي دیني تحریک لومړني موئیدین او حامیان وي، برعکس تل به ګورئ چې دین خرڅوونکي دکاندار علماء په لومړي خط کې د دیني تحریکونو مقابله کوي، دښمن به ئې په ډېره کمه بیه اخلي او په لومړي خط کې به ئې د واقعي علماءو او دیندارانو په ضد جنګوي.

وَلَا تَلۡبِسُواْ ٱلۡحَقَّ بِٱلۡبَٰطِلِ وَتَكۡتُمُواْ ٱلۡحَقَّ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ۝٤٢ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ۝٤٣ البقرة: ٤٢-٤٣

او حق له باطل سره مه خلطوئ، (باطل ته د حق جامه مه وراغوندئ) او حق مه

پټوئ، په داسې حال کې چې پوهېږئ. او لمونځ قائم کړئ او زکات ورکړئ او له رکوع کوونکو سره رکوع وکړئ.

دوی به کله په خپلو غلطو توجیهاتو سره حق ته د باطل جامه وراغوندي او کله به باطل ته د حق او که په خپلو غلطو او دروغجنو توجیهاتو په دې موفق نه شول چې باطل حق ثابت کړي او حق باطل، نو حق به پټوي، دا کار په داسې حال کې کوي چې پوهېږي حق کوم دئ او باطل کوم، په ناپوهۍ سره دا کار نه کوي، د غرض او مرض په وجه ئې کوي، اخیستل شوي او استخدام شوي، د خپل مزد او اجورې په مقابل کې دا کار کوي، مزد ئې هم ډېر کم: کومه چپنه، کومه سپینه پګړۍ، یو نس مړۍ او حتی یوازې یو شاباش.

په دې مبارکو آیتونو کې د بې لارو او منحرفو دین خرڅوونکو علماءو څو نورې ځانګړتیاوې بیانېږي:

- له الله سره ئې تعلق ضعیف او کمزوری وي،
- لمونځ ئې یا پرېښی او یا له حقیقي روح نه عاري او په شکلیاتو لګیا وي،
- د دې په ځای چې زکات ورکړي د زکات ترلاسه کول ئې عادت شي،
- له عام ولس سره ئې هم اړیکې سستې شي، له نورو سره یو ځای عبادت هم پرېږدي.

د همدې لپاره دوی ته د دغو څو خبرو امر شوی: لمونځ وکړئ، زکات ورکړئ او له نورو رکوع کوونکو سره یو ځای رکوع وکړئ، ستاسو د ټولو انحرافاتو علاج په همدې کې دئ.

أَتَأْمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ وَأَنتُمْ تَتْلُونَ ٱلْكِتَٰبَ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٤٤﴾

البقرة: ٤٤

آیا خلک په ښېګڼو ګمارئ او خپل ځان هېروئ، په داسې حال کې چې تاسو کتاب

لولئ! آيا تعقل نه کوئ؟

په رياء او نفاق اخته شول، نورو ته ئې د خير خيرات ورکولو او احسان او نېکي کولو بلنه ورکوله خو ځان ئې هېر کړی وو، په داسي حال کي چي دوی بايد تر نورو زيات نېک عمل درلودی او د الله په لار کي ئې تر هر چا زياته قرباني ورکولی، دا ځکه چي دوی خو په کتاب د پوهېدو دعوی کوي او ځان ته عالم او د الله د کتاب حامل او د پېغمبرانو وارث وايي!!

د قرآن د وينا له مخي د بني اسرائيلو د زوال دور هغه مهال پيل شو چي دوی د الله تعالی کتاب شا ته وغورځاوو، د دنيا لپاره ئې دين ته شا کړه، له الله تعالی سره ئې اړيکي وشلېدې، له جهاده ئې لاس واخيست، دين ئې په ارزانه بيعه خرڅ کړ، د حق او باطل، حلال او حرام توپير په کي ختم شو، د نفسي اغراضو لپاره ئې حق پټ کړ، عبادات ئې په شکلي مراسمو بدل شول، اصلي مسايل ئې هېر کړل او پر فرعي مسايلو ونښتل، د هغه لمانځه په اړه ئې اهمال او بې پروايي پيل شوه چي له يوې خوا د انسان تعلق او رابطه له الله تعالی سره ټينګوي او له بلي خوا د انسان تعلق له انسان سره، د سپېڅلو اهدافو لپاره د قربانۍ جذبه په کي وځپل شوه، ځای ئې حرص، طمعي او بخل ته تش شو، د آخرت او اخروي مکافات او مجازات په اړه ئې تصورات او انګېرني مشرکانه او جاهلانه او د دين د مبانيو او اساساتو په خلاف شوې، په دې باور شول چي کېدی شي د بل د مټ په زور او د شفاعت په طفيل له محاسبې معاف شي، له عذابه وژغورل شي او جنت ئې وړيا په برخه شي!! د تېر شوو صالح شخصيتونو لمن نيول او د دوی شفاعت ته طمعه کول ئې کافي وګڼل، د فتحي او غلبې په وخت کي مغرور او متکبر شول، په انتقام اخستلو ئې لاس پوری کړ، د ترحم، عاطفی، انکسار او خضوع په عوض په دوی کي لويي، تکبر او غرور راپيدا شو، د هجرت او جهاد د ستونزو په وړاندي ئې صبر او ثبات له لاسه ورکړ، نه ئې د الله تعالی پر وعدو باور پاته شو او نه ئې له وعيد او انذار نه وېره، د الله

تعالی له احکامو ئې سرغړاوی وکړ او له الهي آيتونو نه ئې د انکار لار غوره کړه، کفر، عصيان او بخل هغه پړاو ته ورسول چې انبياء په قتل ورسوي، د انبياءو وارثين (آمرين بالقسط) ووژني، په دوی کې ديانت او مذهب د مليت شکل غوره کړ، د دې پر ځای چې هم ئې عقايد او افکار له الهي دين نه خړوبه شي او هم ئې د ژوند تګلاره د دين په رڼا کې وټاکل شي، په عکس ئې دين په يوه قومي دود او عنعنې بدل شو، او د يوه ملي پيوند بنه ئې غوره کړه، په دوی کې د سپېڅلو ورځو، مقدساتو او شعايرالله احترام ختم شو، علماءو ئې د الله تعالی دين تحريف کړ، د حکامو په ګټه ئې پر حق پرده واچوله، حق او باطل ئې سره خلط کړل، علاوه له تلبيس او کتمان څخه، د ځينو لپاره دين په دکان بدل شو، خاصه مذهبي طبقه په کې راپيدا شوه چې هم ئې جامه له نورو بېله او هم امتيازات تر نورو زيات، د دين په نامه ئې له خلکو نه شکرانې او نذرانې ترلاسه کولې!! عوام ئې په غرضي او مرضي ملايانو او مشايخو پسي ولاړل، له دين نه بې خبره شول، له دين نه چې په څه پوهېدل هغه يوازې څه هيلې وې او څه ګمانونه، هيلې ئې دا چې دوزخ ته به نه ځي مګر څو ورځې او ګمانونه ئې دا چې د دې او د هغه لمن نيول او شفاعت ته ئې طمعه درلودل به ئې جنت ته رسوي!! په دوی کې خپلمنځي جګړې هغې پوړې ته ورسېدې چې د کمزورو ژوند په کې خوندي نه وو، بې وزلي به ئې له کور کلي شړل، په هغوی ئې له هيڅ ظلم او تېري نه ډډه نه کوله، له خپل مؤمن به کتاب سره ئې معامله داسې شوه چې د کتاب په هغې برخې به ئې عمل کولو چې په هغې د عمل له لارې ئې څه دنيوي ګټه ترلاسه کوله او هغه برخه به ئې شا ته غورځوله چې له دوی نه ئې د قربانۍ او حق ته د غاړه ايښودو غوښتنه کوله، د الله دين ئې تجزيه کړ، د کتاب په يوې برخې ئې د ايمان او په هغې د عمل کولو دعوی کوله او د بلې برخې په نسبت ئې د کفر او انکار لار غوره کړه، په پای کې ئې د خدای کتاب په بشپړه توګه شا ته وغورځاوو، داسې لکه چې هغوی په هيځ نه پوهېدل او په

ځای ئې سحر او جادو، فال او تعویذونو ته پناه یوورِه، د الله تعالی د بندګۍ په ځای د خپل نفس او هوی او هوس بندګان شول، له هري هغي بلني سره ئې مخالفت کولو چي د دوی له هوی او هوس سره ئې تصادم کاوو، دا مخالفت به ډېر ځلي هغه پړاو ته ورسېدو چي د الله تعالی او حق لوري ته بلونکي او داعیان او آمرین بالمعروف ئې یا تکذیبول او یا وژل، په دوی کي له مرګ نه وېره، له ژوند سره ژوره او افراطي مینه راپیدا شوه، که څه هم دا به له ذلت او سپکاوي نه ډک ژوند وو، دا هغه اساسي او مهم عوامل وو چي دوی ئې له ذلت او سپکاوي سره مخامخ کړل.

## د قائد څو ورځنی غیابت او په ټګمار مشر پسي تلل

عظیم الشأن قرآن فرمايي چي موسی علیه السلام د تورات راوړلو لپاره د طور غره ته ولاړ، لا څو ورځي نه وې تېري شوې چي په دوی کي د سامري په څېر جهل او شرک ته بلونکی راپیدا شو، دوی ته ئې د سخوندر په بڼه کي بُت جوړ کړ، د هغه خوا ته دېره شول او هغه ئې د معبود په توګه ونیو، له سرو او سپینو زرو جوړ شوی سخوندر ئې معبود شو او هغه ئې د خدای او بنده تر منځ واسطه او وسیله وګڼلو!! قرآن فرمايي:

وَإِذْ وَٰعَدْنَا مُوسَىٰٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ ٱتَّخَذْتُمُ ٱلْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَنتُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿٥١﴾ ثُمَّ عَفَوْنَا عَنكُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٥٢﴾ البقرة: ٥١-٥٢

او بیا هغه وخت چي موسی ته مو د څلوېښتو شپو وعده ورکړه، بیا تاسو په ظالمانه توګه سخوندر (د معبود په توګه) ونیو. خو له دې سره سره مو تاسو ته عفو وکړه ترڅو شکر وکړئ.

د بني اسرائیلو او د هر جاهل قوم یوه ستونزه دا ده چي د صالح مشر او زعیم

په شته والي کې په سمه لار راشي، خو چې هغه ترې لرې يوې خوا ته شي، په بې لارې او منحرف مشر راغونډ شي او سمه لار پرېږدي، بني اسرائيل خو داسي وو چې د موسی علیه السلام د دعوت په نتيجه کې ئې نه يوازې په الله ايمان راوړ، بلکې په دې لار کې د کړاوونو او ستونزو ګاللو او له مصر نه هجرت ته هم چمتو شول، خو چې څو ورځې موسی علیه السلام میقات ته ترې ولاړ، د سامري په شا و خوا راغونډ شول، په هغه پسې ئې اقتداء وکړه او د هغه په وينا (سخوندر) ته په سجده پرېوتل، دوی د خارويو او بوده وو په څېر دې، شپون ئې په هر لورې بيولی شي. د دوی دا جرم د سختې نيونې وړ وو، که موسی علیه السلام نه وی، هغه دروغجن معبود ئې نه وی نسکور کړی او سامري ئې نه وی مجازات کړی، نو د الله ستر عذاب به ورباندې نازلېدو، خو الله تعالی د همدې په وجه ورته عفو وکړه. د دې نعمت تقاضاء خو دا وه چې تاسو تل د الله شاکر بندګان وئ او هيڅکله مو د شرک او عصيان لار نه وی غوره کړې.

لکه چې ګورئ دلته قرآن؛ شرک د ظلم په نامه ياد کړی، د دې په وړاندې بايد لږ توقف وکړو او وګورو چې دا ولې؟ او دا شرک د چا په اړه او څنګه ظلم دئ؟ دا چې انسان د خپل عقل او شعور په خلاف، داسې څه او څوک له الله تعالی سره په الوهيت او ربوبيت کې شريکوي او د الله تعالی تر څنګ د هغه ستاينه او لمانځنه کوي، دعاء ورته کوي او مرسته ترې غواړي چې بې وسه او ناتوانه مخلوق دئ، نه څه پيدا کولی شي، نه کومه ګټه رسولی شي او نه کوم ضرر دفعه کولی شي، دا په خپل عقل او شعور ستر ظلم دئ، دا چې الله تعالی ته مختص صفات د ده مخلوق ته منسوبېږي دا د الله تعالی په اړه ستر ظلم دئ. هغوی د موسی علیه السلام په څېر د ستر پيغمبر او د خپل ناجي لار پرېښوده او د مکار او ټګمار سامری په لومې کې ونښتل، سامري له سرو او سپينو زرو داسې سخوندر ورته جوړ کړ چې مخصوص غږ به ترې پورته کېدو.

قرآن مونږ ته وايي چې له سرو او سپينو زرو بُت جوړول د سامري كار دئ!! واقعاً چې د سرو زرو معبد او معبود جوړل د هغو ټگمارانو كار دئ چې د سامري په څېر وي!! هيڅ واقعي خداى پالونكى به په دې راضي نه شي چې د الله تعالى په نامه دي له غولېدلو عوامو نه سره زر ترلاسه شي او هغه دي په داسي مواردو كي مصرف شي، واقعي الهي دين هغه دئ چې خلكو ته وايي: د الله تعالى د بې وزلو بندگانو مرسته وكړئ، شتمني مو د خير په كارونو كي، د وږو په مړولو كي، د بربنډو په پټولو كي، د بيمارانو په تداوي كي او د مسكينانو په لاس نيوي كي ولگوئ، سره او سپين زر مه ذخيره كوئ، چا چې ذخيره كړل ځاى ئې جهنم دئ!!

له مصر نه له وتلو او د آزادۍ له لاس ته راوړلو وروسته، بني اسرائيل يوه داسي لارښود كتاب ته اړ وو چې د دوى فردي او اجتماعي ژوند تنظيم كړي، الله ورته تورات ولېږو، چې هم ضروري احكام او قوانين پكې وو او هم د ښه او بد د پېژندو او د مفيد او مضر تر منځ د فرق كولو او تفكيک روښانه او څرگند معيارونه، د همدغه كتاب په ترڅ كي دوى ته حكم وشو چې د سامري په متابعت او له سخوندر نه ځان ته په معبود جوړولو سره مو ستر ظلم او جفا كړې، د دې لوى جرم د جبران لپاره بايد په يوه ستر جهاد لاس پوري كړئ. ځيني گناهونه داسي وي چې په يوازي توبې سره ئې الله تعالى نه بخښي، د توبې قبلېدل ئې شرائط او لوازم لري، د بني اسرائيلو دا گناه دومره ستره وه چې د توبې قبلېدا ئې په دې مشروط شوې وه چې وسله به اخلي او د هغو كسانو په خلاف به جهاد اعلانوي چې د شرک لار ئې غوره كړه او سخوندر ئې ځان ته معبود كړ. له دې نه معلومېږي چې په ځينو حالاتو كي يوازي گناه كوونكى نه بلكي د گناه ليدونكى به هم كفاره وركوي. د هغو بني اسرائيلو لپاره چې د سخوندر د لمانځني مخنيوى ئې نه وو كړى دا كفاره وټاكل شوه چې د مشركانو په ضد به وسله وال جهاد پيل كوي. د دې مبارک آيت واضح او څرگنده معنى همدا ده، په نورو آيتونو سره هم د دې

وضاحت شوی، لکه څنګه چې په بل آیت کې دې ته ورته الفاظ داسې راغلي: "ولاتخرجون انفسکم من دیارکم": خپل ځانونه (یعني خپلوان مو) له خپلو کورونو مه شړئ، او ورپسې د دې تشریح داسې شوې: "وتخرجون فریقاً منکم من دیارهم": او خپله یوه ډله له خپلو کورونو باسئ، دا ښیي چې له "فاقتلوا انفسکم" نه مراد دا دئ چې د خپل قوم همغه مشرک کسان ووژنئ. خو د بایبل د غلطې وینا تر اغېز لاندې ځینو د انفسکم نه مراد خپل ځان وژل اخیستی!! د بني اسرائیلو دا ګناه د هغو افغانانو ګناه ته ورته ده چې د روسانو په ضد له جهاد نه وروسته امریکایانو ته تسلیم شول او پر خپل هېواد ئې د دوی سلطه او د دوی په لاس تپل شوي حکام ومنل. پرون ئې د خدای پالونکو مجاهدینو د ملګرتیا او د الله تعالی د بندګۍ دعوی کوله خو نن ئې د ډالرو د بُت په وړاندې سر ټیټ کړی او د امریکایانو تر قوماندې لاندې د خپل ولس په ضد جنګېږي!!

د قرآن په نورو آیتونو کې دا بهیر په دې توګه انځور شوی:

قَالَ فَإِنَّا قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ مِنۢ بَعْدِكَ وَأَضَلَّهُمُ ٱلسَّامِرِيُّ ﴿٨٥﴾ فَرَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوْمِهِۦ غَضْبَٰنَ أَسِفًا ۚ قَالَ يَٰقَوْمِ أَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا ۚ أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ ٱلْعَهْدُ أَمْ أَرَدتُّمْ أَن يَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّكُمْ فَأَخْلَفْتُم مَّوْعِدِى ﴿٨٦﴾ قَالُوا۟ مَآ أَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا وَلَٰكِنَّا حُمِّلْنَآ أَوْزَارًا مِّن زِينَةِ ٱلْقَوْمِ فَقَذَفْنَٰهَا فَكَذَٰلِكَ أَلْقَى ٱلسَّامِرِيُّ ﴿٨٧﴾ فَأَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهُۥ خُوَارٌ فَقَالُوا۟ هَٰذَآ إِلَٰهُكُمْ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِىَ ﴿٨٨﴾ أَفَلَا يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا وَلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ﴿٨٩﴾ وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هَٰرُونُ مِن قَبْلُ يَٰقَوْمِ إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِۦ ۖ وَإِنَّ رَبَّكُمُ ٱلرَّحْمَٰنُ فَٱتَّبِعُونِى وَأَطِيعُوٓا۟ أَمْرِى ﴿٩٠﴾ قَالُوا۟ لَن نَّبْرَحَ عَلَيْهِ عَٰكِفِينَ حَتَّىٰ يَرْجِعَ إِلَيْنَا مُوسَىٰ

﴿٩١﴾ قَالَ يَٰهَٰرُونُ مَا مَنَعَكَ إِذۡ رَأَيۡتَهُمۡ ضَلُّوٓاْ ﴿٩٢﴾ أَلَّا تَتَّبِعَنِۖ أَفَعَصَيۡتَ أَمۡرِي ﴿٩٣﴾
قَالَ يَبۡنَؤُمَّ لَا تَأۡخُذۡ بِلِحۡيَتِي وَلَا بِرَأۡسِيٓۖ إِنِّي خَشِيتُ أَن تَقُولَ فَرَّقۡتَ بَيۡنَ بَنِيٓ
إِسۡرَٰٓءِيلَ وَلَمۡ تَرۡقُبۡ قَوۡلِي ﴿٩٤﴾ قَالَ فَمَا خَطۡبُكَ يَٰسَٰمِرِيُّ ﴿٩٥﴾ قَالَ بَصُرۡتُ بِمَا لَمۡ
يَبۡصُرُواْ بِهِۦ فَقَبَضۡتُ قَبۡضَةٗ مِّنۡ أَثَرِ ٱلرَّسُولِ فَنَبَذۡتُهَا وَكَذَٰلِكَ سَوَّلَتۡ لِي
نَفۡسِي ﴿٩٦﴾ قَالَ فَٱذۡهَبۡ فَإِنَّ لَكَ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ أَن تَقُولَ لَا مِسَاسَۖ وَإِنَّ لَكَ
مَوۡعِدٗا لَّن تُخۡلَفَهُۥۖ وَٱنظُرۡ إِلَىٰٓ إِلَٰهِكَ ٱلَّذِي ظَلۡتَ عَلَيۡهِ عَاكِفٗاۖ لَّنُحَرِّقَنَّهُۥ ثُمَّ
لَنَنسِفَنَّهُۥ فِي ٱلۡيَمِّ نَسۡفًا ﴿٩٧﴾ إِنَّمَآ إِلَٰهُكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ وَسِعَ كُلَّ
شَيۡءٍ عِلۡمٗا ﴿٩٨﴾ طه : ۸۵-۹۸

وئې فرمايل: يقيناً چي له تا وروسته مو ستا قوم په آزمېښت کي واچاوو او سامري دوکه او بې لاري کړل، نو موسی خپل قوم ته غصه ناک او افسوس ناک ستون شو، وئې ويل: اې زما قومه! آيا الله د غوره وعدو ژمنه نه وه درسره کړې، آيا (د وعدې دا) موده درباندي اوږده شوه، يا ومو غوښتل چي د خپل رب غضب درباندي راپرېوځي، نو ځکه مو زما له وعدې تخلف وکړ، وئې ويل: موږ په خپلي خوښي او واک سره ستا له وعدې څخه نه يو په شا شوي، خو د هغه قوم د گانو پېټي راپه شا شول، نو ومو غورځول او سامري هم وغورځول، نو سخوندر ته ورته مجسمه ئې ورته راوايسته چي رمباړه ئې وه او وئې ويل: دا ستاسو او د موسی معبود دئ او (حق خبره ئې) هېره شوه، آيا دې ته ئې نه کتل چي هيڅ خبره نه ورگرځوي (د خبري ځواب نه شي ورکولی) او نه دوی ته د کومي گټي واک لري او نه د څه تاوان، او يقيناً چي هارون تر دې د مخه ورته ويلي وو: اې زما قومه! يقيناً چي په دې سره وآزمويل شوئ او ستاسو رب خو له شکه پرته هماغه رحمن رب دئ، نو زما

متابعت وکړئ او زما د امر اطاعت وکړئ، وئې ویل: تر هغه به ئې تل اعتکاف کوو چې موسی راوګرځي، وئې ویل: اې هارونه! څه شي له دې منع کړې چې دوی دې بې لارې وموندل او زما اطاعت دې ونه کړ؟! آیا زما له امره دې سرغړاوی وکړ؟ وئې ویل: اې زما د مور بچیه! تر ږیرې او تر سر مې مه نیسه، زه له دې ووېرېدم چې ته به (راته) ووایې: په بني اسرائیلو کې دې تفرقه راولاړه کړه او زما د وینا خیال دې ونه کړ، وئې ویل: اې سامري! ستا څه حال وو؟ وئې ویل: هغه څه مې ترسترګو شول چې د نورو ترسترګو نه شول، نو د پیغمبر له آثارو مې یو موټ ترلاسه کړل، بیا مې وغورځول، نفس مې همدا راته ښایسته کړ، وئې ویل: نو درومه او ستا لپاره به د دنیا په ژوند کې دا ویل وي چې: لاس مه راوړئ او تا ته داسې نېټه ټاکل شوې چې ترې شا ته کېدا دې نشته او خپل هغه معبود ته دې وګوره چې پرمخې ئې خوا ته پرېوتی وې، خامخا به ئې وسوزوو، بیا به ئې د ایرو په څېر په سیند کې وشیندو، خبره دا ده بله نه ده چې ستاسو معبود هغه الله دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، علماً ئې په هرڅه احتواء کړې.

ګورئ چې قرآن (طلايي بُت) جوړول د (سامري) کار ګڼي، مور ته د ټولو طلايي معبودانو او معبدونو حقیقت بیانوي او لارښوونه راته کوي چې که چېرې تاسو ته داسې معبد او معبود په نظر درشي چې له سرو او سپینو زرو جوړشوی نو پوه شئ چې د دې په جوړولو کې حتماً د کوم سامري لاس وو!! قرآن مور ته سامري او د هغه ځانګړتیاوې داسې معرفي کوي: تر عامو خلکو ئې پوهه او بصیرت نسبتاً زیات دئ، یعنې شیخ او ملا دئ، هم خلک ورته د پوه په سترګه ګوري او هم په خپله ځان تر نورو پوه ګڼي، د پیغمبر له لارښوونو، شعارونو او علومو نه ئې هم څه برخه ترلاسه کړې، خو په نیمې لارې کې ئې ټول شا ته غورځولي، نفس دوکه کړی او د خلکو غولولو ته ئې هڅولی. یعنې د شرک بنسټ د هغو ټګمارو مذهبي مشرانو په لاس اینښودل شوی چې د پیغمبر له آثارو او د دین له ویناوو ئې څه

برخه درلوده، خو دا ئې شا ته غورځولي او د خلکو د دوکه کولو لپاره ئې ملا تړلې، د سرو زرو بُت ئې ورته جوړ کړی، هغه هم په خپله د دوی له ګاڼو او پیسو او ورته ویلي ئې دي: دا ستاسو رب دئ او په دې توګه ئې خلک د الله تعالی په ځای د (سخوندر) عبادت ته چمتو کړي!! ښايي بې مناسبته به نه وي چې د مطلب د مزید توضیح لپاره یوه قصه رانقل کړم، له یوه دوست سره له ناګمان نومي سیمي نه پېښور ته راتلم، په لاري کي مې د جونګي بابا په نامه لوحه ترسترګو شوه، پوښتنه مې وکړه چې جونګی بابا څوک وو؟ موږ خو د اوښ بچې ته جونګی وایو، هغه راته وویل: څو کاله مخکې دلته د سړک په غاړه یو مړی ومونډی شو، ناپېژاندو کسانو وژلی وو، کوچي وو، اوښه ورسره وه، خوا ته ئې پر زمکه چو وه، خلک راغونډ شول اوښه ئې ټومبله خو هغه له خپله ځایه نه خوځېده، په همدې حال کي چې د خلکو ګڼه ګوڼه زیاتېده، یو ملنګ راغی، دا صحنه ئې ولېده او په یوې ګوښې کي ئې خپل څادر وغوړاوو او غږ ئې کړ: واچوئ د جونګي بابا په نامه، خدای مو وبخښه واچوئ د جونګي بابا په نامه!! مړی همدلته ښخ او هغه ملنګ ئې مجاور شو او ورو ورو زیارت پرې جوړ شو!! ډېر زیارتونه د جونګي بابا په څېر جوړ شوي!! ځیني ئې د ملنګانو په لاس او ځیني ئې د ملکانو او پاچایانو په لاس!! دواړو د خلکو د غولولو او شکولو لپاره دا کار کړی.

کله چې بني اسرائیل له مصر نه وتل، د لاري په اوږدو کي د داسي قوم خوا ته تېر شول چې بُتان ئې درلودل، دوی هم له موسی علیه السلام نه وغوښتل چې همداسي کوم بُت ورته جوړ کړي، موسی علیه السلام سخت ورټل او دا ئې د یوه جاهل او ناپوه قوم غوښتنه وګڼله، سامري د قوم دا تلوسه او د ضعف نقطه درک کړه، منتظر وو چې په کوم مناسب فرصت کي ترې ګټه واخلي، پوه شو چې دا خلک تر سترګو کېدونکی خدای غواړي، د ولس جاهلانه تلوسې او د موسی علیه السلام موقت غیابت دا موقع په لاس ورکړه، په بیړه پاڅېدو، خلکو ته ئې وویل:

باید د نورو قومونو په څېر د دعاء او عبادت پر مهال د خدای انځور زموږ مخې ته ولاړ وي، سخوندر د قوت نښه ده، د خدای قدرت او ځواکمنې باید د سخوندر په بڼه کې انځور کړو، که تاسو خدای منئ نو خپلې ګانې راوړئ، دوی ته ئې د سخوندر داسې مجسمه جوړه کړه چې کله کله به رمباړه ترې پورته کېده، قوم ته ئې وویل: دا همغه خدای دئ چې تاسو ئې له مصره وایستئ!! د ګاڼو له غونډولو معلومېږي چې ښایي په دې کار کې د ښځو ونډه تر نارینه وو زیاته وه!!

- قرآن د دې قصې په ترڅ کې موږ ته وایي: جاهل قومونه ډېر ژر د ټګمارو او دوکه مارو مذهبي مشرانو په لومو کې ښکار شي، دین پلورونکي ئې د دین په نامه دوکه کړي، سامري ئې مذهبي مشر شي او د سرو زرو سخوندر ئې معبود! د خدای په ځای ئې د سخوندر په وړاندې سر ټیټولو ته چمتو کړي، هم ایمان ترې واخلي او هم ئې شتمنۍ، د سرو زرو بُت ورته جوړ کړي خو له دوی د اخیستل شوو سرو زرو له یوې وړې برخې!!

دې ته مو هم باید پام وي چې قرآن د موسی علیه السلام عکس العمل ډېر توند، جدي او غضبناک ښیي، وایي چې د دې صحنې په لیدلو سره هغه د تورات لوحې لرې وغورځولې او هارون علیه السلام ئې د سر او ږیرې له وېښتانو ونیو، د قرآن الفاظ دا دي:

وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ غَضۡبَٰنَ أَسِفٗا قَالَ بِئۡسَمَا خَلَفۡتُمُونِي مِنۢ بَعۡدِيٓۖ أَعَجِلۡتُمۡ أَمۡرَ رَبِّكُمۡۖ وَأَلۡقَى ٱلۡأَلۡوَاحَ وَأَخَذَ بِرَأۡسِ أَخِيهِ يَجُرُّهُۥٓ إِلَيۡهِۚ قَالَ ٱبۡنَ أُمَّ إِنَّ ٱلۡقَوۡمَ ٱسۡتَضۡعَفُونِي وَكَادُواْ يَقۡتُلُونَنِي فَلَا تُشۡمِتۡ بِيَ ٱلۡأَعۡدَآءَ وَلَا تَجۡعَلۡنِي مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٥٠﴾ قَالَ رَبِّ ٱغۡفِرۡ لِي وَلِأَخِي وَأَدۡخِلۡنَا فِي رَحۡمَتِكَۖ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿١٥١﴾ الاعراف: ۱۵۰ـ۱۵۱

او کله چې موسی خپل قوم ته غصه ناک او اسفناک راوګرځېدو وئې ویل: له ما وروسته مو زما ډېر بد نیابت کړی، آیا د خپل رب په کار کې مو دومره تلوار وکړ؟ (داسې ژر مو د الله تعالی په ځای د بُت عبادت پیل کړ؟) الواح ئې لرې وغورځولې او خپل ورور ئې تر سر ونیو او د ځان په لورې ئې راښکود، (ورور ئې) وویل: زما د مور بچیه! قوم کمزوری وګڼلم، نږدې وو ومې وژني، نو دښمنان مه راباندې ښادوه او د ظالم قوم له ډلې مې مه ګرځوه! وئې ویل: زما ربه! ما ته بخښنه وکړې او زما ورور ته هم او په خپل رحمت کې مو داخل کړې او ته خو یقیناً چې تر ټولو رحم کوونکو زیات رحم کوونکی یې.

دا آیتونه موږ ته وایي:

- موسی علیه السلام خپل قوم ته غصه ناک او اسفناک راوګرځېد، له یوې خوا سخت غصه وو او له بلې خوا ئې د دې ناپوه قوم په حالت تأسف کولو چې څنګه دومره ژر دوکه شول او د شرک په ګنده ډنډ کې پرېوتل.
- ورور ته ئې وویل: زما بد نیابت دې کړی.
- له ډېرې غصې ئې الواح پر زمکه وغورځولې.
- خپل ورور ئې له ږېرې او د سر له وېښتانو ونیولو او په زور ئې ځان ته راښکود.
- هارون علیه السلام د یوه مطیع او صالح ورور په توګه ورته وویل: ما خپله دنده ترسره کړې، دوی مې له دې کاره منعه کړې، خو راباندې برلاسي شول، نږدې وو ما ووژني، له ما سره دا اندېښنه وه چې ته به مې پر دې ملامتوې چې ولې دې په قوم کې اختلاف راولاړ کړ او زما تر راتلو دې انتظار ونه کړ، خو د انتظار خلاف ګورم چې ته مې رټې، دښمنان مه راباندې ښادوه، مه مې د ظالمانو له ډلې شمېره او مه مې داسې کار ته اړ کوه چې ظالمان ئې کوي!
- د هارون علیه السلام د خبرو له اورېدو وروسته حقیقت ورته جوت شوی، له

تحقیق او پوښتنې ګوېږنې مخکې د هارون علیه السلام په اړه دا کار ئې خپله غلطي او اشتباه ګڼلې، د ځان او خپل ورور لپاره ئې د مغفرت او رحمت دعاء کړې.

- په دې قصې کې د موسی علیه السلام لوړ همت، جلال او دیني غیرت انځور شوی، دا ئې نښو زغملې چې د ده قوم د شرک په ډنډ کې پرېوځي، ګمان ئې کړی چې هارون علیه السلام تساهل او نرمي کړې، نو ځکه ئې له ږېرې او د سر له وېښتانو ونیولو او په زور ئې ځان ته راښکود. هیبت ئې هومره چې نه ئې سامري مخې ته ودرېدی شو او نه د هغه مشرک پلویان.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ ٱلۡعِجۡلَ سَيَنَالُهُمۡ غَضَبٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَذِلَّةٞ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُفۡتَرِينَ ﴿١٥٢﴾ وَٱلَّذِينَ عَمِلُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ثُمَّ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِهَا وَءَامَنُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعۡدِهَا لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١٥٣﴾ الاعراف: ۱۵۲-۱۵۳

یقیناً هغه چې سخوندر ئې (د معبود په توګه) ونیولو، د خپل رب په غضب به اخته او په دنیوي ژوند کې به ئې ذلت په برخه شي، افتراء کوونکو ته همداسې سزا ورکوو. او هغو چې بد کارونه ئې کړي، بیا ئې له دې وروسته توبه کړې او ایمان ئې راوړی، بې شکه چې ستا رب له دې وروسته مهربان بخښونکی دئ.

دلته د مرتد شوو سزا بیان شوې:

- د الله تعالی غضب، د بقرې په سورې کې د دې غضب وضاحت شوی، د دوی په ضد د جهاد اعلان شوی او وژل شوي. دا د موسی علیه السلام په دین کې هم د مرتد سزا وه او په اسلام کې هم.
- دنیوي ذلت، که له وژلو وژغورل شي او په تېښته بریالي شي، نو تل به په ذلت او سپکاوي کې ژوند کوي.
- خو څوک چې له هغه بد کار نه چې د ارتداد مترادف وي، توبه وکړي، بېرته ایمان راوړي، نو امید دئ الله تعالی ورته بخښنه وکړي، ځکه چې هغه مهربان

بخښونکی دئ.

ګورئ چې د موسی علیه السلام چلند جدي وو، له خپل نائب سره هم او له سامري او د سامري له پلویانو سره هم، خپل ورور د سر او ږېرې له ویښتانو نیسي، په قهر او غصې سره ئې د ځان په لوري راکاږي، ورته وایي: ولې دې د سامري او د هغه د پلویانو د شرک په وړاندې سکوت وکړ؟ کله چې دې دوی ولیدل د الله تعالی په ځای د سخوندر عبادت کوي ولې دې مخنیوی ونه کړ؟ هغه ورته وایي: ای زما د مور زویه! "ای زما وروره!" زه قوم بې وسه کړم، نږدې وو چې ما ووژني، دښمنان مه راباندې خوشحالوه! او ما د ظالمانو له جملې څخه مه ګرځوه! ما مه د دوی ملګری ګڼه او مه مې داسې کار ته اړ کوه چې ستا په وړاندې بې ادبي وکړم او له ظالمانو څخه شم، ورته وایي: ما تر ډېره حده د دوی مقابله وکړه، حتی له ما سره دا وېره راولاړه شوه چې ته به له راګرځېدو وروسته ما په دې ملامت کړې چې ولې دې زما تر راتلو انتظار ونه کړ؟ ولې دې په ولس کې اختلاف راولاړ کړ؟ ولې دې د ولس د وحدت او یووالي خیال ونه ساتو؟

موسی علیه السلام بُت ټوټې ټوټې کوي، بیا ئې سوزوي او ایرې ئې په اوبو کې غورځوي، او سامري ته داسې سزا اعلانوي چې هر څوک به ترې لرې ګرځي او له لاس وروړو به ځان ساتي.

قوم د دې صحنې په لیدو سره توبه کوي او ندامت ښیي، الله تعالی ئې توبه قبلوي، دا د الله تعالی سنت دئ، تر څو چې په یوه قوم کې داعي وي، د خیر طرف ته بلنه وی، امر بالمعروف او نهی عن المنکر وي، په ولس کې داسې خلک وي چې دوی د خیر، صلاح او ښېګڼې په لوري بلي، په دوی کې د توبې او اصلاح امکان وي، الله تعالی خپل نهائي او ورستی عذاب نه پرې نازلوي، د توبې دروازې ورته خلاصې پرېږدي، توبه ئې قبلوي، د موسی علیه السلام د شتون له امله د شرک په څېر د ستر تېري سره سره د دوی توبه قبلوي، خو د دوی په توبه کې دا لازمي ګڼي او د

توبې قبلېدا ئې له دې سره مشروطوي چي د شرک کوونکو او مفسدینو په ضد به د جهاد اعلان کوي او ټول به په دې جهاد کي برخه اخلي، دا به د دوی هغه ګناه جبیره کړي او په دې توګه به ئې الله تعالی توبه قبوله کړي. قرآن په دې اړه فرمايي:

وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ إِنَّكُمۡ ظَلَمۡتُمۡ أَنفُسَكُم بِٱتِّخَاذِكُمُ ٱلۡعِجۡلَ فَتُوبُوٓاْ إِلَىٰ بَارِئِكُمۡ فَٱقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ عِندَ بَارِئِكُمۡ فَتَابَ عَلَيۡكُمۡۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ٥٤ البقرة: ٥٤

او کله چي موسی خپل قوم ته وويل: اې زما قومه! بې شکه چي د سخوندر په نیولو سره تاسو پر خپل ځان ظلم کړی، نو د خپل رب لوري ته مخه او توبه وکړئ او (مشرک شوي) خپلوان مو ووژنئ، دا د خپل رب په نزد کي درته غوره دئ، ستاسو توبه به قبوله کړي، بې شکه چي هغه ډېر مهربان توبه منونکی دئ.

دوی په څو ډلو وويشل شول، هغه چي د بُت عبادت او لمانځنه ئې کړي وه، هغه چي د دوی مخالفت ئې کړي وو، او هغه چي نه ئې د بُت عبادت کړی او نه ئې د بُت پالونکو مخالفت. هغه کسان چي بُت ئې نه وو لمانځلی مأمور شول چي د مشرک شوو په خلاف باید جنګ پيل کړي، هغوی باید په قتل ورسېږي. ذالکم خیرلکم عند بارئکم: همدا د خدای په وړاندي تاسو ته غوره دئ، په همدې سره به ستاسو توبه قبلوي، یقیناً چي هغه مهربان توبه منونکي دئ، نه يوازي توبه قبلوي بلکي د توبې منلو ترڅنګ خپله پېرزوینه او رحمت هم د توبه کوونکي په حال شاملوي.

## ذلت، مسکنت او د خدای غضب ئې پایله

قرآن د بني اسرائیلو د بې صبرۍ سزا او پایله داسي انځوروي:

وَإِذْ قُلْتُمْ يَٰمُوسَىٰ لَن نَّصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ وَٰحِدٍ فَٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلْأَرْضُ مِنۢ بَقْلِهَا وَقِثَّآئِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا ۖ قَالَ أَتَسْتَبْدِلُونَ ٱلَّذِى هُوَ أَدْنَىٰ بِٱلَّذِى هُوَ خَيْرٌ ۚ ٱهْبِطُوا۟ مِصْرًا فَإِنَّ لَكُم مَّا سَأَلْتُمْ ۗ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلذِّلَّةُ وَٱلْمَسْكَنَةُ وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ ۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقْتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ۗ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوا۟ وَّكَانُوا۟ يَعْتَدُونَ ﴿٦١﴾

البقرة: ٦١

او هغه وخت چې تاسو ووېل: اې موسی! په یوه رنګ خوراک هيڅکله صبر نه شو کولی!! نو خپل رب ته دې زمونږ لپاره دعاء وکړه چې مونږ ته هغه څه راوباسي چې زمکه ئې راشنه کوي: له ساګ سابه ئې، تره او بادرنګ ئې، غنم ئې، نسک ئې او پیاز ئې، وئې ویل: آیا د هغه څه په عوض کې چې غوره دئ هغه څه غواړئ چې راټیټ او ناغوره دئ، نو مصر (یا کوم ښار) ته کوز شئ، چې هلته هغه څه ترلاسه کړئ چې تاسو ئې غوښتنه وکړه، نو سپکاوی او خواري وربانديې وتپل شوه او د الله په غضب اخته شول، دا په دې خاطر چې د الله آیتونه ئې تکذیبول او پیغمبران ئې په ناحقه وژل، دا هم په دې سبب چې عصیان ئې وکړ او تېری ئې کاوو.

هر څوک چې په خپل حلال رزق قناعت ونکړي او د الله په لار کې د جهاد په سنګرونو کې صبر له لاسه ورکړي، نو له ذلت، سپکاوي او خوارۍ سره به ئې مخامخ کوي. په دوی کې به ترټولو د مخه د عصیان او د دین له حدودو نه تېری او د بل په حقوقو د تجاوز او تعدي بیماري خوربږي، دا بیماري به هغه حد ته رسي چې د پيغمبر او حق پالونکو داعیانو د مخالفت حتی وژلو لپاره به ملا وتړي او د الله له آیتونو نه به انکار وکړي. دې مطلب ته مو باید پام وي چې د آدم علیه السلام په قصې کې هم په جائز رزق عدم اکتفاء او ممنوعه شجرې ته لاس غځول له جنت نه

د وتو باعث شو او ورته وويل شو (اهبطوا) او بني اسرائيلو ته هم په همدې سبب وويل شو: (اهبطوا)، له دې نه معلومېږي چي د انسان د سقوط او له لوړو پوړو نه د راپرېوتو يوه اساسي وجه همدا بې صبري او په خپل جائز رزق قناعت نه کول دي. د بني اسرائيلو په دې قصې کي هغه مطلب په لازيات تفصيل سره راغلی چي په جنت کي د آدم عليه السلام د ځای په ځای کېدو او بيا له هغه نه د وتو په قصې کي په اختصار سره راغلی. دا قصه د هغې شرحه ده، په دې کي د شجره ممنوعه حقيقت په ډاګه شوی، دا يوه مېوه وه نه بل څه، له شجره ممنوعه نه هر بل تعبير بې بنسټه او غلط دئ او د قرآن د دغې شرحې مخالف. شکاک ذهنيتونه د آدم عليه السلام د پيدايښت، په جنت کي ځای په ځای کېدل، شجره ممنوعه او له جنت نه کوزېدل او د دې قصې له ټولو برخو نه داسي څه جوړوي چي غير طبيعي، خارق العاده او د ده د اولاد له هر څه سره توپير ولري، حال دا چي قرآن د آدم عليه السلام په قصه کي موږ ته خپل ځان رامعرفي کوي، په دې هينداري کي بايد مونږ خپله څېره وګورو او د انسان د عروج او زوال په عواملو پوه شو!!

## د الهي احکامو په منلو او تعميل کي لټې او تعلل

دوی د الله تعالی د صريح او څرګندو احکامو په وړاندي تعلل کاوو، په يوه او بله بهانه او په يوې او بلې توجيه سره به ئې د ځان خلاصولو او په حکم عمل نه کولو هڅه کوله، د دې انحراف يوه بېلګه ئې د هغې پېښې په ترڅ کي زموږ مخي ته ږدي چي دوی ته د يوې غوا د ذبحه کولو امر وشو، دا ځکه چي هغوی د سامري د سخوندر عبادت وکړ، د هغه مينه ئې زړه ته ولوېده، له دې نه د خلاصون لاره دا وه چي دوی هغه غوا ذبحه کړي چي سپېڅلې ئې ګڼله، خو دوی په يوې او بلې بڼې کي د دې حکم له تعميل نه سرغړاوی کاوو، قرآن فرمايي:

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تَذْبَحُوا۟ بَقَرَةً ۖ قَالُوٓا۟ أَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ۖ قَالَ

أَعُوذُ بِٱللَّهِ أَنۡ أَكُونَ مِنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ﴿٦٧﴾ قَالُواْ ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِيَۚ قَالَ
إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٞ لَّا فَارِضٞ وَلَا بِكۡرٌ عَوَانُۢ بَيۡنَ ذَٰلِكَۖ فَٱفۡعَلُواْ مَا تُؤۡمَرُونَ
﴿٦٨﴾ قَالُواْ ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا لَوۡنُهَاۚ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٞ صَفۡرَآءُ فَاقِعٞ
لَّوۡنُهَا تَسُرُّ ٱلنَّٰظِرِينَ ﴿٦٩﴾ قَالُواْ ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِيَ إِنَّ ٱلۡبَقَرَ تَشَٰبَهَ
عَلَيۡنَا وَإِنَّآ إِن شَآءَ ٱللَّهُ لَمُهۡتَدُونَ ﴿٧٠﴾ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٞ لَّا ذَلُولٞ تُثِيرُ ٱلۡأَرۡضَ
وَلَا تَسۡقِي ٱلۡحَرۡثَ مُسَلَّمَةٞ لَّا شِيَةَ فِيهَاۚ قَالُواْ ٱلۡـَٰٔنَ جِئۡتَ بِٱلۡحَقِّۚ فَذَبَحُوهَا وَمَا
كَادُواْ يَفۡعَلُونَ ﴿٧١﴾ البقرة: ٦٧-٧١

او کله چې موسی علیه السلام خپل قوم ته وویل: الله درته امر کوي چې یوه غوا ذبح کړئ، وئې ویل: آیا په مونږ ملندې وهې؟ وئې ویل: الله ته له دې نه پناه وړم چې له جاهلانو څخه وم. وئې ویل: خپل رب ته زمونږ لپاره دعاء وکړه چې مونږ ته ئې څرګنده کړي چې دا څه ده؟ وئې ویل: هغه فرمایي: دا داسې غوا ده چې نه زړه ده، نه وړه، ځوانه د دې ترمنځ، نو په څه چې ګمارل شوي یئ هغه ترسره کړئ. وئې ویل: خپل رب ته زمونږ لپاره دعاء وکړه چې مونږ ته ئې څرګنده کړي چې رنګ ئې څنګه دئ؟ وئې ویل: هغه فرمایي: دا داسې تکه زېړه غوا ده چې لیدونکي ښادوي. وئې ویل: خپل رب ته زمونږ لپاره دعاء وکړه چې مونږ ته ئې څرګنده کړي چې دا څه ده، مونږ خو دې غوا په شک کې اچولي یو او که الله کول مونږ به حتماً هدایت موندونکي شو. وئې ویل: هغه فرمایي: دا داسې غوا ده چې نه خوارکۍ ده چې زمکه یوې کوي او نه کښت خړوبه کوي، روغه رمټه چې هیڅ ټاپې په کې نشته، وئې ویل: اوس دې سمه (د حق) خبره راوړه، نو هغه ئې په داسې حال کې ذبح کړه چې نږدې وو وئې نه کړي.

دلته د بني اسرائيلو په څېره کې د هغو خلکو حالت توضيح کېږي چې د الله د عبادت له لوړ مقام نه د سخوندر په څېر د يوه دروغجن معبود د عبادت ټيټ او پرېوتي مقام ته راپرېوځي، بيا په دې دروغجن معبود داسې کلک ودرېږي چې د هغه په ضد د پېغمبر د هغې خبرې په منلو کې زړه نازړه وي چې الله ورته ويلې، دا دئ گورئ چې بني اسرائيلو د هغه (الله) په ځای چې دوی ته ئې موسی عليه السلام ولېږو او له فرعون نه ئې وژغورل، (سخوندر) غوره کړ او چې موسی عليه السلام ورته وويل: د دې خبرې د اثبات لپاره چې تاسو بېرته الله ته راگرځېدلي يئ او د سخوندر عبادت مو پرېښي، نو يوه غوا ذبح کړئ، خو دوی چې له زړه نه دې کار ته چمتو نه وو نو کله به ئې ويل: په مونږ خو به ملنډې نه وهې؟ او کله دا چې عمر ئې څومره دئ، رنگ ئې څنگه دئ، څه کار ترې اخيستل کېږي؟ دا ټولې خوشې حيلې او بهانې وې، اصلي خبره دا وه چې د دوی په زړونو کې د دې دروغجن معبود احترام او مينه په خپل حال پاتې وه او پرېښودلو ته ئې چمتو نه وو. د هر جاهل او مشرک قوم وضع همداسې وي، په خپل شرک ټينگار کوي، شيطان ئې دې ته نه پرېږدي چې له خپلو (جعلي او دروغجنو معبودانو) نه لاس واخلي. د ايمان دروغجن مدعيان هم د بني اسرائيلو په څېر وي، چې کله د دين د کوم داسې څرگند او صريح حکم عملي کولو ته راوبلل شي چې د دوی له نفسي غوښتنو سره تصادم کوي نو په راز راز بهانو او حيلو لاس پورې کړي او خپلې سرغړونې ته رنگ رنگ مذهبي توجيهات برابروي.

## خپل منځي قتلونه او له قاتل نه دفاع

د موسی عليه السلام له بعثت نه د مخه په بني اسرائيلو کې له دين نه د انحراف په وجه د خپلمنځي قتلونو، له قاتل نه دفاع او د بل د تورنولو لړۍ پيل شوې وه. قرآن فرمايي:

وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَادَّارَأْتُمْ فِيهَا ۖ وَاللَّهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿٧٢﴾ فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا ۚ كَذَٰلِكَ يُحْيِي اللَّهُ الْمَوْتَىٰ وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٧٣﴾

**البقرة: ۷۲-۷۳**

**او کله چې تاسو یو کس ووژلو او بیا د ده په اړه په اختلاف اخته شوئ او الله د هغه څه رابرسېره کوونکی وو چې تاسو پټولو. نو ومو ویل: هغه ئې په یوې برخې ووهئ، همدا راز الله مړي راژوندي کوي او خپلې نښې درښيي ترڅو تعقل وکړئ.**

**د موسی علیه السلام په زمانه کې یوه کس بل ووژلو، د قاتل قبیلې بل څوک په قتل تورن کړ، نږدې وه د دوو کورنیو او بیا د دوو قبیلو ترمنځ یوه بله خونړۍ جګړه پیل شي، الله تعالی اراده وکړه چې دا شخړه د موسی علیه السلام په لاس حل شي، بني اسرائیلو ته ئې د یوې غوا د ذبح کولو امر وکړ، دوی له ډېر ځنډ او ډېرو پوښتنو نه وروسته دې کار ته چمتو شول او هغه ئې ذبح کړه، ورته وویل شو چې اوس نو د دغې غوا په یوې برخې دا مړی ووهئ، همداسې ئې وکړل، هغه د څو شېبو لپاره راژوندی شو او خپل قاتل ئې وښود، په دې سره له یوې خوا د هغې خونړۍ محتملې جګړې مخه ونیول شوه او له بلې خوا بني اسرائیلو ته وښودی شوه چې ستاسو د دغه دروغجن مقدس معبود په ذبح کولو سره ستاسو لانجې حل کېږي، نه هغسې چې تاسو ګومان کولو چې معمولي بې احترامي به ئې د سترو سترو مصیبتونو راپرېوتو باعث شي. دا مبارک آیت مونږ ته دغه مطلب په ګوته کوي چې یوازې دین کولی شي د خلکو د سر او مال خوندي پاته کېدل تضمین کړي او په یوه بل د تېري مخه ونیسي، چېرته چې دین نه وي نه به د خلکو سر خوندي وي، نه مال او نه عزت. ممکنه نه ده چې له دین نه پرته په بل څه امنیت راشي او پر یوه بل د تېري مخه ونیول شي.**

## د الله په کتاب کې تحریف

د دوی علماءو د الله کتاب تحریف کړ، د کتاب له آیتونو نه به ئې داسې تعبیر او تفسیر وړاندې کاوو چې نه به ئې د آیت له الفاظو سره اړخ لګاوو او نه له محتواء سره، په غلطو تأویلونو او تعبیرونو سره ئې حرام حلالول او حلال ئې حرامول، د همدې لپاره الله تعالی مؤمنانو ته وايي چې له دوی نه څنګه د دې طمعه کوئ چې ستاسو دعوت ومني او ایمان راوړي؟! قرآن فرمايي:

أَفَتَطْمَعُونَ أَن يُؤْمِنُوا لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلَامَ اللَّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ مِن بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾ البقرة: ۷۵

آیا دا طمع لرئ چې دوی به ایمان درته راوړي، حال دا چې د دوی یوه ډله د الله کلام اوري خو د هغه په مطلب له پوهېدو وروسته ئې تحریفوي په داسې حال کې چې پوهېږي.

مسلمانانو ته ویل شوي چې د بني اسرائیلو له مذهبي مشرانو نه دا طمع مه کوئ چې ایمان به راوړي، له هغه چا نه چې د الله کلام ئې اورېدلی، د الله په کتاب پوه شوی، خو سره له دې په هغه کې تحریف کوي، غلط ئې تعبیروي، غلطي او د ظالمو حکامو په ګټه فتواګانې ترې راباسي، له دوی نه د ایمان راوړو طمعه بې ځایه ده.

وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا يَلْوُونَ أَلْسِنَتَهُم بِالْكِتَابِ لِتَحْسَبُوهُ مِنَ الْكِتَابِ وَمَا هُوَ مِنَ الْكِتَابِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنْ عِندِ اللَّهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِندِ اللَّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٨﴾ آل عمران: ۷۸

او له دوی نه یوه ډله داسې ده چې په خپلې لیکنې او کتاب خپلې ژبې داسې اړوي چې ته هغه د الله د کتاب یوه برخه وبولې، په داسې حال کې چې هغه د الله د کتاب

برخه نه ده، دوی وايي: دا خبرې ټولې د الله له لوري دي په داسې حال کې چې د الله له خوا نه دي، په الله پورې دروغ تړي سره له دې چې ښه پوهېږي.

ګورئ چې دا مکاره او ټګماره ډله خپلې ليکنې او خپلې خبرې د الله تعالی کتاب ته منسوبوي، خپل غلط او مغرضانه تفسير او تعبير ته الهي تعبير وايي، دوی دا غلطي قصداً او په لوی لاس کوي، ښه پوهېږي چې دا خبرې نه د الله تعالی په کتاب کې شته او نه د الهي کتاب معنا هغه ده چې دوی ئې وايي. په دې آيت پسې له ذکر شوو نورو آيتونو نه دا په ډاګه معلومېږي چې په دې رنځ اخته کسان يا هغه خلک دي چې له دين نه ناوړه ګټه پورته کول ورته په ميراث رسېدلي او يا هغه واکمنان دي چې له دين نه د خپل زعامت او واکمنۍ د اثبات لپاره وسيله جوړوي او دين د خلکو د غلامۍ آله ګرځوي او يا هغه کسان دي چې غواړي پېغمبرانو عليهم السلام او ديني مشرانو ته د انتساب له لارې امتيازات لاسته راوړي، همدا کسان دي چې ځينې شخصيتونه د الوهيت تر مقامه پورته کوي، د الله شريکان ئې جوړوي، د علم غيب خاوند او د عالم په امورو کې د تصرف حق ورته ثابتوي، له دوی نه مرسته او پردوی توسل لازمي ګڼي او ادعاء کوي چې يوازې د دوی له لارې د الله تعالی دربار ته لار موندل ممکن دي!! دوی دا ادعاګانې له دغو درنو شخصيتونو سره د محبت او هغوی ته د درناوي له امله نه کوي، بلکې له دې نه ئې هدف خپلې ګټې وي، غواړي په همدې سره خپل مقام اوچت کړي، ځکه دوی ځان د دغو شخصيتونو د مادي او معنوي مقام وارث ګڼي، هر کرامت چې د هغوی لپاره ثابت کړي ګټه ئې دوی ته راګرځي، له همدې نه د امتيازاتو د لاسته راوړلو وسيله جوړوي.

قرآن د دوی د علماءو په باب فرمايي:

وَلَمَّا جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٞ لِّمَا مَعَهُمۡ نَبَذَ فَرِيقٞ مِّنَ ٱلَّذِينَ

أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَرَآءَ ظُهُورِهِمْ كَأَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٠١﴾

البقرة: ١٠١

او کله چې د الله له لوري داسي استازی ورغلی چې له دوی سره د شته کتاب تصديق کوونکی وو نو د دغو خلکو چې کتاب ورکړي شوی؛ يوې ډلي د خدای کتاب داسي شا ته غورځولی لکه چې په هيڅ څه نه پوهېږي.

يعني د هر نوي دعوت او هر نوي دعوتگر په خلاف ئې داسي سلوک او چلند غوره کړی لکه په کتاب د نه پوهيدونکو خلکو، د خدای کتاب او کلام ئې داسي هېر کړی او شا ته ئې غورځولی چې گواکي اصلاً د کتاب په هيڅ څه نه پوهېږي، دا د هغه چا حال وو چې څه نا څه په کتاب پوهېدل، له دوی نه ځينو د الله کتاب داسي هېرکړ لکه چې په څه نه پوهېږي، خو د دوی بله ډله داسي وه چې په خپل لاس به ئې څه وليکل او هغه به ئې د الله تعالی له لوري گڼل؛ قرآن د دوی په اړه فرمايي:

فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ يَكْتُبُونَ ٱلْكِتَٰبَ بِأَيْدِيهِمْ ثُمَّ يَقُولُونَ هَٰذَا مِنْ عِندِ ٱللَّهِ لِيَشْتَرُواْ بِهِۦ ثَمَنًا قَلِيلًا ۖ فَوَيْلٌ لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتْ أَيْدِيهِمْ وَوَيْلٌ لَّهُم مِّمَّا يَكْسِبُونَ ﴿٧٩﴾

البقرة: ٧٩

افسوس د هغو په حال چې کتاب په خپل لاس ليکي بيا وايي: دا د الله له لوري دئ، ترڅو ناڅيزه بيه پرې ترلاسه کړي، افسوس د دوی د لاسونو پر ليکني او افسوس په هغه څه چې دوی ئې ترلاسه کوي.

علماء او اهل کتاب ئې داسي دي چې په خپل لاس ليکلې او له خپل غرض او مرض نه راخوتېدلې فتوی؛ الله او د هغه دين ته منسوبوي، هدف ئې دا وي چې په دې سره څه متاع، يو ټوک ډوډۍ او کومه چپنه او پگړۍ ترلاسه کړي، خو عوام ئې داسي چې په کتاب او د هغه په لارښوونو خبر نه دي، په کتاب د ايمان دعوی

فقط دومره کړي چي په دوی کي ئې څه دروغجني هيلي او اميدونه راولاړ کړي او څه گومانونه ورسره راپيدا شوي، هيلي ئې دا دي چي جنت ته به درومي او گومان ئې دا چي د کتاب او الهي لارښوونو په اړه دوی کوم تصور لري او خپلو منحرفو مذهبي مشرانو ورته څه ويلي، همدا حقيقت دئ او د الهي حقيقي دين اصلي غوښتنه، دا دواړه ډلي ( ټگمار او دين پلورونکي علماء او له دين نه بې خبره عوام) د تأسف وړ دي خو اصلي مجرمان او د ډېر تأسف وړ هغه علماء دي چي دين تحريفوي او د دنيا په متاع ئې پلوري!!

د ثمناً قليلاً په اړه ځيني مفسرين وايي چي دوی د الله تعالی د کتاب آيتونه په داسي بيعه خرڅوي چي که څه هم ډېره لوړه وي خو د دې آيتونو په پرتله ناڅيزه بيعه ده، خو غوره توجيه دا ده چي د دوی د فتواگانو بيعه ډېر کمه وي، ارزانه اخيستل کېږي، د خدای دين او خپل آخرت په ارزانه بيعه پلوري. خو همدا په ارزانه بيعه اخيستل شوي مفتيان به د حق په مخالفت کي په لومړي صف کي ولاړ وو او د حقپالو مقابله به ئې کوله!! نو ځکه قرآن ورته وايي: و لا تکونو اول کافر به: او لومړي کافران او منکران ئې مه کېږئ!! په کار دا ده چي تاسو لومړني مؤمنان وئ، او تر ټولو مخکي تاسو پرې ايمان راوړی وی.

دلته خطاب د اهل کتابو علماءو ته متوجه دئ، په قليله بيعه د خدای د آيتونو له خرڅولو څخه يا مراد دا دئ چي په ډېره ارزانه بيعه او قيمت به ئې فتواگاني ورکولې، او يا ئې مراد دا دئ چي دوی د دې لپاره د الله تعالی احکام شا ته غورځول او د الله د کتاب آيتونه ئې پټول او له څرگندولو ئې ډډه کوله چي له کوم خطر سره مخامخ نشي، خپله وظيفه او معاش له لاسه ورنه کړي، له کوم مالي تاوان او زيان سره مخ نشي، قرآن همدا کار دې ته ورته بولي چي څوک په قليله بيعه د خدای آيتونه وپلوري.

د آيت په پای کي راغلې دا فقره چي و ايای فاتقون هم دغه مطلب افاده کوي

چې د ګواښونو، خطرونو او مالي تاوان له وېرې ئې دا کار کاوو نو ځکه الله تعالی ورته فرمایي چې یوازي له ما نه وو یرېږئ.

دوی به کله حق پټولو او کله به ئې له باطل سره ګډولو، په دې معنی چې باطل به ئې په داسي بڼې کي وړاندي کاوو او داسي لباس به ئې وراغوستو چې خلکو به د حق ګمان پرې راغی، او حق به ئې په داسي بڼې کي تعبیر او تفسیر کړ چې باطل ترې راووځي او د باطل په ګټه وي، په خپلو غلطو توجیهاتو او تعبیرونو سره به ئې حق او باطل سره خلط کړل. دین پلورونکي علماء تل او د زمانې په هر پړاو کي همدا کار کوي، یوه بېلګه ئې زموږ په تولني کي ستاسو مخي ته ږدم: په افغانستان کي د جهاد او هجرت په لومړیو کي همدغو خلکو د قرآن د یوه آیت په نیمايي برخي استناد کاوو او له جهاد نه ئې خلک منع کول، آیت داسي دئ:

وَأَنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا تُلۡقُواْ بِأَيۡدِيكُمۡ إِلَى ٱلتَّهۡلُكَةِ وَأَحۡسِنُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٩٥﴾ البقرة: ۱۹۵

او د الله په لار کي انفاق وکړئ او په خپل لاس ځان په هلاکت کي مه اچوئ او احسان وکړئ چې الله محسنین خوښوي.

دا آیت وایي چې د الله په لار کي به د سر او مال له قربانۍ نه دریغ نه کوئ، که نه نو د عدم قربانۍ په وجه له تباهۍ سره مخامخ کېږئ، په خپل لاس ځان په دې تباهي کي مه غورځوئ، له جهاد نه او د الله په لار کي له قربانۍ نه ډډه د تباهي او هلاکت باعث او د دښمن په لاس د سپکاوي او تذلیل سبب کېږي، په هیڅ پلمه او بهانه به له دې نه ډډه نه کوئ. عجیبه ده چې ځیني بې لاري او منحرف خلک په دې څرګند آیت په غلطه سره دا استدلال کوي چې له زورور دښمن سره مقابله، په خطر کي ځان اچول، له کم عدد او عدة سره د ځواکمن او په وسلو سنبال دښمن مخي ته ودرېدل، ځان په هلاکت کي غورځول دي او قرآن هغه تحریم کړي او یا

دا چې شهادت طلبانه عملیات روا نه دي، دا ډېر ډېر ناروا او غلط استدلال دئ، دلته عدم انفاق او له قربانۍ نه ډډه کول د هلاکت باعث معرفي شوي، له دې نه دا مفهوم اخیستل چې د زورور او ځواکمن دښمن له مقابلې نه باید ډډه وشي او یا په دې سره د شهادت طلبانه عملیاتو په ضد استدلال کول ډېر غلط او شرمناک استدلال دئ، نه د ایمان خاوند داسې استدلال کولی شي او نه د عقل او پوهې خاوند، که داسې وي نو قرآن به یو مسلمان د لسو کافرانو په مقابلې نه مکلف کولو، د مسلمانانو د ترغیب لپاره به ئې د ابراهیم علیه السلام هغه قصه نه بیانوله چې په یوازې سر ئې د نمرودیانو بُتان رانسکور کړل، دا به ئې نه ویل چې: کم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَت فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّبِرِينَ * د الله په اذن سره څومره لږکې ټولګې په لویو ټولګیو غالب شوي، الله خو له صابرانو سره دئ. د بې صبرۍ په وجه ځان وژنه او له الله سره د کلکې مینې په وجه شهادت طلبانه عملیات کول یو له بل نه ډېر ډېر توپیر لري، یو له الله نه د یأس او ناامیدۍ په سبب دا کار کوي او بل په الله او آخرت د کلک باور او د الله له دین نه د دفاع په لار کې د سر قربانې کولو په جذبه دا کار کوي، یو کس چې د لسو مقابله کوي په حقیقت کې شهادت طلبانه عملیات کوي، د ده او هغه چا ترمنځ هیڅ فرق نشته چې بمونه په ځان پورې تړي او د دښمن هغه ځای ته ځان رسوي او داسې ګوزار ورکوي چې له بلې لارې ورته ممکن نه وي.

له دې آیت نه مخکې ویل شوي چې که څوک په تاسو تېری وکړي نو تاسو هم بالمثله ځواب ورکړئ ﴿فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ﴾ له دې نه معلومېږي چې په دې وروستي آیت کې له انفاق نه مراد د دښمن په ضد جهاد کې مالي او ځاني قرباني ده. که دا دواړه آیتونه یو ځای او د یوه مضمون د متصلو برخو په توګه په پام کې ولرو نو له دې نه دوه خبرې معلومېږي: لومړۍ دا چې له انفاق نه په دې ځای کې د دښمن په خلاف په جهاد کې د مال انفاق مراد دئ

او دا مطلب په ګوته کوي چې د جهاد په سامان او وسایلو باندې د مال د نه مصرفولو عاقبت خطرناک او په خپل لاس ځان مرګ ته سپارل دي او دوهمه خبره دا چې له دښمن سره بالمثله معامله جائز ده.

## منافقت

په دوی کې منافقتونه پیل شول، د مؤمنانو په وړاندې به ئې د ایمان دعوی کوله او د کافرانو په وړاندې به ئې کافران تر مؤمنانو غوره ګڼل، د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې د دوی ډول ډول منافقتونه په ګوته شوي، دلته ئې څو بېلګې ستاسو په وړاندې بړدو:

وَإِذَا لَقُوا۟ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ قَالُوٓا۟ أَتُحَدِّثُونَهُم بِمَا فَتَحَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَآجُّوكُم بِهِۦ عِندَ رَبِّكُمْ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٧٦﴾ أَوَلَا يَعْلَمُونَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٧﴾ البقرة: ٧٦-٧٧

او کله چې له مؤمنانو سره مخامخ شي وايي: ایمان مو راوړی او کله چې په خپلو کې سره ګوښه شي وايي: آیا هغه خبري ورته کوئ چې الله تاسو ته پرانیستې؟، تر څو د خپل رب په وړاندې مو پرې پړ کړي، آیا له عقل نه کار نه اخلئ. آیا په دې نه پوهېږي چې الله په هر هغه څه پوهېږي چې دوی ئې پټوي یا ئې څرګندوي؟

له هغو خلکو چې ځان ته (اهل کتاب او په کتاب پوه) وايي خو له دین نه ئې ځان ته دُکان جوړ کړی، دین په دنیا خرڅوي، په کتاب کې تحریف کوي، د مؤمنانو په وړاندې د ایمان دعوی کوي؛ خو تل د باطل په څنګ کې ولاړ وي او د ظالمانو ملګرتیا کوي، له دوی نه دا طمع کول چې د الله د لارې د مخلصو داعیانو او مجاهدینو ملګرتیا به وکړي او د حق په څنګ کې به مخلصانه ودرېږي، بې ځایه طمع ده. دوی خو تل خپلو ملګرو ته په خلوت کې دا وايي چې د (کتاب) له هغو

برخو څخه پرده مه اوچتوئ چې ستاسو د رسوائي باعث او د الله په وړاندې ستاسو د ملامتيا موجب گرځي او واقعي داعيانو او مجاهدينو ته پر تاسو برلاسي ورکوي!! الله تعالى دوى ته په ځواب کې فرمايي: آيا په دې نه پوهېږې چې الله په هر هغه څه پوهېږي چې دوى ئې پټوي يا ئې څرگندوي.

هَٰٓأَنتُمۡ أُوْلَآءِ تُحِبُّونَهُمۡ وَلَا يُحِبُّونَكُمۡ وَتُؤۡمِنُونَ بِٱلۡكِتَٰبِ كُلِّهِۦ وَإِذَا لَقُوكُمۡ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَوۡاْ عَضُّواْ عَلَيۡكُمُ ٱلۡأَنَامِلَ مِنَ ٱلۡغَيۡظِۚ قُلۡ مُوتُواْ بِغَيۡظِكُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿١١٩﴾ آل عمران: ١١٩

دا يئ تاسو دوى ښه ايسوئ خو تاسو د دوى ښه نه ايسئ او چې درسره مخامخ شي وايي: مونږ ايمان لرو! او چې گوښه شي نو پرتاسو د خپل غيظ او کينې له وجهې خپلې گوتې چيچي، ورته ووايه: په خپل غيظ سره ومرئ، بې شکه چې الله د سينو په شته وو ښه پوه دئ.

تاسو ورسره محبت کوئ، خو هغوى درسره محبت نه لري، تاسو ئې دوستان گڼئ خو هغوى مو دوستان نه گڼي، تاسو گومان کوئ چې دوى تر مشرکانو ښه دي، مونږ ته رانږدې دي، خو هغوى ستاسو په هکله داسې فکر نه کوي، تاسو تر مشرکينو نه ښه نه گڼي، ځکه ئې له کينې ډک دي، مخامخ خپله دښمني نه اعلانوي، برعکس د ايمان دعوى کوي او وايي چې مونږ په ټولو هغو شيانو ايمان لرو چې تاسو ورباندې ايمان لرئ، خو په خفا کې له کينې نه گوتې چيچي. الله ښه پوهېږي چې په خپلو سينو کې ستاسو لپاره کوم بد عزايم او څومره کينه لري.

د دوى د منافقت يوه بله بېلگه په خپلو ژمنو نه ودرېدل وو، هر ځلې ئې چې کومه ژمنه کړې يوې ډلې ئې مخالفت کړى او نورو ئې په همدې مخالفت کې د دوى ملاتړ کړى:

أَوَكُلَّمَا عَـٰهَدُوا۟ عَهْدًا نَّبَذَهُۥ فَرِيقٌ مِّنْهُم ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠٠﴾

البقرة: ١٠٠

او کله چې هم دوی کومه ژمنه کړې نو یوې ډلې ئې (دا ژمنه لرې) غورځولې، بلکې اکثر ئې ایمان نه راوړي.

## د کفر او کافرانو په وړاندې د حساسیت کموالی

گناهونه ورو ورو انسان هغه پړاو ته رسوي چې د کفر او کافرانو په وړاندې ئې حساسیت له منځه ولاړ شي، کافرانو ته د دوستۍ لاس اوږد کړي او کافرانو ته پر مؤمنانو ترجیح ورکړي، قرآن فرمایي:

تَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنفُسُهُمْ

أَن سَخِطَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ وَفِى ٱلْعَذَابِ هُمْ خَـٰلِدُونَ ﴿٨٠﴾ المائدة: ٨٠

ډېرې به ئې گورې چې له کافرانو سره به دوستي کوي، څومره بد دئ هغه چې د دوی نفسونو وروړاندې کړل، چې الله پرې په قهر شو او په عذاب کې به تلپاته وي.

دلته د اهل کتابو د انحراف یوه بله بېلگه زمونږ مخې ته کېښودل شوې، چې هغه له کافرانو نه د کرکې او نفرت په ځای له هغوی سره دوستي کول دي، قرآن فرمایي چې د دغې گناه په سبب د الله تعالی له قهر او غضب او تلپاتې عذاب سره مخامخ شول، له دې نه معلومېږي چې له کافرانو سره دوستي او موالات، د الله تعالی په نزد کې څومره ستره گناه ده، حقیقت دا دئ چې انسان هغه وخت د خپل دین او عقیدې له دښمن سره دوستۍ ته تیارېږي چې دین او عقیده ورته بې ارزښته شي، په خپلو اغراضو پسې شي، د کافرانو تر فکري اغېز لاندې راشي او د هغوی په څنگ کې خپلو منحطو موخو ته د رسېدو امکانات په نظر ورشي.

له دې آيت نه معلومېږي چې له کافرانو سره دوستي د سقوط او ضلالت هغه مرحله ده چې هلته د انسان ټولي اړيکي له الله تعالی سره قطع کېږي، خدای ئې خپل نفس ته حواله کوي، د الله تعالی د غضب وړ شي، د هر قوم د سقوط او له دين نه د وتلو وروستۍ نښه او علامه همدا ده چې هغوی له کافرانو سره دوستي پيل کړي. قرآن وايي: هيڅ مؤمن قوم به داسي ونه مومې چې د خدای او د هغه د پيغمبر له دښمنانو سره دوستي وکړي، که څه هم هغه د ده نږدې خپلوان وي.

وَلَوْ كَانُواْ يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلنَّبِىِّ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا ٱتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَآءَ وَلَٰكِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٨١﴾ المائدة: ٨١

او که دوی پر خدای، پيغمبر او هغه څه ايمان درلودی چې دوی ته نازل شوي وو نو هغوی به ئې دوستان نه نيول، خو اکثر د دوی فاسقان دي.

دا آيت په قاطع الفاظو حکم کوي چې له کافرانو سره هغه څوک دوستي کوي چې پر خدای، پيغمبر او الهي کتاب ايمان نلري، فاسق وي او خپل فسق ئې د کافرانو دوستۍ ته هڅوي.

د ګناهونو له امله نه يوازي د انسان حساسيت د کافرانو په وړاندي له منځه ولاړ شي بلکي ورو ورو ورنږدې شي او په پای کي د دوستۍ لاس وراوږد کړي، له هغوی سره ناسته پاسته کوي، دا ځکه چې ايماني خصلتونو او مواصفاتو له دښمن نه بېل کړي وو، خوکله چې په هغوی کي دښمن ته ورته مواصفات، اخلاق او خصلتونه راپيدا شول، په لومړي سر کي د دښمن په وړاندي د دوی حساسيت، کرکه او تنفر له منځه ځي، ځان د دښمن په څېر او هغه د ځان په څېر ګوري، د خيانتونو، ګناهونو او له دين څخه د فاصلې له امله دومره لاندي پرېوځي چې د دښمن په وړاندي ئې حساسيت ختم شي.

## په تجارتي راکړې ورکړې کې خيانت

په دوی کې سود، رشوت، حرامه ګټه، په امانت کې خيانت، په تجارتي راکړې ورکړې کې چل ول، خپلې ژمنې تر پښو لاندې کول، دروغ او دوکه عام شول، لږ کسان ئې داسې پاتې شول چې په حلال رزق قناعت وکړي او له حرامو ځان لرې وساتي، راشئ په دې اړه د قرآن ځينو آيتونو ته غور شو:

وَمِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَـٰبِ مَنْ إِن تَأْمَنْهُ بِقِنطَارٍ يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيْكَ وَمِنْهُم مَّنْ إِن تَأْمَنْهُ بِدِينَارٍ لَّا يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيْكَ إِلَّا مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَآئِمًا ۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا۟ لَيْسَ عَلَيْنَا فِى ٱلْأُمِّيِّـۧنَ سَبِيلٌ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾ آل عمران: ٧٥

او له اهل کتابو نه ځيني داسې دي چې که د کومې خزانې امين ئې کړې، بېرته به ئې درکړي او ځيني ئې داسې دي چې که په يوه دينار ئې امين کړې نو بېرته به ئې درنکړي مګر دا چې تل ورباندې (ټينګار کوونکی) ولاړ وې. دا د دې لپاره چې دوی وايي: پر مونږ د نالوستو په هکله څه الزام نشته او د الله په نسبت دروغ وايي په داسې حال کې چې پوهېږي.

اهل کتابو ته خپلو مذهبي مشرانو ويلي وو چې له غير اهل کتابو سره چې تاسو هره معامله وکړئ الله مو په دې نه نيسي، که له دوی سره خدعه کوئ يا خيانت، که دروغ ورته وايئ يا ئې مال خورئ پروا ئې نشته، د دې فتوی به ئې ورکوله، ورته ويل به ئې چې دا کارونه الله درته روا کړي، د الله د کتاب د فلان فلان آيت معنی همدا ده، په دروغو به ئې دا فتوی ورکوله، په الله او د الله په کتاب پسې ئې افتراء کوله، قصداً او عمداً به ئې دا کار کاوو، پوهېدل چې د دوی فتوی د الله د کتاب خلاف ده، د همدې لپاره که به کوم غير يهودي يو دينار هم په امانت ورکړ بېرته ئې نه ورکاوو، خو په دوی کې مخلص او صادق اهل کتاب هم وو، په

الله او آخرت ئې له زړه نه باور وو، امين وو، که به هر چا کوم څه په امانت ورکړل له خيانت نه پرته به ئې مسترد کول، که څه هم دا به زيات مال او قيمتي شی وو، د يوې خزانې په اندازه. د اسلام له نظره ايمان او خيانت سره نه يو ځای کېږي، ځوک چې امين نه وي هغه ايمان نه لري، لا ايمان لمن لا امانة له.

وَتَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٦٢﴾ لَوْلَا يَنْهَىٰهُمُ ٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلْأَحْبَارُ عَن قَوْلِهِمُ ٱلْإِثْمَ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَصْنَعُونَ ﴿٦٣﴾ المائدة: ٦٢-٦٣

او ډېری به ئې وګورې چې په ګناه، تېري او د حرامو په خوړلو کې تلوار کوي، څومره بد دئ هغه څه چې دوی ئې کوي. ولې ئې خدای پالونکي او علماء د ګناه له وينا او د حرامو له خوړلو څخه نه منع کوي؟! ډېر بد دئ هغه څه چې دوی ئې کوي.

دلته د ايمان منافي درې ستر ستر کارونه په ګوته شوي:

- په ګناه کې تلوار.
- د بل پر حق تېري او تجاوز کې تلوار.
- د حرامو په خوړلو کې تلوار.

له دغو بدو کړو وړو سره سره به الله تعالی څنګه د دوی د ايمان دعوی قبلوي؟

فَبِظُلْمٍ مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُوا۟ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَٰتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ كَثِيرًا ﴿١٦٠﴾ وَأَخْذِهِمُ ٱلرِّبَوٰا۟ وَقَدْ نُهُوا۟ عَنْهُ وَأَكْلِهِمْ أَمْوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلْبَٰطِلِ ۚ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٦١﴾ النساء: ١٦١

نو پر يهودانو مو ځينې هغه پاکيزه شيان حرام کړل چې ورته حلال شوي وو؛ د

دوی د ظلم په وجه او د الله له لارې څخه د دوی د ډېر مخنیوی په وجه. او د دوی د سود اخیستنو په وجه، په داسي حال کي چي ترې منع شوي وو او په ناحقه ئې د خلکو د مال خوړلو په وجه او دغو کافرانو ته مو دردوونکی عذاب تیار کړی.

دلته د یهودانو ځینو هغو سترو سترو ګناهونو ته اشاره شوې چي دوی ئې د الله له دردناک عذاب سره مخامخ کړل:

- ظلم ئې کاوو.
- هم ئې پخپله د الله په سمي لارې له تلو ډډه کوله او هم ئې نور منع کول.
- سود ئې خوړلو، په داسي حال کي چي الله ترې منع کړي وو.
- په ناحقه او له ناراوو لارو ئې د خلکو مالونه خوړل، دوکه، رشوت، شکرانې اخیستل، فتواګاني او د جنت اسناد پلورل.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْأَحْبَارِ وَٱلرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلْبَـٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۗ وَٱلَّذِينَ يَكْنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٤﴾ يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِى نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ ۖ هَـٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُوا۟ مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ ﴿٣٥﴾ التوبه: ۳۴-۳۵

اې مؤمنانو! د احبار (ملایانو) او رهبان (پیرانو) ډېری د خلکو مالونه په ناحقه خوري او د الله له لارې مخنیوی کوي او هغه چي سره او سپین زر ذخیره کوي او د الله په لار کي ئې نه مصرفوي نو د دردناک عذاب زېری ورکړه. هغه ورځ چي د دوزخ په اور کي به سرې شي او بیا به ئې تندي، اړخونه او شاګاني پرې وداغل شي، دا هغه څه دي چي د ځان لپاره مو زېرمه کړي وو، نو د هغه څه خوند وڅکئ چي زېرمه کول مو.

## له مرګه سخته وېره او له ژوند سره افراطي مينه

همدا راز په دې قوم کې له مرګ نه سخته وېره او له ژوند سراه افراطي مينه راپيدا شوه، که څه هم دا ژوند به له ذلت او سپکاوي نه ډک ژوند وو، د شهادت تلوسه او د سپېڅلو اهدافو لپاره د قرباني جذبه په کې مړه شوه، خو سره له دې به ئې په جنت د ايمان دعوی کوله او ځان به ئې د جنت مستحق ګڼلو، قرآن د دې متضادي انګېرني په اړه فرمايي:

قُلْ إِن كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الْآخِرَةُ عِندَ اللَّهِ خَالِصَةً مِّن دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٩٤﴾ وَلَن يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ ﴿٩٥﴾ وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ النَّاسِ عَلَىٰ حَيَاةٍ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا ۚ يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ أَلْفَ سَنَةٍ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهِ مِنَ الْعَذَابِ أَن يُعَمَّرَ ۗ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾ البقرة: ٩٤-٩٦

ورته ووايه: که د الله په خوا کې، د آخرت کور، له خلکو نه پرته يوازې ستاسو لپاره وي نو د مرګ تمنا وکړئ که رښتيني ياست. او په خپلو لاسونو ئې چې څه وړاندې کړي د هغه په وجه به هيڅکله د مرګ تمنا ونکړي او الله په دې ظالمانو ښه پوه دئ. او دوی به تر ټولو زيات په ژوند حريص ومومې او له مشرکانو نه هم، هر يو ئې دا خوښوي چې کاش زر کاله عمر ورکړی شي، خو همدا د عمر اوږدوالی له عذاب نه د دوی ژغورونکی نه دئ او الله د هغه څه ډېر ښه ليدونکی دئ چې دوی ئې کوي.

سره له خپل ټول شرک، عصيان، له جهاد نه ډډه، د ظالمانو ملګرتيا او د پېغمبرانو او حقپالونکو مخالفت، دوی ګومان کاوو او مذهبي مشرانو ئې ورته همدا ويل چې جنت يوازې ستاسو لپاره پيدا شوی او تاسو د جنت لپاره، د دوی په ځواب

کې ویل شوي: که داسې وي نو تاسو خو باید له مرګه نه وېرېدی او د الله په لار کې د شهادت تلوسه مو په زړونو کې نه وی مړه شوې، دا ولې له مرګ نه وېرېږئ؟ دا ولې ستاسو هیڅ مذهبي مشر په سنګر کې نه دئ لیدل شوی؟ ولې مو تل خپل پېغمبران په جهاد کې یوازي پرېښي؟ له دې نه خو په ډاګه معلومېږي چې په خپلې دعوی باور نه لرئ. په دې آیتونو کې او دې ته ورته په ډېرو نورو کې له مرګ نه وېره، د ډېر اوږده ژوند تمنا او د الله په لار کې له شهادت نه ډډه، د هغه قوم نښې ګڼل شوې چې د ایمان په دعوی کې دروغجن دي، نه په آخرت او جنت باور لري او نه په دې چې د مرګ ژوند پرېکړې الله کوي.

په هر هغه قوم کې چې له مرګ نه وېره او د دنیا حب او مینه او له ژوند سره افراطي علاقه را پیدا شي، د هغه قوم معنوي شور او شوق به مړ شي، د خپل عزت د ساتلو همت به له لاسه ورکوي، ژوند به غواړي که څه هم د پردیو تر اسارت لاندې وي، د همدې سختې وېرې او افراطي مینې له امله به تل سپک او ذلیل وي او د شمن به پرې حکومت کوي. پیغمبر علیه السلام خپلو یارانو ته همداسې فرمایي: په تاسو باندې به داسې حالت راشي چې دښمنان به له هرې خوا ستاسو د ختمولو لپاره داسې یو بل رابولي، داسې به ټول لاسونه ستاسو د خوړلو او هضمولو لپاره اوږده شوي وي، لکه څوک چې په غوړه کاسه راټولېږي. صحابه وو ویل: آیا په هغه وخت کې به موږ لږ وو؟ پیامبر علیه السلام وفرمایل: نه! تاسو به ډېر زیات وئ، خو د اوبو د څک او د خس او خاشاکو په څېر به وئ، په تاسو کې به وهن راپیدا شي، اصحابو وویل: ما الوهن یا رسول الله؟ دا وهن څه دئ یا رسول الله؟ هغه وفرمایل: له مرګ نه کراهیت او کرکه او له ژوند سره مینه، یعني کله چې دا دوه خصلتونه په یوه قوم کې راپیدا شي، د خسو او خاشاکو په څېر به سپک، بې ارزښته او ذلیل شي، دښمن به پرې حکومت کوی او د پردیو په اسارت او محکومیت کې به شپې ورځې تېروي.

## ړوند مذهبي تعصب

ړوند مذهبي تعصب يوه بله فتنه ده چې له حقيقي دين نه بې خبره دینداران پرې مبتلا کېږي، خپل شرک لړلی محرف مذهب، ناقص علم او له دين نه غلط تعبيرات به کافي ګڼي او په هغه کې به هيڅ ډول تبديلي نه مني او د هر هغه دعوت او دعوتګر مقابله به کوي چې د دوی له غلطو عقايدو او محرف مذهب سره ټکر کوي، قرآن فرمايي:

وَقَالُواْ قُلُوبُنَا غُلْفٌۢ بَل لَّعَنَهُمُ ٱللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَقَلِيلًا مَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾ البقرة: ۸۸

او وئې ويل: زړونه مو په پرده کې دي، نه، داسې نه ده، بلکې الله د دوی د کفر په وجه پر دوی لعنت لېږلی، نو ځکه لږ ايمان راوړي.

د دوی لجوجو علماءو به ويل: په مونږ باندې ستا تبليغات تأثير نه شي کولی، زمونږ زړونه له علومو ډک دي، زمونږ او ستا تر منځ ډېرې پردې حايل دي، د دې لجاجت او سرتمبګۍ وجه ړوند مذهبي تعصب وو، الله تعالی د همدې تعصب او د خپلو کافرانه او مشرکانه عقايدو او کړو وړو په سبب رټلي او د لعنت وړ ئې ګرځولي وو، نو ځکه له ايمان راوړو محروم شوي وو.

وَلَمَّا جَآءَهُمْ كِتَٰبٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ وَكَانُواْ مِن قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ عَلَى ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَلَمَّا جَآءَهُم مَّا عَرَفُواْ كَفَرُواْ بِهِۦ ۚ فَلَعْنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٨٩﴾ بِئْسَمَا ٱشْتَرَوْاْ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ أَن يَكْفُرُواْ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بَغْيًا أَن يُنَزِّلَ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ فَبَآءُو بِغَضَبٍ عَلَىٰ غَضَبٍ ۚ وَلِلْكَٰفِرِينَ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿٩٠﴾ البقرة: ۸۹-۹۰

او کله چې د الله لخوا داسې کتاب ورته راغی چې له دوی سره د شته (کتاب)

تصديقوونکی وو او دوی د هغه (له راتلو) د مخه ( د همداسي يوه کتاب په راتلو سره) پر کافرانو د بريا غوښتنه کوله، خو کله چي همغه څه ورته راغی چي ښه ئې پېژندو، په هغه کافران شول، نو په دې کافرانو دي د الله لعنت وي. څومره بد دئ هغه څه چي خپل ځان ئې پرې وپلورو، په دې چي په باغيانه توگه پر ما انزل الله کافران شول، په دې خاطر چي الله ولي له خپلو بندگانو نه (له دوی پرته په بل هغه چا) چي دی ئې غواړي له خپل فضل او پېرزويني نه څه رانازلوي، نو د الله په پر له پسې غضب اخته شول او دغو کافرانو ته سپکوونکی عذاب دئ.

دوی د پېغمبر له راتلو د مخه تل دا تلوسه کوله چي کاش يو ځل بيا په دوی کي کوم پېغمبر مبعوث شي او د کافرانو له سلطې نه ئې وژغوري، خو چي کله پېغمبر راغی او له ځان سره ئې همغه څه راوړو چي مخکنيو پيغمبرانو راوړي وو او بني اسرائيل ښه پوه شول چي دا د دوی د اصلي دين په څېر دئ، خو په دې خاطر ئې ايمان رانه وړ چي پېغمبر د دوی له قوم څخه نه وو، د دوی مذهبي قيادت او هغه گټي چي د دين ترنامه لاندي ئې له غولېدليو مذهبي عوامو نه ترلاسه کولې په خطر کي ولوېدې، نو د پېغمبر د مخالفت لپاره ئې ملا وتړله او د الله تعالی د پرله پسې غضب وړ وگرځېدل. هم له مخکني کتاب نه د مخالفت په وجه او هم له نوي کتاب سره د مخالفت په سبب.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ ءَامِنُواْ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُواْ نُؤْمِنُ بِمَآ أُنزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرُونَ بِمَا وَرَآءَهُۥ وَهُوَ ٱلْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ ۗ قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُونَ أَنۢبِيَآءَ ٱللَّهِ مِن قَبْلُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٩١﴾ البقرة: ۹۱

او کله چي ورته وويل شي: په هغه څه چي الله نازل کړي ايمان راوړئ، وايي: په هغه څه ايمان راوړو چي پر مونږ نازل شوی او له دې علاوه په هر څه کافران کېږي، که څه هم هغه حق وي او له دوی سره د شته کتاب تصديقوونکی، ورته

وواېه: نو که تاسو مؤمنان وئ ولې مو له دې د مخه د الله پېغمبران وژل؟

یو له هغو سترو خنډونو نه چې هر صالح داعي ورسره مخامخ کېږي، هغه قومي تعصب دئ چې کله کله مذهبي بڼه غوره کړي او مذهب د یوې خاصې ډلې او قوم په لاس کې د ناروا سیاسي، اقتصادي او اجتماعي امتیازاتو د لاس ته راوړو وسیله شي، دغه ډله بیا د هر دعوت مقابله د مذهب په توره کوي، حتی د هغه دعوت هم چې د دوی مذهب ته ورته وي او د دوی د اصلي مذهب تائید او تصدیق کوي. د بني اسرائیلو مذهبي مشران ښه پوهېدل چې قرآن همغه څه وایي چې تورات ئې وایي او محمد علیه السلام همغه څه وایي چې موسی علیه السلام ویل، خو سره له دې ئې تر هر چا زیات د اسلام مخالفت کاوو. د دوی په ځواب کې ویل شوي: له اسلام سره ستاسو دا مخالفت نه د الله لپاره دئ، نه د تورات په خاطر او نه د موسی علیه السلام په خاطر، تاسو خو همغه خلک یاست چې تر دې د مخه مو د موسی او عیسی علیهما السلام او د تورات او انجیل مخالفت وکړ، دا کوم ایمان دئ چې تاسو ته د سخوندر د عبادت اجازه درکوي؟

وَلَمَّا جَآءَهُمْ رَسُولٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيقٌ مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟
ٱلْكِتَـٰبَ كِتَـٰبَ ٱللَّهِ وَرَآءَ ظُهُورِهِمْ كَأَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٠١﴾ وَٱتَّبَعُوا۟ مَا تَتْلُوا۟
ٱلشَّيَـٰطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَـٰنَ ۖ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَـٰنُ وَلَـٰكِنَّ ٱلشَّيَـٰطِينَ كَفَرُوا۟
يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحْرَ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَـٰرُوتَ وَمَـٰرُوتَ ۚ وَمَا
يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا
يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَزَوْجِهِۦ ۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ
وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ ۚ وَلَقَدْ عَلِمُوا۟ لَمَنِ ٱشْتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ

مِنْ خَلَٰقٍۚ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْاْ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْۚ لَوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ ﴿١٠٢﴾

البقرة: ۱۰۱ـ۱۰۲

او چې کله د الله له لوري کوم داسي پېغمبر ورته راغلی چې له دوی سره د شته (کتاب) تصديقوونکی وو، نو د اهل کتابو يوې ډلې د الله کتاب داسي شا ته وغورځاوو لکه (په هيڅ) چې نه پوهېدل. او د هغه څه متابعت ئې پيل کړ چې شيطانانو به د سليمان عليه السلام د پاچاهۍ (په اړه) لوستل، دا په داسي حال کي چې سليمان د کفر لار نه وه غوره کړې، بلکي په خپله دا شيطانان کافران شوي وو، خلکو ته ئې جادو او هغه څه ورښودل چې د بابل په دوو ملائکو: هاروت او ماروت نازل شوي وو، (دې ملائکو) به هيچا ته څه تعليم نه ورکاوو مگر دا چې ورته ويل به ئې: موږ (خو د يوه) امتحان (لپاره راغلې) يو، نو ته مه کافرکېږه، خو دوی له دې دواړو نه هغه څه زده کول چې په هغه سره نارينه او مېرمنه ئې سره بېل کړي، دا په داسي حال کي چې په دې سره دوی د الله له اذن نه پرته هيچا ته تاوان رسوونکي نه وو او په داسي حال کي چې هغه څه ئې زده کول چې تاوان ئې وررساوو او گټه ئې نه وررسوله او يقيناً په دې پوه شوي وو چې هرڅوک دا وپېري نو په آخرت کي به ئې هيڅ برخه نه وي او يقيناً چې ډېر بد دئ هغه څه چې خپل ځان ئې پرې وپلورو، کاش پوهېدلی.

دلته په اصل کي د بني اسرائيلو په ځېره کي د يوه بې لاري ديندار ولس څو سترو سترو انحرافاتو ته اشاره شوې: په خپلو ژمنو نه ودرېدل، د الله کتاب داسي شا ته غورځول لکه چې په هيڅ څه ئې نه پوهېږي او د الله د کتاب په ځای کودو، جادو او تعويذونو ته مخه کول، دا حرام کارونه نه يوازي حلال گڼل بلکي د سليمان عليه السلام هغه ستره واکمني، چې بېلگه ئې په تاريخ کي نه ده ليدل شوې، د يوې جادوئي گوتې او د څه کوډو او منتر نتيجه گڼل، نه د ده او د ده د مجاهد پلار داؤد عليه السلام د جهادونو نتيجه، د دوی لويه مشغله دا شي چې په کوډو سره د مېړه

او مېرمني ترمنځ ئې بېلتون راولي. بني اسرائيل هم ورو ورو له الهي دين نه لري شول، په دوی کي فکري او اخلاقي انحرافات راپيدا شول، له اخلاقي لحاظه هومره راپرېوتل چي يو د بل ناموس ته په کمين کي کښيناستل، يو به په دې لټه کي وو چي څنگه د بل مېرمن د ځان لپاره ترې رابېله کړي، د الله کتاب ئې شا ته وغورځاوو، کوډو، جادو او تعويذونو ته ئې مخه کړه. الله تعالی د اتمام حجت لپاره دوی ته دوې ملائکي د انسانانو په څېره کي ولېږلې، ترڅو دوی له انحرافاتو، جاهلانه دودونو او کافرانه مشغلو وژغوري او دوی ته ووايي چي کوډو او جادو ته په پناه وړلو سره مه کافران کېږئ، خو دوی له ملائکو نه هم د هغه څه زده کولو هڅه کوله چي ښځه له خپل خاوند نه بېله کړی شي.

دوی په حقيقت کي هغو افتراءاتو وغولول چي په خپل لاس ئې جوړ او دين ته منسوب کړي ول، ويل به ئې زموږ په قوم کي پيغمبران مبعوث شوي، په موږ کي او لياءالله او نېکان تېر شوي، دوی به د خدای په وړاندي زموږ شفاعت کوي، دوی به موږ تر لاس نيسي او جنت ته به مو بيايي، موږ اولياء الله، ابناء الله او د خدای دوستان يو، موږ دوزخ ته نه ځو مگر د څو ورځو لپاره، جنت خاص زموږ لپاره پيدا شوی او موږ د جنت لپاره، عوام(له بني اسرئيلو نه پرته نور قومونه) به دوزخ ته ځي، هغوی د دوزخ د اور د سوند توکي دي، دا غلط تصورات او غلطي انگېرني په هرهغه قوم کي راپيدا کېږي چي له اصلي دين نه لري شي، د دين له حقيقته بې خبره وي، د ټگمارو علماءو او غولوونکو مشايخو په لومو کي ولوېږي، اصل دين هېر کړي او په شکلياتو پسي ونښلي، او گمان کوي چي همدا شکليات ورته کافي او په همدې سره الله تعالی راضي کولی او جنت ترلاسه کولی شي!!

قرآن هغه مؤمنان د زېري مستحق گڼي چي خبره اوري او تر ټولو د غوره خبري متابعت کوي: فَبَشِّرْ عِبَادِ الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللَّهُ وَ أُولَئِكَ هُمْ أُولُوا الأَلْبَبِ: زما هغو بندگانو ته زېری ورکړه چي

خبره اوري او تر ټولو د غوره خبري متابعت کوي، دوی هغه خلک دي چي الله هدايت کړي او همدا دوی د عقل خاوندان دي.

خو د دوی په مقابل کي متعصب مذهبيان هغه کمعقله خلک وي چي وايي: بس کړه! موږ ته د دين، مذهب او د حق او حقيقت خبره مه کوه، زموږ زړونه د علم خزانې دي، تش ځای پکي نه دئ پاته، د بل چا د خبرو اورېدو ته چمتو نه يو، يوازي په هغه څه ايمان راوړو چي پر موږ نازل شوی، يعني موږ ته دا خپل مذهب کافي دئ، دې ته ضرورت نلرو چي ستا خبري واورو او ستا دعوت قبول کړو. د دوی دا ټولي خبري له ړانده تعصب نه راخوټېدلې دي، حقيقت دا دئ چي په هر هغه قوم کي چي دين ورته له پلار او نيکه نه په ميراث پاته عنعنه شي او له دين نه فقط اسم و رسم ورته پاته شي او بيا د دې عنعنې، اسم و رسم په نسبت په هغه کي تعصبات پيل شي، هغه بيا د حق خبري په وړاندي همداسي غبرگون ښيي، يوازي هغه څه مني چي د دوی له جاهلانه تعصب سره تصادم ونکړي، که څه هم په دې تعصب سره دوی په خرافاتوکي پرېوتي وي، له پلار نيکه نه پاتې عنعنه، دود او دستور سل په سلو کي او په بشپړه توگه د دين خلاف وي.

## د روميانو او بابليانو بريدونه

هر ځل چي بني اسرائيلو د شرک، فساد او عصيان لار غوره کړې او د الله په لار کي ئې جهاد ته شا کړې، الله تعالی يو دښمن پرې مسلط کړی، په دې کي د روميانو او بابليانو دوه ستر بريدونه داسي وو چي ټول بني اسرائيل يا وژل شوي، يا اسيران شوي او يا له خپل کور کلي شړل شوي او په ټولي سيمي او نړۍ کي خواره واره شوي، عبادت ځايونه ئې وران شوي او مذهبي کتابونه ئې سوزېدلي. بيا د بل دښمن په لاس د سياسي رقابتونو په ترڅ کي دې سيمي ته راوستل شوي، لکه چي نن د انگرېزانو په لاس او د برتانوي استعمار د يوې شيطاني منصوبې په ترڅ کي په

فلسطين کې مستقر او له همغې نيټې تر ننه له مظلومو فلسطيني مسلمانانو سره په جګړو بوخت دي، تر دې د مخه هم کله د بابليانو تر سيوري لاندې دلته مستقر شوي او کله د روميانو په لاس، انګريزانو د دې لپاره په دې سيمې کې مستقر کړل چې د اسلام، مسلمانانو او په خاصه توګه د عربو په ضد د يوې نظامي اډې د سرتېرو په توګه ترې کار واخلي، قرآن دې ته اشاره کوي او فرمايي:

ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلذِّلَّةُ أَيْنَ مَا ثُقِفُوٓاْ إِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَحَبْلٍ مِّنَ ٱلنَّاسِ وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلْمَسْكَنَةُ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُواْ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقْتُلُونَ ٱلْأَنۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ يَعْتَدُونَ ﴿١١٢﴾ آل عمران: ١١٢

که هر ځای وموندل شي، ذلت وربانديې تپل شوی، مګر د کومې الهي رسۍ او يا د خلکو د کومې رسۍ په سبب (له دې ذلت نه وژغورل شي) او په الهي غضب اخته شول او مسکنت وربانديې وتپل شو، دا په دې خاطر چې د الله له آيتونو نه ئې انکار کاوو او په ناحقه ئې د الله پېغمبران وژل، دا د دې لپاره چې سرغړاوی ئې وکړ او تېری ئې کاوو.

دوی به تل او په هر ځای کې ذليل وي، مګر دا چې الله پناه ورکړي او يا خلکو ته پناه وروړي، کېدی شي کله کله د نورو په پناه او حمايت کې موقتاً له ذلت نه وژغورل شي، خو تل به د الله په غضب اخته وي او د مسکنت آثار به د دوی د ژوند په ټولو برخو کې له ورايه بربښي، د دې ذلت، الهي غضب او مسکنت اسباب ئې دا دي:

- د الله له آيتونو نه انکار.
- د پېغمبرانو مخالفت.
- عصيان او سرغړاوی.
- تعدي او تېری.

او په حقيقت کي دا عصيان او تعدي ده چي انسان دې مرحلې ته ورسوي چي د الله له آيتونو نه انکار وکړي او د پېغمبرانو دښمني او مخالفت ته ملا وتړي.

وَقَضَيْنَآ إِلَىٰ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ فِى ٱلْكِتَٰبِ لَتُفْسِدُنَّ فِى ٱلْأَرْضِ مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيرًا ﴿٤﴾ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ أُولَىٰهُمَا بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ عِبَادًا لَّنَآ أُو۟لِى بَأْسٍ شَدِيدٍ فَجَاسُوا۟ خِلَٰلَ ٱلدِّيَارِ ۚ وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُولًا ﴿٥﴾ ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ ٱلْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ وَأَمْدَدْنَٰكُم بِأَمْوَٰلٍ وَبَنِينَ وَجَعَلْنَٰكُمْ أَكْثَرَ نَفِيرًا ﴿٦﴾ إِنْ أَحْسَنتُمْ أَحْسَنتُمْ لِأَنفُسِكُمْ ۖ وَإِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَا ۚ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ ٱلْءَاخِرَةِ لِيَسُۥٓـُٔوا۟ وُجُوهَكُمْ وَلِيَدْخُلُوا۟ ٱلْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَلِيُتَبِّرُوا۟ مَا عَلَوْا۟ تَتْبِيرًا ﴿٧﴾ الاسراء: ٤-٧

په کتاب کي مو بني اسرائيلو ته پرېکړه واوروله چي دوه ځلي به په ځمکه کي فساد کوئ او ستره لويي او کبر به کوئ، نو کله چي د دوی دواړو لومړی وعده راورسېږي؛ خپل داسي بندګان به درباندي راولېږو چي شديد او پياوړي جنګيالي دي، چي (ستاسو) کورونو ته به ننوځي، او دا يوه ترسره کېدونکې وعده ده. بيا به تاسو ته پر دوی بری درکړو او په مالونو او اولادونو سره به ستاسو مدد وکړو او تاسو به د شمېر له پلوه زيات کړو. که مو ښېګڼه وکړه د خپل ځان لپاره به مو کړې وي او که مو بد وکړل د ځان لپاره به مو وي، نو کله چي دوهمه وعده راشي (موخه به ئې دا وي چي) ستاسو مخونه سپېره کړي، او مسجد الاقصی ته همغسي ننوځي لکه چي په لومړي ځل ننوتلي ول او هر هغه څه ښه نسکور کړي چي لوړ وي.

دوی د ځلوېښت کلن عبرتناک او له ذلته ډک ژوند نه وروسته د اشموئيل عليه السلام د نبوت پر مهال او د طالوت تر مشرۍ لاندي له دښمن سره وجنګېدل او بريا ئې په برخه شوه، ستره تاريخي پاچايي ئې جوړه کړه چي قرآن دا برخه په

دې تو ګه زموږ مخې ته ږدي:

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلْمَلَإِ مِنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مِنۢ بَعْدِ مُوسَىٰٓ إِذْ قَالُوا۟ لِنَبِىٍّ لَّهُمُ ٱبْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِن كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِتَالُ أَلَّا تُقَٰتِلُوا۟ ۖ قَالُوا۟ وَمَا لَنَآ أَلَّا نُقَٰتِلَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِن دِيَٰرِنَا وَأَبْنَآئِنَا ۖ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقِتَالُ تَوَلَّوْا۟ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٤٦﴾ وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ ٱللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا ۚ قَالُوٓا۟ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُ ٱلْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِٱلْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ ٱلْمَالِ ۚ قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُۥ بَسْطَةً فِى ٱلْعِلْمِ وَٱلْجِسْمِ ۖ وَٱللَّهُ يُؤْتِى مُلْكَهُۥ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٤٧﴾ البقرة: ٢٤٦_٢٤٧

آيا د بني اسرائيلو هغه ډله دي ونه ليده چې له موسی نه وروسته وه، کله چې ئې خپل پېغمبر ته وويل: مونږ ته يو پاچا وټاکه، تر څو د الله په لار کې وجنګېږو، ورته وئې ويل: آيا داسې خو به نه وي چې جنګېدل درباندې فرض شي نو ونه جنګېږئ؟ وئې ويل: نو په مونږ به څه شوي وي چې د الله په لار کې به نه جنګېږو، په داسې حال کې چې له خپل کور کلي او ټبر نه ايستل شوي يو؟ خو چې کله جنګېدل پرې فرض کړی شو نو ټول په شا شول غير له لږ شمېر نه ئې او الله خو د ظالمانو په حال ښه پوه دئ. او پېغمبر ئې ورته وويل: الله خو طالوت درته پاچا ټاکلی، وئې ويل: څنګه به پر مونږ باندې ده لره پاچايي وي، حال دا چې مونږ په پاچايۍ کې تر ده ډېر وړ او مستحق يو او ده ته د مال پراخوالی هم نه دئ ورکړی شوی؟ وئې ويل: بې شکه چې هغه الله پرتاسو غوره کړی او په علم او جسم کې ئې پراخوالی او زياتوالی ورکړی او الله چې چا ته وغواړي پاچايي ورکوي او الله ښه پوه

واسع دئ.

له موسی علیه السلام نه وروسته او هغه وخت چې بني اسرائیل په شرک او فساد اخته او له سمې لارې منحرف شول، نو د جالوت په نامه یو ظالم او بې رحمه پاچا ورباندې مسلط شو، ډېر ئې ووژل، د دوی کورونه ئې لوټ او تاراج کړل او دوی ئې له خپل کور کلي وشړل، په دې وخت کې اشموئیل علیه السلام د دوی لارښوونه کوله، هغه ته راغلل، له خپلو مخکنیو کړو وړو او د الله په لار کې د جهاد له نه کولو نه ئې ندامت وښودو او له هغه نه ئې د الله په لار کې د جهاد اجازه وغوښته، هغه مبارک د دوی مخکني حالت ته په پام سره ورته وویل: مبادا جهاد درباندې فرض شي او بیا تاسو له هغه نه ډډه وکړئ، دوی ورته وویل: په داسې حال کې چې پر مونږ ظلمونه شوي، له خپل کلي کور نه شړل شوي یو، هیڅ داسې دلیل نه ګورو چې د الله په لار کې ونه جنګېږو، خو چې ورته وویل شو چې اوس نو وسله واخلئ او له دښمن سره وجنګېږئ، یوازې محدودو کسانو تیاری وښود، نور ټول له خپلې ژمنې او د الله په لار کې له جنګېدو په ډډه شول. د الله پېغمبر ورته وویل: تاسو د یوه پاچا د ټاکلو غوښتنه کړې وه، دا دئ الله تعالی طالوت درته غوره کړی، د الله له دین نه اوښتي قوم ورته وویل: دی خو پر مونږ د مشرۍ وړ نه دئ، نه د نسب له مخې او نه د مال او شتمنۍ له مخې، د ټول ولس قیادت او زعامت خو باید داسې چا ته وسپارل شي چې قیادت او زعامت له پلار نیکه نه ورته په میراث پاته شوی وي، د کومې درنې او معتبرې کورنۍ غړی وي، ښه ډېر مال او دولت ولري!! پېغمبر د دوی په ځواب کې وایي: دی خو الله غوره کړی، د زعامت او قیادت وړتیا هغه ورکړې، ښه پوه دئ او د ښه صحت او قوي بدن خاوند دئ، د مشرتابه غوره مواصفات خو همدا دي، خو دوی دې ته تیار نه وو چې د طالوت قیادت ومني، د دوی معیارونه بدل شوي وو، د زعامت د مواصفاتو په اړه ئې همغسې انګېرله چې بې دینه او لاروركي قومونه ئې انګېري، د پېغمبر دا وینا ئې نه منله چې الله تعالی د

دوی په خبر نه دئ چې نسب او مال د قیادت لپاره ضروري وګڼي او د طالوت په ځبر یو نادار او بې نوم نښانه څوک دي د دوی د مشرۍ لپاره مناسب ونه ګڼي، له پېغمبر نه ئې د ثبوت غوښتنه کوله:

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ ءَايَةَ مُلْكِهِۦٓ أَن يَأْتِيَكُمُ ٱلتَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ ءَالُ مُوسَىٰ وَءَالُ هَٰرُونَ تَحْمِلُهُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٢٤٨﴾ البقرة: ٢٤٨

او پېغمبر ئې ورته وویل: د ده د پاچایۍ نښه دا ده چې تاسو ته به هغه صندوق راشي چې په هغه کې ستاسو د رب له لوري یوه ډاډېنه او د موسی او هارون د اولادې پاته شوني دي، هغه چې ملائکې به ئې حمل کوي، په دې کې تاسو ته څرګنده نښه ده که مؤمنان یاست.

بني اسرائیلو ته له پلار نیکه نه داسې یو صندوق په میراث پاته شوی وو چې په هغه کې څه مبارک شیان لکه د تورات لوحې او د موسی او هارون علیهما السلام د لاس څه نښې وې، دوی داسې ګڼله چې تر څو دا صندوق زمونږ په واک کې وي نو تل به بریالي وو او دښمن به پر مونږ غلبه نه شي موندلی، ناڅاپې د دوی په سیمو د برید په ترځ کې دا صندوق د دښمن په لاس کې پرېووت، په دې سره د دوی پاتې مېړانه او همت هم ختم شو، د دښمن له مقابلې ئې لاس واخیست او وتښتېدل، پېغمبر ئې ورته وویل: دا صندوق به الله تعالی بېرته تاسو ته مسترد کړي، ملائکې به ئې تاسو ته راوړي او دا به د دې نښه ګڼئ چې طالوت د الله له لوري تاسو ته غوره شوی، همداسې وشول. د دې قصې په ترځ کې الله تعالی مؤمنانو ته دا لارښوونه کوي چې مبادا د جهاد له فرض کېدو وروسته ترشا شئ، مبادا د قیادت لپاره هغه معیارونه وکاروئ چې جاهلو قومونو کارولي، مبادا له علمي استعداد او جسمي پیاوړتیا نه پرته د نورو مواصفاتو له مخې څانته قیادت غوره

کړئ، مبادا له هغه چا سره د مخالفت لار غوره کړئ چې الله تعالی د قیادت غوره صفات ورکړي وي. تاسو د آدم علیه السلام د خلیفه کېدو په بحث کې هم ولیدل چې الله تعالی د ده علمي استعداد او د هر څه پېژندل او مناسب نوم ورته غوره کول د خلافت د وړتیا دلیل وښودو.

فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِٱلْجُنُودِ قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ مُبْتَلِيكُم بِنَهَرٍ فَمَن شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّي وَمَن لَّمْ يَطْعَمْهُ فَإِنَّهُۥ مِنِّيٓ إِلَّا مَنِ ٱغْتَرَفَ غُرْفَةًۢ بِيَدِهِۦ ۚ فَشَرِبُوا۟ مِنْهُ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۚ فَلَمَّا جَاوَزَهُۥ هُوَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ قَالُوا۟ لَا طَاقَةَ لَنَا ٱلْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ ۚ قَالَ ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُوا۟ ٱللَّهِ كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةًۢ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٢٤٩﴾ وَلَمَّا بَرَزُوا۟ لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ قَالُوا۟ رَبَّنَآ أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٥٠﴾ فَهَزَمُوهُم بِإِذْنِ ٱللَّهِ وَقَتَلَ دَاوُۥدُ جَالُوتَ وَءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلْمُلْكَ وَٱلْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهُۥ مِمَّا يَشَآءُ ۗ وَلَوْلَا دَفْعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ ٱلْأَرْضُ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٥١﴾ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِٱلْحَقِّ ۚ وَإِنَّكَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٢٥٢﴾ البقرة: ٢٤٩-٢٥٢

نو کله چې طالوت لښکري راوایستې، وئې ویل: الله په یوې ویالې سره ستاسو آزمویونکی دئ، نو چا چې ترې اوبه وڅښلې زما له ډلې نه نه دئ او چا چې (ئې خوند) ونه څکو، نو هغه زما (ملګری) دئ، مګر دا چې د خپل یوه لاس یوه لپه (اوبه) غوړپ کړي، خو د دوی له لږو کسانو نه پرته نورو هغه وڅښلې، نو چې کله دی او د ده مؤمن ملګري ترې واوښتل، وئې ویل: نن خو مونږ د جالوت او د ده د

لښکرو (د مقابلې) توان نه لرو، خو هغو کسانو چې په دې ئې باور وو چې له الله سره مخامخ کېدونکي دي وويل: څومره لږکي ټولګي د الله په اذن سره په ډېرکي ټولګيو غالب شوي، الله خو له صابرانو سره دئ. او کله چې جالوت او لښکرو ته ئې راڅرګند شول، وئې ويل: اې زمونږ ربه! پر مونږ صبر نازل کړه او ګامونه مو ټينګ کړه او پر دې کافر قوم برى را، نو د الله په حکم سره ئې دوى ته ماتې ورکړه او داؤد جالوت وواژو او الله ورته پاچايي او حکمت ورپه برخه کړ او چې څه ئې غوښتل هغه ئې وروښودل او که د الله دا د خلکو ځيني په ځينو نورو دفع کول نه وى، نو زمکه به تباه شوې وه، خو الله په نړۍ والو د فضل خاوند دئ. دا د الله آيتونه دي چې پر تا ئې لولو او يقيناً چې ته له پېغمبرانو څخه يې.

دا آيتونه موږ ته لارښوونه کوي چې جهاد د صابرانو کار دئ، بې صبره، بې همته، بې عزمه، بې ارادې او هغه ضعيف النفسه کسان چې د کړاوونو د ګاللو همت او حوصله نه لري، جهاد نه شي کولى، د جهاد مشران بايد خپل مجاهدين وآزمويي او وګوري چې په دوى کي څوک د ستونزو او کړاوونو ګاللو ته تيار دئ، پياوړې متې، غښتلى زړه، لوړ همت، کلک عزم لري او د صبر او زغم خاوند دئ، يوازي په دغو کسانو حساب وکړئ او د همدوى په ملګرتيا بسنه وکړئ، بې همته او بې صبره کسان د نيمي لاري ملګري وي او په سختو شېبو کي له خپل صف نه بېلېږي او خپل سنګر دښمن ته پرېږدي، د داسي کسانو ملګرتيا د ګټي په ځاى تاوان کوي، د همدې لپاره طالوت خپلو ملګرو ته وويل: له ما سره هغه څوک ملګرتيا کولى شي چې د دې راتلونکي نهر اوبه ونه څښي، په تنده کي صبر وکړي، هغه هم راسره تلى شي چې په يوه غوړپ اکتفاء وکړي، خو هغه چې ډک نس اوبه څښي، زما د ملګرتيا وړ نه دي. (د طالوت دا آزموينه داسي ده لکه مونږ چې په روژې مکلف شوي يو، دا په اصل کي د روژي لپاره يو مثال او بېلګه ده، په روژي سره په انسان کي د صبر او ځان ساتني خصلت وده کوي) د ده له لوى لښکر نه يو وړوکى ټولګى

په دې آزموینه کې بریالي وختل او همدغو ته الله پر هغه مغرور او ظالم دښمن برې ورکړ. برې د صابرانو په برخه کېږي، هغه چې پر الله ئې باور وي، د هغه نصرت ته سترګي په لار وي، له الله نه په سنګر کې او د دښمن په وړاندي د صبر او استقامت غوښتنه کوي، نه د هغه چا په برخه چې د جنګیالیو شمېر ئې زیات وي. دا په وار وار لیدل شوې چې یوه وړوکې ټولګې ته الله تعالی په لوی لښکر فتح او برې ورکړې، دا ځکه چې الله د صابرانو مل دئ.

په دې نښتي کې د دښمن د فوځ سالار د داوُد علیه السلام په لاس ووژل شو او د همدغه زړه وري اتلولۍ په وجه الله تعالی داوُد علیه السلام ته د دغه ملک پاچايي او اقتدار وسپارو، علم او حکمت ئې ورکړ او د پېغمبرۍ مقام ته ئې ورساوو، د الله تعالی سنت دا دئ او په دې راضي کېږي چې د مؤمنانو قیادت د دغسي مجاهدو مشرانو په لاس کې وي.

له دې آیت نه دوه خبري په ډېر وضاحت سره معلومېږي: لومړې دا چې له تباهۍ نه د زمکي د ساتلو یوازنۍ لار دا ده چې د مؤمنانو د صالح ډلي په لاس د کافرانو د فاسدي ډلي مخنیوی وشي، الله تعالی د دوی په ذریعه د هغوی شر دفع کوي او په دې سره زمکه له تباهۍ نه ژغوري.

د دغه الهي سنت مطابق به تل د مؤمنانو یوه مجاهده ډله راپیدا کېږي، د مفسدو ځواکونو مقابله به کوي او الله تعالی به هغوی ته د شر او فساد پر ځواکونو غلبه ورکوي. په بخاري کې راغلي:

عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم « لاَ تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِى ظَاهِرِينَ عَلَى الْحَقِّ لاَ يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ حَتَّى يَأْتِىَ أَمْرُ اللَّهِ وَهُمْ كَذَلِكَ

له ثوبان رضي الله عنه نه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تل به زما د امت یوه ډله داسي وي چې په حق سره به برلاسي وي،

هغه څوک به ئې نه شي زیانمن کولی چې دوی یوازې پرېږدي، تر هغه چې الله تعالی خپله پرېکړه وکړي او دوی په همدې حالت کې وي.

سُبْحَانَکَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِکَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُکَ وَأَتُوبُ إِلَیْکَ

۱۳۸۸/٤/٥

# فهرست

**عنوان** **صفحه**


سریزه ---------------------------------------------------------- ۱

د سورې معرفي -------------------------------------------------- ۵

د فرعوني نظام واکمني ځېرې ------------------------------------- ۱۴

له مظلومانو سره د فرعوني نظام چلند ------------------------------ ۱۵

د الله تعالی نه بدلېدونکی سنت ----------------------------------- ۱٦

قیادت د هر نهضت پېلامه --------------------------------------- ۱۸

(علم) او (حکمت) ----------------------------------------------- ۲۳

د خضر علیه السلام ځانګړی علم ----------------------------------- ۵۱

موسی علیه السلام له خپل عالم ملګري څه زده کړل؟ ------------------ ۵۲

موسی او خضر علیهما السلام چېرې سره لیدلي؟ ----------------------- ۵۸

د بني اسرائیلو د آزادۍ شعار ------------------------------------- ۹۱

د عصا په اړه د بایبل غلطه وینا ------------------------------------ ۹۷

د بني اسرائیلو د قصې نورې برخې ---------------------------------- ۱۵۳

د فرعون د مشر زوی مړینه ---------------------------------------- ۱۵۹

کله چې تشدد نتیجه نه ورکوي: ------------------------------------ ۱٦۳

د هجرت پرېکړه ---------- ۱۷۰
د نجات د ورځې لمانځنه ---------- ۱۷۵
د فرعون غرقېدا ---------- ۱۸۱
د فرعون له غرقېدو وروسته څه وشول؟ ---------- ۱۸۳
غوره امت ---------- ۱۸۶
ژوندی بُت او مړه بُتان ---------- ۱۸۷
من او سلویٰ ---------- ۱۸۹
د زوال او ذلت پړاو ---------- ۱۹۷
مذهبي حیله ---------- ۲۰۵
اختلاف او تشتت ---------- ۲۰۸
له الله تعالی سره کړې ژمنې ماتول ---------- ۲۱۱
د الله تعالی د لیدو هیله ---------- ۲۱۶
د تورات ورکړه ---------- ۲۱۸
د پیغمبرانو او عدالت غوښتونکو وژل ---------- ۲۳۱
د کتاب په ځینو برخو عمل او په ځیو نه عمل ---------- ۲۳۳
دین پلورنه ---------- ۲۳۵
د قائد څو ورځنی غیابت او په ټګمار مشر پسې تلل ---------- ۲۴۰
ذلت، مسکنت او د خدای غضب ئې پایله ---------- ۲۵۱
د الهي احکامو په منلو او تعمیل کې لټې او تعلل ---------- ۲۵۳
خپل منځې قتلونه او له قاتل نه دفاع ---------- ۲۵۵
د الله په کتاب کې تحریف ---------- ۲۵۷
منافقت ---------- ۲۶۳
د کفر او کافرانو په وړاندې د حساسیت کموالی ---------- ۲۶۵

په تجارتي راکړې ورکړې کې خيانت ---------------------------- ۲۶۷
له مرګه سخته وېره او له ژوند سره افراطي مينه ------------------------ ۲۷۰
ړوند مذهبي تعصب ---------------------------------------------- ۲۷۲
د روميانو او بابليانو بريدونه ------------------------------------ ۲۷۷

د ملتونو
د عروج او زوال عوامل

د بني اسرائيلو
عبرتناکي قصه کي